


د پښتو PDF کتابونو لپاره موږ درسره وڅارئ!
ټیلګرام چینل لینک:
https://t.me/AryanPashtoLibrary
واټساپ نمبر:
00971501455350
فیسبوک پاڼه:
آریان پښتو کتابتون

👇دانلود Pdf
د پښتو PDF کتابونو لپاره موږ درسره وځاریږ!
ټیلګرام چینل لینک:
https://t.me/AryanPashtoLibrary
واټساپ نمبر:
00971501455350
فیسبوک پاڼه:
آریان پښتو کتابتون

# د مینې څلویښت قاعدې

لیکواله

**الیف شفق**

ژباړه

**کریم حیدري**

عارفان د قرآن راز په الفاتحه سورت کې ویني او د الفاتحې راز په "بسم الله الرحمن الرحیم" کې نغښتی. د بسم الله زړه بیا د (ب) توری بولي. هغه ټکی چې له خط لاندې دی د کایيناتو استازيتوب کوي. د مولانا مثنوي معنوي هم په (ب) پیلېږي.

د پښتو PDF کتابونو 👈دانلود Pdf
کتابونو لپاره موږ درسره وګاړئ!
ټیلګرام چینل لینک:
https://t.me/AryanPashtoLibrary
واټساپ نمبر:
00971501455350
فیسبوک پاڼه:
آریان پښتو کتابتون

# فهرست

ژباړن سریزه ........................................ ۵
سریزه ........................................ ۸

لومړۍ برخه

خاوره ........................................ ۱۵
کلکه، جذبېدونکې او ثابته ........................................ ۱۵

دوهمه برخه

اوبه ........................................ ٦٦
هغه څه چې مایع او بدلېدونکي دي او وړاندوینه یې نه کېږي. ........................................ ٦٦

دریمه برخه

باد ........................................ ۱۰۹
هغه څه چې خوځېږي، پخېږي او ننګونه کوي........................................ ۱۰۹

څلورمه برخه

اور ........................................ ۱۸۵
هغه څه چې ورانول، وېجاړول او له منځه وړل کوي ........................................ ۱۸۵

پنځمه برخه

تشه ........................................ ۲۲۳
هغه څه چې په خپل نشت کې موجود وي ........................................ ۲۲۳

# ژباړن سریـزه

د اغلې الیف شفق د مینې څلوېښت قاعدې ناول د دیارلسمې زېږدیزې پېړۍ د ترکیې په اناتولیا ولایت کې د مولانا جلال الدین محمد بلخي رومي او د هغه روحاني ملګري شمس تبرېزي تخیلي کیسه ده.

نوموړو د مېنې مذهب په نوم یوه فلسفه پخه کړه چې مولانا وروسته هغه په خپلو شعرونو کې نړۍ ته وړاندې کړه.

د مولانا د شعرونو دوه ټولګې لکه د غزلو کلیات او مثنوي معنوي په فارسي/دري ژبه لیکل شوې چې د نړۍ ګڼ شمېر ژبو ته ژباړل شوي او اوس هم مینه وال لري. له تېرو دوو لسیزو راهیسې رومي په امریکا کې تر ټولو ډېر لوستل شوی شاعر دی.

انه سوومه زوکړه یې په کال ۲۰۰۷ کې د ملګرو ملتونو په غونډه کې ولمانځل شوه.

د یوې په زړه پورې کیسې په منځ کې د مینې څلوېښت قاعدې د تصوف پر اصولو څرخي. خلک د الهي ذات مینې ته بلل کېږي چې لار یې لومړی له ځان او بیا بشر سره مینه ده .

انسان ته باید د توبې او ځان سپیناوي فرصت ور کړل شي. له سخت دریځې او کرکې سره پرېکون وشي. تظاهر ته شا واړول شي او باطن باید ومینځل شي. پر نورو انسانانو قضاوت ونشي.

تصوف د نفس د تصفيې په مانا ده چې د قرآن او حديث په احکامو سره کيږي. د قرآن مجيد د شمس سورت ۹ ايت او بقرې سورت په ۱۲۹ ايت د نفس پر پاکوالي ټينګار کوي.

د نبوت سلسله د پيغمبر ص سره ختمه شوه. خو د اسلامي ټولنو د پاکوالي او اصلاح لپاره وليان کله نا کله څرګند شوي. خلک يې له شرک، وژنې، شر او ګڼ شمېر نورو بې لاريو منع کړي.

تصوف تر ډېره د حنفي مذهب په پلويانو کې له پېړيو راهيسې دود دی.
که څه هم حنفي مذهب يوازې په افغانستان کې حاکم نه دی، خو په بل هيڅ يو اسلامي هېواد کې به د افغانستان پرتله اوليا لا نه وي تېر شوي. لامل يې ښايي د افغانانو په خټه کې اخلاص ډېر وي او يا به هم افغانان تر نورو ډېر اصلاح ته اړ وي.

تصوف خلک د يو بل منلو او زغم ته بولي. همدا لامل دی چې په افغانستان کې د بېلابېلو قومونو، ژبو او مذهبونو خلکو له پېړيو راهيسې يو بل زغملي.

د افغانستان څو څلوېښت کلنې جګړې په لړ کې ټولنه د بهرنيو دودونو تر اغېز لاندې راغله، چا بې ديني راوسته چا ډيموکراسي، ځينو بيا سخت دريځه اسلام.

سخت دريځان تصوف او عرفان شرک بولي، په هغوی پسې داسې هم وايي چې ذکر کوي خو فرض لمونځ نه کوي، يا هم زيارت ته ځي او د زيارت نه خير غواړي.

په دې کې شک نشته چې په هره ډله کې ناوړه ګټه اخيستونکي شته او تصوف هم ترې خلاص نه دی، خو تصوف د شرک خلاف يو غږ دی.

ان هغه دنياوي شيان چې د بنده او خدای ترمنځ راځي بايد ونړول شي. زيارت نه د لکه د بل هر مړي لپاره دعا کول دي، لکه خپل مور او پلار ته چې سړی دعا کوي.

د انسان کرامت له مرګ وروسته له ده سره خاورې کېږي. ځینې عامو خلکو ته ښایي لاربښوونه نه وې شوي او د شرک تر پولې تېر وتلي وي. دیني عالمانو ته پکار ده چې خلک په دې پوه کړي خو تصوف او عرفان دې شرک نه بولي.

د دې ناول ژباړه له انګرېزي ژبې شوې. په انګرېزي بڼه کې د نن ورځې یوه وړه کیسه هم وه چې ما یې ژباړه اړینه ونه بلله. پاتې چې څه په اصلي بڼه کې وو پښتو ته ژباړل شوي. کوم کمی یا زیاتی په کې نه دی راغلی.

یوازې یو ځای مې د وضاحت لپاره یو حدیث شریف ور زیات کړی چې په [..] نښه شوی. څرنګه چې ناول پخپله کومه سیاسي موخه نه لري او نه هم کومه ځانګړې ډله غندي، ژباړه یې هم ناپېیلې او پرته له کوم مقصده ده.

د دې کتاب د ژباړې په کره کتنه کې له خوږو ملګرو غزانور او هدایت الله همیم منندوی یم. تل یې په خپل لطف نازولی یم.

له خوشال تایب، نورګل شفق، غزانور، امان الله عمران، عصمت بهیر او عاشق الله حسین خیل مننه چې د پښتو فرهنګ/ثقافت په اوسنی نیستی او قحطی کې یې لاس وړاندې کړ او د دې ګڼې چاپ ته یې بسپنه ورکړه.

د ناول په لوستو مې د ننه بدلون حس کړ. مینه مې له خپل دین سره زیاته شوه، د قرآن د مانا پوهېدو ته وهڅېدم او بشر ته مې درناوی زیات شو.

په همدې هیله چې د دې اثر لوستونکی تفکر ته اړ شي، خدای ج په ۹۹ نومونو وپېژني، او د کایناتو د عظمت خلق کوونکي ته ځان ور نیژدې کړي.

ومن الله التوفیق

کریم حیدري

CamScanner

## سریـزه

اناتولیا چې د نننی ترکیې مرکزي برخه ده په دیارلسمه زېږدیزه پېړۍ کې د مذهبي شخړو، سیاسي ناندریو او بې‌پایلې زورواکۍ تر اغېز لاندې له کړکېچونو سره مخ وه.

په لوېدیځ کې د اروپا صلیبیانو د یوروشلم (بیت المقدس) ولکې ته تکل کړی و. د بازانتیان (بېزانتین) امپراتورۍ ختیځ کانستانتونولوپ (استانبول) یې په دوو برخو وېشلی و. ختیځ لوري ته د چنګېز په مشرۍ د مغولو پیاوړي لښکر بې‌ساري ښارونه ونړول. په منځ کې ترک قبایل له یو بل سره په جګړه بوخت وو.

بازانتیان امپراتورۍ غوښتل له لاسه تللې خاوره، واک او دولت تر لاسه کړي. دا موده د بې‌سارې ګډوډۍ پېر و. عیسایان هم خپلو کې جنګېدل، هم له مسلمانانو سره جنګېدل، مسلمانان له مسلمانانو سره. هر چېرته دښمني، رنځ او د راتلونکې وېره خوره وه.

په دې زمانه کې د اسلام یو پېژندل شوی عالم د جلال الدین رومي په نوم اوسېدو. مستعار نوم یې مولانا و. زدکوونکو به پیر استاد ورته ویل. په زرګونو زدکوونکي او پلویان یې په سیمه او له سیمې بهر اوسېدل او هغه ته یې د مسلمانانو د څراغ په سترګه کتل.

په ۱۲۴۴ زېږدیز کال کې مولانا له شمس سره مخامخ شو. یو سرګردانه درویش ملنګ چې له اصولو سره په ټکر کې و او د روحانیت ادعا یې لرله. د دې دواړو مخامخ کېدلو د دوی ژوند بدل کړ او خپلو کې نږدې ملګري شول.

صوفیان له پېړیو راهیسې دې ملګرتیا ته د دوو سمندرونو یووالی وایي. مولانا د دې درویش له ملګرتیا سره له یو عام عالِم څخه په یو ژمن عارف، شاعر، د عشق استازي او څرخېدونکو درویشانو د نڅا په موسس بدل شو. اصولو ته یې شا واړوله.

د کینې او شخړو په درشل کې مولانا د نړیوال روحانیت په سمبول بدل شو او هر ډول خلکو ته یې دروازه پرانیسته. په هغه وخت کې هم د نن په شان د کفارو ضد جهاد دود و. د هغه پر ځای مولانا خلک د نفس ضد جهاد یا فردي پاکوالي ته وبلل.

ټولو نه د دې بلنې هرکلی کاوه او نه یې هم مینې ته زړه پرانیست. د مولانا او شمس تر منځ روحاني اړیکې له ګنګوسو، بدګمانۍ او تېري سره مل وې. د هغوی پر اړیکو خلک نه پوهېدل. حتا نژدې کسانو ورسره بخیلي کوله، وېرېدل او په پای کې یې خیانت ور سره وکړ. له درې کاله ملګرتیا وروسته په فجیع حالت سره جلا شول.

خو کیسه ورسره ختمه نه شوه. په واقعیت کې دا کیسه پای نه لري. اته سوه کاله وروسته هم د شمس او مولانا روح لا ژوندی دی او زموږ په منځ کې نڅېږي.

الیف شفق

# وژونکی

د تورو اوبو لاندې اوس مړ پروت دی، خو هر څېرې چې څم رڼې او اغېزناکې سترګې يې -لکه دوه روښانه ستوري چې له تياره اسمانه ځوړند وي- ما څارې. الکسندريا ته راغلم. په دې هيله چې لړېتوب به مې غوږ کړونکی غږ له ماغزو وباسي. هغه ناره چې پرمخ له وينې بهېدو مخکې راووته او سترګې يې وپړسولې. هوا يې په ستوني کې بنده شوه. پر چاړه د سوري شوي سړي مخه ښه لکه په ستوني کې خپه شوې د لېوه ناره.

کله چې څوک وژنې د هغه يو څه تا ته درځي لکه حوصله، بوی او يا کومه خوځېدنه. زه يې د مقتول لعنت بولم. پر بدن دې ځوړندېږي، تر پوستکي لاندې ننوځي او زړه ته ځان رسوي او درسره اوسېږي. کله چې پر سړک تېرېږم خلک نه راباندې پوهېږي، خو هر کس چې ما وژلی نښه يې په وجود کې را سره ده. زه يې په غاړه ګرځوم لکه نه ليدونکې غاړکۍ او دروندوالی يې د بدن پر غوښو حسوم. داسې حالت ناخوښوونکی دی خو اوس ورسره بلد يم او د دندې يوه برخه يې ګڼم. دومره پوهېږم له هغې راهيسې چې قابيل هابيل وواژه، د وژل شوي سا وژونکي ته ورځي. زه يې پروا نه لرم. خو ولې له وروستی پېښې راهيسې دومره نارامه يم.

دا چې څرنګه مې دا دنده تر لاسه کړه يا دندې زه تر لاسه کړم، دا ځل هر څه له پيله بدل وو. د ۱۲۴۸ کال پسرلي کې ما په قونيه کې د رنډيو له نرښځي دلال سره کار کاوه. له خولې او غوسې يې خلک وېرېدل. زما دنده د رنډيو پر سر کنټرول او د ناوړه مېلمنو بېرول وو.

هغه ورځ مې د نن په شان په یاد ده. کله چې یوه رنډۍ د خدای په لټه له خپلې دندې تښتېدلې وه. ما ته یې د موندلو دنده سپارل شوې وه. له موندلو سره مې باید د هغې مخ داسې داغلی وای چې هېڅ سړي یې مخ ته نه وای کتلی. زړه مې پرې خوږېده. ډېره ښایسته او ځوانه وه. د دې احمقې ښځې موندلو ته نژدې وم چې یو مشکوک لیک مې په خپله دروازه کې ولید. لوستې نه وم نو ځکه مې مدرسې ته یووړ او یو طالب ته مې پیسې ورکړې چې لیک را ته ولولي. مالومه شوه چې یو نامعلوم (ناشنا) لیک دی او "ځو تنو ریښتنو مومنانو" لاسلیک کړی دی.

"له کره سرچینو مو اورېدلي چې ته له کوم ځایه راغلی یې او څوک یې. د قاتلانو پخوانی غړی. موږ په دې هم پوهېږو چې د حسن صباح له مړینې او ستاسې د مشر له محاکمې وروسته ستاسې ډله ټوټه ټوټه شوه. ته له محاکمې وتښتېدې او قونیې ته راغلې. له هغې راهیسې پټ گرځې."

په لیک کې راغلي و چې د یو مهم کار لپاره ما ته اړتیا ده. په بدل کې د ښه انعام ژمنه هم شوې وه. که مې خوښه وي هماغه ماښام باید په یو ځرگنده (مشهوره) شرابخونه کې حاضر شم. د کړکۍ څنگ ته کینم، شا مې دروازې خوا ته او سترگې مې په ځمکه کې خښې وي. هلته به د کار گمارونکو سره ووینم. بشپړ مالومات به له دوی تر لاسه کړم. خو د لیدو پرمهال باید سر پورته نه کړم او د دوی د مخ کتلو هڅه ونه کړم.

یو عجیبه لیک و. خو زما ډېری کارگمارونکي عجیب خلک دي. گڼ شمېر یې غواړي چې نوم یې څوک ونه پېژني. له کلنو تجربې وروسته ویلی شم، څومره چې کارگمارونکي خپل نوم پټوي هغومره له راتلونکي مقتول سره نژدې اړیکې لري. خو ما ته یې څه؟ زما دنده وژل دي د وژلو موخه را ته مهمه نه ده. له هغه راهیسې چې کلونه وړاندې مې الموت پرېښی همدا ژوند مې غوره کړی.

زه ډېرې کمې پوښتنې کوم. ډېرو مالوماتو ته اړتیا هم نه لرم. ډېر خلک پېژنم چې غواړي لاأقل یو کس له منځه یوسي. دا چې په دې اړه څه نه کوي په دې مانا نه ده چې

دوی د وژلو وس نه لري. هر سړی د وژنې توان لري. ښايي دوی ځان بې وسه وګڼي. یوازې یوه وړه خبره په دوی کې د وژلو اور بلولی شي. یوه ناپوهي، یو وړوکی جنجال او یا هم یوه غلطه خبره یا بې وخته او بې ځایه شتون په یو معمولي انسان کې چې عادي ژوند کوي دا تبا کوونکی حس ژوندی کولی شي. هر سړی د وژنې وس لري خو هر انسان په سړه سینه یو پردی کس نه شي وژلی. دا بیا زما کار دی.

زه د نورو لپاره ناوړه کارونه کوم. ان خدای په خپلو چارو کې زما په شان کس اړین کړی. خدای ملک الموت د انسانانو د مرګ لپاره ګمارلی. انسانان د مرګ له ملایکې نفرت کوي. د خدای نوم د تل په شان سپېڅلی پاتې کېږي. د مرګ له ملایکې سره بې انصافي ده. خو په دې دنیا کې بشپړ انصاف چېرته دی.

تیاره ماښام شرابخونې ته ورسېدم. له کړکۍ سره نژدې میز ته یو داغ مخی کس په ناستي بیده و. زړه مې غوښتل چې له ځایه یې ولاړ کړم او ورته ووایم چې بل چېرې کېني. خو د نشه یانو غبرګون سړی له وړاندې نشي ارزولی. نه مې غوښتل چې د خلکو پام ځان ته واړوم. د هغه ترځنګ بل مېز ته کېناستم. مخ مې د کړکۍ لوري ته شو. له لږ ځنډ وروسته دوه سړي راورسېدل. یو ځنګ او بل ځنګ راته کېناستل چې مخونه یې ونه وینم. مخ کتو ته یې اړتیا نه وه. پوهېدم چې څومره تازه ځوانان او دې کار ته ناچمتو دي.

یوه یې را ته وویل: "ستا په اړه موږ ته ټینګ سپارښت شوی دی. موږ ته یې ویلي چې په دې کار کې ته تر ټولو غوره یې."

له غېږ سره یې ما ته خندا راغله، خو خندا مې ټینګه کړه. پوه شوم چې له ما وېرېږي. د دوی وېره زما لپاره ښه وه. ډاډه شوم چې زما سره به دوکې ته زړه ښه نه کړي.

ما ورته وویل: "هو زه په دې کار کې تر ټولو غوره یم. ځکه مې خلک شغال سری بولي. هېڅکله په سپارل شوې دنده کې پاتې نه راځم که هر څومره ګرانه هم وي."

هغه راغبرګه کړه: "ډېر ښه. په دې چې دا کار هم د نورو کارونو په شان اسانه نه دی."

دوهم کس بیا وویل: "ګوره یو کس دی چې ډېر خلک یې د ځان دښمنان کړي. له کله چې دې ښار ته راغلی له ستونزو پرته بل شی یې له ځان سره نه دي راوړي. څو ځلې مو ګوتڅنډنه ورته وکړه خو دی یې پروا نه لري. لا هم ضد را سره کوي. بله لار یې را ته نه ده پرېښې."

تل همداسې وي. کارګمارونکی د خپل نیت سپیناوی کوي، لکه ما ته چې مهمه وي او یا زما همغږي د دوی کار اسانوي.

ما ته ورته وویل: "ستاسې په مطلب پوهېږم. سړی را وښیئ."د نوم په ښودلو یو څه زړه نا زړه وو. پرځای یې د سړي ظاهر را ته په مجهوله بڼه بیان کړ. "یو بدعتکار سړی دی چې له اسلام سره هېڅ تړاو نه لري. خپل سری دی. د دین سپکاوی کوي او کفر وایي. یو بې کسه او بې نصبه ملنګ دی."

له دې اورېدو سره مې هډونه څېره شول. په ماغزو کې مې کړنګاری شو. ما هر ډول خلک وژلي وو، ځوانان زاړه، نارینه، ښځې خو تر اوسه مې ملنګ چې د تقوا سړی دی نه و وژلی. زما پر خرافاتو یقین دی. د خدای له غضبه وېرېدم. پر دې ټولو کړنو سربېره مې بیا هم په خدای باور درلود.

"یاره زه ستاسې دا غوښتنه نشم پرځای کولای. نه غواړم یو سپېڅلی انسان ووژنم. بل کس ځان ته پیدا کړئ."

له دې سره ولاړ شوم او د تګ تکل مې وکړ. خو له دوی یوه مې لاس ونیو او زارۍ یې وکړې: "ودرېږه! ستا انعام به ستا له خوارۍ سره برابر وي. چې څومره دې بیه ده، موږ به یې دوه برابره کړو."

ما په ټوکه ورته وویل: "درې برابره څنګه؟" پوهېدم چې دومره پیسې به ور نشي کړی. خو له لږ ځنډ وروسته یې ومنله. زه پر ځای کېناستم. خو بدن مې لړزېده. په دې بیه به زه

د واده وس ولرم. نور به اړتيا نه وي چې د يوې مړې ډوډۍ لپاره خواري وکړم. ملنگ يا نه ملنگ، هر انسان په دې بيه په وژلو ارزي.

په هغه شېبه څه پوهېدم چې د ژوند تر ټولو لويه تېروتنه کوم او د ژوند تر پايه به پښېمان يم. څه پوهېدم چې د ملنگ وژل به څومره گران وي او له مرگه ډېره موده وروسته به هم د چړو په شان د هغه تېزې سترگې ما هر چېرته لټوي.

څلور کاله کېږي. هغه شېبه چې د حويلۍ په منځ کې مې پر چاړه سوری کړ. بيا مې مړی څا ته وغورځاوه. د اوبو غږ ته په تمه وم خو له اوبو غږ اوچت نه شو. لکه د لوېدو پر ځای چې اسمان لوري ته پورته شوی وي. تر اوسه هم په خوب کې وېرېږم. کله چې اوبو ته گورم، هر ډول اوبه چې وي يو سوړ وحشت مې پر بدن خپور شي او کانگې راځي.

# لومړۍ برخه

## خاوره

## کلکه، جذبیدونکې او ثابته

t.me/AryanPashtoLibrary

# شمس

## سمرقند ته نژدې یو هوټل - مارچ ۱۲۴۲

د درز شوي لرګین مېز پر سر د مچیو له موم جوړې شمعې مې په مخ کې بلېدې. د نن ماښام الهام له بل هر وخته روڼ او واضح و.

یو لوی کور چې په منځ کې یې زېړ ګلاب غوړېدلي وو. د حویلۍ په منځ کې یوه څا وه چې د نړۍ تر ټولو اوبو یې اوبه خوږې او سړې وې. د اخر مني ارامه شپه وه. بشپړ سپوږمی و. یو څو ژوي چېرته لېرې غېپدل او ونګېدل. شېبه وروسته په عمر پوخ یو سړی له کوره راووت. مهربانه څېره، پلنې اوږې او ژورې خرمایي سترګې یې درلودې چې ما پسې یې کتل. څېره یې رنځوره وه. سترګې یې له خپګانه ډکې وې.

"شمس، شمسه چېرته یې؟" ښی کیڼې خوا ته یې ما پسې نارې وهلې. څغلنده باد وچلېد، سپوږمی د ورېځو شا ته غلې شوه، لکه د دې شېبې له لیدو چې ځان باسي. کونګانو شپېلي بند کړل، ځکلکیو وزر وهل ودرول. په کور کې د ننه اور هم نور نه پړکېده، یوه بشپړه چوپتیا پر ټوله نړۍ خوره شوه. سړی څا ته نژدې شو. په ملا غبرګ شو او لاندې یې وکتل: "زما ګرانه، شمسه، دلته یې؟"

ما خوله پرانیسته خو غږ مې له شونډو و نه وت. سړی نور هم غبرګ شو لاندې یې څا ته وکتل. لومړی یې د اوبو له تیارې پرته څه نه لیدل. بیا یې زما مړوند ولید چې د څا په تل کې د اوبو پر سر لکه سسته کښتۍ په توپان کې رېږده. وروسته یې زما دوې سترګې وپېژندې لکه تورې ځلېدونکې شګې چې په سپوږمۍ کې ښخې وې. زما سترګې د سپوږمۍ لور ته وې لکه له اسمانه چې د خپلې وینې پور غواړم.

سرې په ګونډو شو. په ژړا کې یې ټټر ته سوکونو ونیول. "زما شمس یې وواژه. زما شمس یې وواژه."

د ونې له شا یو سوری وخوځېد. په ډېره چټکتیا سره یې د بڼ له دېواله د وحشي پیشو په شان ټوپ کړ. خو سرې قاتل ونه لید. د درد منګولو ټینګ کړی و. دومره چیغې یې ووهلې چې غږ یې د ښیښې په شان ټوټې شو او ټوټې یې د شپې په تیاره کې ورکې شوې.

"هې، د لېوني په شان نارې مه وهه."
"دا مردار غږ دې بند کړه که نه له دې ځایه دې شړم."
"ما ویل غلی شه. غږ مې اورې. خوله دې بنده کړه."
د نارینه غږ و چې دا خبرې یې را ته کولې. چې کرار - کرار را نژدې کېده. ما ځان ناګمانه واچوه لکه په غوږو چې کوڼ وم. غوښتل مې یو څه موده نور هم په دې الهام کې پاتې شم او د خپل مرګ په اړه نور مالومات تر لاسه کړم. غوښتل مې د خپګان ځپلې سرې په اړه پوه شم. څوک و؟ زما سره یې اړیکه څه وه؟ او د مني په شپه یې ولې زه په دومره لېوالتیا سره لټولم؟

خو مخکې له دې چې بیا خپل الهام ته نظر واړوم یو چا له متې ونیولم او په دومره زور یې ټکان راکړ چې غاښونه مې په ژامه کې وخرېپېدل. له دې سره بېرته دې نړۍ ته راستون شوم.

په کراره مې سترګې پرانیستې. ترخنګ ولاړ سړی مې ولید. په ونه جګ، پنډ، شنه ږېره او د پېړو برېتونو څوکې یې تاو وې. پوه شوم چې د هوټل ښښتن دی. وار له واره مې سر خلاص شو چې سړی خو تریخ او زوروور دی. بل دا چې په دې شېبه له غوسې خوټېږي.

ترې ومې پوښتل: "څه غواړې؟ ولې مې مټ کشکاږې؟"

په چيغه يې ځواب را کړ: "څه غواړم؟ اول خو دې رمباړې بندې کړه. نور مسافر دې وويرول."

"رښتيا؟ ما چيغې وهلې؟" د ده له منګولو مې مټ ازاد کړ.

"خود دې چغې وهلې. لکه د خرس په تله کې چې ازغی ننښتی وي. څه در وشول؟ د ډوډۍ پر سر خوب وړی وې؟ خامخا دې بد خوب ليدلی".

پوهېدم چې همدا به يوازېنی منطقي ځواب وي او که له هوټلي سره دا خبره ومنم نور به مې پرېږدي، خو نه مې غوښتل دروغ ووايم.

"نه وروره، نه ويده وم او نه مې کوم خوب ليدلی. ما تر اوسه خوب نه دی ليدلی."

دی حيران شو. "نو بيا دې څرنګه چيغې وهلې؟"

"ما ته الهام وشو، دا له خوب سره توپير لري."

په ځير ځير يې را ته کتل. د خپلو برېتونو څوکې يې تر غاښ لاندې کړې. "تاسې ملنګان لېونيان ياست. په تېره بيا ستا غونډې لالهانده ملنګان. ټوله ورځ روژه نيسئ، لمونځ او ذکر کوئ او په تکنده غرمه مزل کوئ. ماغزه مو اېشي مالومه ده چې په خلاصو سترګو به خوبونه وينئ."

زه ورته موسکی شوم. رښتيا به وايي. خلک په خدای کې د ډوبېدو او لېونتوب تر منځ کرښه نرۍ بولي.

دوه هلکان را ورسېدل. د خوړو لويې کاسې او قابونه ور سره وو. د وزګړي تازه کباب وچ مالګين کبان، د غنمو ډوډۍ، ناخود، کوفته، د نسکو په ښوروا کې د پسه لم ور سر وو. هر مېز ته يې ډوډۍ وېشله. د مصالې او پيازو ښه بوی يې په هوټل کې خور و. کل چې زما مېز ته ورسېدل، ګرمه ښوروا او توره غنمينه ډوډۍ (نغن) مې ترې واخيسته.

هوټلي په احتياط سره وپوښتل: "پيسې لرې چې د خوړو بيه پرې کړې؟"

"پیسې خو نه لرم. خو پرېږده چې د خوړو او کوټې په بدل کې ستا خوب در تعبیر کړم."

هوټلي ځان سیده کړ. لاسونه یې تر تخرګو لاندې کړل. "همدا اوس دې را ته وویل چې ته خوب نه وینې."

"هو. زه د خوب تعبیروونکی یم خو پخپله خوب نه وینم."

"له دې ځایه دې باید بهر وارتیګم. ومې ویل چې تاسې ملنګان لېونیان یاستی. خو نصیحت درته کوم. نه پوهېږم چې څو کلن به یې. خو ډاډه یم چې د دین او دنیا لپاره دې ډېرې دعاګانې کړې. یوه ښه ښځه پیدا کړه، واده ور سره وکړه. ماشومان وزېږوه. دا به دې پښې پر ځمکه ټینګې کړي. ولې در په در ګرځې؟ په ټوله نړۍ کې یو شان اور بل دی. باور وکړه چې کومه نوې خبره نشته. دلته د نړۍ له ډېرو لرې ځایونو مسافر راځي. له یو ځنباک وروسته یو شان کیسې ترې اورم. سړي په هر ځای کې یو شان دي. هماغه ډوډۍ، هماغه اوبه، او ان چټیات."

"زه په نوي شي پسې نه ګرځم. زه په خدای پسې ګرځم. خدای لټوم."

په درانه غږ یې را ته وویل: "په غلط ځای کې یې لټوې. خدای دا ځای پرېښی. موږ نه پوهېږو چې کله به راځي."

د دې خبرو په اورېدو مې زړه وټکېد. "څوک چې د خدای بد وایي د ځان بد وایي."

د هوټلي پر خوله یوه عجیبه کږه موسکا راغله. پرمخ یې غوسه خوره شوه چې د خوږ ماشوم څېرې ته ورته وه.

ما ورته وویل: "خدای نه دي ویلي چې زه تاسې ته له رګونو هم نژدې یم؟ ځکه مو هېڅکله نه پرېږدي، بیا نو څنګه خپل ځان پرېښودلی شي؟"

هوټلي وویل: "خو دی مو پرېږدي. که خدای دلته وي زموږ د لوی عذاب پر وخت یوه ګوته هم نه ښوروي. په دې کې څه وایې؟"

ما ورته وویل: "دا د مینې لومړنی قاعده ده. موږ خدای مخامخ په خپله هینداره کې وینو. که د خدای نوم زموږ په فکر کې وېره او ملامتیا راولي، په دې مانا ده چې په موږ کې د ننه بې ساري وېره او ملامتیا پرته ده. که خدای له مینې او شفقت نه ډک وینو. همدا مینه او شفقت په موږ کې شته."

پوه شوم چې زما خبرو هوټلي حیران کړ خو بیا یې هم وار له واره راغبرگه کړه: "نو ته وایې چې خدای زموږ د تصور نه پیدا شوی؟ سر مې خلاص نه شو."

خو زما ځواب نیمگړی پاتې شو. زموږ شا ته دوو نشه ځوانانو نور مېلمانه تنگول. د خلکو له قابونو یې ډوډۍ اخیسته، پیالې یې جگولې. که چا غبرگون ښوده د ښوونځي د هلکانو په شان یې ملنډې پرې وهلې.

هوټلي د غاښو په منځ کې په غوسه وویل "دا غوبل باید یو څوک په کرار کړي. ته مې سیل کوه." په منډه یې ځان پېښې ته ورساوه. یو نشه یې یې له څوکۍ ولاړ کړ او په خپل ټول زور یې خولې ته سوک ور کړ. سړی چې له گوزاره ناخبره و د بوجۍ په شان پر ځمکه ولوېد. یو وړوکی غږ یې له خولې ووت نور یې ځان هم ونه ښوراوه. دوهم چې یو څه غښتلی مالومېده له هوټلي سره ونښت. خو ډېر یې ځان ټینگ نه شوای کړی او په ځمکه وغورځېد. هوټلي له کلکو بوټانو سره لغتې ورته بندې کړې. تشي او پښتورگي ته یې واهه. د گوتو د هډوکي د ماتېدو غږ مو واورېد.

ما ور نارې کړې. "بس کړه! وژنې یې؟"

د صوفي په توگه مې قسم خوړلی چې انسانان وژغورم او چا ته مې بد ونه رسي. په دې تظاهري نړۍ کې ډېر خلک بې لامله جگړه کوي او ډېر نور جگړې ته لامل لري. خو صوفي که لامل هم ولري جگړه نه کوي. په هیڅ دلیل به له چا سره و نه جنگېږم. خو د برستنې په شان به د هوټلي او دې نشه سړیو ترمنځ ځان واچوم چې جگړه ودرېږي.

"ته منځ ته مه راځه ملنګه. که نه ستا حال به له دې بدتر کړم." دواړه پوهېدو چې دی به داسې څه ونه کړي.

شېبه وروسته کله چې د هوټل شاګردانو سړي اوچت کړل. د یوه د لاس ګوته او د بل پزه ماته وه. وینې بهېدلې وې. په ټول سالون کې وېروونکې چوپتیا خوره وه. داسې مالومېده لکه هوټلي چې په خپل کار ویاړي. ما ته یې په خُنګ راوکتل. کله یې چې خبرې پیل کړې لکه ټولو خلکو ته چې وینا کوي.

"ګوره ملنګه، تل داسې نه وم. له شخړې سره مې کار نه و. خو اوس داسې شوم. کله چې خدای موږ عام خلک هېروي، نو مجبور یو چې ځان تکړه کړو او عدالت را منځ ته کړو. دا ځل دې چې له خدای سره خبرې کولې ورته ووایه کله چې ته خپل پسونه هېروې، هغوی به د حلالې یا ذبحې په تمه نه کېني. له هغوی به لېوان جوړېږي."

ما دروازې خوا ته مخه کړه په تلو کې مې وویل "ته تېر وتلی یې."
"دا چې زه پسه وم اوس لېوه را نه جوړ دی، غلط وایم؟"
"ته دا خبره دې سمه ده چې لېوه در نه جوړ شوی. خو دا انصاف نه دی."
له شا یې را نارې کړې "ودرېږه! ستا سره مې کار لا پاتې دی. ته مې پوروړی یې. د خوړو او پاتې کېدو په بدل کې تا د خوب تعبیرولو ژمنه کړې وه."

"تر هغه به زه ښه کار درته وکړم. ورغوییې به دې ولولم." ور وګرځېدم. هېښناکو سترګو ته یې خیر شوم. بې ارادې یې اوږې ګورنجې شوې. ما یې ښی لاس ونیو او ورغوییې مې یې را واړوه. لاس یې لرې نه کړ. د لاس ژورې کرښې یې هر لورې ته تللې وې. ذرې ذرې یې د روح رنګونه راښکارېدل - کمرنګه خړ، پخ شین چې خاورین ته ورته و. روحاني انرژي یې تشه وه او څنډې یې نازکې وې لکه د بهرنۍ نړۍ پر وړاندې یې چې طاقت له لاسه ورکړی وي. د ننه لکه مړاوی بوټی و. د روحاني انرژۍ پر ځای یې فزیکي وړتیا دوه برابره وه همدا انرژۍ یې په خلاص لاس کاروله.

زړه مې په درزا شو. يو څه مې وليدل. لومړی روڼ نه و خو کرار کرار مې مخ ته روښانېده. د خرمايي ويښتانو يوه ښځه وه. په لوڅو پښو يې تور خالونه وو. پر اوږدو پراته سره شال کې يې په ستن ګنډل شوي ګلان وو.

"د ژوند شريکه دې له لاسه ورکړې." کېن لاس مې يې ونيو. د ښځې تي له شيدو ډک پړسېدلي وو. ګېډه يې دومره لويه وه تا ويل چوي. د يوې جونګړې په منځ کې بنده وه چې د اور په لمبو کې سوځېده. د جونګړې شا او خوا ته جنګيالي پر اسانو سپاره وو. د اسانو زينونه له سپينو وسپنو جوړ وو. د خځلو او انسان د غوښو تور لوګی هوا کې و. د مغولو لښکر، پلنې پزې، لنډ او پېړل ورمېږونه، زړونه يې د تور کاڼي په څېر کلک. د چنګېز پياوړی پوځ.

"دوه عزيزان دې له لاسه ورکړي. مېرمن دې مېندواره وه."

د هوټلي ورويڅې راټولې شوې. سترګې يې په خپلو بوټانو کې ښخې وې. شونډې يې له يو بل سره سرېښ وې. مخ يې ګونځې شو. تا ويل په يوه شېبه کې څو کاله زوړ شو.

"پوهېږم چې ستا درد پرې نه کمېږي، خو فکر کوم بيا هم ته بايد پوه شې چې مېرمن دې اور نه ده وژلې. د لرګي يو تيز له چته پرېوت او د هغې پر سر ولګېد. ځای پر ځای مړه شوه. په مرګ يې عذاب نه دی ګاللی. تل فکر کوې چې څومره به يې درد ګاللی وي خو داسې نه وه."

هوټلي سترګې را پورته کړې: "ته څنګه خبر شوې؟"

ما يې پوښتنې ته ځواب ور نه کړ. "ته ځان ګرم بولې چې جنازه دې يې ونه کړه. اوس يې هم په خوب وينې چې له قبره په خاپوړو راوځي. خو ذهن دې ستا سره لوبې کوي، په واقعيت کې مېرمن او زوی دې دواړه ښه دي. د ابد په لور روان دي. د رڼا په څېر ازاد."

وروسته مې ور زياته کړه: "ته بيا هم په ورې بدلېدی شې. په تا کې دا وړتيا شته."

له دې اورېدو سره هوټلي خپل لاس کش کړ لکه سور تبخی یې چې په لاس لګېدلی وي.

"خوښ مې نشوې ملنګه. نن شپه دې پرېږدم چې دلته پاتې شې. خو سهار وختي باید له دې ځایه ولاړ شې. بیا دې مخ مه راښیه!

تل همداسې کېږي. کله چې حقیقت ووایې خلک کرکه درنه کوي. څومره چې له مینې خبرې وکړې هغومره خلک در نه نفرت کوي.

## شمس

### سمرقند ته نژدې یو هوټل – مارچ ۱۲۴۲

د یوازېتوب د پېټي لاندې، په دوهم چټ کې مساپر ویده وو، هر یو په خپل خوب کې. لوڅې پښې ولاړم چې د خولو او خیرو ډکه خپله تاو شوې تشه بستره خوره کړم. په تیاره کې پرېوتم چې د ورځې په پېښو او غیبي الهام- چې زما ورته پام نه و- فکر وکړم.

له ماشومتوب مې دا ډول الهامونه لیدل او اورېدل. ما به له خدای سره خبرې کولې. هغه به تل ځواب را کاوه. کله به اووم اسمان ته د یو ارام غږ په څېر والوتم. بیا به د ځمکې تر ټولو کښته کنده کې پرېتوم، د خاورې بوی به مې لګېدو. د بلوطو. (څېړیو) د ونو لاندې لکه ښخه شوې ډېره. کله به مې خوړو ته زړه نه کېده او څو ورځې به تشه ګېده ګرځېدم. خو دې شیانو زه نه وېرولم. خو د وخت تېرېدو سره پوه شوم چې دا راز چا ته ونه وایم. انسانان چې په څه پوه نشي اعتبار پرې نه کوي. دا ما ته پخپله تجربه شوې.

پلار مې لومړنی کس و چې زما پر الهامونو یې باور نه کاوه. لس کلن به وم چې خپله ساتونکې پریښته مې هر ورځ لیده. ساده وم، فکر مې کاوه چې هر انسان یېویني. یو ورځ مې پلار له صبر ونې د قوطي جوړول را زدکول چې زه هم د ده په شان ترکاڼ شم. له خپلې ساتونکې پریښتې ورته وویل.

وچ یې را ته وویل: "ماغزه دې خراب دي زویه. ښه به دا وي چې خوله پټه وساتې کلیوال به بیا نه خپه کوو." یو څو ورځې مخکې کلیوالو زما مور پلار ته ویلي وو چې زوی دې ګډې وډې وایي او زموږ ماشومان وېروي.

"ستا په کړو وړو نه پوهېږم زویه. ولې دا نه منې چې ته له خپل مور پلاره کوم توپیر نه لرې. ټول ماشومان مور او پلار ته کېږي او ته هم زموږ په شان یې."

له مور پلار سره مې مینه لرله او د دوی د مینې تږی وم خو پوه شوم چې ما ته دوی زیاتې پردي دي.

"پلاره، زما هګی ستا د نورو ماشومانو له هګی توپیر لري. داسې وګڼه چې زه د هیلۍ بچې یم او چرګانو لوی کړی یم. زه کورنۍ چرګوړی نه یم چې د ژوند تر پایه د چرګانو په منځ کې و اوسېږم. هغه اوبه چې تا وېروي ما ته ژوند را ببښي. په دې چې زما لامبو زده ده او زه به لامبو وهم. سمندر زما وطن دی. که زما سره یې، سمندر ته راځه. که نه نو زما په کار کې لاس مه وهه او د خپلو چرګانو کور ته ولاړ شه."

د پلار سترګې غتې شوې او بیا وړې او نرې. "ته چې د خپل پلار سره په دې ژبه خبرې کوې کله چې لوی شې له دښمن سره به کومه ژبه کاروې."

د مور پلار له خواشینۍ سره زما د الهامونو لړۍ ونه درېده. لا نور هم جدي او ټینګ شول. پوهېدم چې مور پلار زما دې حالت سره ارام نه وو. ما به ځان ګرم باله. نه پوهېدم چې ځرنګه الهام ودروم. خو که پوهېدی هم فکر نه کوم چې دا کار مې کړی وی. ډېره موده نه وه تېره چې کور مې پرېښود. له هغه راهیسې تبرېز پرته له یوې نرمې او خوږې کلمې چې زما پر ژبه وېلې کېږي بل شی نه دي. د تبرېز درې شیان مې په ذهن کې لا هم شته لکه پرې شوي لرګي، د ډوډۍ پرمخ د کوکنارو دانې او د واورې وچ بوی.

له هغه راهیسې لالهانده درویش ملنګ یم. په یو ځای کې دوه ځلې نه خملم. په یوه کاسه کې دوه ځلې ډوډۍ نه خورم. هره ورځ نوې ځېرې وینم. کله چې وږی شم خلکو ته خوبونه تعبیروم او یو څو سکې ګټم. په همدې رقم سره ختیځ او لوېدیځ ته سفر کوم. په هسکو او ژورو کې خدای لټوم. د وړ ژوند او علم لپاره هر چېرته ځم. له کوم ځای سره تړلی نه یم، هېڅ ځای را ته پردی نه دی.

په خپلو مزلونو کې پر هر ډول لارو تللی یم. له پېژندليو سوداګريزو لارو نيولې تر داسې بېدياوو چې په ورځو ورځو به څوک په مخه در نه شي. د توري بحيرې له سواحلو بيا د فارس تر ښارونو، د منځنۍ اسيا له هسکو بيا د عربو تر شګلنو صحراوو. له ګڼو ځنګلونو، هوارو چمنونو او دښتو اوښتی یم. په کاروان سرايونو او هوټلو کې مې شپې تېرې کړې. په زړو کتابتونونو کې مې له پوهانو سره خبرې کړې. په ښوونځي کې مې ښوونکو ته غوږ نيولی چې ماشومانو ته يې سبق وايه. د مدرسې له طالبانو سره مې پر تفسير او منطق بحث کړی. مندرونو، بت خانو او زيارتونو ته تللی یم. له زاهدانو سره مې په غارونو کې تفکر کړی. له صوفيانو سره مې ذکر کړی. له حکيمانو سره مې يو ځای روژه نيولې او د بدعتکارو سره مې ډوډۍ خوړلې. د شامانو سره د سپوږمۍ په رڼا کې نڅېدلی یم. د هر دين، عمر او مسلک خلک مې پېژندلي او د ناورين او معجزې شاهد اوسېدلی یم.

بې وزله کلي، په اور سوې کروندې مې ليدلي، هم مې لوټ شوي ښارونه چې رودونه يې په وينو سره وو او له لس کلنو ماشومانو پورته سړي پکې ژوندي نه وو. ما د بشريت بدترين او بهترين حالت ليدلی. هېڅ شی مې نور نشي هېښولی.

د دې تجربو د يادون لړۍ را سره وه چې په هېڅ کتاب کې نه وه ليکل شوې، يوازې زما د روح پر مخ کښل شوې وه. دا شخصي لړۍ زه د مسلمان سيلاني عارف بنسټيز اصول بولم. دا تجربې ما ته نړيوالې، اړوند او نه بدلېدونکې وې، کټ مټ لکه د طبيعت قانون. په ګډه دوی د مينې د مذهب د څلوېښتو قاعدو برخې دي چې يوازې او يوازې د مينې له لارې تر لاسه کېږي.

له دې قاعدو يوه وايي: زړه د حقيقت د لارې مزل وهي، سر نه. زړه خپل لارښود وټاکه، فکر نه. نفس دې وپېژنه، وې ګواښه، په پايله کې زړه پر نفس غالب کړه. ځان پېژندنه به خدای پېژندنې ته لار پرانيځي.

پر دې قاعدو مې کلونه زحمت ایستی. اوس مې چې بشپړې کړې، وپوهېدم چې په دې نړۍ کې مې وخت زیاتي په خلاصېدو دی. په دې وروستیو کې په دې اړه ډېر الهامونه را ته کېږي. خو له مرګه نه وېرېږم. په دې چې مرګ زه د کار ختم نه ګڼم. خو پرته له دې چې نوم پرېږدم مرګ نه غواړم. زما په سینه کې ډېر الفاظ تمبار دي او ډېرې کیسې پرتې دي چې باید واورېدل شي. ما غوښتل چې دا پوهه یو بل انسان ته وسپارم، کوم مرشد یا مقتدي ته نه، داسې چا ته چې له ما سره برابر وي، ملګری وي.

په تیاره او نمجنه کوټه کې مې وویل: "خدایه، ټول عمر په سفر کې وم او ستا په لاره ولاړم. ما هر سړي د پرانیستي کتاب او ګرځند قرآن په څېر ولید. زه د عالمانو له سپینو ماڼیو لرې وګرځېدم. له ټولنې شړل شویو، مساپرو او بې وطنو سره مې وخت تېرول غوره وبلل. اوس په چاودېدو یم. مرسته راسره وکړه چې ستا علم سم سړي ته وسپارم. بیا چې زما سره هرڅه غواړې وکړه."

په کوټه د رڼا باران ووربد. د وېدو مساپرو مخونه شنه مالومېدل. د کوټې د نه هوا تازه او ژوندۍ شوه ته به وایې کړکۍ پرانیستل شوې او له لرې باغونو باد د یاسمین او لیلي ګلانو بوی راوړي.

زما ساتونکې پرېښتې را ته وویل: "بغداد ته ولاړ شه."
ما وپوښتل: "په بغداد کې ما ته څه په تمه دي؟"
"د ملګري هیله دې وکړه. ملګری به وموومې. په بغداد کې به له هغه پیر سره مخامخ شې چې لار در وښیي."

په سترګو کې مې د شکرانې اوښکې راغلې. اوس پوه شوم چې په الهام کې لیدلی سړی زما روحاني ملګری و. له وخت وړاندې یا وروسته به سره وینو. کله مې چې ولید بیا به پوه شم چې د هغه خرما رنګه سترګې ولې غمجنې وې او ولې په هغه شپه زه قتل شوم.

# مرشد

بغداد، اپریل ۱۲۴۲

بغداد د شمس په را تګ خبر نه شو، خو هېڅکله به مې هغه ورځ هېره نه شي چې شمس زموږ د صوفيانو ساده خانقا ته را ننوت. په هغه ماسپښين د مهمو مېلمنو کوربه وو. لوی قاضي (قاضي القضات) له خپلو ملګرو سره په چکر راغلی و. فکر کوم چکر هسې پلمه وه. له تصوف سره د قاضي کرکه ټولو ته مالومه وه. هغه غوښتل موږ ته يادونه وکړي چې د ده په سيمه کې-لکه نور صوفيان- موږ هم څارل کېږو.

قاضي خود غرضه انسان و. مخ يې ګرد، لوی خېټی او پر ټولو لنډو پنډو ګوتو يې ګوتمي وو. ډېر خوړل يې بايد کم کړي وای، خو د دې خبرې زړه چا نه درلود، ان طبيب يې ورته ويلی نه شوای. پلار او نيکونه يې ټول عالمان وو. په سيمه کې يې ډېر نفوذ درلود. په يوه حکم يې سړی دار ته خېژوی شوای او يا يې يو محکوم مجرم ښښلی شوای. تل به يې د ښکلو پوستين او ګران بيه جامې اغوستې. داسې به ګرځېده لکه پر ځان چې ډاډه وي. ما ته يې تظاهر خوند نه را کاوه خو د خانقا د ځغورلو لپاره مې هڅه کوله چې اړيکې ورسره سمې وساتم.

يو اينځر يې خولې ته کړ او په ډاډ يې وويل "موږ د نړۍ تر ټولو مجلل ښار کې اوسېږو. د چنګېز له ظلمه په تېښته ګڼ شمېر کډوال دلته مېشت دي. موږ ځای ور کوو. دا ښار د نړۍ مرکز دی، همداسې نه ده بابا زمانه؟"

ما په احتياط سره ورته وويل: "په يقين سره چې دا ښار لکه غمی دی. خو بايد هېر نه کړو ښارونه د انسان په شان دي. زېږول کېږي، د ماشومتوب او ځوانۍ له پړاوه تېرېږي، بيا

زړېږي او په پای کې مري. اوس بغداد د ځوانۍ په اخر عمر کې دی. موږ د خلیفه هارون الرشید د زمانې پرتله شتمن نه یو. خو لا هم یو څه ویاړو چې د سوداګرۍ، کسب او شعر مرکز یو. څوک پوهېږي چې زر کاله وروسته به دا ښار څه ډول وي. هر څه به بدل وي."

قاضي چې له غابه یوه خرما اوچته کړه، سر یې وښوراوه: "دومره ناهیلي؟ د عباسیانو واکمني به نوره هم وغوړېږي. په دې شرط چې اوسنی پرمختګ یې خاینان ناکام نه کړي. داسې خلک شته چې ځانونه مسلمانان بولي، خو له اسلام یې تعبیر د کافرانو له ګواښ ډېر خطرناک دی."

زه غلی پاتې شوم. ټولو ته معلومه وه قاضي فکر کاوه عارفان د اسلام په فردي او مرموز تعبیر ستونزې جوړوي. هغه موږ په دې تورنوي چې شریعت ته پام او د ده په شان واکمنو کسانو درناوی نه کوو. کله داسې حسوم چې هغه غواړي ټول صوفیان له بغداد وشړي.

په خپله بېړه یې لاس تېر کړل او ویې ویل: "ستاسو وروروولي بې خطره ده، خو فکر نه کوې ځینې صوفیان ناوړه دي؟"

نه پوهېدم څه ځواب ور کړم. د خدای شکر دی چې په دې شېبه کې چا ور وټکاوه. زموږ سور سری نوی شاګرد و. په کرار زما خوا ته راغی او په غوږ کې یې را ته وویل چې یو سرګردانه ملنګ راغلی او ټینګار کوي چې یوازې زما سره خبرې کوي له بل چا سره نه.

په داسې وخت کې زه مېلمه یوې ارامه خونې ته لېږم چې تاوده خواړه ور کړل شي او ارام وکړي تر هغه چې نور مېلمانه رخصتېږي. خو د قاضي د خبرو تر بار لاندې راغلی وم. فکر مې وکړ چې مساپر ملنګ به د لرې ځایونو کیسې را ته وکړي او د مجلس فضا به ور سره بدله شي. نو نوي شاګرد ته مې وویل چې سړی مجلس ته راولي.

څو شېبې وروسته دروازه خلاصه شوه او یو سړی چې له سر تر پښو په تورو جامو کې پټ و د ننه شو. وچ کلک ډنګر چې د عمر حدس یې نشوای کېدی. نری پزه، تکې تورې

سترګې او ولول اوږده تور ویښتان یې په سترګو لګېدل. اوږده خولۍ والا خرقه او د وړیو کالي یې اغوستي وو. په پښو یې د پسه له وړیو جوړې موزې وې. رنګارنګ غمي یې پر غاړه ځړېدل. لرګین کچکول یې په لاس کې و؛ لکه د سوالګرو ملنګانو په شان چې د خیر په غوښتلو خپل غرور ماتوي. پوه شوم چې دا سړی د ټولنې د قضاوت پر وړاندې بې پروا دی. ښايي خلک د یو سرپډاګه او سوالګر په سترګه ورته ګوري، خو پر ده بې اغېز نه مالومېده.

لا ولاړ و او د ځان پېژندلو اجازې په تمه و. خو زه پوه شم چې دا سړی له نورو توپیر لري. د سترګو او د لاسونو ځانګړې خوځېدو یې توپیر درلود. نابلدو سترګو ته لکه بلوط لرګی مالومېده خو ما ته په کتو سره لکه د صبر ونه دنګ او ویاړلی مالوم شو.

"زموږ خانقا ته په خیر راغلې ملنګه." اشاره مې ورته وکړه چې ما ته مخامخ پر دوشکه کېني.

له ټولو سره یې سترې مشې وکړ. وروسته کیناست او د مجلس ناست کسان یې وڅارل. بیا یې نظر پر قاضي ودرېد. دواړو یو بل ته څو شیبې وکتل. یوه خبره یې هم یو بل ته ونه کړه. ما ته دا فکر پیدا شو چې دوی دواړه خو د یو بل متضاد دي، د یو بل په اړه به څه فکر کوي.

ما ملنګ ته د وزې تودې شیدې، خواږه اینځر او ډکې شوې خرماوې وړاندې کړې، خو هغه په ډېر ادب سره ټول رد کړل. د نوم پوښتنه ترې وشوه. هغه ځان شمس تبریزي وپېژانده او ویې ویل چې ګرځند ملنګ دی. د خدای په لټه په هسکو او ژورو کې سرګردان ګرځي.

ما ترې وپوښتل: "تو خدای دې وموند؟"

د ملنګ پر مخ سیورۍ راغی او سر یې وښوراوه. "هو، ټول عمر زما سره و."

قاضي خبرو ته را ولوېد: "هېڅ نه پوهېږم چې تاسې ملنګان ولې ژوند دومره سختوئ. که خدای ټول عمر در سره و نو ولې بیا دومره سرګردان د هغه په لټه کې ګرځئ؟".

شمس تبرېزي سر ټيټ کړ او يوه شېبه غلی و. کله چې يې سر اوچت کړ، مخ يې ارام و، غږ يې متوازن و. "په دې خاطر چې خدای په لټولو نه موندل کېږي، يوازې هغوی چې خدای لټوي موندلی يې شي."

قاضي ور غبرګه کړه: "د الفاظو لوبې. ته وايې په ځای ناستو سره خدای نه موندل کېږي؟ دا چټيات دي. خلک اړ نه دي چې د خدای موندلو لپاره ستا غوندې شړې واغوندي."

د قاضي له خبرې وروسته په مجلس کې خندا خوره شوه. خلک له قاضي سره د موافقې لپاره شنه ناست وو. بې خونده، په لوړ اواز خندا چې دا ډول خلک يې د خپلو مشرانو د رضايت لپاره کوي. د نارامی احساس مې وکړ. په کار نه وه چې قاضي او ملنګ سره يو ځای شي.

شمس قاضي ته وويل: "ښايي خبره مې واضح شوې نه وي. زه نه وايم چې په خپل ټاټوبي کې پاتې کېدلو سره خدای نه موندل کېږي. داسې خلک شته چې هېڅکله هېڅ چېرې نه دي تللي خو نړۍ يې ليدلې."

قاضي په خوشالي او وياړ سره وويل: "بالکل".
خو خندا يې د ملنګ له دوهمې خبرې سره وچه شوه:
"قاضي صاحب زما مطلب دا و، هغه سړی خدای نشي موندلی چې ستا په شان يې د وړيو په پوستين، وربښمنو جامو او ګران بيه لالونو کې ځان پټ کړی وي."

پر مجلس هېښوونکې چوپتيا خوره شوه، حوصلې او ساوې لا مړاوې شوې. ټول د يوې لوبې پيښې په تمه وو.

قاضي وويل "د ملنګانو خلاف دې ژبه ډېره تېره ده."

شمس ځواب ور کړ "کله چې د خبرې اړتيا وي، که توله نړۍ مې له غاړې ونيسي بيا يې هم وايم."

قاضي تندی ګونځې کړ خو بيا يې خبره اوږده کړه. "څرنګه دې چې خوښه وي. په هر حال، مخکې مو د ښار پر جلال خبرې کولې. ښايي ته مرسته وکړې په دې چې تا به ډېر ځايونه ليدلي وي. تر بغداد ښه ښار شته؟"

شمس په کرار ورته وويل: "بې له شکه چې بغداد ښکلی دی. خو د ځمکې پر سر هېڅ ښکلا تل پاتې نه وي. ښارونه د روح پر ستنو ولاړ دي، لکه غټې هېنداري د ښاريانو زړونه پکې انعکاس کوي. که زړونه تور او ايمان يې لاړ شي د ښارونو نور او جلال هم ور سره ځي. هر څېرې همدا خبره ده."

بې ارادې مې د تاييد په موخه سر وښوراوه. ما ته يې تود نظر واچوه. نظر يې لکه د لمر وړانګې پر ما ولګېد. پوه شوم چې څومره په اسم مسما دی. د ژوند او ځواک انرژي پکې د لنه وه، لکه لمر د ننه سوځېده. په رښتيا چې دی شمس و، لمر و.

خو د قاضي فکر بل و. "تاسې صوفيان هر څه پېچئ. فيلسوفان او شاعران هم داسې کوي. دومره الفاظو ته څه اړتيا ده؟ انسان ساده مخلوق دی او ساده اړتياوې لري. دا د مشرانو کار دی چې اړتياوې برابرې کړي او د بې لارۍ مخه ډب کړي. د دې کار لپاره شريعت بايد پلې شي."

شمس وويل: "شرعه لکه شمعه ده. موږ ته ارزښتناکه روښنايي را کوي. خو هېره مو نشي چې شمعه په تياره کې موږ ته د خوځېدو لار ښيي. که مو خوځېده هېر شي او پر ځای يې په شمعه تمرکز وکړو نو د شمعې ګټه بيا څه ده؟"

د قاضي پر مخ غوسه مالومېده. ما نارامي حس کړه. د داسې چا سره چې قاضي دی او خلکو ته د شريعت پر بنا جزا ور کوي پر شرعه بحث کول ښه خبره نه ده. په دې شمس نه پوهېده؟

په دې فکر کې وم چې څرنګه يو معقول عذر پيدا کړم او ملنګ له مجلسه وباسم چې شمس وويل: "يوه قاعده ده چې پر داسې حالاتو دلالت کوي."

قاضي په شک سره وپوښتل: "کومه قاعده؟"

شمس سترګې پورته کړې. ته به وايې له يو نه ليدونکي کتاب څه لولي: "هر سړی د خپلې پوهې په کچه د قرآن مجيد په مانا پوهېږي. د قرآن مجيد د پوهې څلور پړاوه دي. لومړی يې بهرنی پړاو دی چې ډېری خلک ترې راضي دي. دوهم يې د ننه يا باطني پړاو دی. دريم په ننه کې د ننه پړاو دی. څلورم پړاو يې دومره ژور دی چې په الفاظو نه ويل کېږي او بې شرحې پاتې کېږي."

شمس دمه وکړه او بيا يې اضافه کړه: "عالمان چې پر شريعت ټينګار کوي، په بهرنۍ برخه پوهېږي. صوفيان د ننه برخه لولي. وليان په ننه کې د ننه برخه پېژني. څلورمه برخه خدای، پيغمبرانو او هغوی ته نژدې کسانو ته مالومه ده."

قاضي وار له واره پوښتنه وکړه: "ته وايې يو عام صوفي د قرآن مجيد پر مانا د شريعت تر عالم ډېر پوهېږي؟ پام کوه ملګريه، د مطلق کفر حد ته ډېر نژدې شوی يې."

که دا ګوت خندنه وه خو ملنګ غوږ پرې ونه ګراوه."مطلق کفر څه شی دی؟ اجازه راکړه چې يوه کيسه درته وکړم. يوه ورځ موسی (ع) په يوازې سر په غرونو کې ګرځېده، چېرته لرې يې يو شپون وليد چې په ګونډو دی او لاسونه يې په دعا نيولي. موسی خوشال شو، کله چې ور نژدې شو د شپون اواز حيران کړ.

شپون ويل: ای زما ګرانه خدايه، دومره راباندې ګران يې چې ته خپله هم نه پوهېږې. ستا لپاره به هر کار وکړم ته يوازې غږ وکړه. که ته ووايې چې په رمه کې مې تر ټولو پنډه

پسه حلال کړم بې له ځنډه به دا کار وکړم. ته هغه کباب کړه او په لم کې یې وریژې پخې کړه چې خوندورې شي.

موسی نور هم ور نژدې شو چې خبرې په غور سره واوري. شپون ویل: وروسته به ستا پښې ومینځم، غوږونه به دې پاک کړم، ستا له وېښتانو به سپږې لرې کړم. دومره راباندې گران یې.

د موسی حوصله نوره ختمه شوه او پر شپون یې چیغه کړه: بس کړه نادانه! دا څه غږوې؟ فکر کوې خدای وریژې خوري؟ فکر کوې خدای پښې لري چې ته یې ومینځې. دا عبادت نه دی مطلق کفر دی.

شپون وشرمېد او ښېنه یې وغوښته. ژمنه یې وکړه چې د نورو خلکو په شان به عبادت کوي. موسی یو څو دعاگانې ور زده کړې او پخپله مخه خوشاله ولاړ.

خو په هغه شپه موسی د خدای غږ واورېد: ای موسی، دا تا څه وکړل؟ تا هغه بې وزله شپون توبیخ کړ او خبر نه وې چې ما ته څومره گران و. د هغه خبرې سمې نه وې خو اراده یې پاکه وه. زړه یې پاک او نیت یې صاف و. زه ور سره خوشال وم. ته د نښلولو لپاره گمارل شوی یې د بېلولو لپاره نه.

موسی سملاسي په خپله تېروتنه پوه شو. سهار وختي د غره په لور روان شو. شپون یې وموند چې په نوې بڼه عبادت کوي. د عبادت د نوې بڼې سره بلد نه و، هڅه یې کوله چې هر څه سم ادا کړي. خو د پخوا په شان شور او جذبه پکې نه وه. موسی پخپله تېره وینا پښېمان و. شپون یې په شا وټپاوه او ورته یې وویل: ملگریه زه تېر وتلی وم. ما وبخښه. پخپله پخوانۍ بڼه عبادت وکړه. خدای ته هغه بڼه تر دې ښه ښکاري.

شپون د دې خبرو له اورېدو سره حیران شو. خوشالي یې حس کړه خو نه یې غوښتل چې پخواني شان عبادت ته ستون شي او نه یې هم د موسی سپارښت شوې رسمي بڼ

غوره کړه. شپون له خدای سره د تفاهم له نوې بڼې سره اشنا شو. نور له پخوانی بڼې راوتلی و.

نو قاضي صاحب، له خدای سره د خلکو د اړیکو په څرنګوالي نیوکه مه کوه. هر څوک پوه شه او عبادت یې. خدای مو خبرو ته نه ګوري، هغه مو د زړه تل ته ګوري. ظاهري مراسم پروا نه لري خو مهمه ده چې زړونه مو په کافي کچه سپېڅلي دي که نه."

د قاضي مخ ته مې وکتل. د ډاډ تر شا مالومېده چې غوسه ورغلې وه. خو هوښیار سړی و پوهېده چې که بله خبره وکړي نو بیا به اړ شي چې پر شمس د ګستاخۍ په تور د سزا فتوا صادره کړي او خبره به ورانه شي. خلک به وایي چې یو ساده ملنګ پر قاضي لفظي تېری وکړ. داسې یې څرګنده کړه چې کومه خبره نه وي.

بهر لمر په لوېدو و. اسمان یې په ښکلو رنګونو انځور کړی و. ځای ځای تورې ورېځې هم خورې وې. قاضي ولاړ شو. ویل یې یو مهم کار ته باید ځان ورسوي. ماته یې سر وښوراوه او شمس ته یې ساړه وکتل. دی مخکې ملګري یې تر شا روان شول.

د دوی له وتو وروسته مې شمس ته وویل: "د قاضي خوښ نه شوې."

شمس ویښتان له سترګو لرې کړل: "پروا نه لري، د خلکو له نه خوښېدو سره عادت شوی یم."

زما احساسات را پارېدلي وو. ډېره موده کېږي چې د دې خانقا مشر یم. داسې مېلمه هر وخت نه راځي. ما وویل: "ملنګه، را ته ووایه چې ستا په شان کس په بغداد کې څه کوي؟"

ځواب ته یې بې صبره وم خو په عین حال کې وېرېدم هم.

# نوی شاګرد

بغداد، اپریل ۱۲۴۲

په ټيټېدو او درناوي سره ما قاضي تر دروازې بدرګه کړ. بیا په منډه کوټې ته راغلم چې ناولي لوښي ټول کړم. حیران شوم چې بابا زمان او ملنګ مې په هماغه پخواني حالت کې ولیدل. یوه هم خبرې نه کولې. د سترګو له کونجونو مې ور وکتل. داسې هم امکان لري چې له غږېدو پرته دوه کسه خبرې وکړي. هلته مې څه موده په یوه او بله پلمه ځان ایسار کړ. بالښتونه مې سم کړل. له غولي مي ځځلي اوچتې کړې، کوټه مې پاکه کړه. نور نو د پاتې کېدو لپاره پلمه را ته پاتې نه شوه.

نیم زړی پخلنځي ته لاړم. پخلنګر (اشپز) له لیدو سره سم امرونه را خوشي کړل: "د مېز سر پاک کړه. غولی جارو کړه. لوښي ومینځه. د تنور دود صاف کړه دیوالونه صافي کړه. دا دې چې وکړل بیا لاړ شه او د موږکانو تلک وګوره."

له شپږو میاشتو راهیسې چې دې خانقا ته راغلی یم، پخلنګر مې کرار نه پرېږدي. هره ورځ د سبې په شان کار را نه اخلي او دې ظلم ته د تصوف زدکړه وايي. ته وایې غوړ لوښي مینځل له تصوف سره تړاو لري.

پخلنګر لږ خبرې کوي خو یوه خبره تل کوي. "پاکي عبادت دی او عبادت پاکي ده." یو ځل مې ورته وویل: "که داسې وي نو د بغداد مېرمنې به پیرانې وای."

د لرګي په څمڅه یې پر سر وویشتم او په چیغو یې را ته وویل: "داسې خبرې به دې سړی نه کړي. که غواړې صوفي شې د لرګي څمڅې په شان غلی اوسه. بغاوت په نړۍ کار کې ښه نه دی. لږ خبرې وکړه چې ژر پوخ شې."

له پخلنگر مې بد راتلل خو ترې وېرېدم. تر دې ماښامه مې هېڅکله د ده له خبرو سرغړونه نه وه کړې.

کله چې د هغه را ته شا شوه، د گوتو په سرو له پخلنځي وتښتېدم او لوېې کوټې ته لاړم. د ملنگ په اړه پوهېدو ته تلوسی وم. دی څوک دی؟ دلته څه کوي؟ دی د خانقا د نورو دروېشانو په شان نه دی. که تعظیم هم وکړي سترگو کې یې سرکشي ده. یو شان ناعادي انسان دی چې سړی وېروي.

د وره له درزه مې پټ ور وکتل. اول مې څه نه لیدل خو بیا مې سترگې له تیارې سره بلدې شوې او د هغوی مخونه مې ولیدل. وامې ورېدل چې مرشد ترې پوښتنه وکړه. "را تهووایه د تبرېز شمسه. بغداد ته څه شي راوستې؟ په خوب کې خو به دې نه وي لیدلی؟"

ملنگ سر وښوراوه "نه خوب دلته نه یم راوستی. الهام راوستی یم. زه خوب نه وینم."

بابا زمان په کراره ورته وویل "هر څوک خوب ویني. ښایي په یاد دې نه پاتېږي. خو په دې مانا نه ده چې خوب نه وینې."

ملنگ ټینگار وکړ "خو زه یې نه وینم. دا زما او خدای تر منځ معامله ده. پوهېږې کله چې وړکی وم، ما به پرېښتې لیدلې او د کایناتو راز به مې کوت چې د سترگو مخکې مې سپړل کېده. دا خبره مې چې مور پلار ته وکړه، هغوی خوشاله نه وو، ویل یې خوب لیدل بند کړه. کله مې چې ملگرو ته وویل هغوی هم ویل چې زه یو بېکاره خوب لیدونکی یم. له خپلو استادانو سره مې د خبرو هڅه وکړه خو د هغوی ځواب هم څه توپیر نه درلود. په اخر کې پوه شوم، انسانان چې ناعادي څه واوري خوب یې بولي. په همدې مې له دې کلمې نه بد راځي.

په دې ویلو سره ملنگ تم شو لکه کوم غږ یې چې اورېدلی وي. بیا ولاړ شو او په کراره زما د وره لور ته راغی او زما خوا ته یې کتل. لکه پوه شوی چې ما یې خبرو ته غوږ نیولی. زړه مې په درزا شو. غوښتل مې پخلنځي ته وتښتم. خو لاسونو، پښو او ټول بدن

مې کار پرېښود. د وره تر شا د شمس تورې سترګې په ما کې ښخې وې. څومره چې وېرېدلی وم هغومره مې بدن د قوت انرژي هم اخیسته. لاس یې د وره په لاستي کېښود. ما ویل اوس به ور خلاص کړي. ما به ونیسي. خو هلته تم شو. ور یې خلاص نه کړ. ما ته یې شا شوه او خپله کیسه یې بیا را واخیسته.

"کله چې یو څه غتې شوم. ما له خدایه وغوښتل چې د خوب لیدلو وس له ما واخلي. په دې چې د الهام له هر ځل لیدو سره پوه شم چې ما خوب نه دی لیدلی. هغه را سره ومنله. تول یې را نه واخیستل. څکه زه هېڅکله خوب نه وینم."

شمس تبرېز اوس له کړکۍ سره ولاړ و او بهر یې رڼا ته عاجز کتل. "خدای له ما د خوب لیدلو وس واخیست خو پر ځای یې دا وس را کړ چې د نورو د خوب تعبیر وکړم. زه د خوبونو تعبیروونکی یم."

زه په دې تمه وم چې بابا زمان به دې ګډوډو خبرو باور ونه کړي او هغه ته داسې غوسه شي لکه ما ته چې په غوسه کېږي.

خو مرشد په درناوي سره سر وښوراوه او وېې ویل "ته غیر عادي سړی را ته ښکارې. ووایه چې زه درته څه کولای شم."

شمس وار له واره ورته وویل "نه پوهېږم. ما ویل ته به را ته ووایې چې څه وکړم." مرشد وپوښتل "په مقصد دې پوه نه شوم؟"

شمس وویل "نژدې څلوېښت کاله کېږي چې سرګردانه ملنګ یم. د طبیعت په لار پوه یم خو د ټولنې له چارو سره نابلد یم. که اړتیا وي لکه وحشي حیوان جنګېدلی شم خو څوک ژوبلوی نشم. د اسمان ستورو نومونه مې زده دي، د ځنګله ونې پېژنم. هغه کسان چې خدای غوره کړي لکه پرانیستی کتاب لوستلی شم."

مرشد د ټېلو څراغ بل کړ. شمس تم شو او بیا یې وویل "یوه قاعده داسې ده چې ن خدای په هر شي کې لیدلی شې. خدای په جومات، کنیسه یا کلیسا کې ګیر نه دی. خ

که غواړې چې د هغه ریښتینی ځای ومومې، یوازې په یوه ځای کې خدای وګوره. د ریښتیني مین په زړه کې. چا چې لیدلی بیا یې ژوند نه دی کړی او نه هم مړ شوی. چا چې موندلی له هغه سره همېش پاتې شوی."

په تته رڼا کې شمس تبریزي نور هم جګ مالومېده. ویښتان یې څڼې څڼې پر اوږو لګېدل. هغه زیاته کړه "خو پوهه د زاړه ګلدان په تل کې د اوبو په شان ده مګر دا چې یو چېرې وبهېږي. له کلنو راهیسې له خدایه د ملګري غوښتنه کوم چې خپل ټول شوی علم ور سره شریک کړم. تر هغه چې په سمرقند کې الهام را ته وشو. را ته وویل شول چې بغداد ته ولاړ شم او خپل برخلیک مالوم کړم. زه وایم ته زما د ملګري نوم پېژنې او پته یې هم در مالومه ده. که اوس وي یا وروسته، د هغه په اړه به ما ته وایې."

بهر شپه پخه وه، د سپوږمۍ یو څه رڼا کوټې ته را ننوتې وه. پوه شوم چې ډېر ناوخت دی. پخلنګر به ما پسې ګرځي. خو زه یې په کیسه کې نه شوم. لومړی ځل و چې له اصولو ماتېدو مې خوند اخیست.

مرشد په ارام اواز ورته وویل "ته پوهېږم چې څه ډول ځواب له ما غواړې. که د دې ډول مالوماتو لپاره زه ګمارل شوی یم، هغه به راشي. تر هغه زموږ سره مېلمه یې."

له دې اورېدو وروسته، سرګردان ملنګ ور ټیټ شو او د بابا زمان لاسونه یې مچو کړل. بابا زمان یوه عجیبه پوښتنه وکړه. "تا ویل بل انسان ته د خپلې ټولې پوهې سپارلو تکل دې کړی. ته غواړې حقیقت په ورغوي کې ټینګ وساتې او یوه ځانګړې کس ته یې وسپارې. خو روحانیت ته د چا زړه پرانیستل اسان کار نه دی. ته د خدای حکمت غلا کوې په بدل کې څه ور کوې؟"

د ملنګ ځواب به مې ټول عمر هېر نشي. په ډېر ډاډ سره یې وویل "زه حاضر یم چې د خپل سر په بدل کې یې ور کړم."

د دې خبرې په اورېدو سره ولړزېدم. له سورې مې وکتل چې دې خواب پر مرشد هم اغېز کړی. "فکر کوم د نن لپاره مو ډېرې خبرې وکړې. ته به ستړی وې. نوی شاګرد به راوبولم. هغه به د لماستي ځای در وښيي او يو ګيلاس شبدې به در کړي."

شمس تبرېزي د وره په لور وخوځېد. زه وارخطا شوم. خو تر هغه زيات داسې مې وګڼله لکه زما د ننه اسرار چې لوستی شي. داسې رازونه چې زه هم پرې نه پوهېږم. ښايي په کوډو کې ښکېل و او هاروت او ماروت چې په قرآن کې يې يادونه شوې هغه روزلی وي. او يا ښايي افاقي وړتيا ولري چې له دروازو او دېوالونو شا ته هر شی ويني. چې هر څه وو زه يې ډېر وېرولم.

په لوړ اواز يې وويل "د نوي شاګرد بللو ته اړتيا نشته. زه وايم دی نږدې دی او زموږ خبرې يې اورېدلې."

نابېره زما له خولې داسې اسوېلی را ووت چې مړي په قبر کې را وېښ کړي. وار خطا مې بڼ ته ټوپ کړ چې په تياره کې ځان پټ کړم. خو هلته په بله بلا واوښتم. پخلنګر وليدم. جارو په لاس يې ما پسې وځغستل. "ته دلته وې ارمونيه؟ اوس به دې کار وکړم والله که را نه خلاص شې."

ما ترې وځغستل. د جارو له واره مې ځان بچ کړ. په ستمېدو يې را ته وويل "صبر وکړه که نه پښې به دې در ماتې کړم."

خو زه تم نه شوم. نورې مې هم پښې سپکې کړې. له بڼ هغې کوڅې ته ووتم چې لوی سړک سره نښتې وه. د شمس انځور مې له سترګو څخه نه لرې کېده. له خانقا ډېر لرې شوی وم. خو بيا مې هم ځغستل. دومره منډه مې وکړه چې زړه مې په درزا او ستوني وچ شو. تر هغه مې ځغستل چې ګونډو مې درد پيل کړ او نور د منډې وس را کې نه و

# مرشد

بغداد، جنوري ۱۲۴۳

د عارفانو په خانقا کې اوسېدل دومره صبر غواړي چې په شمس کې نشته. خو نهه میاشتې وشوې او دی لا هم زموږ سره دی.

په سر کې مو داسې انګېرله چې یوه ورځ به خپل توکي وتړي او لاړ به شي. د هغه ناچمتووالی له ځايي ژوند سره دومره بربنډ و. ما لیدل چې په ځانګړي وخت بېدېدل او راجګېدل، دوامدار خواړه او نظم يې څومره زړه وهلی. دی لکه یوازې مرغه له خپل سري او ازاد الوت سره عادت و. داسې شک لرم چې څو ځلې به يې د تېښتې تکل کړی وي. خو څومره چې په یوازېتوب کې خوشال و هغومره د ملګري موندلو ته ژمن و. شمس په کلکه منلې وه چې یوه ورځ به زه اړین مالومات هغه ته ور کړم چې ولاړ شي او څوک ولټوي. په همدې باور دی پاتې شو.

په دې نهو میاشتو کې ما دی څاره. فکر مې کاوه چې وخت به پرې څرنګه تېرېږي ښايي په چټکی او ګړندی. هغه څه به چې نورو دروېشانو په میاشتو یا کلنو کې زدکول، ده په اونیو او ورځو کې یادول.

د نويو او غیرمعمول شیانو زدکړې ته يې عجیبه تلوسه وه. د طبیعت کلک څارونکی و. څو ځلې مې په بڼ کې ولید چې د تارکشې (غنې) جال او یا په ګل کې د شبنم څاڅکي ته به خیر و. تر کتاب او لیکنو ور ته حشرې (خځندې)، بوټي او ژوي ډېر په زړه پورې وو. خو بیا به مې لیده چې په یوه زاړه کتاب کې په ورځو ورځو ډوب دی او بیا يې په اونیو کتاب ته نه کتل.

کله مې چې د دې عادت په اړه پوښتنه ترې وکړه، هغه ویل عقل باید راضي وساتئ خو پام چې ککړ یې نه کړئ. د هغه یوه قاعده دا وه:

"عقل او مینه له دوه بېلابېلو موادو جوړ شوي. عقل خلکو ته غوټې اچوي او خطر نه مني. خو په مینه کې هر ډول پېچلتیا حلیږي او ټوله له خطر سره مخامخ ده. عقل هر وخت محتاط وي او مشوره ورکوي: پام کوه جذبه زیاته شوه. خو مینه وایي: پروا نه لري ور گله شه. عقل په اسانۍ نه ماتېږي، خو مینه پرته له کومې خبرې نړېدی شي. خو گنج په ورانیو کې وي. مات زړه کې لالونه پټ وي."

څومره مې چې ډېر پېژانده ما ته یې بې باکي او تېره ذهن خوند را کاوه. ما د شمس بې ساری منفي اړخ هم ولید. په غوسه، مخامخ او بې وېرې یې خبرې کولې. ما خپل مریدان داسې روزلي وو چې د نورو عیبونه ونه گوري او که یې ولیدل باید عفوه یې کړي او سترگې پرې پټې کړي. خو شمس تېروتنو ته گوته نیوله. که به یې ناسم شی ولید وار له واره به یې غبر اوچت کړ. تعامل به یې نه کاوه. د ده سپینې خبرې خلک خپه کول. خو ده غوښتل د خلکو غوسه وپاروي او د هغوی له زړه نه خبر را وباسي.

عادي کارونو ته د شمس مجبورول ستونزمن کار و. دې ډول کارونو ته یې حوصله نه وه. کله به یې چې یو کار زده شو له هغه به زړه توری شو. کله به یې چې کار بیاځلي شو لکه په پنجره یا قفس کې پرانگ ناکرار به شو. که به مجلس د ده په زړه نه و او یا به چا ساده خبره وکړه، دی به روان شو. پر ټوکو یې وخت نه تېراوه. هغه ارزښتونه چې انسان ته مهم دي لکه امن، هوساینه او خوشالي د ده له نظره غورځېدلي وو. له خبرو یې دومره بد راتلل چې څو ورځې به یې له خبرو روژه نیوله. دا هم د هغه یوه قاعده وه. "د نړۍ ډېری ستونزې د ژبې له تېروتنې او وړې ناپوهی پیلیږي. هېڅکله الفاظو ته جدي پام مه کوئ. کله چې د مینې چاپېریال ته د ننه شوئ، ژبه بې کاره کیږي. هغه څه چې په خبرو کې نه ویل کیږي یوازې په چوپتیا کې لاس ته راځي."

په عین حال کې زه یې د خوندیتابه په اړه اندېښمن وم. ما حس کړې وه هغه چې په دومره شوق د ننه په اور سوځي، ځان ته ستونزې جوړوی شي.

زموږ برخې ازلي دي او برخلیک مو د خدای په لاس کې دی. یوازې دی پوهېږي چې کله به له دې نړۍ ځو. زما دنده دا وه چې شمس کرار کړم، څومره چې کولی شم له یو اسوده ژوند سره یې بلد کړم. تر یو وخته مې فکر کاوه چې بریالی به شم. خو ژمی راغی او له ژمي سره یو پیغام رسوونکی را ورسېد چې له لرې ځای یې لیک را وړی و. لیک هر څه بدل کړل.

# لیک

## له قیصاري نه بغداد ته، فبروري ۱۲۴۳

بسم الله الرحمن الرحیم

گران وړور بابا زمان السلام علیکم و رحمت الله و برکاته، له وروستي ځل لیدو راهیسې ډېره موده کېږي. په دې هیله چې زما لیک په ښه ساعت کې درته ورسېږي. ستا د خانقا په اړه مې- چې د بغداد په څنډه کې دې جوړه کړې- ډېرې ښې خبرې اورېدلي. صوفیانو ته د خدای علم او مینه ور ښودل یو نېک عمل دی. زه دا لیک د یو راز په شان در استوم او هغه څه در سره شریکول غواړم چې دا ډېره موده یې زما ذهن ولکه کړی. اجازه را کړه چې له سره یې پیل کړم.

څرنگه چې ته خبر یې سلطان علاوالدین کیقباد یو ښه سړی و او په سخت حالت کې یې ښه مشري وکړه. هغه غوښتل داسې ښار جوړ کړي چې شاعران، هنرمنان او فیلسوفان پکې سوله ییز ژوند وکړي. داسې خوب چې د نړۍ اوسنی کړکېچ او دښمنۍ له امله ناممکن برېښي، په تېره بیا چې صلیبیان او مغول له دواړه خواوو یرغل کوي. موږ شاهد وو چې عیسویانو مسلمانان وژل، عیسویانو خپل عیسویان وژل، مسلمانانو مسلمانان وژل. د ادیانو، مذهبونو، قومونو ان د ورونو تر منځ جگړې وشوې. کیقباد هوډمن مشر و. له لوی توپان وروسته هغه قونیه غوره کړه چې خپل خوبونه په رښتیا بدل کړي.

اوس په قونیه کې یو عالم اوسېږي. چې تا به یې نوم اورېدلی وي که نه؟ نوم یې مولانا جلال الدین رومي دی. په پېژندگلوۍ یې ویاړم. ړومبی زه د هغه استاد وم، د پلار له مړینې یې وروسته لاربښود شوم. خو ډېر کاله وروسته زه د هغه زدکوونکی یم. هو ملگریه زه د خپل زدکوونکي زدکوونکی شوم. د ده وړتیا او قضاوت دومره پیاوړی و چې زما سره هغه

نه د ښوولو لپاره څه نه وو پاتې. نو پرېکړه مې وکړه چې زه له هغه زدکړه وکړم. پلار يې هم يو لوی عالم و. خو د رومي سره داسې وړتيا ده چې په ډېرو کمو عالمانو کې به ليدل شوې وي. له ده سره داسې وړتيا ده چې د دين له مغزه غمي را وباسي چې په هر څه او هر وخت دلالت کوي.

دا زما شخصي نظر نه دی. کله چې عارف او عطر جوړونکي شيخ فريدالدين عطار مولانا په وړکتوب کې وليد ويې ويل "دا ماشوم به د مينې په زړه کې ور پرانيځي او د ټولو عارفانو په زړونو کې به شغلې بلې کړي." همدا شان کله چې پېژندل شوي فيلسوف، ليکوال او عارف ابن عربي مولانا په هلکتوب کې وليد چې له پلار وروسته روان دی ويې ويل: "سبحان الله، دا سمندر وګورئ چې په سېند پسې روان دی."

په څلورويشت کلنۍ کې مولانا روحاني مشر شو. ديارلس کاله وروسته نن د قونيې خلک د يوه اتل په سترګه ورته ګوري. د جمعې په ورځ له لرې ځايونو خلک راځي چې د ده وينا ته غوږ شي. په قانون، فلسفه، ديني علومو، نجوم، تاريخ، کيميا او رضياتو کې مخکښ دی. لس زره مريدان لري. پلويان يې هره خبره په سر مني. داسې ورته ګوري لکه مولانا چې د اسلام په تاريخ کې څراغ بل کړی وي.

خو ما ته مولانا هر وخت د زوی حيثيت درلود. د پلار له مړينې يې مخکې ما ورسره ژمنه وکړه چې زه به د هغه په زوی نظر ساتم. اوس چې زوړ او پښه مې قبر ته نژدې ده، غواړم ډاډه شم چې ترڅنګ يې سم ملګری وي.

په دې کې شک نشته چې مولانا په ژوند کې بريالی دی او ګڼ شمېر لاس ته راوړنې لري. خو ده پخپله زما سره د زړه خواله وکړه چې د ننه يوه تشه حسوي. داسې تشه چې کورنۍ او مريدان يې نشي ډکولی. يو ځل ما ورته وويل چې خام نه دی خو سوی هم نه دی. پياله يې تر سره ډکه ده، د روح دروازه يې پرانيستل غواړي چې د مينې اوبه پکې وبهېږي. زه يې وپوښتلم چې دا به څنګه کېږي. ما ورته وويل يوه ملګري او د لارې مل ته اړتيا لري. حديث شريف مې ور ياد کړ: "مؤمن د بل مؤمن ورور هنداره دی".

که خبره له سره تازه شوې نه وای، نو هر څه به هېر وو. په هغه ورځ چې له قونيې تلم، مولانا راغی او د يو خوب په اړه يې وپوښتلم چې هر وخت يې ليده او اندېښمن کړی يې و. هغه را ته ووېل چې په خوب کې په يو لرې لوی ګڼ ښار کې يو څوک لټوي. خبرې په عربي کېږي. ښايسته غروب وي. د توتو ونې او د ورېښمو چينجي په خپلو خالو کې راوتو ته په صبر سره تم وي. او بيا د خپل کور په بڼ کې څراغ په لاس د ځا پر غاړه ناست ژاړي.

په سر کې نه پوهېدم چې دا مات خوبونه څه ته اشاره کوي. هېڅ شی اشنا نه وو. خو يوه ورځ چا د ورېښمو دستمال سوغات را کړ، څواب مې وموند او معما حل شوه. را ياد شوه چې ستا څومره ورېښم او د هغو چينجي خوښېدل. ستا د ښکلې طريقې په اړه مې چې شيان اورېدلي وو ذهن ته راغلل. سترګې مې خلاصې شوې چې مولانا ستا له خانقا پرته بل ځای نه دی په خوب ليدلی. ورو‌ره، بل فکر مې ذهن ته نه راځي پرته له دې چې د مولانا ملګری به ستا تر چت لاندې اوسېږي. همدا وجه ده چې دا ليک در استوم.

نه پوهېږم چې دا کس ستا سره په خانقا کې شته او که نه. که وي زه واک تا ته در کوم چې د خپل برخليک په اړه يې پوه کړې. د دوو سېندونو په يو ځای کېدو کې چې د الهي سمندر په لور لکه يو سېند وبهېږي او که د خدای دوه ملګري سره يوځای شي او زه او ته په دې کار کې يوه ورکوړې ونډه واخلو الهي رحمت به راباندې شوی وي.

خو يوې خبرې ته دې پام وي. مولانا به پياوړی او د درناوي وړ شخص وي خو ځينې بدخواهان به خامخا لري. دا ګډه بهېدنه به ځينې ناراضي کړي او داسې ترينګلتيا به هم وزېږوي چې زما او ستا زړه ته هم نه را لوېږي. له ملګري سره يې شوق ښايي سېتونزې جوړې کړي ان د ده په کورنۍ او نژدې حلقه کې. يو څوک چې د مولانا ټول فکر او ذکر جلب کړي که کرکه و نه پاروي حسادت خو به هرومرو په خلکو کې وزېږوي.

دا به د مولانا ملګری له خطر سره مخامخ کړي. لنډه دا چې وروره هغه کس چې ته قونيې ته رالېږې ښايي بيا ژوندی ستون نه شي. له همدې امله مخکې له هغه چې د مولانا ملګري ته دا لیک ور وښيې فکر پرې وکړه.

ما وبخښه چې دومره دروند پېټې در باروم. خو دواړه پوهېږو چې خدای هېڅکله داسې بار راباندې نږدي چې وس يې ونه لرو. ستا د ځواب په تمه يم. باور لرم چې ته به سمه پرېکړه کوې.

د خدای نور دې ستا او ستا له صوفیانو هېڅکله لرې نشي.

پير سيد برهان الدين

## شمس

بغداد، ډيسمبر اتلسمه ۱۲۴۳

د اوبو شويو واورې يخ وهلي ګړونګي له بامونو ځړېدل. سړکونه واورې پوښلي وو. يو پيغام رسونکی له لېرې ځرګند شو. ويل يې له قيصاره راغلی. صوفيان هېښ شول، د کال په دې وخت کې مېلمانه د دوبي خوږو انګورو په څېر نادر وو. په دې سره ژمي کې پيغام رسېدل دوې خبرې کېدای شي: يا خو به يوه لويه غميزه پېښه شوې وي او يا به هم يو غټ مهم کار پېښېدونکی وي.

د پيغام رسوونکي له راتګ سره په خانقا کې ډېرې خبرې او ګنګوسې تر غوږ کېدې. هر سړي د هغه ليک پر محتوا فکر کاوه چې مرشد ته وسپارل شو. خو د عرفان د خرقې ځښتن هېڅ نه ويل. بې له عاطفې خو په فکر کې ډوب او محتاط و. ځو ورځې داسې مالومېده چې له وجدان سره په ټکر کې وي او د پرېکړې وس نه لري.

په دې وخت کې زه يوازې څک نه وم. د ننه مې داسې انګېرله چې ليک زما په اړه دی، خو نه پوهېدم چې له کومه اړخه. ډېر ماښامونه مې په جومات کې تېر کړل. د خدای ۹۹ نومونو ذکر به مې کاوه چې لارښوونه را ته وکړي. هر ځل به يو نوم رابرسېره شو. الجبار - د هغه چا په پادشاهۍ کې چې د ده له خوښې پرته بل څه نه تر سره کېږي.

له هغه وروسته ځو ورځې په خانقا کې خلکو پر خپلو شکونو فکر کاوه. ماله ځان سره په بڼ کې وخت تېراوه د طبيعت نظاره مې کوله چې هر شی د واورې تر برستن لاندې پټ وو. خو يوه ورځ مو د مسين زنګ کړنګاری واورېد چې له پخلنځي راته. ټول بې چټک مجلس ته ور وبلل. د خانقا اصلي خونې ته چې د ننه شوم، ټول مې هلته وليدل،

نوي او پخواني صوفیان ټول په یوه حلقه کې راغونډ وو. د حلقې په منځ کې مرشد ناست و. خوله یې تړلې او سترګې یې مړاوې وې.

په بسم الله یې پیل وکړ. "تاسې به وایئ چې نن مې ولې راغونډ کړي. غواړم د دې لیک په اړه در سره خبرې وکړم. مهمه نه ده چې له کوم ځای راغلی. خو زما پام یې داسې موضوع ته اړولی چې مهمې پایلې لري." بابا زمان لږ موده غلی شو او له کړکۍ یې بهر وکتل. ستړی، ډنګر او ژېړ مالومېده، ته به وایې چې په دې څو ورځو کې څو کاله زوړ شوی. خو چې بیا یې خبرې پیل کړې، غږ یې عجیبه عزم درلود.

"یو متبحر عالم په یو لرې ښار کې اوسېږي. په خبرو کې تکړه دی. خو په تشبیهاتو کې یې خوند نشته، په دې چې شاعر نه دی. په زرګونو خلکو ګران دی او درناوی یې کوي. خو دی پخپله مبین نه دی. زه او تاسې په دې راز نه پوهېږو خو یو کس زموږ له خانقا نه باید ورشي او له هغه او ډلې سره یې وګوري."

زړه مې په سینه کې ټینګ شو. په کرار ډېر په کراره مې سا ویستله. نا چاره مې د مینې یوه قاعده ذهن ته راغله.

"یوازېتوب او خلوت دوه جلا شیان دي. کله چې یوازې یې په اسانۍ تېروتی شې چې په سمه لار روان یې. خلوت زموږ لپاره ښه دی. خلوت یوازېتوب دی خو پرته له دې چې ځان یوازې وګڼې. خو په پای کې ښه دا ده چې یو کس ومومې، هغه کس چې ستا هینداره وي. په یاد ولرئ یوازې د بل چا په زړه کې تاسې خپل ځان او په ځان کې د خدای حضور لیدلی شئ."

مرشد بیا خبره راواخیسته: "په تاسې کې څوک شته چې دې روحاني سفر ته په خپله خوښه زړه ښه کړي. یو کس په خپله خوښه غوره کولی شم، خو دا کار د ګمارنې نه دی. یوازې د مینې او د مینې په نوم دا کار ترسره کېدی شي."

یو ځوان صوفي د خبرو اجازه وغوښته او ویې پوښتل: "استاده دا عالم څوک دی؟"

استاد ورته ووېل: "نوم يې يوازې هغه چا ته وايم چې د تګ هوډ ولري."

له دې سره يو شمېر صوفيانو په خوشالۍ لاسونه اوچت کړل. ټول نهه کسان وو، ما هم لاس اوچت کړ. زما سره لس شول. بابا زمان اشاره را ته وکړه چې لاسونه کښته کړو او هغه پرېږدو چې خبرې يې خلاصې شي. "مخکې له هغه چې پرېکړه وکړئ په يوه بله خبره هم ځان پوه کړئ."

مرشد را ته ووېل چې په دې سفر کې لوی خطر او بې سارې خوارې هم شته. د راستنېدو مو ضمانت نشته. وار له واره ټول لاسونه کښته شول، پرته له ما.

بابا زمان مخامخ زما سترګو ته وکتل. لکه پوه شوی چې وي زه به يوازېنی داوطلب وم. په ارامه او درانه غږ يې زما نوم واخيست: "د تبرېز شمسه، ستا د هوډ درناوی کوم، خو ته زموږ د حلقې غړی نه يې. ته زموږ مېلمه يې."

ما ويل: "په دې کې زه کومه ستونزه نه وينم."

مرشد په تفکر کې غلی شو. وروسته نابېره ولاړ شو او ختمه يې کړه. "اوس به دا موضوع پرېږدو. په پسرلي کې به خبرې پرې وکړو."

زما زړه جنجال غوښت. دی پوهېده چې زه يوازې د دې ماموريت لپاره بغداد ته راغلی يم. بابا زمان زه له خپل برخليک محروومولم. ما ووېل: "ولې استاده؟ زه چمتو يم چې همدا شېبه لاړ شم، انتظار ولې؟ يوازې د سړي او ښار نوم را ته ووايه نور ته ترې خلاص يې."

خو مرشد په داسې اواز سره ځواب را کړ چې تر هغې شېبې مې نه و اورېدلی. "د بحث لپاره څه نه دي پاتې. دا غونډه ختمه شوه."

دا ژمی څومره ګران او اوږد شو. بې زما د خولې په شان کنګل شوی و. راتلونکې درې مياشتې مې له چا سره خبرې ونه کړې. هره ورځ به مې اوږد مزل کاوه، له ښار د باندې په دې هيله وم چې په کومه ونه کې ګلان غوړېدلي ووينم. خو له واورې وروسته بله واوره

راتله. د پسرلي څرک نه مالومېده. خو بیا هم څومره چې بهر بې خونده وم هغومره د ننه هیله من وم. یو بله قاعده مې په ذهن کې ساتلې وه. "په ژوند کې چې هر څه پېښېږي، چه هرڅومره خطرناک هم مالومېږي د ناهیلی کلي ته مه د ننه کېږه. که ټولي دروازې بندې پاتې هم شي، خدای به نوې لار یوازې ستا لپاره پرانیځي. مشکور اوسه. د هوساینې په وخت کې شکر اسانه دی. صوفي یوازې په ورکړل شویو نعمتونو شکر نه باسي. په نه ورکړل شویو هم شکر باسي."

بالاخره مې یو سهار رنګ ولید. دومره خوندور و لکه خوږه سندره. د بنفش له څرې کوچنیو ګلانو سر ایستلی و. زړه مې له خوښۍ ډک شو. د خانقا په لور روان وم چې سور سرې نوی شاګرد مې ولید. په خوشالی مې سلام ور واچاوه. دی زما له تروې چوپتیا سره بلد و، له حیرانتیا یې خوله خلاصه پاتې شوه.

ما ور ناري کړې "وخانده هلکه، نه وینې چې پسرلی راغی؟"
له هغې ورځې وروسته موسم په چټکه بدلېدو. وروستی واوره هم وېلې شوه. ونو غوزې وکړې، توتکی راستنې شوې او له لږ ځنډ وروسته تازه هوا وچلېده.

یو سهار مو د مسین زنګ کړنګېدا واورېده. دا ځل زه لومړنی کس وم چې لویې خونې ته ورسېدم. یو ځل بیا په یوه لویه دایره کې له استاده راتاو شوو او غوږ مو ورته کېښود. د اسلام یوه لوی عالم په اړه مو بیا واورېدل چې پرته له مینې په هر څه پوه دی. بیا هم له ما پرته بل چا زړه ښه نه کړ.

بابا زمان وویل: "ګورم چې پرته له شمسه بل څوک حاضر نه دي. خو تر منې به تم شم بیا به پرېکړه وکړم."

زه هک پک حیران شوم. باور مې نه راته. درې اوږدې میاشتې مې انتظار ویوست او اوس استاد را ته وایي چې شپږ میاشتې نور هم ودرېږم. له خوږ زړه مې غږ جګ کړ. ګیله

مې وکړه، زارۍ مې وکړې چې د سړي او ښار نوم را ته ووايي. خو مرشد يو ځل بيا ونه منله.

دا ځل د انتظار پېټی دروند نه و. ښايي زړه مې منلې وه چې دا ډول تم کېدنې به نورې هم وي. د ژمې سخت انتظار مې تېر کړ، له پسرلي تر مني به دا اور په سينه کې وساتم. د بابا زمان خبره را باندې بده ونه لګېده. برعکس زما احساس يې پياوړی او هوډ يې ټينګ کړ. بله قاعده وايي: "صبر د پټې خولې تحمل په مانا نه دی. صبر ثابتوي چې د لرې ليد خاوند يې او د يو کار پر پايله باور لرې. صبر څه مانا؟ کله چې اغزي ته وګورې او ګلاب دربښکاره شي، شپې ته وګورې او سباوون در ښکاره شي. دې ته صبر وايي. بې صبري لنډ کاته دي او د پايلې نه ليدل. په خدای مينان هېڅکله نه بې صبره کېږي. دوی پوهېږي چې له مياشتې سپوږمۍ جوړېږي، نو وخت به تېرېږي."

په مني کې مسين زنګ بيا وکړنګول شو. ما بېره ونه کړه خو په ډاډ سره ورغلم. پوهېدم چې د پرېکړې وخت راغلی. استاد تر پخوا نرۍ او ژېړ مالومېده لکه نوره انرژي چې پکې نه وي پاتې. زما د لاس په اوچتېدو يې نه بلې خوا ته وکتل او نه يې هم خبره تېره کړه. په ډاډ يې سر را ته وښوراوه.

"ښه شمسه. په دې کې شک نشته چې ته بايد دا کار وکړې. سبا سهار به ته مزل پيل کړې ان شاء الله."

ما د استاد لاسونه ښکل کړل. تر ډېر ځنډ وروسته زه د خپل ملګري ليدو ته ورتلم.

بابا زمان داسې را ته وکتل لکه پلار چې خپل زوی جګړې ته له لېږلو مخکې ګوري. وروسته يې تړلې ليک له خپلې خړې چپنې را ويوست. ما ته يې را وسپاره او له کوټې ووت. نور پسې روان شول. د پاکټ موم مې مات کړ. په کاغذ کې دوه مالوماته په ښکلي خط ليکل شوي وو. د ښار او د عالم نوم. ظاهرا زه بايد قونيې ته روان شم او د رومي په نوم عالم سره بايد ووينم.

دا نوم مې هېڅکله نه و اورېدلی. دی به نامتو عالم وي خو زما لپاره مجهول و. د هغه د نوم توري مې يو يو ياد کړل. څرګنده (ر)، بخملين (و)، بې باکه (م) او مجهوله (ی) چې لا نه ده حل شوې.

توري مې وجنګول. څو ځل مې دا نوم په ژبه ووايه تر هغې چې زما په ژبه کې د خوږو په شان وېلې شو او د اوبو، دوډۍ او شېدو په څېر را ته اشنا شو.

# لیک

## له بغداده قیصاري ته، سپتمبر ۱۲۴۳

بسم الله الرحمن الرحیم

ورور سید برهان الدین، السلام علیکم و رحمت الله و برکاته خوشال شوم چې ستا لیک مې تر لاسه کړ او خبر شوم چې د پخوا په شان د مینې په لار کې هوډمن یې. همدا راز ستا لیک حیران کړم. سملاسي پوهېدم چې د رومي ملګری به څوک وي. خو زه نه پوهېدم چې څه وکړم.

زما په خانقا کې د شمس تبرېزي په نوم یو درویش ملنګ و چې ستا د لیک پر خصوصیاتو برابر و. شمس په یوه ځانګړي ماموریت باور درلود چې د یو متقي سړي روح روښانه کړي. هغه مریدان او شاګردان نه غوښتل له خدای یې یو ملګری غوښت. یو ځل یې ما ته وویل چې دی د عامو خلکو لپاره نه دی ګمارل شوی. غواړي د هغه چا په زړه لاس کېږدي چې نړۍ ریښتینولۍ ته هڅوي.

کله مې چې ستا لیک تر لاسه کړ، پوهېدم چې د شمس په تندي کې د رومي سره ملتیا وه. ما خپل درویشان را غونډ کړل چې ټولو ته یو شان د خوښې حق ور کړم. ورته و مې ویل چې د یو عالم زړه باید پرانیستل شي. څو کسان لېوال وو خو شمس یوازینی کس و چې د دې کار د ستونزو له اورېدو وروسته هم په شا نشو. دا د ژمي خبره ده. همدا خبره په پسرلي او په مني کې تکرار شوه.

ته به وايې ولې مې دومره څند وکړ. په دې اړه مې ډېر فکر وکړ او په صداقت سره وايم چې لامل يې يوازې يو و. زه په شمس مين شوم. څنګه مې هغه په يو خطرناک سفر لېږلی وی.

شمس يو عام ساده سړی نه دی. په خپل کوچياني ژوند کې خوشال او بسيا دی. خو که په ښار کې پاتې شو او له ښاريانو سره يې هره ورځ راشه درشه پيل شوه له ډېرو به بنکې وباسي. په همدې مې د هغه سفر تر خپل وس وځنډاوه.

تر تګ يو ماښام مخکې، دواړو د توتو لاندې اوږد قدم وواهه. په هغه ځای کې چې زه ورېښم پالم. زاړه عادتونه په سختۍ مري. د ورېښمو دردوونکی نرموالی او هېښوونکې پياوړتيا مينې ته ورته ده. ما شمس ته وويل چې څرنګه چينجي له خپلو ځالو سره په راوتو ورېښم خرابوي. نو بزګر بايد د ورېښمو او د چينجو تر منځ يو غوره کړي. ډېری وخت بزګر چينجي په ځاله کې د ننه وژني چې ورېښم زيانمن نشي. څو سوه چينجيان بايد قرباني شي چې د ورېښمو يو ټکری ترې جوړ شي.

ماښام په تياره کېدو و. زموږ په لور سوړ باد راته. پر ما ساړه راغلل. په دې بوډا عمر کې مې ساړه ډېر کېږي. خو دا ساړه د عمر له امله نه وو. زما په بڼ کې د شمس دا وروستی ماښام و. په دې نړۍ کې به بيا يو بل سره ونه وينو. ده به هم دا حس کړې وي، ځکه يې خپګان په سترګو کې مالومېده.

نن سهار په سپېده چاود کې راغلی چې لاس مې مچو کړي او دعا را نه واخلي. په لېدو يې حيران شوم. تور اوږده ويښتان او ږېره يې خريلې وه. لامل يې نه ده را ته وويل او نه ما پوښتنه ترې وکړه.

له تګ مخکې يې وويل په کيسه کې د ده برخه د ورېښمو د چينجي ده. دی او رومي به د الهي مينې په ځاله کې ننوځي او د وخت تېرېدو سره به په راوتو کې په ارزښتمنو ورېښمو بدل شوي وي. خو د ورېښمو د بقا لپاره چينجی بايد ومري.

نو د قونيې په لور روان شو. خداى دې يې مل شي. پوهېږم چې ما او تا سم کار کړى دى. خو زړه مې له خپګان ډک دى. هغه ناچمه او څانګړى درويش مې يادېږي چې زما خانقا ته يې تر اوسه سارى نه دى راغلى.

په پاى کې موږ ټول د خداى مال يو او هغه ته ستنېدونکي يو.
خداى دې بسيا لره.

بابا زمان

# نوی شاګرد

بغداد، سپتامبر ۱۲۴۳

د صوفیانو په خانقا کې اوسېدل اسانه خبره نه ده. هر چا به را ته ویل. خو دا یې نه وو ویلي چې تر صوفي کېدو مخکې باید له دوزخه واوړم. له هغې ورځې چې راغلی یم لکه سپی داسې کار کوم. ډېرې ورځې دومره کار کوم چې د شپې له درده خوب نه راځي. اږونه او پښې مې له درده نارې وهې. نه پوهېږم چې زما سره د ناوړه چلن اندازه چا ته لګېږي که نه. که لګېږي هم څوک ځان نه پوهوي. څومره چې خواري وکړم همدومره مې ستونزې زیاتېږي. چا ته مې نوم نه دی مالوم. هغوی مې نوی شاګرد بولي. پس شا مې سور سری نادان بولي.

تر ټولو سخت په پخلنځي کې د پخلنګر تر خار لاندې کار دی. د سړي په سینه کې زړه نه تیره ده. دی باید د مغولو په لښکر کې یو وینه تږی قوماندان وای نه د درویشانو په خانقا کې پخلنګر. یاد مې نشي چې ده به کوم چا ته سمه خبره کړې وي. شک لرم چې د ده به موسکېدل زده وي. یو ځل مې له یوه درویش وپوښتل چې ټول نوي کسان به د هغه تر لاس لاندې کار کوي. هغه را ته په خندا شو او ویې ویل ټول نه، ځینې دا کار کوي.

نو بیا زه ولې؟ ولې استاد غواړي چې زه له نورو شاګردانو ډېر عذاب وګالم؟ په دې چې زما نفس د دوی له هغو لوی دی او د سمېدو لپاره باید تر نورو ډېر وټکول شي؟

هر سهار تر ټولو ړومبی زه راوېښېږم. له ویالې اوبه را وړم، په نغري کې اور بلوم او د کونځلو ډوډۍ پخوم. په سهار کې د ښوروا پخول هم زما کار دی. د پنځوسو کسانو مړول اسان نه دي. هر شی باید په لویو دېګونو کې پاخه شي چې د اخور په شان لوی دي او

وروسته یې بیا څوک ومینځي؟ هغه هم زه کوم. غولي سابې کوم، ځینې (پوړی) پاکوم، حویلی جارو کوم، لرګي ماتووم. مربا او اچار زه جوړوم. له ګاڅرو او کدو اچار جوړوم چې مالګه یې باید په اندازه وي، دومره وي چې هګۍ د اوبو سر ته راولي. که یې اندازه کمه یا زیاته کړم، پخلنګر مرتبانونه ماتوي او ټول کار باید له سره وکړم.

له دې سره د هر کار پر مهال باید په عربي ژبه دعاوې ووایم. پخلنګر وایي په لوړ اواز یې ووایه چې چېرې کومه تېروتنه ونکړم او یا را نه تېره نشي. زما کرووونکی وایي: "څومره چې په پخلنځي کې خواري وکړې هغومره ژر به پوخ شې. د پخلي په زدکولو کې به دې روح پوخ شي."

یوه ورځ مې ترې وپوښتل: "خو زما دا ازمایښت به څومره دوام وکړي؟"

په ځواب کې یې را ته وویل: "یو زر او یوه شپه. دا موده شهرزاد د مرګ په پوله تېره کړې او هر شپه به یې یوه نوې کیسه جوړوله. ته هم دومره وخت زغملی شې."

دا هسې لېونتوب دی. زما کوم ځای هغې غټې خولي شهرزادې ته ورته دی؟ بیا هغې کومه سخته ګاللې. په بخملین پالنګ به پرته وه خپل سینګار به یې کاوه. ظالم شهزاده ته یې یوازینی کار دا و چې د خپل تخیل مېوې یې د کیسې په بڼه په هغه خوړلې. زما غونډې کار کې به یوه اونۍ هم نه وه ټینګه شوې. نه پوهېږم چا به حساب نیولی وي که نه. خو زه خپلې ورځې شمېرم. زما ۶۲۴ نورې ورځې په دې حساب پاتې دي.

زما د ازمایښت ړومبی، څلوېښت ورځې (څلوېښتي) په یوه وړه حجره کې تېرې شوې، دومره تنګ ځای و چې نه مې پښې غځولی شوې او نه ولاړېدی شوی. که مې زړه سم خواړه یا راحت غوښت، یا له تیارې او یوازیتوبه وېرېدم، یا خدای مکړه شیطان د ښځې په څېره کې غولولم، ما ته ویل شوي وو چې د معنوي مرستې لپاره په چت کې ځوړند زنګ وکړنګوم. خو ما دا کار ونه کړ. مګر دا په دې مانا نه ده چې ما انحرافوونکي فکرونه

د يو څو رنګينو فکرونو درلودل څه پروا لري هغه هم چې يو تنګ ځای کې راګير نه لرل.

بې؟

له څله خانې وروسته يې پخلنځي ته ولېږلم او د پخلنګر په ګوتو يې ور کړم. د عذابونو بل څپرکی را باندې نازل شو. که هرڅومره له پخلنګر کرکه لرم خو بيا مې هم د هغه هره خبره منلې، له هغه ماښام پرته چې شمس تبرېزي په خانقا رانوت. هغه شپه چې د پخلنګر په لاس ورغلم داسې يې ورېږولم چې په ژوند کې چا نه وم وهلی. د ولو د لښتو څو ګېډې زما د شا په تخته ماتې کړې. بيا يې زما بوټونه له دروازې باندې کېښودل. مخه يې بهر لورې نه وه. په دې مانا چې زما د تګ وخت راغلی و. د درويشانو له خانقا سره په زور نه باسي او نه هم ورته وايي چې ناکام شوې. خو په پټه خوله دې پوهوي چې لاړ شې.

پخلنګر راته وويل: "ستا له خوښې پرته موږ له تا صوفي نه شو جوړولی. خر اوبو ته راوستی شې. خو اوبه په زور پرې نه شې څښلی. خر بايد لېوال وي. بله لار نشته."

زما نه يې خر جوړ کړ. که شمس تبرېزي نه وی راغلی ما به دا ځای وختي پرېښی وای. زه د هغه چلن را ټينګ کړی وم. داسې شخص ما تر اوسه نه و ليدلی. له هېچا يې وېره نه کېده او نه يې د چا اطاعت کاوه. ان پخلنګر يې درناوی کاوه. په ټوله خانقا کې زما د خوښې سړی زوړ بودا او ارام مرشد نه و، شمس و.

شمس تبرېزي زما اتل و. د هغه له ليدو وروسته ما پرېکړه وکړه چې زه بايد يو حليم صوفي نه اوسم. که زه د هغه ترڅنګ يوه موده تېره کړم، د هغه په شان به زړور، بې پروا او خپل سری اوسم. نو د مني په راتګ سره خبر شوم چې شمس خانقا د تل لپاره پرېږدي. پرېکړه مې وکړه چې زه هم ور سره ملګری شم.

له پرېکړې وروسته بابا زمان ته ورغلم. د څراغ په رڼا کې يې يو زوړ کتاب لوسته. "ته وايې؟" داسې يې را ته وکتل لکه زه چې ښه پرې نه يم لګېدلی. "تو شاګرده څه

په ډېر ډاډ سره مې ورته وويل: "زه خبر شوم چې شمس تبرېزي روان دی. غواړم له هغه سره ولاړ شم. ښايي د لارې مل ته اړ وي."

په څېر سره يې را ته وويل: "نه پوهېدم چې دومره خيال به پرې ساتې. يا دا چې د پخلنځي له کارونو د تېښتې لار لټوې. ستا ازماېښت نه دی بشپړ شوی. تر اوسه دې د صوفي نوم نه دی خپل کړی."

پوهېدم چې لويه ادعا ده خو سره له هغه مې ورته وويل: "ښايي د شمس په شان سړي سره ملګرتيا زما ازماېښت وي."

استاد نظر څمکې ته کړ او په فکر کې ډوب شو. څومره چې چوپتيا غځېده زما يقين پخېده چې ما به سپک کړي بيا به پخلنګر را وغواړي چې تر دې مې هم کلک وځاري. خو داسې يې ونه کړل.

هغه وويل: "بچيه ښايي ته د خانقا د ژوند لپاره نه يې جوړ. په هرو اوو کسانو کې چې په دې لاره قدم ږدي يوازې يو پاتې کيږي. زه وايم چې ته د دروېشۍ لپاره مناسب نه يې او بايد خپل قسمت بل چېرې ولټوې. د شمس د ملتيا خبره دې وکړه. ته پخپله بايد له هغه سره خبرې وکړې."

بابا زمان خبره ختمه کړه. سر يې په متانت سره وښوراوه او خپل زاړه کتاب ته ستون شو. ځان را ته وړوکی ښکاره شو. خپه شوم خو د خپلواکۍ يو ډول احساس مې وکړ.

## شمس

### بغداد، سپتامبر د۱۲۴۳ کال

له باد سره په ټکر کې ما او اس مې په سپېده چاود کې مزل پیل کړ. یوازې مې یو ځل شا ته وکتل. د توتانو د ونو منځ کې د درویشانو خانقا د مرغانو د ځالې په شان مالومېده. د بابا زمان ستومانه څېره مې په ذهن کې بله بله کېده. پوهېدم چې دی ما ته اندېښمن دی. خو زه وایم هسې یې اندېښنه وه. ما د معنوي مینې سفر پیل کړی و. په دې کې به ستونزه څه وي؟ زما لسمه قاعده: "ختیځ، لودیز، شمال او جنوب لږ توپیر سره لري. مهمه نه ده چې مقصد دې چېرې دی. خو هر سفر ته د وجود د ننه سفر په سترګه وګوره. که د ننه سفر وکړې، لکه ټوله نړۍ او له هغې ها خوا دې چې سفر کړی وي."

ما د خوارۍ اټکل کړی دی. چندان یې اندېښنم نه یم. په قونیه کې چې څه پېښېږي د سر په سترګو یې منم. د صوفي په توګه داسې روزل شوی یم چې ګل له ازغي سره او ژوند ښکلا له سختۍ سره ومنم. له همدې سره یوه بله قاعده هم را یاد شوه: "دایه پوهېږي چې له درده پرته د ماشوم د زېږېدو لار نه پرانیستل کېږي. همدا شان د نوي ځان لپاره خواري اړینه ده. لکه خټه د پخېدو لپاره حرارت ته اړه ده. همداسې مینه په درد کې پخېږي."

تېره شپه مخکې له هغې چې له خانقا را ووځم د کوټې ټولې کړکۍ مې خلاصې کړې. د تیارې غږ او بوی ته مې لار پرانیسته. د شمعې د رڼا نڅا ته مې خپل اوږده وېښتان وخرېیل. کودی کودی پر ځمکه پرېوتل. بیا مې د ږېره او برېتونه ان وروځې وخرېلې. شاباس، خپل مخ ته مې په هېنداره کې وکتل. روښان او ځوان مالومېده. له وېښتانو پرته

مې مخ بې نومه، بې عمره او بې جنسیته شو. تېر او راتلونکی یې نه درلود. هر څه په حاضر کې غیب شول.

د مخه ښې په وخت استاد را ته وویل: "سر له اوسه سفر بدلون در کې راوستی. لا پیل شوی هم نه دی."

ما ورته وویل: "هو پوهېږم. دا له څلوېښتو قاعدو یوه ده: د مینې لټون مو بدلوي. داسې مینه پال به نه وي چې د مینې په سفر کې پوخ نشي. له هغه شېبې چې په مینه پسې کتل پیلوې ستا د ننه او بهر بدلون پیلېږي."

بابا زمان موسکی شو له جېب یې بخملینه کڅوړه راویسته او ما ته یې را کړه. یوه د سپینو زرو هېنداره، یو وربښمین دسمال او یو د ښیښې بوتل، چې مرهم پکې و.

"دا شیان به دې په سفر کې په کار شي. د اړتیا پر وخت یې وکاروه. کله چې ناهیلی شوې هېنداره به ستا د ننه ښکلا در ښکاره کړي. که په عزت دې لکه راغله، دسمال به در په یاد کړي چې زړه دې څومره سپېڅلی دی. او دا مرهم به دې ښکاره او پټ ټپونه جوړ کړي."

درې واړه توکي مې ولمسول، کڅوړه مې بنده کړه. له بابا زمان مې مننه وکړه. نور د ویلو لپاره څه نه وو پاتې.

مرغۍ چنېدلې او د ونو له څانګو د شبنم واړه څاڅکي د سهار په رڼا کې برېښېدل پر اس سپور شوم. د قونیې په لور روان شوم. نه پوهېدم چې څه به پېښ شي خو پر مخ لار مې یقین درلود چې پروردګار را ته ټاکلې وه.

# نوی شاګرد

بغداد، سپتامبر دېرشمه ۱۲۴۳

په شمس تبرېزي پسې له خپل غلا کړي اس سره روان شوم. هڅه مې وکړه چې تر منځ مو واټن وساتم. خو ممکنه نه وه چې ځان ترې پټ کړم. کله چې شمس د بغداد په بازار کې تم شو او د لارې لپاره يې څېنې توکي اخيستل. ما يې د اس مخې ته ځان واچوه.

د اس له سره يې نارې کړې: "تادان سور سريه پر ځمکه ولې پروت يې؟"

پر زنګنو شوم، د لاسونو ورغوي مې سره ورووړل، ورمېږ مې کوږ کړ. سوالګر مې ډېر ليدلي وو چې پېښې يې وکړم. په زارۍ مې شمس ته وويل: "غواړم ستا سره لاړ شم. د ملتيا اجازه را کړه."

"ته خبر يې چې زه چېرې ځم؟"

تر اوسه مې پر دې فکر نه و کړی. "خبر نه يم خو پروا نه لري. غواړم ستا مريد شم. نه زما اتل (پير) يې."

"زه تل يوازې سفر کوم، نه مې مريد په کار دی او نه زدکوونکی. مننه. او زه د هېڅ چا اتل نه يم. ستا خو بيخي نه يم. څه پخپله لاره. خو که په راتلونکي کې استاد لټوې يوه زرينه قاعده په ياد وساته: په دې نړۍ کې کاذب پيران او غلط استادان د اسمان له ستورو ډېر دي. د واک ترږي او پر ځان مين پيران له ريښتينو لارښوونکو سره مه ګډوه. اصلي روحاني مشر به هېڅکله ستا پام د ځان لوري ته نه کړي. نه به هم ستا اطاعت يا درناوي نه اړ اوسي. هغه به ستا سره مرسته وکړي چې خپل ضمير وپېژنې. ريښتيني لارښود لکه ښيښه روڼ وي. د خدای نور په دوی کې ځليږي."

ما زاری ورته وکړې: "خیر دی ما ته یو چانس را کړه. هر نامتو سیلاني له څان سره مرستیال یا شاګرد درلود."

شمس پر خپله ژامه ګوتې ووهلې لکه زما د خبرې په ارزښت چې پوه شوی وي. "ته زما د ملتیا توان لرې؟"

زه په پښو اوچت ولاړ شوم او له زړه مې ورته وویل: "بالکل يې لرم. او زما توان د نه دی."
"ډېر ښه، نو ستا لومړی دنده دا ده. د شرابو هټۍ ته ولاړ شه یو بوتل رانیسه او دلته د بازار په منځ کې يې وڅښه."

ښه، زه د غولي له پاکولو سره بلد وم. لوښي مې په مینځلو دومره سپین کړي وو چې مخ په کې مالوم شي ان لکه د کانستانتوپل له ښار لټوونکو صلیبانو تېښتېدلي هنرمند په لاس کې چې په وینز کې جوړ شوی ګیلاس و. زه په یوه وخت سل پیازه سپینولی شم او غوټه غوټه اوږه رېژولی شم هغه هم د روحانیت په نامه. خو شراب څښل هغه هم په بازار کې زما له وسه تېره خبره وه. په وحشت مې ور وکتل. "زه دا کار نشم کولی. که پلار مې خبر شي پښې به مې ماتې کړي. هغه د درویشانو خانقا ته لېږلی یم چې ښه مسلمان را نه جوړ شي کوم ګناهکار نه. زما کورنی او ملګري به زما په اړه څه فکر کوي."

د شمس نظر زما په لور سوځوونکی و. کټ مټ لکه ړومبی ورځ چې د بند وره تر شا و. ویې ویل: "ویني، ته زما مرید نشې کېدی. زما په زړه غښتلی نه يې. ته یوازې په دې فکر کوې چې خلک به څه وایي. خو یوه خبره به درته وکړم. ته چې دومره د خلکو تایید پسې ګرځې هېڅکله به د دوی له نیوکو خلاص نشې. که هرڅومره هڅه وکړې."

پوه شوم چې له هغه سره زما د ملتیا چانس له لاسه وځي. په بیړه مې د څان ننګه وکړه: "زه څه خبر یم چې تا په رښتیا دا غوښتل. د اسلام له نظره شراب په کلکه حرام دي. ما ویل ته مې هسې ازمایې."

شمس په خوب کې وويل: "د خدای په کار کې بنده ولې لاس ووهي. د يو بل پر مسلمانۍ قضاوت زموږ کار نه دی."

په ناهيلۍ مې شاوخوا وکتل. د ده خبرو ته مې خوب نه درلود. ماغزو مې کار پرېښود. شمس زياته کړه: "تا ويل غواړې په دې لاره مزل وکړې خو نه غواړې قرباني ور کړې. پيسې، نوم، زور، اوسانيه، شهواني خوند، هرڅه چې انسان ته خواږه دي بايد په اول کې له لاسه ور کړل شي."

د اس د غاړې پر ويښتو يې لاس تېر کړ. وروستۍ خبره يې دا وه. "ښه به وي چې له خپلې کورنۍ سره په بغداد کې پاتې شي. يو صادق کسبگر پيدا کړه او له هغه سره شاگردي وکړه. فکر کوم ستا نه به يوه ورځ ښه سوداگر جوړ شي. خو حريص مه اوسه. نو اوس اجازه راکړه چې لاړ شم."

له همدې سره يې لاس را ته پورته کړ، د اس گېډه يې په پښه ووهله او روان شو. له تگ سره يې نړۍ روانه شوه. زه په خپل اس سپور او ورپسې په منډو شوم. د بغداد تر څنډو ورپسې وم. خو زموږ تر منځ واټن په ډېرېدو و تر هغې چې له يو تور ټکي پرته بل شی نه مالومېدل. تر ډېره مې د شمس د نظر دروندوالی حساوه.

## دوهمه برخه

## اوبه

**هغه څه چې مايع او بدلېدونکي دي او وړاندوينه يې نه کېږي.**

# رومي

## قونيه، اکتوبر پنځلسمه ۱۲۴۴

روښانه او چاغه، ښکلې سپوږمۍ يوې لويې مرغلرې ته ورته ده چې له اسمان څوړند ده. په پالنګ کې کيناستم، له کړکۍ مې بهر حوېلۍ ته وکتل چې د سپوږمۍ په رڼا کې مېنځل شوې مالومېده. خو دا ډول ښکلا هم زما د زړه درزاري او د لاسونو لړزېدل کرار نه کړل.

مېرمن مې په غوږ کې را ته وويل. "ښاغليه، رنګ دې تښتېدلی. بيا دې هماغه خوب وليد؟ يو ګيلاس اوبه درته راوړم؟"

ما ورته وويل چې اندېښنه ونه کړي او بېرته ويده شي. هغې هېڅ نشوای کولی. زموږ خوبونه زموږ د تندي برخه ده او د خدای په خوښه موږ ته راځي. ترڅنګ يې ښايي يو لامل ولري چې له تېرو څلوېښتو شپو راهيسې همدا يو خوب وينم.

د خوب پيل هر ځل يو څه توپير لري او يا هم زه هره شپه له نوي اړخه ورننوځم. دا ځل مې خوب ليده چې په غالۍ ناست يم او قرآن لولم. ځای اشنا مالومېده خو تر اوسه هلته نه وم تللی. مخامخ يو درويش را ته ناست و چې په ونه جګ، ډنګر او ليس پر مخ بې پرده اچولې وه. په لاس کې يې شمعدان و، د بلو شغلو په رڼا کې ما قرآن لوست.

له څنډ وروسته مې سر اوچت کړ چې درويش ته هغه ايت ور ښکاره کړم چې لوست مې. کتل مې چې په واقعيت کې شمعدان د سړي ښی لاس دی او پنځه شمعې د هغه پنځه ګوتې دي.

وارخطا مې اوبو پسې وکتل خو اوبه نه وې. خپل پوستين مې ويوست او په درويش مې خور کړ چې لمبې يې مړې کړم. خو د پوستين له اوچتولو وروسته هغه ورک شوی و يوازې يوه بله شمعه يې پر ځای پاتې وه.

له هغې وروسته هره شپه همدا يو خوب و. ټول کور به مې هغه پسې لټاوه. هر کونج او څوکه، حوېلۍ چې د ژړو ګلابو درياب مالومېده. هرې خوا ته مې غږ پسې کاوه، خو سړی به تری تم شو. "د زړه سره، راستون شه، چېرې يې؟"

په پای کې لکه يو بد شګون د څا په لور روان شوم او لاندې مې تورو اوبو ته وکتل. په اول کې مې څه نه ليدل. خو د سپوږمۍ په خوځنده رڼا کې حوېلۍ روښانه شوه. هغه مهال مې دوې تورې غمجنې سترګې د څا په تل کې ولېدې.

يو چا غږ کړ. "زه يې ووژلم."

ښايي زه پخپله يم. ښايي زما غږ د دروند غم پرمهال همداسې وي. ما څو ځلې چيغې کړې تر هغه چې مېرمن مې په غېږ کې ټينګ ونيولم او راته ويې ويل: "بيا دې هماغه خوب وليد؟"

کله چې کيرا خوب ته ستنه شوه. زه حوېلۍ ته ولاړم. فکر مې کاوه چې لا هم واضح او روڼ خوب وينم. د شپې په چوپتيا کې د څا منظرې مې اډونه ځيره کړل. خو نابېره بې په غاړه کېناستم او د شپې په باد کې د ونو خوځېدو ته غوږ شوم.

په داسې وخت کې بې موجبه خپګان مې په زړه خور شي. ويلی نشم چې ولې. ژوند مې بشپړ دی او کمی نه لرم. درې نعمتونه خدای را کړي چې را ته ګران دي. علم، تقوا او ورتيا چې نورو ته خدای ورو پېژنم.

په اته دېرش کلنۍ کې خدای زما له غوښتنې ډېر نعمتونه را کړي. په وعظ او حقوقو کې روزل شوی يم. په الهياتو کې ډېر مالومات لرم، هغه علم چې خدای پيغمبرانو، ولیانو

او عالمانو ته په مختلفو کچو ور کړی. د پلار په لاربښوونه مې د عصر له بهترينو عالمانو زدکړې کړې دی. د پوهاوي لپاره مې زيار ايستلی، په دې باور چې خدای دې کار ته ګمارلی يم.

زما پخواني استاد سيد برهان الدين به ويل زه د خدای غوره بنده يم. خدای زه دې ځانګړې دندې ته ټاکلی يم چې مخلوق ته يې پيغام ورسوم او د حق او باطل په پوهاوي کې مرسته ورسره وکړم.

له ډېرو کلنو راهيسې په مدرسه کې درس ور کوم. له نورو عالمانو سره پر عقايدو بحث کوم، طالبانو ته لارښوونه کوم، حقوق او حديث لولم، د جمعې له لمانځه مخکې د ښار تر ټولو لوی جامع جومات کې وينا کوم. ډېره موده کيږي چې د روزل شويو زدکوونکو شمېر را نه تللی. وياړم چې خلک زما لارښوونو او خبرې ستايي او ما ته وايي چې په سختو شرايطو کې زما خبرو د دوی ژوند بدل کړی.

د خدای په مهربانۍ سره مينه ناکه کورنۍ، ښه دوستان او ريښتيني شاګردان لرم. په ټول ژوند کې مې بې وزلي او نيمګړتيا نه ده ليدلې. که څه هم د لومړۍ مېرمنې مرګ تباکوونکی و، ما ويل بيا به واده ونه کړم. خو بيا مې هم واده وکړ. له کيرا څخه مننه چې زما ژوند ته يې مينه او خوشالي راوسته. دواړه زامن مې زلميان دي. خو حيران يم چې په لوېدو سره له يو بل نه څومره توپير لري. لکه دوې جلا تخمې چې وي، د يو بل ترڅنګ په يوه خاوره کې کرل شوي، يو شان لمر او اوبه ورسېدلي خو دوه جلا نهاله ترې جوړ شوي. په دواړو وياړم هغومره په ځانګړو وړتياوو سمبال په لوروله نيولې خپله بچی هم وياړم. زه په شخصي او ټولنيز ژوند کې خوشال او راضي سړی يم.

بيا ولې د ننه يوه تشه حسوم چې هره ورځ ژوريږي او پراخيږي؟ زما په روح شخوند وهي. هېڅېږي مې يوازې نه پرېږدي لکه موږک ارام خو وږی.

# شمس

## قونیه، اکتوبر اولسمه ۱۲۴۴

د ښار په دروازه تر ننوتو مخکې زه تل یوه شېبه درېږم. ولیانو ته یې سلام کوم، مړو او ژوندو ته دعا کوم که څرګند دي او که پټ. هېڅکله د نوي ځای د اولیالاوو له دعاء پرته هلته نه ننوځم. ما ته فرق نه کوي که ځای د مسلمانانو، عیسایانو یا یهودانو وي. زما په باور ولیان په ټول بشریت پورې تړلي څکه د ادیانو له بدیهي توپیرونو پورته دي.

نو کله مې چې قونیه ړومبی له لرې ولیده هغه څه مې وکړل چې تل یې کوم. خو یو عجیبه غبرګون مې ولید. د دې پرځای چې د سلام ځواب او دعا واورم. اولیا لا غلي وو. بیا مې سلام په لوړ اواز ورواچوه. خو بیا د غبرګون پرځای چوپتیا وه. له ځان سره مې وویل هغوی زما غږ اورېدلی خو سلام ته مې علیک نه وایي.

له باد مې وغوښتل چې زما غږ د ولیانو غوږونو ته ورسوي: "راته ووایئ خبره څه ده؟" له لږ ځنډ وروسته باد له ځواب سره را ستون شو. "ای درویشه! دې ښار کې یوازې د افراط دوه اړخه موندی شې. د دوو په منځ کې څه نشته. یا خالصه مینه او یا خالصه کرکه. موږ خبرداری در کوو، د خطر مسولیت پخپله په غاړه واخله."

ما وویل: "نو بیا اندېښنه نشته. تر هغه چې له خالصې مینې سره یم همدومره زما بس ده."

له دې اورېدو سره د قونیې اولیاوو دعا را ته وکړه. خو لا مې نه غوښتل ښار ته ننوځم. د سپېدارو د ونې لاندې کیناستم. اس مې په ځای ځای وښو کې څرېده. ښار ته مې له لرې نظر واچاوه. د قونیې د جوماتونو منارې لکه د ښیښو ټوټې په لمر کې برېښېدې. بڼ یو وار مې د سپیو غپا، د خرو ونګېدا، د ماشومانو خندا، د سوداګرو نارې او د ښار د ژوند

غږ اورېده. د بندو دروازو تر شا به څه غمونه او ښادی نغښتې وي. زه د سیلاني ژوند سره بلد وم او په یو ځای کې اوسېدل را ته یو څه گران وو خو یوه بله بنستیزه قاعده را یاد شوه: "له راتلونکي بدلون سره مقاومت مه کوه. پرېږده چې ژوند په تا کې و اوسېږي. اندېښنه مه کوه چې ژوند دې په بل مخ کېږي. ته له کومه وایې چې د ژوند پخوانی مخ ستا لپاره ښه دی؟"

یو مهربان غږ مې وارېد او له خپل فکره را ووتم. "سلام علیکم ملنګه."
مخ مې ور واړوه. د روغې څټې خاوند غنم رنګ کلیوال سړی مې په ټانګه کې ولید. ټانګه یو خوار ډنګر غویي کشوله. تا به ویل چې هره شېبه به یې ورووستی وي.

ما ځواب ور کړ: "وعلیکم سلام"
"ولې دلته یوازې ناست یې؟ که د اس له سپرلۍ ستړی یې، زما سره په ټانګه کې تلی شې."
ما ورته په خندا وویل: "ستا له خوار غویي به پلی چټک وم."
په کلیوال ښه ونه لګېده: "داسې مه وایه. غویی مې ښایي زوړ او بې وسه وي خو زما خوږ ملګری دی."

له دې خبرې سره مې ټکان وخوړ. پرځای ولاړ شوم او کلیوال ته مې تعظیم وکړ. زه د خدای په لویه هستۍ کې د یوې ذرې په توګه څنګه کولی شم د خدای بل مخلوق ته سپکاوی وکړم که هغه انسان وي یا حیوان؟

"زه ستا او ستا له غویي بښنه غواړم. ما ته عفوه وکړه."
کلیوال هک پک حیران شو. پر مخ یې بې باوري جوته وه. خامخا یې چرت واهه چې مسخرې کوم که ریښتیا وایم. بیا یې په خندا وویل: "هېڅوک داسې نه وایي."

"ستا له غویي بښنه نه غواړې؟"
"هغه هم، خو زما نه چا بښنه نه ده غوښتې. برعکس زه تل له خلکو بښنه غواړم. که خلک زیاتی هم را سره وکړي بښنه زه ترې غواړم."

په دې خبره مې زړه ټکان وخوړ. "قرآن مجيد وايي هېڅ انسان له بل برتر نه دی... دا له قاعدو يوه ده."

کليوال وپوښتلم: "کومه قاعده؟"

"خدای ستا د کار پر بشپړتيا لګيا دی، د ننه او بهر کار. هغه ستا سره بوخت دی. هر انسان د پرمختګ په حال کې دی، په کراره خو له دمې پرته د تکميلېدو په لور روان دی. موږ ټول نيمګړي هنرونه يو، د بشپړېدو هڅه کوو او تم يو. خدای زموږ له هر يوه سره جلا کار کوي په دې چې بشريت ښکلی او ظريف هنر دی. هر ټکی د ټول انځور لپاره مهم دی."

کليوال وپوښتلم: "ته هم د وعظ اورېدو ته راغلی يې؟ داسې ښکاري چې ګڼه ګوڼه به ډېره وي. هغه يو عالي سړی دی."

زه يوه شوم چې د چا په اړه خبرې کوي: "را ته ووايه چې د مولانا په وعظ کې ځانګړتيا څه ده؟"

کليوال يوه شېبه غلی و او د اسمان په لور يې کتل. فکر يې هر چېرې خور و. بيا يې وويل: "زه له يو ويجاړ کلي راغلی يم. ړومبی لوږه (قحطي) بيا چنګېزيان راغلل. په لار کې يې هر کلي ته اور واچوه او تر پښو يې لاندې کړل. خو په ښارونو کې يې له دې بدتر چلن وکړ. ايزروم، سيواس او قيصاري ښارونه يې لاندې کړل. ټول نارينه يې ووژل او ښځې يې له ځان سره يووړې. ما خپله کوم عزيز يا کور نه دی له لاسه ور کړی خو د ژوند خوند مې له لاسه وتلی."

ما وپوښتل: "له دې سره د مولانا څه کار دی؟"

"هر څوک وايي چې د مولانا وينا د سړي د خپګان درملنه کوي."

زه شخصا فکر نه کوم چې خپګان دې بد وي. برعکس. تظاهر انسان ته خوشالي ورکوي او حقیقت سړی غمجنوي. خو کلیوال ته مې دا خبره ونه کړه. "که تر قونیې در سره ملتیا وکړم او ته د مولانا په اړه را ته وغږېږې، څه پکې وایې؟"

د اس پړی مې په ټانګه پسې وتاړه او د کلیوال ترڅنګ کیناستم. غوایې هم پر اضافه بار خوا بده نه کړه. هماغه کرار مزل یې کاوه. کلیوال ډوډۍ او تریو پنېر را کړ. په خوړو او کیسو مو مزل وواهه. لمر په اسمان کې ځلېده او د اولیاالاوو تر نظر لاندې زه قونیې ته ننوتلم. له کلیوال سره مې مخه ښه وکړه او په خپل اس سپور شوم. په تلو کې هغه را ته وویل: "د جمعې لمانځه ته خامخا راشه."

ما سر وښوراوه "ان شاء الله"

که څه هم د وعظ اورېدو ته لېوال او د مولانا لیدو ته بې قراره وم. خو له هغه مخکې مې غوښتل په ښار کې یو څه وخت تېر کړم او د رومي په اړه د ښاریانو په نظر ځان خبر کړم. غوښتل مې مخکې له هغه چې په خپلو سترګو یې ووینم له پردیو مهربانو او نامهربانو، مینه ناکو او کرکجنو سترګو یې ووینم.

## درواغجن حسن

**قونيه، اکتوبر اولسمه ۱۲۴۴**

باور به دې وشي او که نه، د څمکې پرمخ دې برزخ ته دوی "سپېڅلی عذاب" نوم ورکړی. زه جذام وهلی د دوو په منځ کې را ګير يم. نه مې مړي او نه ژوندي په خپل منځ کې شمېري. مېندې مې له لرې خپل ماشومانو ته ورښيي چې هغوی ووېروي او ماشومان مې په ډېرو ولي. کسبګر مې د خپلو هټيو له مخې شړي چې زما بد قدم د دوی په کاروبار اغېز ونه کړي. مېندوارې ښځې مخ را نه اړوي چې ماشوم يې معلول ونزېږي. خو دا ټول خلک خبر نه دي چې زه له دوی ډېر غواړم د دوی مخونه او له کرکې ډک کتل ونه ګورم.

ړومبی پوستکی بدلېږي، پنډېږي او تورېږي. ټوټې ټوټې د خوسا هګۍ په رنګ پر اوږو، زنګنو، مټو او مخ را څرګندېږي. پوستکی سوځېږي خو وروسته درد ارامېږي يا هم سړی ور سره بلدېږي. بيا همدا ځايونه پړسېږي، غټېږي او په لويو بدرنګه پوکانيو اوړي. لاسونه په منګولو بدلېږي او څېره د پېژندلو نه وي.

په دې اخر پړاو کې اوس سترګې نشم تړلی. اوبه او اوښکې زما له ارادې پرته بهېږي. د لاسونو شپږ نوکان مې تر اوسه غورځېدلي او بل يې ور پسې دی. هيښوونکې دا ده چې ويښتان مې لا شته. ښايي دا مې له ښه چانسه وي.

اورېدلي مې دي چې په اروپا کې څوک جذام وهلي د ښار د ننه نه پرېږدي. خو دلته مو پرېږدي چې د خلکو په منځ کې ژوند وکړو په دې شرط چې زنګ مو په غاړه کې وي چې خلک له خپل را تګه خبر کړو. موږ ته د درواغو اجازه هم شته. که نه نو له لوږې به مړه وو. سوال کول د بقا له دوو لارو يوه ده. بله يې دعا ده. په دې نه چې خدای جذام

وهلو ته څانګړې پاملرنه کوي، خو خلک فکر کوي چې همداسې ده. هغومره چې ښاريان زموږ سره کرکه کوي هغومره درناوی هم را ته لري. موږ ته پيسې را کوي چې ناروغانو، معلولانو او زړو ته دعا وکړو. ښه خواره هم را کوي چې زموږ له خولې يو څو نورې دعاوې را وباسي. پر سړکونو ښايي له جذام وهلو سره له سپيو بدتر چلن وشي. خو په هغه ځای کې چې مرګ او ناهيلي حاکمه وي زموږ سلطنت چلېږي.

کله چې زه د دعا لپاره وګمارل شم، سر کښته اچوم او داسې څه وايم چې عربي ته ورته وي او خلک ګمان وکړي چې په دعا کې ډوب يم. همدا کولی شم. فکر نه کوم چې خدای به زما غږ اوري. داسې څه مې نه دي ليدلي چې باور مې را شي.

د دروېزې ګټه که لږ هم ده خو تر دعا کولو را ته ښه ده. لاقل څوک نه غولوم. جمعه د دروېزې لپاره تر ټولو ښه ورځ ده مګر دا چې روژه وي. په روژه کې هره ورځ د ګټې ورځ ده. په دې مياشت کې ډېر سوګت کسان هم صدقه ور کوي او خپلې ګناوې جبرانوي. په کال کې يو ځل خلک له سوالګرو مخ نه اړوي. ما پسې ګرځې، څومره چې سوالګر خوار وي هغومره د خلکو د خير پېرزوينه زياته وي. دوی څومره د خپل سخاوت تظاهر او ريا ته اړ دي.

نن به هم ګټوره ورځ وي. رومي د جمعې وعظ ته راځي. جومات سر له اوسه ډک دی. هغوی چې د ننه ځای نشي موندی د جومات په حويلی کې يې ځای نيولی. د جېب وهونکو او غلو لپاره هم ښه د ښکار وخت دی. زما په شان دوی هم دلته دي. د خلکو په منځ کې ځای پرځای شوي.

د جومات دروازې ته مخامخ ناست يم او د چنار ونې ته مې تکيه وهلې ده. د خيرات کاسه مې مخې ته اېښې ده. د نورو په شان اړ نه يم چې خير په خوله وغواړم. جذام وهلي ته په کار نه ده چې وژاړي او نارې ووهي، له خپلې بېوزلی او ناروغی سر وټکوي. خلکو ته زما د مخ ورښودل له زرو خبرو ډېر اغېز لري. نو زه يوازې خپل مخ لوڅوم او تکيه کوم.

په ساعت کې څو مسینې سکې مې په کاسه کې پرېوتې. زما تمه د سرو زرو یوه سکه وه چې د لمر، زمري یا میاشتې سمبول پکې وي. د علاوالدین کیقباد له واکمنۍ راهیسې د پیسو په راکړه ورکړه کې اسانتیا وه. که د الېپو (حلب) د واکمنو پیسې وې یا د مصر د فاطمیانو او که د بغداد د خلیفه یا د ایتالیا پیسې تولې چلېدې. د قونیې واکمنو او سوالګرو هم منلې وې.

د سکو ترخنګ یو څو وچې پاڼې هم په کاسه کې پرېوتې. باد وچلېد او د چنار سرې پاڼې را پرېوتې. لکه ونې چې هم ما ته خیر راکړی وي. بیا مې پام شو چې زه او د چنار ونه له یو بل سره ورتوالی لرو. ونه په مني کې پاڼې رېژوي او انسان د جذام په وروستي پړاو کې اړونه تویوي.

زه لوڅه ونه وم. زما پوستکی، زما غړي او زما مخ په نړېدو وو. هره ورځ مې د بدن یوه برخه را نه بېلېده. خو د چنار د ونې خلاف زما لپاره پسرلی نه و چې بیا وغوړېږم. څه مې چې له لاسه ور کول د تل لپاره مې له لاسه تلل. چې کله خلک ما ته ګوري نه وایي چې زه څوک یم زما د غړو نشتون ته ګوري. د پیسو په ور کولو کې بېړه کوي او را سره سترګې په سترګو کیږي نه، لکه زما نظر چې ساري وي. د دوی په نظر زه له غله او قاتله هم بدیم. دا قانون ماتوونکي غندي خو نظر ترې نه اړوي. خو زما په کتو سره مرګ د دوی سترګو ته درېږي. همدا یې وېروي چې مرګ څومره نژدې او بدرنګ دی.

نا څاپه د خلکو تېل ماتېل شو. د خلکو غږ مې واورېد: "هغه راغی. هغه راغی."

په ریښتیا هم مولانا و، د شیدو په رنګ په سپین اس سپور. په ستن ګنډل شوی کمیس یې په ځان کې و. نېغ او سرلوړی، ځېرک او پوه د پلویانو تر مخ روان و. د عالم په شان نه د حاکم په شان مالومېده. د باد، اور، اوبو او خاورې سلطان. اس یې هم لوړ او نېغ و لکه پوهېږي چې په شا یې سپور سړی ځانګړی دی.

ما خپلې پیسې جیب ته کړې. تر سر مې څادر تاو کړ او نیم مخ مې لوڅ پرېښود او جومات ته د ننه شوم. د ننه د ګڼه ګوڼې له لاسه سا نه اخیستل کېده، ځای موندل خو لا پرېږده. خو د جذام ګټه دا ده چې په هرڅومره ګڼه ګوڼه کې ځای موندل کېږي، هېڅوک نه غواړي زما تر څنګ کېني.

د مولانا غږ جګ و خو په خلکو کې تېټ شو. "ورونو، د کایناتو پرتله موږ ډېر واړه او بې ارزښته یو. په تاسې کې شایي څینې وایي چې زموږ دا کوچنیوالی به خدای ته څه مانا ولري؟ زما په باور دا پوښتنه ډېرو ته پیدا کېږي. په ننني وینا کې غواړم دې پوښتنې ته ځانګړي ځوابونه وړاندې کړم."

د مولانا دواړه زامن په لومړي کتار کې ناست وو. ښکلی سلطان ولد، خلک وایي خدای ښېلې مور ته شوی. او کشر علاوالدین چې مخ یې روڼ او سترګې یې تېزې دي. لیدل مې چې دواړه پر پلار ویاړي.

"د ادم اولاد ته د پوهې نعمت ور کړل شوی. داسې پوهه چې نه غرونو او نه اسمانونو اوړه ورکولی شوی. څنګه چې په قرآن کې ویل شوي (په واقعیت سره موږ قرآن غرونو ته وړاندې کړ. هغوی له وېرې ونه مانه. یوازې انسان ومانه.) نو د داسې غوره موقف په درلودو سره انسان باید له هغه څه چې خدای ورته پېرزوینه کړې ځان لاندې ونه ګڼي."

توری بې داسې ادا کول چې یوازې لوستي کسان یې کولی شي. مولانا د خدای په اړه خبرې وکړې. تېنګار یې و چې خدای لرې په آسمان کې د سلطنت پر تخت نه دی ناست، موږ هر یوه ته ډېر نژدې دی. عذاب مو خدای ته له بل هرڅه ورنژدې کوي.

په سر کې مې د هغه په خبرو زړه تود شو. د غم او ښادۍ وصال لکه د مرغۍ وزر له یو بل سره تړلي. خو بیا مې په ستوني کې کرکه وپارېده. مولانا پر عذاب څه خبر دی؟ د یوه عالي جناب زوی او د یوې شتمنې کورنۍ مشر، ژوند یې تل په مزو کې تېر شوی. پوهېږم چې لومړۍ مېرمن یې مړه شوې خو ریښتینې بدمرغي یې هېڅکله نه ده څکلې. په

ماشوموالي يې د سپينو زرو په قاشقه ډوډۍ خوړلې، په ځانګړو حلقو کې لوی شوی، تر ټولو غوره عالمانو يې زدکړې کړې، تل مينه ورکړل شوې او درناوی يې شوی، په کومو سترګو دی د عذاب په اړه خبرې کوي؟

زړه مې په پړسېدو شو. زما او مولانا تر منځ توپير ډېر لوی و. ولې خدای نا انډولي کوي؟ ما ته يې بېوزلي، ناروغي او بدمرغي را کړې. رومي ته يې شتمني، بريا او علم ورپه برخه کړی. د ښه نوم څښتن دی او اخلاق يې شاهانه دي، ته به وايې چې له دې نړۍ يا لا اقل له دې ښار سره تړاو نه لري. زه بايد خپل مخ پټ کړم چې خلک غوسه نشي، خو دی په خلکو کې لکه ارزښتمن غمی ځلېږي. که دی زما پر ځای وای چې ده به څه کول؟ کله به يې هم دا فکر کړی وي چې د ده په شان کامل او بختور سړی هم يوه ورځ را پرځېدی شي..دا احساس ورسره شته که سړی حتی يوه ورځ په ټولنه کې منفور شي څه به کوي. که زما ژوند ور کړل شي، ايا هغه مهال به يې هم خلک لوی مولوي صيب وبولي؟

له هرې پوښتنې سره زما کرکه ډېرېده او کوم درناوی مې چې ده ته درلود له زړه ووت. ولاړ شوم او د خلکو په منځ کې مې لار وايسته. يو څو کسانو ناباوره نظر راچوه. حيران وو چې خلک د وعظ په اورېدو سر ماتوي او زه ترې ځم.

# شمس

## قونیه، اکتوبر اولسمه ۱۲۴۴

د کليوال له برکته د ښار مرکز ته رسېدلی وم. د ځان او اس لپاره مې ځای وموند. د قنادانو هوټل مناسب ځای و. څلور خونې ما ته وښودل شوې، يوه چې تر ټولو لږ توکي پکې وو ما خوښه کړه. يوه خيرنه برستن او توشک، د تېلو زوړ څراغ، پخه خښته چې د بالښت پرځای وه او د غونډۍ له سر يې د ټول ښار منظره کېدله.

له لږ دمې وروسته بهر را ووتم، په کوڅو مې سر شو. ډول ډول اديان، دودونه او ژبې کارېدې. سازنده، جوګيان، مساپر عرب، مسيحي زيارت کوونکي، يهود سوداګر، مذهبي بودايان، فرنګي بدلزن، پارسي هنرمنان، د چين اکروباتيان، هندي مداريان، زردشتي کوډګر او يوناني فيلسوفان مې وليدل. د مريانو په بازار کې مې ښځې ولېدې چې پوستکي يې د شيدو په رنګ سپين وو، تور خسي شوي مريان چې له ډېره عذابه يې خبرې نشوی کولی. په بازار کې مې خوځنده سلمانيان له تېرو چړو سره، پال کتونکي له کرستال-توپ سره او اور خوړونکي پاړوګر وليدل. زيارت کوونکي د بيت المقدس په لور روان وو. لډران چې فکر کوم د صليبيانو تښتېدلي سرتېري وو سرګردانه تاوېدل. خلکو په ايټاليايي، فرانسوي، انګريزي، يوناني، پاړسي، ترکي، کوردي او ځينو نورو ژبو خبرې کولې چې د ځينو سره يې زه اشنا نه وم. له دومره توپيرو سره بيا هم په دې خلکو کې يو ورتوالی و. هر يوه نيمګړتيا درلوده. لکه نابشپړ شوی هنري اثر کمی پکې و.

ټول ښار د بابل برج و. هر څه بدلېدل، ماتېدل، تر رڼا لاندې راتلل، هېرېدل، جګېدل، اوبه کېدل، خاورې کېدل او له منځه تلل. په يو غلي او ارام ځای کې ودرېدم. له نړۍ بې پروا خو په عين حال کې مې د خوارکښو او مظلومو خلکو پر وړاندې سوځوونکې مينه

حسوله. خلکو ته په کتو سره مې يوه بله زرينه قاعده را ياد شوه: "له کامل خدای سره مينه اسانه ده چې پاک او بې خطا دی. خو له انسانانو سره مينه گرانه ده چې نيمگړتياوې او خطاوې لري. ياد يې وساته، پوهه يوازې له مينې سره پيدا کيږي. له مينې پرته علم نشته. تر هغه مو چې د خدای له مخلوق سره مينه نه وي کړې د خدای له پېژندنې او مينې به محروم وو."

په تنگو کڅو کې مې مزل وکړ. د هر عمر کسبگر په خپلو ورو هټيو کې په کار لگيا وو. هر چېرې چې تلم خلکو په خپل منځ کې د مولانا کيسې کولې. له دومره شهرت سره به سړی څه احساسوي؟ د هغه پر نفس به يې څه اغېز کړی وي؟ په همدې فکرونو کې له هغه جوماته چې مولانا وعظ پکې کاوه مخالف لوري ته روان وم. چاپېريال په کرار بدلېده. څومره چې شمال خوا ته تلم وېجاړ کورونه ډېرېدل، د بڼونو ديوالونه نيم نړېدلي او ماشومان خپل سري او شوخېدل. بوی هم بدلېده، د اوړې او مسالې بوی کوڅو ته راته. په پای کې داسې کوڅې ته ورسېدم چې د خولو، عطرو او شهوت درې بويونه پکې وو. د ښار لوېدلې سيمې ته را ورسېدم.

د ډېرو پوښلي سړک په پورتنی برخه کې يو نيم ويجاړ کور و. ديوالونه يې د بڼس په لرگي تکيه وو او پر بام يې پخاله وه. د کور په مخ کې يوه ډله ښځې ناستې وې. زما په ليدو حيرانې شوې. ترځنگ يې د گلانو بڼ و چې په هر رنگ او رقم گلاب پکې وو. ښکلی بوی ترې راته. له ځان سره مې وويل چې دا به چا روزلي وي.

خو ډېر ژر مې ځواب وموند. بڼ ته له رسېدو سره ور پرانيستل شو او يوه ښځه را ووته. ژامې يې لويې وې، په ونه دنگه او ډېره پنډه وه. زما په ليدو يې د سترگو گاتې په ځرخېدو شول. پر مخ يې نري برېتونه او شقيقې وې. پوه شوم چې هغه هم ښځه ده او هم سړی.

نرښځي په شک سره وپوښتلم "څه غواړې؟"

ما ځان ور وپېژانده او د نوم پوښتنه مې ترې وکړه. خو هغه را ته ونه وايه. لکه زه چې کوم مچ وم لاس یې وښوراوه. "دا ځای ستا لپاره نه دی."

"ولې نه دی؟"
"نه ګورې چې دا رنديو خانه ده؟ تاسې صوفيان قسم نه خورئ چې له شهوت به ځان ساتئ؟ خلک وايي چې زه په ګناهونو کې ډوبه يم. خو زما دروازه د روژې په مياشت کې تړلې وي. او اوس تا زغورم. له دې ځايه ځان ساته. دا د ښار تر ټولو مردار ځای دی."

ما نيوکه وکړه "مرداري د باندې نه د ننه وي. قاعده همداسې وايي."
غږ يې د کارغه په شان شو "د څه شي په اړه خبرې کوې؟"
ما د وضاحت هڅه وکړه."دا له څلوېښتو قاعدو يوه ده. اصلي مرداري د ننه دی. پاتې نور مينځل کېږي. يو ډول ککړتيا په پاکو اوبو نه پاکېږي، هغه د تعصب او کرکې ناولتيا ده چې روح مرداروي. ته خپل بدن په روژه او پرهېز پاکولی شې. خو يوازې مينه ستا زړه پاکولی شي."

خو د نرښځې سر په دې خبرو خلاص نه شو. "تاسې ملنګان لېونيان ياست. دلته هرډول خلک راځي، خو ملنګ به هله د ننه پرېږدم چې څونګښې ډېرې وکړي. که زه تا دلته پرېږدم خدای به دا ځای پر بل مخ چپه کړي، د ايماندار سړي بې لارې کولو سره به د خدای غضب را وورې."

ما ترې وپوښتل: "دا بې ځايه خبرې دې چېرې اورېدلې. فکر کوې خدای يو قهرجن واکمن دی چې له پاسه موږ ته ګوري او زموږ په تېروتنه د ډبرو او څونګښو باران را باندې کوي؟"

نرښځې د خپل نري برېت څوکه کش کړه او ما ته يې په غوسه کتل. ما ډاډ ور کړ "انديښنه مه کوه، زه د ننه نه درځم. ما يوازې ستا د ګلانو د ښکلا ننداره کوله."

نربنځي ارامه سا واخیسته "ښه، دا زما د یوې نجلی کار دی. صحرا گل یې نوم دی." له دې سره یې یوې څوانې ښځې ته گوته ونیوه چې د نورو رنډیو په منځ کې ناسته وه. نرۍ زنې، مرغلر رنگه پوستکی، تورې اوږدې سترگې، ډېره ښایسته وه. له لیدو سره مې حس کړه چې ډېره موده به دلته پاتې نشي.

په ورو اواز مې یوازې نربنځي ته وویل: "هغه ښه نجلی ده. په دې نژدې وختونو کې به د خدای موندلو په موخه روحاني سفر پیل کړي. دا ځای به د تل لپاره پرېږدي. هغه ورځ چې راغله مخه یې مه نیسه."

نربنځي حیران را ته وکتل او په غوسه یې وویل: "ته څه چټیات غږوې؟ هېڅوک ما ته نشي ویلی چې د خپلو نجونو سره څه وکړم. ښه به دا وي چې له دې ځایه ورک شې که نه نو شغال سرۍ را بولم."

ما وپوښتل: "هغه بیا څوک دی؟"

نربنځي خپله گوته وښوروله: "ښه به دا وي چې پوه نشې."

د دې سړي د نوم په اورېدو سره مې اډونه یو څه ځېږه شول خو ډېر فکر مې پرې ونه کړ. "زه هسې هم روان وم. خو بیا به هم را شم. په بیا لیدو به مې نه حیرانېږې. زه له هغو زاهدانو نه یم چې ټول عمر په مصله تېروي، سترگې او زړونه یې بهر نړۍ ته تړلي وي او یوازې قرآن له مخې لولي. زه قرآن د گلانو په غوزه (غوټۍ) او مرغانو په هجرت کې لولم. زه په انسانانو کې نغښتی ژوندی قرآن لولم."

نربنځي په مسخرو وویل: "مانا دا چې ته انسانان لولې؟ دا څه چټیات وایې؟"

"هر انسان یو پرانیستی کتاب دی، موږ هر یو گرځند قرآن یو. د خدای لټون د ټولو په زړه کې کښېل شوی که هغه رنډۍ وي او که ولي. مینه له پیدایښته زموږ سره ده او له هغه وخته د موندلو په تمه ده. د څلوېښتو قاعدو یوه په همدې اړه ده. ټول خلقت په بر انسان کې نغښتی، چې هغه ته یې. هر شی چې په خپل چاپېریال کې وینې د هغو شیانو او

انسانانو په ګډون چې ستا نه خوښېږي یا کرکه ترې کوې یوه برخه یې په تا کې شته. نو شیطان پسې له ځانه بهر مه ګوره. شیطان یو خارق العاده موجود نه دی چې بهر ګوزار درباندې وکړي. یو ساده غږ د ننه دی. که ځان سم وپېژنې، خپل ښه او بد اړخ په صداقت او ریښتیا در مالوم شي، ته به د وجدان اعلی مقام ته ورسېږې. کله چې انسان ځان وپېژني خدای پېژني."

نرښځې خپلې ځنګلې په سینه تېرې بېرې ونیولې. "خبرداری در کوم، زه به دې هېڅکله پرېښږدم چې په دې خبرو دلته خلک وغولوې. ښه به وي چې زما له رنډی خانې لرې اوسې. که نه نو قسم په خدای چې شغال سری به دې دا تېره ژبه پرې کړي او زه به یې په ډېر خوند وخورم.

## بدلمنه صحرا گله

قونیه اکتوبر اوولسمه ۱۲۴۴

د نړۍ تر ټولو زوړ کسب یا رنډۍ خانې د وخت له پیل سره منځ ته راغلې او زما په شان ښځې هم. خو په یوه خبره مې سر خلاص نه شو. هغه خلک چې د ښځو بدلمني نه غواړي بیا هماغه خلک د رنډیو د توبې په لار کې خنډ گرځي او د نوي ژوند پیل ته یې نه پرېږدي. لکه موږ ته چې وايي ستاسې په حال خواشیني یو خو له دې پرځېدلي حالت ژغورنه نشته. ولې داسې کیږي؟ ځیني خلک د نورو په شر خوشالیږي او ښه پرې نه لگیږي چې په نړۍ کې یو بدبخته کس کمېږي. مهمه نه ده چې خلک څه وايي او څه کوي. زه به یوه ورځ له دې ځایه وځم.

نن سهار په جگېدو سره د ستر مولانا د خبرو اورېدو ته مې له تلوسې زړه چودېده. که مې خپلې رئیسې ته ویلي وای پرما به یې ملنډې وهلې وای. "رنډۍ له کومې ورځې جومات ته تگ پیل کړی؟" له خندا به یې گرد مخ شین اوښتی و.

څکه مې دروغ وویل. د هغه گنجي ملنگ له تگ وروسته رئیسه په فکر کې ډوبه مالومېږي. فکر مې وکړ د خبرو لپاره به ښه وخت وي. د هغې د فکر کولو پر وخت ښې خبرې ور سره کیږي. ما ویل بازار ته ځم چې لږ میده چوده شیان وپېرم. زما پر خبره یې باور وکړ. نهه کاله کیږي چې د سپي په شان کار ورته کوم. دومره باور خو به را باندې کوي.

هغې وویل: "په یوه شرط. کونځلی به در سره ځي."

په دې کې ستونزه نه وه. کونځلی پر ما ګران و. غټې هډور سړی و. ماغزه یې د ماشوم و. په خپل ساده والي کې صادق و. هېڅکله پوه نه شوم چې په دې نړۍ کې څنګه ژوندی پاتې دی. څوک یې په اصلي نوم نه پوهېدل، ښایي خپله هم نه پوهېدو. د کونځلو حلوا یې ډېره خوښه وه نو ځکه مو کونځلی باله. هره رنډۍ به چې له رنډۍ خانې بهر تله، کونځلی به یې لکه سیوری ارام تر شا روان و. زما لپاره تر ټولو غوره ساتونکی و.

دواړو د بڼ کړه دوړنه لار ووهله. په راوتو کې مې کونځلی ودراوه. د یوې څرې تر شا مې د نارینه کالي پټ کړي وو. له ځانه نارینه جوړول زما د تمې خلاف سخت کار و. تر سینې مې اوږده ټوټه تاو کړه چې تي مې هوار شي. بیا مې غټ پټلون، د کاټن واسکټ، شنه اوږده چپنه واغوستله او لونګۍ مې پر سر وتړله. نیم مخ مې په لوی دسمال پټ کړ چې د لارویو عربو په شان ښکاره شم.

کونځلی زما په لیدو هک پک حیران شو. د تلو مې ورته وویل خو لا حیران ولاړ و. مخ مې ورته لوځ کړ. "ودې نه پېژندم ګرانه؟"

د ماشوم په شان حیران و لاس یې په خوله نیولی و. "صحرا ګلې دا ته یې؟ دا ډول جامې دې ولې اغوستې دي؟"

ما ورته وویل "یو راز ساتلی شې؟"

سر یې وښوراوه.

په کراره مې ورته وویل "مونږ به جامع جومات ته ځو خو ګوره چې رئیسې ته ونه وایې."

د کونځلي شونډه وځړېده. "ته نه مونږ بازار ته ځو."

ما ورته وویل "هو بازار ته هم څو څو وروسته. ړومبی به جومات ته ولاړ شو او ستر مولانا ته به غوږ شو."

کونځلی وارخطا شو. د پلان بدلېدلو زغم یې نه درلود. خو ما زاری ورته وکړې. "خبر دی، زما لپاره ډېره مهمه ده. که ته یې راسره ومنې او ژمنه وکړې چې هېڅ ته به نه وایې، زه به لوی قاب حلوا درته واخلم."

د حلوا په اورېدو د کونځلي خولې اوبه وکړې. له همدې خوږې ژمنې سره دواړه د جومات په لور روان شوو.

زه نیجایې ته نژدې په یوه کوچنې کلي کې زیږېدلې وم. مور به تل را ته ویل "ته په سم ځای کې زیږېدلې یې خو تر غلط ستوري لاندې. "ډېر خراب وخت و. هره شېبه به هر څه بدلېدل. لومړی د صلیبیانو د راستنېدو ګنګوسې وې. په قسطنطیه کې د هغوی د ظلمونو په اړه مو ډېرې کیسې اورېدلې وې لکه د کورونو لوټل، د کلیساوو په منځ کې د مجسمو او نښو ورانول. بیا د سلجوقیانو د برېد په اړه مو واورېدل. د سلجوقیانو له کیسو وروسته د بې رحمه چنګېزیانو کیسې پیل شوې. د دښمن نوم او څېره بدلېده. خو د پردیو لخوا د یرغل وېره د ادا غږه د واورې په شان ځای پر ځای پاتې وه.

زما پلار او مور ډوډۍ پخوونکي او ښه عیسایان وو. د پخې ډوډۍ بوی مې لاهم په پزه کې شته. شتمن نه وو، ان په ماشوموالي کې پوهېدم. خو بې وزله هم نه وو. بېوزله خلک به راتلل او سوځېدلې ډوډۍ به یې له مونږ غوښته. ما به هره شپه د خدای شکر ځای کاوه چې په مړه ګېډه ویدېږم. داسې مې حسوله لکه د ملګرې سره چې خبرې م. په هغه وخت کې خدای زما ملګری و.

مور مې زما په اوه کلنۍ مېنډواره شوه. مخکې به هم شوې وه او ماشومان به یې ضایع شوي وي. هغه وخت نه پوهېدم ډېره ساده وم. که چا پوښتلې وای چې ماشومان څرنگه جوړېږي ما به ویل خدای یې له خوږو نرمو اوړو جوړوي.

خو زما د مور په نس کې ماشوم ډېر غټ مالومېده. خېټه یې بې حده لویه شوې وه. گرځېدا ورته گرانه وه. دایې ویل د هغې بدن اوبه ساتي. خو نه مې مور او نه دایه پوهېده چې د مور په نس کې یو ماشوم نه ان درې وو. درې واړه هلکان او د مور په گېډه کې د ننه له یو بل سره جنگېدل. یوه ورور د خپل نامه په پړي بل زندی کړی و. مړ ماشوم د دوو نورو د وتو لاره تړلې وه. مور مې څلور ورځې د زېږون په حالت کې وه. شپه او ورځ مو د هغې نارې اورېدې تر هغې چې بیا په ټپه غلې شوه. مور ونه ژغورل شوه، دایې قیچي را واخیسته او د هغې گېډه یې پرې وشلوله. خو په پایله کې یوازې یو ماشوم ژوندی پاتې شو. ورور مې پیدا کړ خو پلار مې هېڅکله هغه ته د زوی په سترگه ونه کتل. په کلیسا کې د ماشوم د لمدولو په ورځ هم حاضر نه و.

د مور له مړینې وروسته پلار په یو تریخ او قهرجن سړي بدل شو. نور نو ژوند د پخوا په شان نه و. د دوکان چارې په چټکه خرابې شوې، ډوډۍ پېرېدونکي مو له لاسه ورکړل. له بې وزلۍ او خیر ټولولو وېرېدم. ډوډۍ به مې د خپل کټ لاندې پټوله. هلته به وچه او شنه خوسا کېده. خو په واقعیت کې ورور مې عذاب گاله. ما خو پخوا د مور پلار مینه لیدلې وه. خو ورور مې نه وه لیدلې. د هغه سره د پلار پر چلن به مې زړه خوږېدو، خو شکر به مې کاوه چې د پلار د کرکې او غوسې لامل زه نه وم. کاشکې مې د ورور ننگه کړې وی. هر څه به بل شان وو او زه به نن د قونیې په رنډې خانه کې نه اوسېدم.

کال وروسته مې پلار بل واده وکړ. د ورور په ژوند کې بدلون دا وه چې پخوا به یوازې پلار هغه ربړولو خو له واده وروسته یې مېرمن هم پیل وکړ. ورور به له کوره

مور مې زما په اوه کلنۍ مېنذواره شوه. مخکې به هم شوې وه او ماشومان به یې ضایع شوي وي. هغه وخت نه پوهېدم ډېره ساده وم. که چا پوښتلې وای چې ماشومان څرنګه جوړېږي ما به ویل خدای یې له خوړو نرمو اوړو جوړوي.

خو زما د مور په نس کې ماشوم ډېر غټ مالومېده. خېټه یې بې حده لویه شوې وه. ګرځېدا ورته ګرانه وه. دایې ویل د هغې بدن اوبه ساتي. خو نه مې مور او نه دایه پوهېده چې د مور په نس کې یو ماشوم نه ان درې وو. درې واړه هلکان او د مور په ګېډه کې د ننه له یو بل سره جنګېدل. یوه ورور د خپل نامه په پړي بل زندی کړی و. مړ ماشوم د دوو نورو د وتو لاره تړلې وه. مور مې څلور ورځې د زېږون په حالت کې وه. شپه او ورځ مو د هغې نارې اورېدې تر هغې چې بیا په تپه غلې شوه. مور ونه ژغورل شوه، دایې قیچي را واخیسته او د هغې ګېډه یې پرې وشلوله. خو په پایله کې یوازې یو ماشوم ژوندی پاتې شو. ورور مې پیدا کړ خو پلار مې هېڅکله هغه ته د زوی په سترګه ونه کتل. په کلیسا کې د ماشوم د لمدولو په ورځ هم حاضر نه و.

د مور له مړینې وروسته پلار په یو تریخ او قهرجن سړي بدل شو. نور نو ژوند د پخوا په شان نه و. د دوکان چارې په چټکه خرابې شوې، ډوډۍ پېرېدونکي مو له لاسه ورکړل. له بې وزلۍ او خیر ټولولو وېرېدم. ډوډۍ به مې د خپل کټ لاندې پټوله. هلته به وچه او شنه خوسا کېده. خو په واقعیت کې ورور مې عذاب ګاله. ما خو پخوا د مور پلار مینه لیدلې وه. خو ورور مې نه وه لیدلې. د هغه سره د پلار پر چلن به مې زړه خوږېدو، خو شکر به مې کاوه چې د پلار د کرکې او غوسې لامل زه نه وم. کاشکې مې د ورور ننګه کړې وی. هر څه به بل شان وو او زه به نن د قونیې په رنډې خانه کې نه اوسېدم.

کال وروسته مې پلار بل واده وکړ. د ورور په ژوند کې بدلون دا وه چې پخوا به یوازې پلار هغه ربړولو خو له واده وروسته یې مېرمن هم پیل وکړ. ورور به له کوره

تښتېدو او بيا به له بدو عادتونو او ناوړه ملګرو سره را ستون شو. يوه ورځ مې پلار د مرګ تر پولې وواهه. له هغه وروسته هلک بدل شو. په سترګو کې يې سوړ او وچ نظر پيدا شو. پوهېدم چې ذهن يې په فکر بوخت دی، خو څومره ناوړه فکر، په دی نه پوهېدم. کاشکې خبره وای، کاشکې مې د ناورين مخه نيولې وای.

د پسرلي په يوه سهار کې پلار او مېره مې ومونډل شول. د موږکو زهر ور کړل شوي وو. د ټولو له نظره زما ورور تورن و. کله چې حکومت ترې پوښتنې پيل کړې هغه په تېښته بريالی شو. بيا مې ونه ليد او په يوه ورځ يوه شېبه کې زه يوازې او بې کسه شوم. په دوکان کې مې د مور بوی حساوه او په کور کې مې د وژل شوو څېرې له ذهنه نه وتې. پرېکړه مې وکړه چې د قسطنطنيې په لور روانه شم. هلته مې يوه زړه بکره ترور وه. زما يوازينۍ نژدې خپلوانه هغه را پاتې وه. دا مهال زه ديارلس کلنه وم.

د قسطنطنيې په لور روانه ګاډی کې سپره شوم. د مساپرو په منځ کې زه تر ټولو کشره او يوازې وم. له څو ساعته مزل وروسته غلو ودرولو. بکسونه، کالي، ګانې، بوټونه هر څه يې لوټ کړل، ان د ګاډي چلوونکو ډوډۍ يې لا پرې نه ښوده. زما سره د ورکولو لپاره څه نه وو، ډاډه يوې خوا ته ودرېدم. خو د تلو پر وخت يې مشر مخ را واړاوه. "خوږې نجلۍ، باکره يې؟"

زه له شرمه سره شوم او دې ناوړه پوښتنې ته مې ځواب ور نه کړ. نه پوهېدم چې زما شرمېدل د هغه ځواب و. پر خپلو کسانو يې غږ وکړ "درځئ، نجلۍ او اسان در سره بوځئ." زه په ژړا شوم او زارۍ مې وکړې، نورو مساپرو را ته کتل. غلو زه يوه ګڼ ځنګل ته بوتلم. حېرانه شوم چې هلته دوی بشپړ کلي لري. ښځې، ماشومان، هيلۍ، اوزې او خوګان پکې اوسېدل. يو تخيلي کلی و خو توپير يې دا و چې مجرمان پکې مېشت وو.

ډېر ژر پوه شوم چې د غلو مشر ولې زما د بکارت پوښتنه وکړه. د کلي مشر په سخته ناروغۍ اخته و او کلکه تبه يې لرله. له ډېرې مودې راهيسې په ځای کې پروت

ناروغي به يې هغې ته لاړه شي او دی به له ناروغۍ پاک شي.

د ژوند کې مې ځينې داسې شېبې دي چې نه غواړم په ياد يې وساتم. په ځنګله کې وخت يو له هغو دی. نن ورځ مې هم چې ځنګل ذهن ته راشي يوازې د دنګو صبر ونو په اړه فکر کوم. زه به يوازې د ونو لاندې کېناستم. د ښځو خوا ته مې ناستی نه غوښت، ډېری يې د غلو مېرمنې او لونې وې. ځينې رنډۍ هم وې چې يوازې اوسېدې. نه پوهېدم ولې نه تښتېدې. ما يوازې په تېښته فکر کاوه.

د ځينو شتمنو خلکو ګاډۍ پر ځنګله تېرېدې. زه حيرانه وم چې هغوی ولې نه لوټوي. خو بيا پوه شوم چې له تګ مخکې هغوی غلو ته پيسې ور کولې او د دې جزيې په بدل کې به غلو نه لوټلې. څه موده وروسته بلده شوم او د تېښتې لار مې پيدا کړه. يوه ګاډۍ مې ودروله چې د لوی ښار په خوا روانه وه. ګاډيوان ته مې زاری وکړې چې ما ور سره بوځي. د ډېرو پيسو غوښتنه يې وکړه. پوهېده چې زما سره يوه هم نشته. زما سره د کرايې پرې کولو يوه لار وه.

قسطنطنيې ته له رسېدو څه موده وروسته پوه شوم چې د ځنګله رنډۍ ولې تېښته نه غوښته. ښار له ځنګله هم بد و. ډېر بې رحمه و. ترور پسې ونه ګرځېدم. زما په شان پرځېدلې نجلۍ ته د هغې په کور کې ځای نه و. يوازې وم. ډېره موده نه وه وتلې چې ښار زما روح وراټه او بدن يې را وېجاړ کړ. ناڅاپه په يوه بله نړۍ کې وم، د څورونې، جنسي تېري، ظلم او ناروغۍ په نړۍ کې. څو ځلې مې ماشوم سقط کړ تر هغه چې مياشتنۍ ناروغي مې ورکه شوه او د مېندوارېدو مخه ډب شوه.

په هغه سړکونو مې داسې څه وليدل چې ويلو ته يې الفاظ نه لرم. له ښاره له وتو وروسته د عسکرو، ننداروالو او جوګيانو سره مله شوم. د ټولو اړتياوو ته مې ځواب وايه.

بیا د شغال سري په نوم سړي وموندم او په قونیه کې یې دې رنډی خانې ته راوستم. رئیسې ته مهمه نه وه چې له کومه ځایه راغلې یم زما د بدن ښکلا ورته مهمه وه. ډېره خوشاله وه چې د مېندوارېدو ستونزه لرم. زما د نه مېندوارېدو له امله یې صحرا نوم را باندې کېښود او وروسته یې د گل نوم ور زیات کړ. زه پرې خپه نه وم. گلان زما خوښېږي.

د ایمان په اړه همداسې فکر لرم، لکه د گلابو پټ بڼ چې یو وخت پکې گرځېدم او بویول مې، خو اوس د ننه نشم ورتلی. غواړم خدای مې بیا ملگری شي. په همدې هیله تر بڼ را څرخم، د ننوتو لار لټوم، په دې تمه چې زما پر مخ پرانیستی ور ومومم.

زه او کونځلی جومات ته ورسېدو. سترگو مې نه منله. د هر عمر او مسلک سړي را غونډ شوي وو. ان په هغه وروسته ځای کې چې د ښځو لپاره و سړي ناست وو. غوښتل مې را ووځم چې یوه دروېزگر خپل ځای خالي کړ او په وتو شو. له خپل بخته خوشاله شوم. ځان مې ځای کړ او کونځلی بهر پاتې شو.

دا وه چې د ستر مولانا خبرو ته په سړیو ډک جومات کې غوږ شوم. ټول تیاره فکرونه مې له سره وایستل. له دې هم نه وېرېدم که دا سړي پوه شي چې په منځ کې یې یوه ښځه ده هغه هم یوه رنډۍ څه محشر به جوړ کړي. ټول پام مې د وینا اورېدو ته و.

"خدای عذاب پیدا کړی چې اوساینه یې په مقابل کې څرگنده شي. هر شی په خپل متضاد کې منځ ته راځي. په دې چې خدای متضاد نه لري نو ځکه پټ دی."

د واعظ غږ لکه د غرونو وېلې شوې واوره جگېدو او بهېدو. "د ځمکې عاجزي او د اسمان پراخې خوښۍ ته وگورئ. خبر شئ چې د نړۍ ټول کارونه داسې دي، که سېلابونه او وچکالي ده، که سوله او جگړه ده. هرڅه چې کېږي له یاده یې مه باسئ،

خدای هېڅ شی هم بې موجبه نه دی هست کړی که هغه قهر دی که تحمل، که صداقت دی یا تېرایستنه."

له دې ځایه په ناسته مې لیدل چې هره پېښه بې څه نه وه. زما د مور مېندواري او په نس کې بې د ننه جګړه، زما د ورور بې علاجه یوازېتوب، ان د پلار او مېرې وژنه، په څنګل کې زما ترخې ورځې، د قسطنطنیې پر سړکونو مې چې کوم ظلمونه ولیدل، دا ټول په ګډه زما د ژوند د کیسې یوه برخه وه. د هرې ستونزې شا ته یو لوی راز پروت و، را نه جوت نه و خو په زړه کې مې احساساوه. په ډک جومات کې د مولانا د غږ په اورېدو سره د نېکمرغۍ وریځ مې پر بدن احساسوله، داسې خوندوره او ارامونکې لکه د مور د ډوډۍ پخولو ننداره.

# درویزګر حسن

قونیه اکتوبر اولسمه ۱۲۴۴

له غوسې مې شکېلی واهه. د چنار لاندې کیناستم. لا هم د عذاب په اړه د مولانا په وینا غوسه وم. د جومات د منارونو سیوری په سړک خور و. نیم ویښ نیم ویده وم. یو ملنګ مې ولید چې پخوا مې نه و لیدلی. په تور ټغر (شړۍ) کې پټ و. یو لوی ډانګ یې په لاس کې و. پر مخ یې ویښتان نه و او په یوه غوږ کې یې د سپینو زرو وړه حلقه وه. ورته ځیر شوم.

شاوخوا یې کتل. ما ته یې پام شو. نورو خلکو په لومړي نظر مخ را نه اړاوه خو ده لاس په زړه کېښود او سلام یې واچوه، تا به ویل دواړه پاخه ملګري یو. حیران شوم، شاوخوا مې وکتل بل څوک نه وو. یوازې د چنار ونه وه. ما هم لاس په زړه کېښود او سلام مې علیک کړ.

ملنګ په کراره زما خوا ته راغی. سترګې مې کښته واچولې. ما ویل یوه مسینه سکه به په کچکول کې را واچوي یا به یوه ټوټه وچه ډوډۍ را کړي. خو هغه زما مخې ته کیناست.

"سلام علیکم درویزګره."

"وعلیکم سلام ملنګه" خپل غږ را ته نااشنا مالوم شو. ډېره موده مې له چا سره خبرې نه وې کړې او د خپل غږ اواز مې نژدې هېر و. ځان یې شمس تبریزي وپېژانده او زما د نوم پوښتنه یې وکړه.

زه ورته په خندا شوم. "زما په شان سړي نامه ته څه اړتیا لري؟"

هغه وویل "هر سړی نوم لري. خدای بې شمېره نومونه لري. یوازې نهه نوي یې موږ ته مالوم دي. که خدای دومره نومونه لري نو انسان چې د خدای سیوری دی څنګه بې نومه پاتېدی شي؟"

نه پوهېدم څه ووایم. تسلیم شوم. "یو وخت مې مېرمن او مور درلودل. هغوی به حسن را ته ویل."

ملنګ سر وښوراوه، د سپینو زرو هېنداره یې را کړه. "ښه، حسنه، دا درسره وساته. په بغداد کې یوه ښه سړي را کړې. زما نه ستا اړتیا ورته ډېره ده. دا به در په یاد کړي چې خدای په تا کې د ننه دی."

مخکې له هغه چې زه څه ووایم. د خلکو شورماشور شو. ما ویل خامخا یې کوم غل په جومات کې نیولی. خو د خلکو شور په زیاتېدو شو، خبره غټه مالومېده.

خبره جوته شوه. یوه پېژندل شوې رنډۍ د نارینه جامې په ځان په جومات کې د ننه نیول شوې وه. خلکو نارې وهلې "کافره ووهئ، رنډۍ ووهئ."

قهرېدلي خلک سړک ته را ووتل. یوه ځوانه ښځه مې ولیده چې د نارینه جامې یې اغوستې وې. رنګ یې سپین اوښتی و په سترګو کې یې وېره وه. مخکې مې هم خلک لیدلي وو چې په ډله ییزه بڼه څرنګه انسان تر مرګه وهي. هېښوونکې خبره دا ده چې خلک څومره ژر بدلېږي. عام سړي لکه هتې وال، د سړک پر سر پلورنکي او نور، پرته له پخواني دهشته چې کله یو ځای شي قاتلان ترې جوړ شي. دا ډول قتلېدل مې ډېر لیدلي. په پایله کې مړی ننداره ته اېښودل کیږي چې نور خلک ترې عبرت واخلي.

ما شمس ته وویل "خواره مېرمن." خو هغه په خپل ځای کې نه و. د غشي په شان د خلکو خوا ته په منډه و. ولاړ شوم او ورپسې مې ودانګل. شمس د خلکو مخې ته په رسېدو خپل ډانګ د بیرغ په شان اوچت کړ. "ودرېږئ خلکو، صبر وکړئ." خلک حیران

او ناڅاپه غلي شول. شمس څمکه په ډانگ ووهله. "وشرمېږئ. دېرش سړي د يوې ښځې په مقابل کې، دا انصاف دی؟"

يوه پلن مخي سړي-چې ځان يې د خلکو لښکرمشر کړ-شمس ته وويل "دا د انصاف لايقه نه ده." ما دا سړی وپېژنده. حکومتي ساتونکی و. نوم يې بابر و. ټولو دروېزگرو ته د هغه ظلم او حرص مالوم و. بابر زياته کړه "دې ښځې د نارينه جامې اغوستې او جومات ته ننوتې چې مسلمانان تېر باسي."

شمس په غوسه ترې وپوښتل "انسان ته د جومات په ننوتو سزا ور کوې؟ ايا دا جرم دی؟"

خلکو خبره له دې اړخه نه وه ارزولې. يوه شېبه غلي شول. بيا يو بل سړي غږ وکړ "هغه رنډۍ ده، په سپېڅلي جومات کې هغې ته ځای نشته." له دې سره د خلکو شور بيا زيات شو. "رنډۍ، رنډۍ" نارې يې پيل کړې. يو ځوان مخ ته شو او په زور يې د ښځې پگړۍ وکاږله. د ښځې اوږده ژېړ ويښتان خواره شول. موږ ټول د هغې په ځوانۍ او ښکلا گوته په غاښ شوو. د کرکې او ښکلا گډه ننداره وه. شمس د خلکو گډ احساس وليد. "ورونو، فيصله وکړئ. تاسې په ريښتيا له دې ښځې کرکه کوئ يا يې غواړئ."

ملنگ د رنډۍ لاس ونيو او ځان خوا ته يې راوسته. هغه له خلکو لرې د ملنگ شا ته لکه ماشومه پټه شوه.

د خلکو لښکرمشر په جگ اواز وويل "تېروتنه مه کوه. ته په دې ښار کې پردی يې او زموږ په دود نه يې خبر. په دې کې ځان مه ښکېلوه."

يو بل بيا غږ کړ "ته څرنگه ملنگ يې؟ د يوې رنډۍ له ننگې پرته بل کار نه لرې؟"

شمس تبرېزي يوه شېبه غلی و. په خبرو کې يې غوسه نه وه. "تاسې هغه څرنگه وليده چې ښځه ده؟ تاسې جومات ته ځئ. د دې پر ځای چې خدای ته پام وکړئ شاوخوا خلکو ته گورئ؟ که تاسې هغه شان ايمانداره خلک ياست چې ادعا کوئ، دا ښځه که

برېنډه هم وای تاسې به نه لیدله. اوس وعظ ته ستانه شئ. دا ځل خواري وکړئ او خدای ته پام وکړئ."

یوه عجیبه چوپتیا شوه. یوازې پر سړک پرتې پاڼې باد خوځولې. شمس تبریزي خپل ډانګ وښوراوه لکه مچان چې سړی شړي "ځئ درومئ. وعظ ته ستانه شئ."

څو تنه یو څو ګامه شاته شول او جومات لوري ته یې وکتل. نه پوهېدل چې څه وکړي. په همدې شېبه کې رنډی همت وکړ او د ملنګ له شا د هوسۍ په شان په ټوپو وتښتېده. وېښتان یې باد وهل. په ړومبۍ کوڅه ننوته.

یوازې دوه کسانو په هغې پسې د منډې هڅه وکړه. خو شمس تبریزي یې ډانګ پښو ته ور واچاوه او دواړه پر ځمکه ولوېدل. یو څو لاروي په خندا شول. ما هم وخندل.

سړي په خپل کار زهیر شول. په پښو ودرېدل. رنډی لا وخته تري تم شوې وه. ملنګ هم په خپله لار روان شو.

# شرابي سليمان

## قونيه اکتوبر اولسمه ۱۲۴۴

د خلکو له کاروان مخکې زه خوب وړی وم. شا مې د شرابتون دېوال ته وه. بيا د خلکو غږ ناڅاپه وويښولم. وارخطا مې غږ کړ "څه خبره ده؟ چنګېزيانو يرغل کړی."

د خلکو خندا مې واورېده. شاوخوا مې وکتل، يو څو ناولو ارمونيو ملنډې را باندې وهلې. د شرابتون څښتن هرېستاس ناره کړه. "هېڅ خبره نه ده مسته بودا. چنګېزيان تا پسې نه دي راغلي. رومي تېرېږي. د پلويانو لښکر يې ور پسې دی."

کړکۍ ته لاړم او بهر مې وکتل. په رېښتيا هم د خلکو لوی لښکر روان و. په منځ کې يې مولانا په سپين اس سپور ډاډه او پياوړی مالومېده. خلکو الله اکبر نارې وهلې. کړکۍ مې خلاصه کړه او سر مې د باندې وايست. خلک کرار روان وو او دومره را نژدې وو چې لاس مې ور رسېد. يو ځل مې فکر ته راغله چې يو څو پګړۍ پورته کړم. د هرېستاس د شا ګرولو لرګی مې را واخيست. د يوه سړي پګړۍ مې پکې راګېر کړه په کشولو کې د بل سړي را ته پام شو. ورته موسکی شوم. "سلام عليکم."

سړي په غوسه را غبرګه کړه "مسلمان په شرابتون کې! وشرمېږه. خبر نه يې چې شراب د شيطان کار دی؟"

غوښتل مې ځواب ور کړم خو يو تېره شی مې پر سر ولګېد. وروسته پوه شوم چې ډبره وه. که مې له دوهمې ځان نه وی ژغورلی د سر کاسه به مې دوه ځايه شوې وای. ډبره له ما تېره شوه او د يوه فارس سوداګر پر مېز ولګېده. سوداګر ډبره په ګوتو کې واړوله راواړوله لکه له اسمان چې پيغام ورته راغلی وي.

هرېستاس وارخطا را غبر کړ "سلیمانه، کړکۍ بنده کړه او خپل مېز ته لاړ شه."

زه خپل مېز ته ستون شوم هرېستاس ته مې کړه "ودې لیدل، د ډېرې وار یې را باندې وکړ. نژدې یې وژلی وم."

هرېستاس وروځې پورتې کړې "تو تمه دې څه وه؟ نه پوهېدې چې ځینې خلک نه غواړي مسلمان په شرابتون کې ووینې. او ته دلته خلکو ته ځان ورښیې، د شرابو بوی درنه ځي، پزه دې لکه څراغ سره شوې."

ما وویل "په دې کې څه خبره ده، زه انسان نه یم؟ په همدې مې له مذهب سره نه لګي. هر مذهب چې وي. مذهبیان دومره په ځان ډاډه دي لکه خدای چې د دوی په خوا وي. ځان له نورو غوره بولي."

هرېستاس ځواب را نه کړ. هغه مذهبي سړی و خو د خپلو مېلمنو په خوی بلد و. د شرابو یو بل جام یې راوړ. کتل یې چې په سر مې واړول. بهر باد لګېده، کړکۍ یې ښورولې، پاڼې یې خوځولې.

"ته پوهېږم شراب ولې په دې دنیا حرام او په جنت کې روا دي؟"

هرېستاس لاسونه پورته واچول "څومره پوښتنې کوې. په هره خبره کې ته پوښتنې را باسې."

"خود یې را باسم. له همدې امله خدای ماغزه را کړي. همداسې نه ده؟"

"سلیمانه، زه تا له ډېر وخت پېژنم. ته یوازې زما پېردونکی نه یې، ملګری مې هم یې. ستا په اړه اندېښمن یم."

"ما ته اندېښنه مه کوه..." هېرستاس په خبره کې راولوېد. "ته ښه سړی یې، خو ژبه دې د چاړې په شان تېره ده. همدا مې اندېښنه ده. په قونیه کې هر ډول خلک شته. ځینې ډېره بده ګڼي چې یو مسلمان په شرابو مست ووینې. ته باید بهر پام وکړې، خپلې خبرې او چلن سم کړې."

ما یې په خبره غوږ ونه گراوه. له ډېرو کلونو په دې عمل اخته یم. یو شی مې زدکړ، بېلابېل خلک په بېلابېلو ډولونو شراب څښي. داسې خلک پېژنم چې هره شپه منګې منګې شراب څښي، مستیږي، سندرې وایې او بیا ویده کیږي. خو ځینې نور بیا له څو څاڅکو سره بلاوې ترې جوړې شي. که همدا شراب یو سړی مستوي او له بل بد سړی جوړوي، نو په دې کې شراب څه گرم دي؟

د قونیې د یهودانو سیمې یوه شرابتون کې-چې څښتن یې عیسوی دی-موږ د هر دین سړي راغونډ شوي وو او په گډه مو شراب څښل. موږ یو بل زغملی شوای، هغه چې خدای دی موږ به نه ښښي؟

## بدلمنه صحرا گله

### قونيه د اکتوبر اوولسمه ۱۲۴۴

سا مې بندېده. په نريو کوڅو کې مې منډې وهلې. تر شا مې نه شوی کتلی. د بازار گڼه گوڼې ته را ورسېدم او د دېوال شاته ودرېدم. هغه مهال مې شا ته وکتل. يوازې کونځلی مې ولېد. زما په شان سترې و. نه پوهېده چې ولې د لېونی په شان يو ځل د قونيې په کوڅو کې په ځغستا شوم.

هر څه ژر پېښ شول. په بازار کې مې ذهن ته راغلل چې په جومات کې ناسته وم او په وينا کې ډوبه وم او د مولانا له خبرو د پوهې مرغلرې توېدې. په ځان نه وم پوه چې ترڅنگ سړي مې د دسمال پر څنډه پښه کېښوده او مخ مې لوڅ شو، پگړی مې يوې خوا ته شوه او وېښتان مې ښکاره شول. مخ مې ژر پټ کړ او بيا خبرو ته غوږ شوم. خو چې سترگې مې پورته کړې د بابر څلور کونجه مخ مې وليد چې ما ته يې په ځير ځير کتل.

بابر زموږ جنجالي پېردونکی و. يوه نجلۍ هم ور سره خوشاله نه وه. د ده غوندې سړي غواړي د رنډۍ سره يو ځای شي خو رنډۍ ته بد او رد وايي. ده به کنځا کولې او ډېر ژر به غوسه کېده. يوه ورځ يې يوه نجلۍ دومره ووهله چې په پيسو مئينه رئيسه ورته په غوسه شوه او له بيا راتگه يې منع کړ. خو هغه بيا هم څو مياشتې راغی، نه پوهېږم ولې يې بيا راتگ بند کړ. اوس دلته و. ډيره يې پرېښې خو په سترگو کې يې د غوسې پخوانی اور لا شته.

نظر مې بلې خوا ته واړاوه خو هغه وپېژندم. بابر خپل څنگ سړي ته په غوږ کې څه وويل، بيا دواړه زما خوا ته راغلل. بيا يې زه نورو ته په گوته کړم، کرار کرار زما پر خوا د

خلکو شمېر په ډېرېدو شو. د تېښتې لار نه وه. د ماشومې په څېر مې سترګې پټې کړې، ما ويل که تياره شي او موږ ټول پکې ورک شو.

په کراره مې سترګې پرانيستې. بابر ځان راورساوه. دومره رانژدې شو چې سا يې پر ما لګېدله. له مټ يې کلکه ونيولم. له بندو غاښونو يې اواز راووت "رنډۍ دلته څه کوې؟ شرم نه لرې؟"

ما زارۍ ورته وکړې چې پرې مې ږدي. فکر نه کوم زما غږ يې اورېدلی وي. ملګري يې ور سره شول، غښتلي، غوسه ناک او سخت زړي. کنځا يې پيل کړې. نورو خلکو را کتل. يو څو کسانو د چوپېدو غږ وکړ خو هېڅا مداخله ونه کړه. پښې مې مړې شوې له وزرو يې ونيولم او له دروازې يې بهر وايستم. په وتو کې مې ويل چې کونځلې به را شي او مرسته به را سره وکړي، او يا به پخپله وتښتم. خو هلته د سړيو شمېر لا ډېر او غوسه يې زياته شوه. په جومات کې د ننه د لمانځه او واعظ په دروناوي يې غږ نه کاوه او نه يې ووهلم. خو پر سړک يې مخې ته خنډ نه و.

په ژوند کې مې ډېرې سختۍ ليدلې. خو دومره به هېڅکله ناهيلې شوې نه يم. له کلونو وروسته مې د خدای په لور ګام پورته کړ. هغه په دې رقم له خپل کور وشړلم.

کونځلې ته مې وويل "زه بايد دلته نه وای راغلې. هغوی ريښتيا وايي، پوهېږې؟ رنډۍ په جومات کليسا او د عبادت نورو ځايونو کې ځای نه لري."

"داسې مه وايه." مخ مې ورواړوو. باور مې نه را ته هغه ګنجی ملنګ و. د کونځلې خوله له خوشالی نه راټولېده. زه يې پر لاسو ورټيټه شوم چې ښکل يې کړم. خو هغه پرې نه ښودم. "تو زه به ستا ښېګڼې څرنګه جبران کړم. زه دې مديونه يم."

په خوب کې يې را ته وويل "ته مې پوروړې نه يې. موږ يوازې د هغه احسانمن يو."

ځان بې شمس تبريزي راوپېژاند او بيا يې عجيبه خبره وکړه "ځينې خلک ژوند په روښانه تجلا کې پيلوي خو وروسته يې رنګ ځي او پيکه کيږي. ته له هغو کسانو يې. يو وخت دې تجلا له ليلي ګله هم سپينه وه، ژړ او ګلابرنګه خالونه پکې وو. خو رنګ يې بايلود. اوس يې رنګ خړ دی. خپل اصلي رنګونه دې نه يادېږي؟ نه غواړې له خپل اصل سره بيا ځای شې؟"

ما ورته کتل، په خبرو کې يې ډوبه شوم. "ستا تجلا خپله ځلا ځکه له لاسه ور کړې چې په دا تېرو کلونو کې تا منلې چې د ننه او بهر مرداره يې."

ما شونډه تر غاښ لاندې کړه "خو زه مرداره يم. خبر نه يې چې زما کسب څه دی؟"

شمس وويل "اجازه را کړه چې يوه کيسه درته وکړم: يوه ورځ يوه رنډۍ د کوڅه ډب سپې تر خوا تېرېده. رنډۍ خپل بوټ وايست. له نژدې ځا يې سپي ته اوبه راوړې. بيا پخپله لار ولاړه. په سبا يې د يوه عالم شيخ سره مخ شوه. هغه چې وليده لاس يې ورښکل کړ. رنډۍ حيرانه شوه. شيخ ورته وويل له سپي سره د هغې زړه سوی له دومره ښه نيته و چې ټولې ګناوې يې په هماغه شېبه پاکې شوې."

زه پوهېدم چې د شمس تبريز مقصد څه دی. خو د زړه يوې برخې مې باور پرې نه کاوه. "زه ډاډ در کوم که د قونيې ټول سپي ماړه کړم بيا به هم زما کړه پرې پاک نشي."

"په دې ته نه، يوازې خدای پوهېږي. هغه سړي چې نن يې له جوماته وايستې ولې فکر کوې خدای ته نژدې دي؟"

"که خدای ته نژدې هم نه وي، څوک به دا ورته ووايي؟ ته ورته ويلی شې؟"
ملنګ سر وښوراوه "ته دا سيستم داسې کار نه کوي. ته بايد هغوی ته ووايې."
"فکر کوې ما ته به غوږ شي؟ هغوی له ما کرکه کوي."

په کلکه يې را ته ووېل: "هغوی به درته غوږ شي. په دې چې هغوی نشته، لکه څنګه چې زه نه يم. په ياد يې وساته، هر انسان او هر شی په دې نظام کې سره تړلي دي. موږ سلګونه زرګونه جلا شيان نه يو. موږ يو يو."

ما د نور وضاحت تمه لرله خو هغه ويل دا له څلوېښتو قاعدو يوه ده: "که غواړې خلک له تا سره خپل چلن بدل کړي. لومړی له ځان سره خپل چلن بدل کړه. تر هغه چې له خپل ځان سره بشپړه او ريښتينې مينه زده نه کړې، هېڅکله به څوک مينه در نه کړي. کله چې دې مقام ته ورسېدې، د خلکو د ازغيو له واره مننه ويه اوسه. دا د راتلونکو ګلانو د باران نښه ده."

بيا يې زياته کړه "ولې د نورو له سپکاوي ګيله کوې په داسې حال کې چې پخپله ځان د درناوي وړ نه بولې؟"

ما ويلو ته څه نه درلودل. د هغو سړيو په اړه مې فکر وکړ چې ما ته راتلل. د هغوی بوی، د هغوی د لاس لمسونه. داسې سړي چې هم به يې ملاسته را سره کوله او هم به يې مخ ته را توکل او مرداره رنډۍ به يې را ته ويل.

او دا ملنګ اوس را ته وايي چې زه د پسرلي د چينې له اوبو هم پاکه يم. لکه څوک چې ملنډې را باندې وهي. غوښتل مې وخاندم خو په ستوني کې مې خندا په ژړا واوښته.

لکه شمس چې زما پر فکر پوه شوی وي "تېر لکه ګردوبی دی. که يې پرېږدې چې ستا پر حاضر حاکم شي خپل منځ ته به دې يوسي. وخت فقط يو تخيل دی. ته بايد په همدغه  شيبه کې واوسېږې. يوازې همدا مهمه ده."

له دې سره يې له خپلې چينې يو ورېښمين دسمال وايست. "دا وساته. يوه ښه سړې په بغداد کې را کړی. خو ستا اړتيا زما نه ورته ډېره ده. دا به در ياد کړي چې زړه دې پاک دی او خدای په تا کې د ننه دی." له همدې سره يې خپل ډانګ اوچت کړ. "رنډۍ خانه نوره پرېږده."

"چېرته لاړه شم. بل ځای نه لرم."

د شمس سترګې برېښېدې "له دې مه وېرېږه چې لار به دې چېرته بوځي. په خپل ړومبي ګام فکر وکړه. دا تر ټولو ګران کار دی او ستا مسوولیت هم یوازې دا دی. له لومړي ګام وروسته هر څه خپلې مخې ته پرېږده. پاتې به له شا ورپسې بهېږي. له بهېدو سره مه خوځېږه، په بهېدو کې ځان محوه کړه."

# شرابي سليمان

قونيه اکتوبر اوولسمه ۱۲۴۴

له نيمې شپې مخکې مې خپل وروستی جام پورته کړ او له ميخانې په وتو شوم. هريستاس را ته وويل "زما خبرې مه هېروه. ژبې ته دې پام کوه."

سر مې وښوراوه. د داسې ملګري په درلودلو خوشال وم چې زما په اړه فکر کوي. تش سړک ته له را وتو سره مې ستوماني حس کړه. کاشکې مې يو بوتل له ځان سره اخيستی وی. د سړک ماتې ډبرې مې تر بوټانو لاندې کړپېدې. د مولانا د پلويانو په سترګو کې کينه را ياد شوه. په نړۍ کې مې له پرېشانۍ بد راتلل. څو ځل خلکو زما عمل غندلی وو. نه مې غوښتل په دې اړه فکر وکړم. خو چاره نه وه.

له لوی سړک کوڅې ته وا وښتم. لويو ونو شپه نوره هم تياره کړې وه او سپوږمۍ نه مالومېده. دوه امنيت ساتي مې ولېدل. سلام مې ور واچاوه. خو ساتونکو د سلام ځواب را نه کړ. پر ځای يې زه وپوښتلم چې په دې ناوخته شپه کې پر سړک څه کوم. ما ورته وويل قدم وهم. هغوی را ته مخامخ ودرېدل. يو يې را نژدې شو او هوا يې بوی کړه. "يو مردار بوی راځي" دوهم يې تاييد کړه "هو د شرابو بوی دی."

ما غوښتل په نرمه ځان ترې خلاص کړم. "ری مه وهئ. دا بوی يوازې تشبيهي دی. موږ مسلمانانو ته يوازې تشبيهي شراب روا دي."

لومړي ساتونکي وويل "دا څه چټيات غړوې." د سړي څلور کونجه مخ مې ولېد. سړي بيا وپوښتلم "په دې شپه کې دلته څه کوې؟ له کوم ځای راغلی يې او چېرته ځې؟"

لکه خبرې مې چې په خپل اختيار کې نه وي "دا بنستيزې پوښتنې دي زويه. که د دې په خواب پوهېدی نو ما به د نړۍ تر ټولو لويه معما حل کړې وی."

خپله قمچينه يې راويسته او زما پر سينه يې گوزار وکړ "ته رذيل پر ما ملنډې وهې؟" خان مې تکيه نشو کړی او پر ځمکه وغورځېدم. قمچينه يې له يوه لاس بل ته کړه. "دا به دې سرې کړي. نه پوهېږې چې شراب څښل لويه گناه ده؟" سر مې وينې شو خو بيا مې هم باور نه راته چې يو کشر سړي به وهلی وم. زه يې د پلار په ځای وم.

"تو بيا څه جزا را کړه. که د خدای جنت ستا په شان خلکو ته ساتل شوی وي، ما ته په دوزخ کې سوځېدل غوره دي."

خوان ساتونکی نور هم غوسه شو او وهلو ته يې زور ور کړ. ما خپل مخ ته لاسونه ونيول خو گټه يې ونه کړه. يوه زړه سندره مې ذهن ته راغله. په وينې شوو شونډو مې سندره پيل کړه او هر وار سره مې اواز جگاوه. "ښکل مې کړه مينې، زړه مې وسپړه. ستا شونډې د شرابو په شان خوږې دي. نور هم زا باندې وڅښه."

هېڅ مې باور نه راته چې په يوه انسان کې دې دومره غوسه ټوله شوې وي. ملگري يې ور غږ کړ "بس ده بابره. نور يې مه وهه."

ما غوښتل سندره تر اخره ووايم خو خوله مې له وينو ډکه وه. معده مې ژوبله وه، کانگې مې وکړې. بابر ووېل "نجسه، دا حالت دې پخپله په ځان راوست." زه يې پرځای پرېښوم او دواړه لاړل.

نه پوهېدم چې څومره موده به هلته پروت وم. د مرگ او ژوند ترمنځ وم. خو پروا مې نه لرله چې کوم لورې ته به شم. بې حسي مې لاړه، د بدن هر زخم مې ځان ته په درد راغی. له ډېره درده مې زگېروی له خولې ووت. خامخا به بې هوښه شوی وم. سترگې مې چې پرانيستې، پرتوگ مې په تشو متيازو لړلی و. له خدای مې غوښتل چې يا مې بې حسه کړي يا شراب را ورسوي. د پښو غږ مې واورېد. ما ته نژدې کېدو. وېرېدم، کېدی شي د

کوڅې هلک وي، یا غل او یا هم قاتل وي. بیا مې ویل له څه به وېرېږم. تر دې مې حالت نه خرابېده.

له سیوري یو دنگ او ډنگر ملنگ را ښکاره شو. ویښتان یې نه وو. زما ترڅنگ یې گونډې ووهلې او په کېناستلو کې یې مرسته را سره وکړه. ځان یې شمس تبرېزي را وپېژاند او زما د نوم پوښتنه یې وکړه.

"د قونیې شرابي سلیمان دې په خدمت کې دی. په لیدو دې خوشال شوم." له خولې مې یو مات غاښ را ویست.

شمس زما له مخه وینه پاکه کړه. "وینه درنه ځي. نه یوازې د باندې، د ننه هم." بیا یې له جیب یو وړوکی بوتل راویست. "دا مرهم دې په زخمونو ولگوه. یوه ښه سړي په بغداد کې ما ته را کړی. زما نه ستا اړتیا ورته ډېره ده. ته باید پوه شې چې د ننه زخم دې ژور دی. ته باید د هغه په اړه اندېښمن اوسې. دا به در یاد کړي چې خدای په تا کې د ننه دی."

د هغه له مهربانۍ مې زړه خوږ شو. "مننه. هغه ساتونکي ووهلم. ویل یې د وهلو وړ یم." غبږ مې د ماشوم په شان لړزېده. شمس سر وښوراوه. "دوی د وهلو حق نه درلود. هر سړی د خدای په لټه کې پر ځان بسیا دی. په دې اړه یوه قاعده ده: موږ د هغه په انځور کې هست شوي یو، خو په توپیر او ځانگړتیا سره. دوه کسه یو شان نه دي. دوه زړونه یو شان نه ټپېږي. که خدای ټول انسانان یو شان غوښتی یو شان به یې هست کړي وو. له همدې امله توپیر ته سپکاوی او خپل نظر په زور پر بل منل په دې مانا دي چې د خدای نظام ته سپکاوی وکړې."

ما وویل "دا خو ښه خبره ده. تاسې صوفیان د خدای په اړه کوم وخت شک نه کوئ؟"

شمس تبریز موسکی شو "کوو یې، او شک ښه دی. مانا دا چې ته ژوندی یې او پلټنه کوې. او بیا یو کس په یوه شپه کې ایمان ته نه رسي. یو ځل به فکر کوې چې باور لرې، بیا په ژوند کې څه پېښېږي او باور یې ځي. بیا یې باور را ستنېږي او بیا بې باوره کیږي همدا لړۍ دوام کوي تر هغه چې یو پړاو ته رسیږي. په هر قدم کې انسان حقیقت ته نږدې کېږي."

ما وویل "که هرېستاس دې خبرې اورېدلې وی ویل به یې چې ژبې ته دې پام کوه. هره خبر د هر غوږ لپاره مناسبه نه ده."

شمس په خندا شو او په پښو ودرېد "ریښتیا وایي. راځه چې کور ته دې ورسوم. ټپونه دې باید درمل کړو او خوب وکړې."

په پښو یې ودرولم. خو پښې مې حرکت نه درلود. بې له ځنډه ملنګ په شا کړم لکه وزن چې نه لرم.

ما ورته وویل "خبردار اوسه، له ما بوی ځي."

"ری مه وهه سلیمانه، هېڅ خبره نه ده."

ملنګ د وینو، متیازو او لاړو پروا ونه کړه. د قونیې په تنګو کڅو کې یې پر شا یووړم. سپیو له کورونو را غپل او خلک یې په موږ خبرول.

ما وویل "زه تل په تصوفي شاعرۍ کې پر شرابو فکر کوم. صوفیان ریښتیاني شراب ستایي که تشبیهي؟" د خپل کور سره یې په کښته کولو کې را ته وویل "څه پروا لري ملګریه. یوه قاعده شته چې په دې اړه وضاحت کوي: که د خدای ریښتینې مین میخانې ته لاړ شي میخانه د هغه پر عبادت ځای بدلیږي. خو که شراب څښونکی هلته لاړ شي هغه شرابتون کیږي. هر چېرته چې ځو د زړه حال مو مهم دی، نه بهرنی انځور. صوفیان د خلکو په ظاهر او یا د هغوی پر کړنو قضاوت نه کوي. کله چې صوفي چا ته ګوري دواړه سترګې تړي او خپله دریمه سترګه پرانیځي، هغه سترګه چې د نه شتمني لیدی شي."

په خپل کور کې له یوې اوږدې شپې وروسته یوازې وم. پر پېښو مې فکر وکړ. د ننه مې یو ډول خوشالي حسوله. یوه شېبه مې ځان اوسا وموند. غوښتل مې تل هلته پاتې شم. په هغه شېبه کې پوهېدم چې خدای حق دی او زه پرې ګران یم. که څه هم بدن مې ټوک ټوک و خو درد مې نه حساوه.

## دريمه برخه

## باد

هغه څه چې خوځېږي، پخېږي او ننګونه کوي.

# متعصب

قونیه د اکتوبر نولسمه ۱۲۴۴

زما تر پرانیستې کړکۍ لاندې سپیو غبل. په خای کې کیناستم. خامخا به یې غل کوم کور ته د ننوتو په حال کې لیدلی وي او یا به هم کوم ناولی نشه یې تېریږي. ښه خلک په ارامه خوب نشي کولی. پخوا داسې نه وو. تر څو کلنو وړاندې په دې ښار کې امن و. اخلاقي فساد له تباکوونکې ناروغۍ سره توپیر نه لري، پرته له خبرداري راځي او په منډه خورېږي. شتمن او بېوزله، زاړه او ځوانان یو شان پرې اخته کیږي. که په مدرسه کې مې دنده نه وی له کور به هم نه وی وتلی.

د خدای شکر دی داسې خلک شته چې د ټولنې خیر ته شپه او ورځ کار کوي. زما ورارہ بابر یو له هغو دی. زه او مېرمن مې پرې ویاړو. په دې نیمه شپه کې چې بدماشان، مجرمان او نشه یان ګډوډي جوړوي بابر او نور ساتونکي په ښار کې ګزمه کوي او زموږ ساتنه کوي.

د ورور له مرګ وروسته ما د بابر پالنه په غاړه واخیسته. ځوان او غښتلی و، ځکه یې د ساتونکي دنده شپږ میاشتې مخکې پیل کړه. خبرلوڅي خلک وایي زما د مدرسې موقف د هغه په ګمارلو کې مرسته وکړه. خو دا هسې د خلکو خبرې دي. بابر پیاوړی او زړور ځوان دی او دا دنده یې په خپله وړتیا تر لاسه کړې. ښه سرتېرې هم کېدی شي. غوښتل یې یوروشلم (بیت المقدس) ته لاړ شي او د صلیبیانو پرضد جهاد وکړي. خو ما او مېرمنې مې ویل د هغه د واده وخت دی.

ما ورته وویل: "دلته دې اړتیا ده بچیه. په دې ځای کې د ډېرو شیانو پرضد جګړه کولی شې."

همداسې ده. نن سهار مې مېرمنې ته وېل چې په سخت وخت کې اوسېږو. هره ورځ له نوي ناورین خبرېږو. که چنګېزیان بریالي کېږي، که عیسایان خپل مقصد ته رسېږي، که یو ښار په بل پسې او یو کلی په بل کلي پسې د اسلام د دښمنانو لاس ته ورځي، لامل یې تش په نامه مسلمانان دي. کله چې خلک د خدای پوری پرېږدي خامخا به بې لارې کېږي. چنګېز خدای زموږ د اعمالو سزا ته را لېږلی. که چنګېز نه وی، زلزله، قحطي یا سېلاب به له منځه وړي وو. د ګونهګارو له امله به تر کومه پر موږ افت راځي. کله به دوی توبه باسي؟ د ډېرو د باران وېره هم شته. یوه ورځ به د سودوم او ګمورا (عاد او ثمود) قوم په شان ټول له منځه لاړ شو.

او دا صوفیان پر خلکو بد اغېز کوي. بیا ځان ته مسلمانان وایي. داسې خبرې کوي چې مسلمانان باید پرې فکر هم ونه کړي. د خپل نظر په خپرولو کې چې د پیغمبر ص نوم اخلي وینه مې په خوټېدو شي. دوی وایي له جګړې وروسته پیغمبر ص وویل پلویان یې کوچنی جهاد د لوی جهاد لپاره پرېږدي؛ له نفس سره جهاد. صوفیان وایي له هغه وروسته نفس یوازینی دښمن دی چې مسلمان یې باید پر وړاندې جهاد وکړي. په غوږ ښه لګېږي. خو د اسلام له دښمنانو سره به څوک جنګېږي؟

صوفیان وایي شرعه د لارې یو پړاو دی. دا خو لا څه کوي، هغوی وایي مقام ته رسېدلی سړی د هر پړاو اصولو ته مجبور نه دی. د دوی لپاره شراب، نڅا، موسیقي، شعر او انځورګري د دین له فرایضو غوره دي. هغوی ټینګار کوي چې په اسلام کې د

مراتبو سلسله نشته نو هر سړی پخپله کولی شي خدای ولټوي. په ظاهر کې خو خبره سمه مالومېږي خو که ورته ځیر شي پیغام یې دا دی چې د دین چارواکو بیت ته اړتیا نشته.

د صوفیانو په اند قرآن مجید په سمبولونو او رازونو سمبال (ډک) دی او هر ایت باید په مرموزه توګه تفسیر شي. هغوی هر لفظ ته شمېره ور کوي او بیا د شمېرې پټه مانا لولي او په متن کې پټو ماخذونو (اخځونو) ته پام کوي. تر څنګ وس هڅه کوي چې قرآن ساده او روان ولولي.

ځینې صوفیان وایي انسان ځریز قرآن دی. که دا کفر نه وي نو بل به څه وي. قلندریان، حیدریان، جامیان په رنګارنګ نومونو یادېږي. سرګردانه درویشان یې لا بیې ګوره. دا یې تر ټولو بد دي. کوم انسان په یو ځای نشي مېشتېدی؟ که سړی د پیوند حس ونه لري هرې خوا ته لکه وچه پاڼه ځورځېدی شي. د شیطان لپاره تیاره مړی.

فیلسوفان هم تر صوفیانو ښه نه دي. په خپلو وړو ماغزو په داسې فکرونو شخوند وهي چې د خلقت په نه پوهېدونکي راز به دوی خبر وي. یوه کیسه د صوفي او فیلسوف د دسیسې په اړه شته: یوه ورځ یو فیلسوف له عارف سره مخامخ شو. وار له واره له یو بل سره ملګري شول. دواړو څو ورځې خبرې سره وکړې. د یو بل نظر به یې تاییداوه. په اخر کې چې له یو بله جلا شول. فیلسوف خپله ارزونه وویله: "یوازې پوه شوم چې هغه لیدی شي." بیا عارف خپله ارزونه وکړه: "یوازې مې ولیدل چې هغه پوهېږي."

نو صوفي د لیدلو ادعا کوي او فیلسوف د پوهېدو. زما په اند هغوی نه لیدی شي او نه پوهېږي. دوی خبر نه دي چې د ساده فاني انسانانو په حیث له موږ تمه نه کیږي چې له خپل حده په ډېر څه پوه شو. انسان په خپله اعظمي وړتیا د خدای په مکله له

بوې ذرې په ډېر څه نه پوهيږي. بس دومره. زموږ دنده د خدای تجزیه او تفسیر نه ده بوازې له هغه اطاعت دی.

کله چې بابر کور ته راشي په دې اړه به خبرې ور سره وکړو. دا مو اوس عادت شوی. هره شپه چې هغه له کار را ستون شي، مېرمن مې ښوروا او ډوډۍ ور کوي. موږ د حالاتو په اړه خبرې کوو. د هغه ښه اشتها ما ته خوند را کوي. هغه باید قوي واوسي. د ده په شان يو ځوان غښتلی سړی باید په دې بې خدایه ښار کې ډېر کار وکړي.

## شمس

### قونیه د اکتوبر دېرشمه ۱۲۴۴

یوه شپه مخکې چې له رومي سره ووینم د قنادانو د هوټل په برنډه کې ناست وم. زړه مي د کایناتو په عظمت کې و چې خدای په خپل انځور کې خلق کړی نځېده. چې هر لوري ته مخ کړې هم یې لټوی او هم یې موندی شي. خو انسانان ډېر کله دا کار نه کوي.

هغه کسان مي ذهن ته راغلل چې ما په دې ځو ورځو کې ولیدل. دروېزګر، رنډی او شرابیان. عام وګړي چې له خپګان یې عذاب ګاله او له خدایه جلا شوي وو. دا هغه کسان دی چې عالمان یې له خپلو مرمرینو ماڼیو ویني. نه پوهېږم چې مولانا به توپیر ولري که نه. که یې ونه لري زما اراده ده چې د هغه او د ټولنې د رټل شویو ترمنځ پل شم.

ښار په خوب ویده دی. هغه وخت دی چې ان د شپې ژوي هم حاکمه چوپتیا نه ازاروي. د شپې او ورځې ترمنځ په دې شېبه کې عبادت او تفکر ځانګړی وي. پر ما د خپګان او خوشالۍ دواړو ځپې را ځي. د بندو دروازو شاته به څه کیسې وي. که مي بله لاره غوره کړې وی زما به څه حال و. خو ما لار غوره کړې نه ده لارې زه غوره کړی یم. یوه کیسه را یاده شوه: یو سرګردانه ملنګ داسې ښار ته ولاړ چې خلکو یې پر پردیو اعتماد نه کاوه. "څه ولاړ شه. دلته تا څوک نه پېژني." ملنګ ځواب ور کړ "خو زه ځان پېژنم. که مې ځان نه پېژندی کار به مې خراب و."

تر هغه چې ځان پېژنم غم مې نشته. څوک چې ځان پېژني خدای پېژني.

سپوږمۍ توده رڼا را باندې وروله. د وربښمو ټکري په شان سپک باران پر ښار سم شو. د دې مبارکې شېبې لپاره مې د خدای شکر ادا کړ او ځان مې هغه ته وسپاره. د ژوند

ظرافت او اجمال يو ځل بيا وښورولم. يوه بله قاعده را ياد شوه: ژوند د لنډ مهال پور دی. دا نړۍ د حقيقت له کښلي انځوره پرته بل شی نه ده. يوازې ماشومان د لوبو سامان ريښتينی ګڼي. خو انسانان يا د لوبو په سامان غولېږي يا يې بې قدره ماتوي او لرې يې ارتيګي. په دې ژوند کې له هر ډول سخت دريځې ځان وساته. که نه نو د ننه انډول به دې ويجاړ کړي. عارف نه سخت دريځی کېږي، تل نرم او معتدل پاتېږي.

سبا سهار به جامع جومات ته لاړ شم او مولانا ته به غوږ شم. څرنګه چې خلک وايي هغه ښايي ښه واعظ وي. خو د هر واعظ وسعت او ليد په اورېدونکو پورې تړلی دی. د رومي خبرې ښايي د وحشي بڼ په څېر وي چې په منځ کې يې ګلان، واښه، درملي بوټي او خپلسري بوټي شنه وي. دا بڼ ته په ورتلونکي پوره تړلې چې څه ترې شکوي. ښايسته ګلان وار له واره شکول کېږي. لږ خلک اغزنو بوټو ته پام کوي. په واقعيت کې ښه درمل له همدې بوټو جوړېږي.

د مينې بڼ هم داسې نه دی؟ څرنګه به مينه د خپل نوم ارزښت ولري چې يوازې ښايسته شيان يې غوره شي او کړاو يې پرېښودل شي؟ د ښو خوښول او له بدو ډډه کول اسان دي. هر څوک دا کار کولی شي. ننګونه د ښو او بدو سره يو ځای مينه ده. په دې نه چې ته بايد نرم له څېره سره ومنې. په دې چې ته بايد له دې صفاتو وړاندې وګورې او مينه بشپړه قبوله کړې.

يوازې يوه ورځ پاتې چې خپل ملګری ووينم. خوب نه راځي.
ای رومي! د الفاظو او مانآوو د قلمرو پاچا. د ليدو پر مهال به ما وپېژنې؟

# رومي

## قونيه د اکتوبر يودېرشمه ۱۲۴۴

دا ورځ بختوره ده. له شمس تبريزي سره مې په همدې ورځ وليدل. د مياشتې په دې وروستۍ ورځ هوا نوې سړه شوې. باد په تېزۍ چلېږي او د منې د تګ خبر را کوي.

نن ماسپښين جومات د پخوا په شان ډک و. ډېرو خلکو ته د وينا پرمهال زه پام کوم چې خپل مخاطب کسان نه هېر کړم او نه يې په ياد وساتم. داسې ګڼم چې يوازې يوه کس ته وينا کوم. سلګونه خلک مې هره اونۍ اوري. خو زه يوازې يو کس ته خبرې کوم. هغه چې غږ مې د زړه په غوږونو اوري او تر بل هر چا مې ښه پېژني.

له جومات په وتو سره يې اس را ته چمتو کړی و. د ژوي د ورمېږه ويښتان د سرو زرو له تار او د ورو سپينو زرو ګنګريو سره کوڅې شوي وو. د ګنګريو يا زنګولو له شرنګار مې خوند اخيست. خو د اس په مخ کې د خلکو ګڼه ګوڼې هغه چټک مزل ته نه پرېښود. چا عريضه وړاندې کوله. د ماشومانو د ژړا غږ او د دروېزګرو د خبر غوښتنې اواز سره ګډ وو. ډېرې خلکو له ما غوښتل چې دعا ورته وکړم. ځينو غوښتل چې ترځنګ مې قدم ووهي. خو ځينې نورو غټې غوښتنې درلودې، د سختو ناروغيو درملنه او د کوډو شنډولو غوښتنه يې درلوده. هغوی ولې نه پوهيږي چې زه نه پيغمبر يم او نه حکيم او نه د معجزې وس لرم.

د قنادانو سيمې ته چې ورسېدم يو سرګردانه درويش مې وليد چې د خلکو په منځ کې يې زما خوا ته لار ايسته او ما ته يې په خپلو تېزو سترګو کتل. خوځښت يې چټک

او متمرکز و. پر ځان داډه مالومېده. ډېره، برېتونه او وروځې يې نه وې. مخ يې د هر بل سړي په شان واضح و خو څېره يې مرموزه وه.

زما لپاره يې څېره هېښوونکې نه وه. په تېرو کلونو کې مې ډېر ملنګان ليدلي چې د خدای په لټه کې قونيې ته راغلي او تللي. لښتې به يې په غوږ وې، خالونه به يې وهلي وو، د اطاعت سرغړونې نښې به يې له ورايه مالومېدې. د ځينو ويښتان به اوږده وو، ځينو به سر خريلی و. په لومړي ځل چې ملنګ ووينم ظاهر يې ما نه حيرانوي خو له کتلو يې اغېزمن کېږم.

تورې سترګې يې له خنجر تېرې وې. د سړک پر سر ودرېد او لاسونه يې پورته او پراخ ونيول. په بدن کې مې ناڅاپه ټکان حس کړ. اس مې وترهېد، د وهمې غږ جګ شو او سر يې کښته او پورته کړ. د ارامولو هڅه مې وکړه خو ګټه يې ونه کړه.

ملنګ زما ناکرار اس ته نږدې شو. په غوږ کې ور وپسېده. اس ارام شو. د شاوخوا خلکو حيرانتيا مې ولېده. کوم چا وويل "دا کوډې دي."

ملنګ له خپل چاپېرياله ناخبر ما ته ځير و. "ای د ختيځ او لوېديځ لوی عالمه! ستا په اړه مې ډېر څه اورېدلي. زه راغلی يم چې ستا نه يوه پوښتنه وکړم. خو که اجازه را کوې؟"

اجازه مې ور کړه.

"لومړی بايد له اس کښته شې او زما سره په يوه سطحه کې شې."

زه حيران شوم. يو څو شېبې مې خبرې هېرې شوې. خلک هم زما په شان حيران شول. هېچا ما ته داسې نه وو ويلي. له غوسې مې مخ سور شو خو خپل احساسات مې قابو کړل. له اس کښته شوم. خو ملنګ شا واړوله او روان شو.

زه ورپسې ورغلم او ور غږ مې کړ "صبر وکړه. زه غواړم ستا پوښتنه واورم؟"

ودرېد او موسکی شو. "سمه ده. مهرباني وکړه را ته ووایه. ستا په اند د پیغمبر ص عظمت ډېر و که د بایزید بسطامي؟"

"دا څرنګه پوښتنه ده؟ څنګه کولی شې زموږ پیشوا زموږ ګران پیغمبر د یو رسوا عارف سره پرتله کړې؟"

خلک له خپلې حیرانتیا سره را نژدې شول خو ملنګ بې په کیسه کې نه شو. زما مخ ته یې کتل. "فکر پرې وکړه. پیغمبر ص پخپله نه دي ویلي چې ای خدایه ما نه عفوه وکړه. څنګه چې لازمه وه هغه شان مې ونشوې پېژندلی. خو بسطامي ویل: پر ما دې رحمت وي، زه خدای پخپله قبا کې ګرځوم. که یو سړی خان د خدای پر وړاندې بې وسه بولي او بل ادعا کوي چې خدای د نه په خان کې ور سره دی، د کوم یوه عظمت زیات دی؟" [حضرت نبي اکرم فرمایلي: د فقیر ژوند د خدای ج د ژوند غوندې وي.]

زړه مې ستوني ته راغی. پوښتنه د تېر په شان پوچه نه وه. داسې احساس مې وکړ چې پرده پورته شوې وي او تر پردې لاندې یوه فتنه ګره معما پرته وي. د ملنګ پر مخ پټه موسکا خوره شوه. اوس پوه شوم چې هغه کوم لېونی نه دی. هغه یو سړی له پوښتنې سره دی، داسې پوښتنه چې ما پرې تر اوسه فکر نه و کړی.

په خواب کې ما ورته وویل "پوهېږم چې څه ویل غواړې. زه به دواړه جملې سره پرتله کړم. که څه هم د بسطامي ادعا لویه مالومېږي خو واقعیت برعکس دی. د خدای مینه بې ساحله سمندر دی. انسانان هڅه کوي تر خپل وس اوبه ترې واخلي. خو دا چې خومره اوبه اخیستی شو زموږ د پیالې په ستروالي پورې اړه لري. له ځینو سره بېلرونه وي، ځینې سطلونه لري او له ځینو سره یوازې کاسې وې."

زما خبرو ته ځیر و. د خپلې خبرې په تایید موسکی شو. ما زیاته کړه "د بسطامي لوښی کوچنی و او تنده یې له یوه غوړپ سره ماته شوه. پخپل حال خوشال و. ښه وه چې هغه خدای په خپل خان کې وپېژاند. خو وحدت الوجود تر سره نه شو. او پیغمبر ص د خدای لخوا غوره شوی و. د هغه لوښی ډېر لوی و. له همدې امله خدای په قرآن کې ترې وپوښتل: (ستا زړه مو پرانیست؟) زړه یې پراخ او لوښی یې غټ شوی و. ځکه یې د تندې پر سر تنده راتله. ځکه یې وویل چې (هسې مو چې باید پېژندلی وی ومو نه پېژندې.) که څه هم تر نورو یې ښه پېژنده."

ملنگ سر وښوراوه او له ما یې مننه وکړه. لاس یې په زړه کېښود. یوه شېبه همداسې پاتې شو. له یو بل سره سترګې په سترګو کې شوو. د هغه په سترګو کې مې د شرافت نښه ولیده. د ملنګ تر شا مې د ښار چاپېریال ته وکتل. یو څو وچې پاڼې پر ځمکه خوځېدې. لمر په پټېدو و د یوې ډېرې لنډې شېبې لپاره مې تر هغه چاپېره د نور حلقه ولیده.

سر یې د تعظیم په ښه کښته کړ او ما هم ورته تعظیم وکړ. نه پوهېږم څومره وخت ولاړ و. د خلکو ګڼه ګوڼه په خوځېدو شوه. یو څه ناراضي مالومېدل. هغوی هېڅکله چا ته زما تعظیم نه و لیدلی. یوه سرګران ملنګ ته زما درناوي ځینې زما د نژدې پلویانو په ګډون حیران کړل.

ملنګ به خامخا فضا حس کړې وي. "زه به در نه لاړ شم او خپلو ملګرو ته به دې پرېږدم."

ما غبرګون وښود "صبر وکړه، مه څه، هیله کوم پاتې شه."

د تفکر سیورې مې د هغه په مخ ولید. شونډې یې ګونځې شوې لکه غواړي چې څه ووایي خو په هغه شېبه کې یې ویلی نه شوی یا یې نه غوښتل چې ویې وایي. ما هغه پوښتنه واورېده چې ده و نه ویله: ووایه ستر عالمه، ستا پیاله څومره ده؟

نور د ویلو لپاره څه نه وو. یو ګام نور هم ملنګ ته نژدې شوم. دومره نژدې شوم چې د هغه د سترګو په تورو کې مې نرۍ ژړې لیکې ولیدې. بیا یو عجیبه شان احساس را ته پیدا شو. لکه دا شیبه مې چې مخکې هم لیدلې وي، یو ځل نه څو ځلې. لږ لږ مې یاد ته راغلل. یو جګ نری سړی. پر مخ یې پرده او د لاس ګوتې یې دېوې. بیا وپوهېدم دا ملنګ هغه دی چې ما څو ځلې په خوب لیدلی.

پوه شوم چې خپل ملګری مې وموند. خو د دې پر ځای چې له خوشالۍ بې حاله شم. یوې سړې وېرې مې اوږونه خېره کړل.

## علاوالدین

### قونیه د ډسمبر شپاړسمه ۱۲۴۴

له قسمته زه هلته نه وم چې ملنګ زما پلار ته په مخه ورغی. زه له خپلو ملګرو سره له ښار بهر ښکار ته تللی وم او پر سبا بېې راغلم. له شمس تبرېزي سره زما د پلار لیدنه د ټول ښار د خبرو پلمه وه. خلکو به ویل دا ملنګ څوک و؟ ولې د مولانا په شان عالم سړي د تعظیم تر کچې درناوی ورته وکړ؟

له هغه وخته چې ماشوم هلک وم یادېږي مې چې خلک به زما پلار ته په زنګنو شول. مګر دا چې پادشاه یا وزیر به ورته راغی. نو ما دا ګونګوسې ونه منلې تر هغه چې کور ته راغلم او زما میرې کیرا- چې هېڅکله دروغ نه وایي- د دې خبرې پخلی وکړ. ریښتیا د شمس تبرېزي په نوم یو ملنګ زما پلار نه یوازې ننګولی، بلکې اوس مو په کور پاتې دی.

دا پردی سړی څوک دی چې د مرموزې اسماني ډبرې په شان زموږ په ژوند کې را ولوېد؟ غوښتل مې په خپلو سترګو یې ووینم. له میرې مې وپوښتل چېرې دی؟

کیرا ارام را ته وویل "غلی شه. هغوی په کتابتون کې دي."

د هغوی غږ را ته، خو خبرې یې نه اورېدل کېدې. زه د کتابتون په لور روان شوم خو کیرا ودرولم. "باید انتظار وباسې. هغوی ویل چې څوک دې مزاحمت نه کوي."

ټوله ورځ له کتابتون را ونه وتل، نه هم پر سبا او بله ورځ. په څه اړه خبرې کوي؟ زما د پلار او د یو فقیر تر منځ به څه وي؟

CamScanner

یوه اوني تېره شوه بیا بله. هر سهار به کیرا د سهار ناشته جوړوله او د وره شا ته به یې اېښودله. په رنګارنګ خوړو به یې زیار ایست. خو هغوی سهار له یوې مړې ډوډۍ ماښام له یو ګیلاس شیدو پرته څه نه خوړل.

له دې حالته زما موډ خراب و. د ورځې په اوږدو کې به مې د وره له هر سوري یا درز ور کتل. په دې هم نه وم، چې که ناڅاپه ور را خلاص کړي او ما وویني. ډېر وخت مې په همدې تېر کړ چې د دوی خبرې واورم. خو غږ یې لکه پساری را ته. څه مې لیدل هم نه. خونه کې رڼا لږ وه. پردې نیم کښې (نیمې بندې نیمې پرانیستې) وې. په ذهن کې به مې د دوی خبرې له ځانه جوړولې.

یو ځل کیرا ولیدم چې غوږ مې په وره لګولی. خو څه یې و نه ویل. هغه له ما ډېره سودایي وه. ښځې په طبیعت کې سودایي دي.

خو زما د مشر ورور سلطان ولد فکر بل و. هغه چې زما غوږ په وره ولید، بد بد یې را ته وکتل. "ته د خلکو د ځار حق نه لرې په تېره بیا چې هغه ستا پلار وي."

ما یې خبرې ته ارزښت ور نه کړ "وروره تا ته پروا نه لري چې پلار مو له یوې میاشتې ډېر له یوه پردي سره وخت تېروي؟ خپله کورنۍ یې هېره کړې. په دې نه خپه کېږې؟"

سلطان ولد ووېل "پلار مې هېڅوک نه دي هېر کړي. هغه یو ښه ملګری موندلی. د دې پر ځای چې د ښوونځي د ماشومانو په څېر ګیلې او ګوزارې وکړې ته باید خوشال اوسې، خو که پلار دریاندې ګران وي."

دا ډول خبرې یوازې زما د ورور زده وې. زه ورسره بلد وم، نو ځکه مې غوږ پرې ونه ګراوه. دی تل ښه هلک و. د کورنۍ او کوځې عزیز. د پلار غوره زوی.

پوره څلوېښت ورځې وروسته له هغې چې زما پلار او ملنګ په کتابتون کې خانانونه بند کړي وو یوه عجیبه کیسه وشوه. ما د تل په شان غوږ پر وره ایښی و، چوپه چوپتیا وه. ناڅاپه ملنګ خبرې پیل کړې.

"څلوېښت ورځې مو دلته ځان بندي کړی. هره ورځ مو د مینې له څلوېښت قاعدو یوه وسپړله. اوس مو چې کار خلاص شو، ښه به وي چې بهر ووځو. ستا نشتون به دې کورنۍ خپه کړې."

پلار مې وویل "زه مه وهه، مېرمن او زامن مې غټان دي. زما د خلوت په اړتیا پوهېږي."

"د مېرمن په اړه دې څه نشم ویلی، خو دواړه زامن دې له یو بل نه د ورځې او شپې په شان توپیر لري. مشر دې ستا په پل ګام ایښی، خو کشر دې په بله روان دی. کرکې او حسادت یې زړه نیولی."

ما ته غوسه راغله. زما په اړه څنګه داسې قضاوت کوي؟ زه یې لا لیدلی هم نه یم.

ملنګ زیاته کړه "هغه فکر کوي چې زه یې نه پېژنم. خو ما ته مالوم دی. کله چې هغه د وره له سوري ما ته کتل ما هغه لیده."

ناڅاپه مې وېښتان ځېږه شول. له فکر پرته مې ور خلاص کړ او په کوټه ننوتم. پلار مې لومړی هېښ بیا په غوسه شو.

"علاوالدینه، ماغزه دې خراب دي که څنګه؟ دا کار دې ولې وکړ؟"
شمس ته مې ګوته ونیوه "لومړی ولې هغه نه پوښتې، په کوم جرات زما په اړه داسې خبرې کوي؟"

پلار مې خواب را نه کړ. ما ته یې داسې کتل لکه شتون مې چې د هغه په اوږو بار وي. "هیله کوم پلاره، کیرا درېسې خپه شوې ده، زدکوونکي (طالبان) دې هم پوښتنه کوي. د یوه بېکاره ملنګ په خاطر دې ولې تولو ته شا کړې ده؟"

دا خبره مې له خولې ووته. وار له واره پرې پښېمان شوم. خو اوبه له ورخ تېرې وې. د پلار په سترګو کې مې لوړې ځل داسې خپګان ولید. "علاوالدینه، زما لپاره یو کار وکړه. همدا اوس له دې ځایه لاړ شه. یو ارام ځای ته لاړ شه او په خپل چلن فکر وکړه. تر هغه دې چې خپله تېروتنه نه وي موندلې (منلې) زما سره خبرې مه کوه."

"خو پلاره..."

"بس. ورځه" پلار مې مخ را نه واړوه. زما زړه ولوېد. له خونې ووتم. ورغوي مې لامده وو او ګونډې مې لړزېدې.

په هغه شېبه مې زړه ته را ولوېده چې زموږ ژوند بدل شو. بیا به هېڅ څه د پخوا په شان نه وي. اته کاله مخکې مې مور مړه شوه دا دوهم ځل و چې ځان را ته یتیم ښکاره شو.

# رومي

## قونيه د ډسمبر اتلسمه ۱۲۴۴

يا الله، باطن ذهن مې پرانيځه چې حقيقت ووينم.

هغه وخت چې شمس د پيغمبر ص او صوفي بسطامي په اړه پوښتنه را نه وکړه، داسې احساس مې وکړ چې ته وايې زه او دی د ټولې ځمکې پر مخ يوازېني کسان يو. په مخ کې مو د حق لارې اوه مقامه پراته وو. اوه مقامونه چې وحدت الوجود ته سړی رسوي.

اول مقام د فاسد نفس دی. تر ټولو عام او ساده پړاو دی، چې روح د دنيا په چارو کې ډوب وي. ډېری انسانان په دې پړاو کې را گير دي. د خپل ځان په خدمت کې لالهاند دي او عذاب گالي خو نور د خپل اوږد مهاله خپگان لامل بولي.

کله چې انسان د خپل روح په دې حالت پوه شي او په ځان کار وکړي، بل پړاو ته پورته کېدلی شي. هغه پړاو چې له دې سره په تضاد کې دی. هر وخت د نورو پړولو پرځای ځان گرم بولي کله ان د ځان تر عدمه. په دې پړاو کې ځان د نفس ملامتيا ته رسېږي او ور سره د ته صفايي مزل پيلېږي.

په دريم پړاو کې سړی پخېږي او ضمير الهامي نفس ته رسېږي. يوازې په همدې پړاو کې انسان د تسليم کلمې مانا تجربه کوي او د حکمت په کرونده کې مزل پيلوي، له دې مخکې نه. هر څوک چې دې حد ته ورسېږي صبر، حوصله، معرفت او عاجزي اختياروي او څرگندوي. نړۍ ورته نوې او الهام ښنوونکې ښکارې. ډېری خلک چې دريم پړاو ته ورسېږي دلته د پاتېدو احساس ور پيدا کېږي. د مخ ته تگ اراده او زړه له لاسه ور کوي.

له همدې امله دریم مقام که هر څو ښایسته او منور دی، خو د هغه چا لپاره چې غواړي مخ ته لاړ شي یو دام هم دی.

هغه شمېر چې مخ ته تلی شي د معرفت کروندې ته رسېږي او متین نفس پېژني. دلته د ځان حس د پخوا په شان نه پاتې کېږي. سخاوت، امتنان او د ژوند په هر څومره سختو حالاتو کې د خوشالي نه ماتېدونکی حس د دې مقام مهمې برخې دي. د دې تر شا د یووالي کرونده ده. هغوی چې دې مقام ته رسېدلي د خدای په امر چې څه ور پېښېږي ترې راضي او خوشال دي. د دنیا چارې پر دوی کوم اغېز نه لري. ځکه دا د رضایت مقام دی.

په بل پړاو کې چې د نېکی نفس دی انسان بشریت ته په څراغ بدلېږي. هر چا ته انرژي ور ښني. د یو ریښتیني مرشد په شان نورو ته لارښوونه او ځلا ور ښني. کله نا کله دا ډول انسانان د درملنې حکمت هم لري. هر چېرې چې ولاړ شي د خلکو په ژوند کې لوی توپیر را ولي. هر څه چې کوي یا غواړي چې وکړي، اصلي موخه یې د خدای د رضا لپاره د بشر خدمت وي.

وروستی اووم پړاو دی چې انسان سپېڅلي نفس ته رسېږي او کامل انسان ترې جوړېږي. په دې مقام هېڅوک نه پوهېږي. که یو څو تنه تر اوسه پرې پوه شوي هم وي په اړه یې چا ته څه نه وایي.

مقامونه او لارې یې په اسانه پرانیستېدی شي خو تجربه کول یې ګران دي. د لارې د څرګندو خنډونو ترڅنګ د پرمختګ داډ هم نشته. له اول تر اخر مقامه تګ د سیده کرښې په شان نه دی. د دې خطر هم شته چې له لوړ مقام انسان کښته ورغړي، کله له اعلی مقامه لومړي پړاو ته. د لارې د دامونو له امله په هره پېړۍ کې یوازې څو تنه وروستیو پړاوونو ته رسېږي.

نو کله چې شمس هغه پوښتنه وکړه، مقصد يې يوه ساده پرتله نه وه. هغه زما اراده مالوموله چې تر کوم بريده پر خپل وقار پښه ږدم تر هغه چې په خدای کې محوه شم. دوهمه پوښتنه په لومړی کې نغښتې وه.

"لوی عالمه، له اوو مقامونو ته کوم يوه ته رسېدلی يې؟ فکر کوې چې د مخ ته تګ زړه به ولرې او تر اخره به لاړ شې؟ را ته ووايه، ستا پياله څومره ده؟"

# کیرا

## قونیه د ډسمبر اتلسمه ۱۲۴۴

له خپل قسمته کرېدل مې په ګټه نه دي، خو کاشکې مې د دين، تاريخ، فلسفې او هر هغه څه په اړه پوهه لرلی چې مولانا او شمس شپه او ورځ پرې خبرې کوي. کله داسې وخت راشي، چې له خپل ښځيتوبه مې بد راځي. که نجلی وزېږېدې، پخلی، پاکول، د کالو مينځل، د سوريو جرابو ګنډل، د کوچو او پنېر جوړول او د ماشومانو مړول در زده کيږي. ځينې ښځو ته د مينې چمونه هم ښودل کيږي چې څرنګه خان په مېړه ګران کړي. بس دومره، خو هېڅوک ښځو ته کتابونه نه ور کوي چې سترګې يې پرانيستل شي.

د واده په ړومبي کال به زه د مولانا کتابتون ته پټه ننوتم. د ده د خوښې کتابونو په منځ کې به کېناستم. د کتابونو دوړې او نم به مې بوياوه. د هغوی په منځ کې پر رازونو به مې فکر کاوه. زه پوهېدم چې پر مولانا خپل کتابونه څومره ګران دي. ډېری يې له خپل پلار بهاوالدين نه ور پاتې وو. په هغو کې يې دائرة المعارف ډېر خوښ و. ډېرې شپې يې د دې کتاب په لوستلو سهار کړې دي.

رومي به ويل "که د سرو زرو کڅوړې هم څوک را کړي د پلار کتابونه به ورنه کړم. دا کتابونه بيه نه لري، له نيکونو را پاتې دي او زه به يې خپلو زامنو ته پرېږدم."

د واده په ړومبي کال يوه ورځ په کور کې يوازې وم. ما ويل راځه کتابتون به پاک کړم. ټول کتابونه مې له الماريو کښته کړل. د بخمل ټوټه مې د ګلابو په اوبو کې لمدوله او د کتابونو پوښونه مې پرې پاکول. د سيمې خلک په دې باور دي چې د کباکج په نوم کوم څوان پېری د کتابونو له شکولو خوند اخلي. د مخنيوي لپاره يې خلک په هر کتاب کې

لېکي "کباکجه دې کتاب ته لاس مه ور وړه." خو زه نه پوهېدم چې بوازې کباکج نه زه هم د مېږه له کتابونو منع وم.

په هغه ماسپښين مې د هر يو کتاب دوړې پاکې کړې. د غزالي احياى علوم ته مې کتل، پوه نه شوم چې څومره وخت تېر و، تر دې چې له شا غږ را ته شو.

"دلته څه کوې کيرا؟" مولانا و يا هم هغه ته ورته څوک. په دا تېرو اتو کلنو کې مې بيا هغسې غږ نه دی اورېدلی.

ما وويل "کتابونه پاکوم، غوښتل مې ناڅاپه دې خوشال کړم."

په خواب کې رومي وويل "پوهېږم. خو لطفا بيا زما کتابونو ته لاس مه وروړه. ښه به وي چې دې خونې ته بيخي د ننه نشې."

له هغې ورځې راهيسې، که په کور به څوک وو هم نه، بيا هم کتابتون ته د ننه نه شوم. هلته پوه شوم چې د کتاب نړۍ زما لپاره نه وه نه ده او هېڅکله به نه وي.

خو له هغه راهيسې چې شمس تبريزي زموږ کور ته راغلی او زما له مېړه سره يې ځلوېښت ورځې په کتابتون کې ځان بند کړی، له يوه پخواني پرهار مې- چې زه يې په شتون خبره نه وم- وينې بهېږي.

# کيميا

## قونيه د ډيسمبر شلمه ۱۲۴۴

د تروس غرونو په لمن په يوه ښوزله کلیواله کورنۍ کې زېږېدلې يم. اوه کلنه وم چې رومي په لوروليو ومنلم. د مور پلار ژوند مې سخت و او له خپل وخت مخکې زاړه شول. زه او خور مې په يوه خونه کې د خپلو مړو خويندو او ورونو له ارواوو سره اوسېدو چې د ناروغۍ له امله مړه شوي وو. زه د کورنۍ يوازينۍ غړې وم چې ارواوې مې ليدلې. کله به مې چې د وړو ارواوو کړه بيانول، خور به مې وېرېدله او مور به مې ژړل. د هغوی ډار او ژړا ته اړتيا نه وه خو زما خبرو به اغېز پرې نه کوو. زما خويندې او ورونه ښه‌رووڼکي او خپه نه وو، خو هېڅکله مې خپله کورنۍ په دې پوه نشواى کړې.

يوه ورځ يو خوار ملنګ زموږ له کلي تېرېده. پلار مې د هغه ستومانه او وړی حالت وليد. په کور کې يې شپه ور کړه. په هغه شپه اور ته ناست و او پنېر مو ډاډه کاوه. ملنګ د لرې ځايونو په زړه پورې کيسې را ته وکړې. ما سترګې پټې کړې او له هغه سره د عربو شګلونو دښتو، په شمالي افريقا کې د کوچيانو خيمو د مديريترانې په نوم تکو شنو اوبو ته ور سره ولاړم. د سمندر په غاړه د ګوجيو غټ او واړه پوټکي مې اوچت کړل او په جيب کې مې واچول. غوښتل مې د ساحل له يو سره تر بله قدم ووهم خو يو ستوغ بوی را وېښه کړم.

سترګې مې پرانيستې، د خونې په منځ کې پرته وم او ټول را نه چاپېر او وارخطا وو. مور په يوه لاس کې زما سر نيولی و او په بل کې پياز زما پزې ته نژدې.

خور مې له خوشالۍ لاسونه وپړکول او نارې يې کړې "راويښه شوه."

مور مې د خدای شکر ادا کړ. بیا یې ملنګ ته مخ ور واړوه "له ډېر کوچنیوالي کیمیا
کله داسې بې هوښه کېږي."

په سهار کې ملنګ زموږ له مېلمستیا مننه وکړه، د مخه ښې پر مهال یې زما پلار ته
وویل "ستا لور کیمیا یوه عامه نجلۍ نه ده. خدای هغې ته یو څه ور کړي، افسوس دی
چې د هغې وړتیا ونه پالل شي. که زما منې ښوونځي ته یې ولېږه."

مور مې ورته وویل "نجلۍ به تعلیم څه کړي؟ تر هغه چې ودېږي باید زما ترڅنګ
پاتې شي او غالۍ وو‌بي. خبر یې چې په غالۍ اوبدلو کې ډېره تکړه ده؟"

خو ملنګ پر خپله خبره کلک ولاړ و "خو تر هغې ښه یوه ورځ به لویه عالمه ترې
جوړه شي. خدای ستاسې دا اولاد له بد قسمتۍ نجلۍ نه ده پیدا کړې. دې ته یې
ځانګړتیاوې پېرزو کړې. ته له خدایه ډېره پوهېږې؟ که په دې وطن کې ښوونځي نشته یو
عالم ته یې ولېږئ چې پوهه ترلاسه کړي."

مور مې راضي نه مالومېده. خو پلار مې بل فکر درلود. د هغه له تعلیم سره مینه وه او
زما وړتیاوې ور مالومې وې. د هغه پوښتنې حیرانه نه کړم. "موږ کوم عالم نه پېژنو. داسې
کس به چېرې پیدا کړو؟"

ملنګ د داسې چا نوم واخیست چې زما ژوند ور سره بدل شو. "زه په قونیه کې یو
ستر عالم پېژنم، مولانا جلال الدین محمد بلخي رومي نومېږي. ښایي هغه د کیمیا په شان
د ځېرکې نجلۍ ښوونې ته زړه ښه کړي. هغه ته یې ور وله، پښېمان به نشئ."

د ملنګ له وتو سره مې مور په غوسه وویل "زه مېندواره یم. یوه بله وړې ګېډه به هم
مړول غواړي. زه مرستې ته اړه یم. نجونې کتابونو ته اړتیا نه لري. هغوی باید د کور کار او
د ماشوم پالنه زده کړي."

کاشکې مور مې ویلې وی چې لور به مې یادیږي او بلې کورنۍ ته بې نه ور کوم. ما به هم پاتې کېدو ته زړه ښه کړی و. خو پلار مې د ملنګ پر خبرو باوري و او بو څو ورځې وروسته یې ما هم ملاتړ وکړ.

قونیې ته له رسېدو سره سم زه او پلار مې د مولانا د مدرسې مخ ته ودرېدو. کله چې هغه را ووت، زه شرمېدم هغه ته مې نه کتل. خو د هغه لاسونه مې ولیدل، اوږدې ګوتې یې د کسبګر په شان نرۍ وې. پلار مې د هغه خوا ته ور کش کړم. "لور مې نابغه ده خو زه او مېرمن مې ساده خلک یو. موږ ته ویل شوي چې ته تر ټولو ډېر پوهېږې. دې ته به ښوونه ور کړې؟"

ان د هغه له لاسونو یوه شوم چې دا غوښتنه، ده ته نوې خبره نه وه. مخکې به هم خلکو دا ډول وړاندیز ور ته کړی وي. مولانا او پلار مې خبرې کولې. زه د مدرسې حویلی خوا ته ولاړم. ډېر هلکان مې ولیدل خو کومه نجلۍ بې په منځ کې نه وه. په بېرته تګ کې مې سترګې په یوه څوانه ښځه ولګېدې. یوې خوا ته ولاړه وه. ګرد مخ یې د مرمر ډبرې په څېر ثابت او سپین تښتېدلی و. ما لاس ورته وښوراوه. لومړی حیرانه شوه بیا هغې هم لاس را ته وښوراوه.

"سلام وړې نجلۍ، ما لیدی شې؟"

ما سر وښوراوه. خوشاله شوه، لاسونه یې وپکړول. "څومره ښه، بل څوک مې نشي لیدلی."

هغه زما سره ملګرې شوه، دواړه زما د پلار او مولانا خوا ته راغلو. ما ویل هغوی به د ښځې په لیدو سره خبرې ودروي. خو ریښتیا هم هغه چا نه لیدله.

رومي وویل "کیمیا دلته را شه. پلار دې وایي له زدکړې سره مینه لرې. را ته ووایه کتابونه دې ولې خوښ دي؟."

زه وچه کلکه ودرېدم، خبرې مې نشوای کولی.

پلار مې خپه شو "خبرې وکړه ګرانې."

ما غوښتل سم خواب ور کړم چې پلار مې پر ما وویاړي. خو سم خواب را ته مالوم نه و. یوازې اسویلی مې له خولې ووت. که هغه مېرمن نه وای زه او پلار به مې تش لاس خپل کلي ته ستانه شوي وو. هغې زما لاس په خپل لاس کې ونیو "د خپل خان په اړه ربښتیا ورته ووایه. هر څه به سم شي. بېغمه اوسه."

دمه را کې وچلېده او رومي ته مې وویل "مولانا صیب ما ته به لوی ویاړ وي که ستا نه قرآن مجید زده کړم. زه سخت سره نجلی یم."

مولانا هېښ شو خو بیا یوه سودا ور ولوېده. "ښه خبره ده، خو ته نجلی یې، که ستره عالمه هم شې یوه ورځ به واده وکړې او ماشومان به ولرې. د کلونو خواري به دې هیڅ شي."

زړه مې مات شو د ویلو څه را سره نه وو. پلار مې هم وارخطا شو. سترګې مې د هغه بوټونو ته شوې. یو څل بیا خوانې مېرمن مرسته را سره وکړه. "ورته ووایه مېرمن دې تل یوه وړه لور غوښتله. هغه به اوس خوشاله شي چې ته یوې نجلۍ ته سبق ور ښیې."

مولانا زما د پیغام په رسولو په خندا شو. "ښه نو ته زما کور ته هم تللې یې او زما له مېرمن سره دې خبرې هم کړې؟ خو په ډاډ سره درته ویلی شم چې کیرا زما په ښوونیزو چارو کې کار نه لري."

خوانې مېرمن په کراره سر وښوراوه او زما په غوږ کې وپسېده. "ورته ووایه، د دوهمې ښځې کیرا په اړه خبرې نه کوې. د ګوهر په اړه ورته غږېږې، د زامنو مور یې."

مولانا ته مې وویل چې د هغه د زامنو مور ګوهر په اړه خبرې کوم.

د مولانا رنګ سپین واوښت. "بچې! ګوهر کلونه مخکې مړه شوې. خو ته د هغې په اړه څه پوه شوې، ملنډې خو به نه وهې."

پلار مې خبرو ته را ولوېد. "مولانا صیب، کیمیا هوښیاره او با ادبه نجلۍ ده. مشرانو ته تل درناوی کوي. نیت یې بد نه و."

پوه شوم چې باید ټول حال ووایم."ستا مېرمن دلته ده او زما لاس یې نیولی. له ما غواړي چې خبرې وکړم. سترګې یې تورې دي، خدایي خالونه یې پرمخ دي او یو اوږد ژړ کمیس یې اغوستی..." ښځې خپلو بوټانو ته اشاره وکړه.

"هغه ما ته وایي چې د بوټانو په اړه یې درته ووایم. له ژړو وربښمو جوړ دي او واړه سره ګلان پرې ټومبل شوي. ډېر ښایسته دي."

د مولانا سترګې له اوښکو ډکې شوې "هغه مې له دمشقه ورته را وړي وو، ډېر یې خوښ وو."

له دې سره مولانا غلی شو. په خپله بړیره یې لاس تېراوه. په فکر کې ډوب شو. خو بیا په خبرو شو او خېګان یې په غږ کې نه و.

"اوس پوه شوم چې خلک ولې ستا لور ځانګړې بولي. درځئ چې کور ته ولاړ شو. د شپې پر ډوډۍ به د هغې پر راتلونکي خبرې وکړو. هغه به تر ډېرو هلکانو ښه زده کوونکې وي."

رومي مخ ما ته را واړاوه "دا خبره خو ګوهر ته وکړه."

ما ورته وویل "اړتیا یې نشته مولانا صیب. هغه دې غږ اوري، وایي اوس ځې خو نل په مینه درته ګوري."

مولانا او پلار مې دواړو وخندل. فضا نوره ښه شوې وه. له خپلې مور سره نژدې نه وم، خو خدای د دوو پلرونو مینه را کړې وه، زما ریښتیني پلار او مولانا.

نو دا وه د رومي کور ته د راتلو اته کاله وړاندې کیسه. زه بې زړه ماشومه د علم تږې او کبرا هم زما تر مور ډېره مینه ناکه او زړه سواندې وه. د رومي زامنو هم زما تود هرکلی وکړ، په تېره بیا مشر زوی یې، چې وروسته ما ته د مشر ورور په شان و.

ملنګ رېښتیا ویلي وو. پلار او د خویندو ورونو ارواوې مې یادېدې خو یوه شېبه هم د قونیه راتګ او د مولانا له کورنۍ سره په اوسېدو پښېمانه نه وم. تر دې چټ لاندې مې ډېرې خوږې شېبې تېرې کړې.

خو، شمس تبریز راغی. په خپل راتګ سره یې هر څه بدل کړل.





## کیرا

### قونیه د مې پنځمه ۱۲۴۵

زموږ تر کړکۍ لاندې د ونو څانګو- چې څه موده مخکې واورو پوښلې وې اوس ګلان نیولي دي. شمس تبریز لا هم زموږ سره په کور کې دی. په دې موده کې مې مېړه ورځ تر بلې بدلېږي او هره ورځ له ما او کورنۍ لرې کېږي. په لومړیو ورځو کې به مو ویل چې یوه ورځ به له یو بله په تنګ شي، خو داسې ونه شول. نور هم له یو بل سره خواږه شول: کله چې یوځای شي، یا چوپه خوله ناست وي یا هم په کراره خبرې کوي او خاندي. نه پوهېږم چې خبرې یې ولې نه خلاصېږي.

د دوی په څاله کې یوازې دوه کسه ځایېږي دریم کس ته ځای نشته. یو بل ته داسې ګوري لکه سړی چې په هېنداره کې ځان ویني. ان د دوی موډ په یو بل پورې تړلی دی. کله داسې غلي وي چې نه څه خوري او نه څه وایي، کله بیا له مستۍ په نڅا شي او د لېونو ګمان پرې کېږي. اوس زه خپل مېړه نه پېژنم. هغه سړی چې څه باندې اته کاله وړاندې مې واده ور سره وکړ. د هغه زامن مې- لکه خپل اولاد- لوی کړل او یو ماشوم هم ترې لرم، اوس را ته پردی ښکاري. یوازې د هغه د درانه خوب پرمهال ځان ور نژدې حسوم. دېرې شپې خوب نه راځي، د هغه سا ته غوږ نیسم او پر بدن مې نرمه لګېږي، په زړه یې غوږ ږدم چې را یاد کړم دا هماغه سړی دی چې واده مې ور سره کړی.

ځان ته ډاډګېرنه ور کوم او وایم دا لنډ مهاله پړاو دی. شمس به یوه ورځ ولاړ شي. هسې هم هغه سرګردان ملنګ دی. رومي به دلته زما سره پاتې شي. هغه په دې ښار او په زدکوونکو پورې تړلی دی. زه باید یوازې انتظار وباسم. خو صبر اسانه نه دی او هره ورځ

سختېږي. کله چې ډېره ناهيلې شم تبر پېر را يادوم، هغه سختې ورځې چې رومي مې ترخنګ ولاړ و.

زموږ له واده څو ورځې مخکې به خلکو ويل "کيرا عيسوی ده. که مسلمانه هم شي په موږ کې پردی ده. د اسلام لوی عالم بايد د بل دين نجلۍ ځان ته نکاح نه کړي."

خو رومي په دې خبرو غوږ ونه ګراوه له هغه وخت نه تر اوسه. په همدې به زه تل د هغه منندويه وم.

اناتوليا له بېلابېلو مذهبونو، خلکو او خوړو جوړه شوې سيمه ده. خواړه يوشان کوو، سندرې يو ډول اورو او دودونه مو سره يو دي نو بيا ولې يوځای نه شو اوسېدلی. ما ليدل چې عيسايي ماشومانو اسلامي نومونه لرل او مسلمانو ماشومانو ته عيسايي مېندو شيدې ور کولې. زموږ نړی اوبلنه ده، هرڅه له يو بل سره ګډېږي. د عيسايانو او مسلمانانو تر منځ پولې دومره هم جوتې نه دي چې مشران يا د دواړو خواوو عالمان يې بېلوي.

د دې لپاره چې زه د يو عالم مېرمنه يم خلک زما څخه د عالمانو د درناوي تمه لري. خو داسې نه ده. عالمان ډېره پوهه لري، خو ايا په دين کې له حده زياته پوهه ښه ده؟ په داسې ژبه خبرې کوي چې سړی يې په خبره نه پوهېږي. اسلامي عالمان مسيحيت په شرک غندي. مسيحيان بيا قرآن نه مني. داسې ګڼي ګواکې د دې دواړو اديانو تر منځ به نړی واټن وي. که ما وپوښتې، عام مسلمانان او مسيحيان يو بل ته تر خپلو عالمانو ډېر نژدې دي. وايي د مسلمان لپاره تر ټولو سخته له خدای سره د عيسی او سپېڅلې روح ګډول دي. په قرآن کې عيسی ع وايي: په يقين سره زه د خدای بنده يم. هغه پر ما کتاب نازل او پيغمبر کړی يې يم.

زما لپاره عيسی ع د خدای پيغمبر ګڼل ګران نه وو. زما لپاره له بي بي مريم انکار سخت و. تر اوسه مې چا ته نه دي ويلي، رومي ته هم. کله کله مې د بي بي مريم د سترګو ليدو ته زړه تنګېږي. د هغې نظر ما ته تل هوساينه رابښي.

له هغه وخت چې شمس تبریز زموږ کور ته راغلی، دومره پرېشانه یم چې مریم پسې مې له پخوا ډېر زړه تنګېږي. لکه توده تبه مې چې په رګونو خوره شي. غواړم مریم ته دعا وکړم. په دې حالت کې ځان ملامت حسوم لکه خپل نوي دین ته چې خیانت کوم.

په دې اړه څوک نه پوهېږي. صفیه مې رازداره ګاونډۍ ده خو هغې ته مې هم نه دي ویلي. په دې خبره به یې سر خلاص نشي. کاشکې مې خپل مېړه ته ویلی شوی. خو هغه را نه لرې شوی او په دې خبره به زموږ ترمنځ واټن لا پراخ شي. رومي پخوا زما هر څه و، خو اوس را ته پردی شوی. هېڅکله مې باور نه راته چې له یو چا سره په یوه کور کې اوسېدل، په یوه بستر کې ملاستل او بیا یې نشتون حسول ممکن دي.

# د تبرېز شمس

## قونیه د جون دولسمه ۱۲۴۵

ای متزلزله ایمان لرونکیه! که سړی هره زوږه د خدای لپاره نیسي او په لوی اختر کې د خپلو تېروتونه لپاره قرباني کوي، که ټول عمر سړی د حج هڅه او پنځه وخته لمونځ کوي خو په عین وخت کې په زړه کې الهي مینه نه لري نو دې کړاو ته اړتیا څه ده؟ که مینه بې په هسته (زړې) کې نه وي، ایمان به یوازې یو منځ تشی او بې روحه لفظ وي، هېڅ به پرې نشې احساسولی.

هغوی فکر کوي چې خدای په مکه یا مدینه کې اوسېږي، او یا هم په کوم نژدې جومات کې. څنګه باور کولی شي چې خدای په یوه ځای کې بند دی. خدای واضح ویلي: اسمانونه او ځمکه مې په غېږ کې نیولی نشي خو متقي بنده مې په غېږ کې نیولی شي.

د هغه غافل پر حال افسوس دی چې خپلې انساني پولې د خدای له پولې سره جوختې بولي او یا داسې ګڼي چې له خدای سره معامله کولی شي یا د هغه پور ادا کولی شي. ایا هغوی باور لري چې خدای لکه هېوال بېبګڼي او بد ګڼي په تله کې تلي؟ یا په خدای د کوم کاتب ګمان کوي چې زموږ بد کارونه په کتاب کې لیکي او بیا را نه پور غواړي. دوی نه توحید همدا مانا لري؟

زما خدای کوم هېوال یا کاتب نه دی. زما خدای ژوندی دی. نوم یې الحی یا تل ژوندی دی. ولې ټول عمر په وېره او سودا کې تېر کړم خپل ځان ته بندونه او پولې جوړې کړم؟

هغه تل رحمن دی. یو نوم یې په نومو کې الودود دی. تل د ستایلو وړ دی. زه هغه په ژبه او عمل کې بې تکلیفه ستایم. یو نوم یې الحمید دی. که له زړه باور ولرم چې خدای هرڅه ویني او اوري، بیا څنګه دروغ ووایم او غیبت وکړم. یو نوم یې البشیر دی، تر هر خوب او ارمان ښایسته دی.

الجمال، القیوم، الرحمن، الرحیم. په قحطۍ او سیلاب، په وچه او تنده او تر هغه چې ګونډې مې له کاره نه وي لوېدلې، پر ځمکه نه وم غورځېدلی او زړه مې نه وي درېدلی زه به هغه ته سندرې ووایم او نڅا به وکړم. زه به تر هغه خپل نفس لکه ذرې ټوټې ټوټې کړم چې د نشتوالي یوه برخه شم. د تشې لاروې شم، د هغه په عمارت کې د دوړې دوړه شم.

په شکر، خوشالی او بې باکۍ د هغه شان او شوکت ستایم. د هغه د را کړیو او نه را کړیو نعمتونو منندوی یم، یوازې دی پوهېږي چې زما لپاره څه شی ګټور دي.

په خپل لست کې یوه بله قاعده را یاد شوه، د خوشالۍ او هیلو نوې څپې مې په زړه راغلې: انسان د خدای په خلقت کې ځانګړی ځای لري. خدای وایي "په هغه کې مې خپله سا وچلوله." له استثنا پرته موږ هر یو داسې خلق شوي یو پر ځمکه چې د خدای استازي واوسو. له ځانه وپوښتئ، کله مو د خدای د استازي په څېر عمل کړی؟ په یاد ولرئ، دا زموږ دنده ده چې الهي روح په ځان کې ومومو او ژوند ور سره وکړو.

د دې پر ځای چې محتسبین ځانونه د خدای په مینه کې ډوب کړي او له خپل نفس سره جهاد وکړي، له نورو خلکو سره جګړه کوي، په ټولنه کې د وېرې څپې زېږوي. ټول کایناتو ته د وېرې په سترګه ګوري، څکه بې حسابه وېره ویني. هغوی زلزله، وچکالي یا هره بله غمیزه د خدای د قهر نښه بولي. لکه خدای چې نه وي ویلي: "زما ترحم زما له غضبه ډېر دی." هغوی له یوه نه یوه څخه په یو یا بل څه کرکه کوي او بیا له الله تعالی نه لري چې د دوی په استازولی له خلکو غچ واخلي. د دوی په ژوند کې تریخوالی او دښمني دمه نه کوي. خپګان یې دومره ډېر دی چې هر چېرې لکه توره وربخ ور سره ځي، تهر او راتلونکی یې دواړه تیاره وي.

په عقیده کې داسې هم شته چې ونې وینې خو څنګل نه در مالومېږي. د دین بشپړتیا د هغه د اجزاوو له ترکیب لویه او ژوره ده. د ټول دین په رڼا کې باید انفرادي قوانین ولوستل شي. بشپړتیا په ماهیت کې نغښتې ده. له ځانه راضي ریاکار خلک د دې پر ځای چې د قرآن مجید ماهیت ولټوي یو یا دوه ځانګړي ایتونه را اخلي او د خدای په اوامرو سره د خپلې وېرې پخلی کوي. هغوی په وار وار خلکو ته د قیامت په ورځ د پل صراط پر سر تېرېدل ور یادوي چې له وېښته نری او له چړې تېره دی. ګونګار به د دوزخ کندې ته لوېږي او هلته به عذاب ګالي. هغوی چې په دنیا کې نیک اعمال ترسره کړي وي، د جنت مېوې، خوږې اوبه او حورې به یې په نصیب شي. د دوی له مرګ وروسته ژوند انځور دا دی. دومره په خطر او انعام، اور او مېوې، ملائکې او شیطان کې ډوب دي. د راتلونکي له وېرې د خپل اوسني حالت سیناوی کوي. خدای ترې هېر دی. هغوی ته له څلوېښتو قاعدو دا یوه مالومه نه ده؟ دوزخ اوس او همدلته دی، جنت هم داسې. د دوزخ په اړه وېره او د جنت خوبونه پرېږدئ په دې چې دواړه په دې شېبه کې د ننه دي. هر ځل چې مینېږو جنت ته خو. هر ځل چې کرکه، حسادت یا له چا سره جګړه کوو د دوزخ کندې ته رغړو. پنځه وېشتمه قاعده په همدې اړه ده.

تر دې بد دوزخ چېرې دی چې سړی په خپله سخته تېروتنه پوه شي او د وجدان عذاب وګالي؟ له هماغه سړي پوښتنه وکړه چې دوزخ څه ته وایي. تر دې ښه جنت چېرې دی چې د ژوند په یوه نادره شېبه کې د کایناتو کولپونه ورته پرانیستل شي، د خلقت په رازونو پوه شي او د خدای په وجود کې محوه شي؟ له هغه سړي پوښتنه وکړه، هغه به درته ووایي چې جنت څه ته وایي.

د راتلونکي په اړه ولې دومره اندېښمن یو؟ یوازې په همدې حاضره شېبه کې مونږ په ربښتیني بڼه د خدای حضور او عدم دواړه په خپل ژوند کې حسولی شو. عارفان نه له دوزخ وېره لري او نه د جنت تمه. هغوی له خدای سره مینه د هغه په خدایی لري، صافه سیده بې له شک او معاملې.

عشق هم لامل دی او هم هدف.

هغه وخت چې له خدای سره دومره مينه ولرې او د هغه لپاره د هغه له مخلوق سره مينه ولرې او منندوی يې وې، ناوړه پولې په هوا کې محوه کيږي. له هغې شېبې وروسته د "زه" لفظ له منځه ځي. يوازې په صفر بدلېږي، داسې صفر چې ستا ټوله هستې پټوي.

هغه بله ورځ ما او رومي په همدې خبرو تفکر کاوه چې ناڅاپه يې سترګې وتړلې او دا کرښې يې بيان کړې:

"نه هندو، نه مسلمان، نه يهود نه نصارا، نه صوفي نه بودېست، نه کوم مذهب نه کوم کلتور. زه نه شرقي يم نه غربي. زما د ځای او نښان نښه نشته."

رومي وايي هېڅکله به شاعر ترې جوړ نه شي. خو شاعري په هغه کې نغښتې. اوس دا شاعر په څرګندېدو دی.

رومي ريښتيا وايي. هغه نه د شرق دی نه د غرب. هغه د مينې په پادشاهي پوره تړلی، په معشوق پورې غوټه دی.

# جنګيالی بابر

## قونيه د جولای لسمه ۱۲۴۵

تره مې وايي "بابره زويه، په هېڅ باور مه کوه. دا نړۍ ورځ تر بلې فاسديږي." د هغه په باور يوازينی ښه وخت د اسلام زرين پېر و، هغه مهال چې پيغمبر ص په واک کې و. د هغه له رحلت وروسته هر څه مخ کښته روان دي. خو که له ما وپوښتې، په هر ځای کې چې له دوو کسانو زيات وي د جګړې ډګر جوړيږي. ان د پيغمبر ص په وخت کې د خلکو ترمنځ دښمنی وې. جګړه د ژوند بنسټ دی. زمری غرڅه ښکاروي، کجيران يې بيا پاتې شوني تر اډوکو سپېروي. طبيعت ظالم دی. پر څمکه، هوا او اوبو هر ژوی د پاېښت لپاره بايد له خپل دښمنه پياوړی او ځيرک اوسي. د ژوندي پاتېدو لپاره بايد جګړه وکړي.

هو بايد جګړه وکړو. ان ډېر ساده او بيعقل پوهيږي چې نن سبا بله لار نشته. پنځه کاله وړاندې حالات هغه مهال بدل شول چې چنګېزخان يو ډيپلوماتيک پلاوی د سولې په موخه استولی و، خو هغه ټول له منځه يوړل شو. له هغه وروسته د چنګېز خان کرکه په اور واوښته او د اسلام ضد جګړه يې پيل کړه. ځينې وايي چنګېزخان پخپله دا پلاوی وواژه. ښايي رېښتيا وي. خو دا واقعيت دی چې په پنځو کلنو کې چنګېز خراسان بشپړ ويجاړ کړ، هېڅ يې روغ پرې نه ښوول. دوه کاله وړاندې يې سلجوقيان په کوسيداغ کې مات کړل. له ښخه يې ويجاړ نه کړل په دې چې ژونديو هغوی ته ګټه رسوله.

جګړه د انسان له پيداېښت سره پيدا شوې. لا اقل له هغه وخت چې قابيل خپل ورور هابيل وواژه. خو د مغولو پوځ بې سارې دی. هر سرتېری يې څو وړتياوې لري. بېلابېلې وسلې کاروي، هره وسله ځانګړی کار کوي. له هر سرتېري سره ګورځ، تبر، توره او نېزه شته. او داسې غشې لري چې له زغرې تېريږي، کلي ته اور ورته کولی شي، په بدن کې





زهر خوروللی شي او د انسان په بدن کې تر ټولو کلک هډوکی ماتولی شي. له دوی سره شیبلې وهونکې غشي هم شته چې د پوخ یوه لپوا بلې ته خبر پرې ورکوي. په دومره وسلو سمبال او خدای نه پېژني او نه ترې وېرېږي. د هغوی مخې ته چې هر څه ور شي په خاورو یې بدلوي. د بخارا په شان لرغوني ښارونه یې ویجاړ کړل. یوازې د چنګیزیانو وېره نه ده، موږ باید یوروشلم له صلیبیانو ازاد کړو. تر څنګ یې د بانزاتیانو وېره هم شته. د سني او شیعه کړکېچ خو لا پرېږده. له هر لوري د دښمنانو د یرغل وېره شته، په داسې وخت کې به څنګه سوله ییز ژوند وکړی شو.

له همدې امله د رومي په شان خلک مې ماغزه خرابوي. پروا یې نه لرم چې خلک په کومه سترګه ورته ګوري. ماته هغه یو بې ننګه سړی دی چې له بې ننګی پرته بل څه نه هڅوي. ښایي په تېر کې به ښه عالم و، خو نن سبا د شمس په نوم د یو ملحد ملنګ تر منتر لاندې راغلی. په دې وخت کې د اسلام دښمنان ورځ تر بلې زور اخلي، خو رومي یوازې د سولې، بې ارادېوالي او اطاعت لاربښوونې کوي.

وروره، درد وزغمه،
د زړه له زهرو وتښته
اسمان به تا ته تعظیم وکړي
که داسې وکړې
ازغي به ګلاب شي
ذره به یې، خو په کایناتو کې به څلېږې.

رومي خلکو ته د اطاعت وايي. مسلمانان د پسونو په شان حلیم او ډارن غواړي. هغه وايي د هر پیغمبر لپاره پیروان شته او د هرې ټولنې لپاره ځانګړی وخت. له مینې پرته د هغه د خوښې الفاظ صبر، انډول او زغم دي. که د هغه په زړه وي موږ به په کور ناست او د خپلو دښمنانو په لاس د وژنې او نورو غمیزو په تمه به وو او بیا به هغه د ناورین د کلو په وخت ووايي چې دا برکت دی. ځینې خلکو یې له خولې اورېدلي "کله چې ښوونځي، جوماتونه او منارونه ونړېږي، بیا به درویشان خپل کار پیلوي." دا څرنګه وینا ده؟

یوې خبرې ته مو پام وي. د رومي استوګنه په دې ښار کې له هغه پیل شوه چې ځو لسیزې وړاندې یې پلار افغانستان پرېښود او په اناتولیا کې پنا شول. ډېرو مخورو او شتمنو خلکو د سلجوقیانو د سلطان بلنه تر لاسه کړه، په هغوی کې د رومي پلار هم و. په ناز او شوکت ورته پام وشو د رومي کورنی د افغانستان له وچو ډاګونو د قونیې شنو باغو ته راغله. د هغه لپاره د زغم خبرې اسانه دي.

هغه بله ورځ مې د شمس تبرېزي یوه خبره واورېده چې په بازار کې یې خلکو ته کړله. هغه ویل، علي کرم الله وجهه د جګړې په ډګر کې له یو کافر سره جنګېده. علي کافر ځملاوه، غوښتل یې د هغه پر زړه توره ننباسي. ناڅاپه یې کافر مخ ته لاړې تو کړې. علي توره وغورځوله، اسوېلی یې وایست او سړی یې پرېښود. کافر حیران شو. علي پسې ورغی او د هغه د نه وژلو لامل یې وپوښت.

علي وویل "په دې چې پر تا ډېر غوسه یم."
کافر وویل "تو بیا دې ولې و نه وژلم؟"
علي په ځواب کې ورته وویل "تا زما مخ ته لاړې تو کړې. زه ډېر په غوسه شوم. غرور مې وپارېد او د غچ تمه یې لرله. که اوس دې ووژنم، ما به د خپل ناوړه حس غوښتنه پر ځای کړې وي. او دا به زما لویه تېروتنه وي."

نو علي سړی ازاد کړ. دې خبرې پر کافر دومره اغېز وکړ چې د علي پلوی شو او بخپله خوښه یې اسلام ومانه.

دا د هغو کیسو بېلګه ده چې شمس یې وایي. پیغام یې څه دی؟ کافر پرېږده چې پر مخ دې لاړې تو کړي. خو زه به مړ وم. کافر یا مسلمان، هېڅوک د جنګیالي بابر پر مخ لاړې نشي تو کولی.

CamScanner

# رومي

## قونيه د اگست دوهمه ۱۲٤۵

داسې فکر کوې چې ژوند دې شتمن، ډک او بشپړ دی. خو بيا يو کس راشي او هغې نيمگړتيا ته دې پام شي چې ټول عمر درسره وه. د داسې هنداري په شان چې حاضر نه غيرحاضر در ښکاره کړي. په روح کې تشه در مالومه کړي، هغه تشه چې له ليدو يې تا مخ اړولو. دا انسان کېدی شي ستا ميين، ملگری يا روحاني استاد وي. کله هم ښايي يو ماشوم وي چې ته يې پالنه کوې. مهمه دا ده چې د خپل روح د بشپړولو لپاره بل روح ومومې.

د ټولو پيغمبرانو لارښوونه دا ده: د خپل ځان هنداره پيدا کړه. زما هنداره شمس تبريزي دی. کله چې هغه راغی زه يې د خپل روح ژورو درزونو ته په کتو اړ کړم، له شمس مخکې د ځان په اړه له اساسي حقيقت سره نه وم مخامخ شوی: که د باندې هر څو بسيا او بريالی وم خو د ننه يوازې او نامراده وم.

لکه په کلونو خوارې کوې او د ځان لپاره شخصي قاموس ليکې. په هغه کې د هرې محتوا لپاره چې تا ته ارزښت لري وضاحت لرې لکه حقيقت، خوښي او ښکلا. د ژوند په هر پېچومي کې دې قاموس ته ور گورې، په ندرت سره د هغوی پر مانا نيوکه کوې. بيا يوه ورځ يو پردی راشي ستا قاموس در نه واخلي او لرې يې وار کړي.

هغه وايي "ستا ټول تعريفونه بايد له سره تعريف شي. اوس بايد هغه څه نازده کړې چې زده کړي دې دي."

او نه، د ذهن په ناخبرۍ خو د زړه په منلو د هغه اطاعت کوي. نیوکه نه پرې لرې او نه هم ورته په غوسه کېږې. دا شمس په ما کړې. د هغه ملګرتیا ډېر څه را ښودلي، خو تر ټولو مهم یې ما ته د زدکړې هېرول راښودلي.

کله چې یو کس دربانديې ګران شي، په خپل چاپېریال کې له ټولو تمه لرې چې ستا په شان احساس وکړي، ستا په مشاطه کې در سره شریک شي او کله چې داسې ونشي، نه حیرانېږې، بیا یې ځان ته سپکاوی او خیانت ګڼې.

څنګه خپلې کورنۍ او ملګرو ته هغه څه ور ښکاره کړم چې زه یې وینم؟ څرنګه نه تشریحېدونکی تشریح کړم؟ شمس زما د رحمت او زینت سین دی. زما د حقیقت او ایمان لمر دی. زه یې د روح د باچایانو باچا بولم. هغه زما د ژوند سرچینه او زما د صبر باعظمته او تل زرغونه ونه ده.. د هغه ملتیا د قرآن څلورم ډول لوستلو په شان ده چې یوازې د نه حسېږي خو هېڅکله له بهره نه اخیستل کېږي.

له بده مرغه ډېری خلک خپله ارزونه په ظاهر او ګونګوسو کوي. هغوی ته شمس یو عجیب ملنګ دی. فکر کوي چې هغه عجیب او غریب چلن لري او کفر غږوي. خو ما ته د هغې مینې غورځانګ دی چې شمسي نظام په حرکت راولي. کله په شا شي او توتې را ټولوي کله بیا په چاوډدو شي. داسې مخ کېدنه په ژوند کې یو ځل کېږي، په اته دېرشو کالو کې یو ځل.

له هغه چې شمس زموږ ژوند ته راغلی، خلک وایي په هغه کې ما څه ځانګړتیا موندلې. خو زما سره یې خواب نشته. هغوی چې دا پوښتنې کوي په خواب به پوه نشي. هغه شمېر چې پوهېږي داسې پوښتنې نه کوي.

زما دا حالت د لیلا او د عباسیانو د نامتو امپراطور هارون الرشید کیسه را یادوي. د قیس په نوم د عربو شاعر د لېونتوب تر پولې پر لیلا مینېږي، له همدې امله یې خلک مجنون بولي. هارون الرشید غواړي هغه مېرمن وګوري چې سړی یې دې حالت ته رسولی.

هغه فکر وکړ: دا ليلا به ځانګړې مخلوقه وه. له نورو ښځو به برتره وي. د ښايست ساری به يې په بشر کې نه وي.

امپراتور د ليلا ليدو ته لېوال و، هر څه او څل يې وکاراوه چې هغه يو ځل په خپلو سترګو ووينې. تر هغې چې يوه ورځ يې ليلا د هارون الرشيد مانۍ ته راوسته. ليلا چې له مخ پلو لرې کړ، امپراتور ناهيلی شو. ليلا بدرنګه، معلوله يا زړه نه وه خو ځانګړی ښايست هم نه درلود. هغه يوه ساده بني ادمه وه او د بې شمېره نورو ښځو په شان يې انساني اړتياوې او نيمګړتياوې درلودې.

امپراتور خپله ناهيلي پټه نه کړه. "ته هماغه يې چې مجنون درپسې لېونی شوی؟ ته خو يوه عادي ښځه يې. ته کومې ځانګړتياوې لرې؟"

ليلا ورته وخندل "هو زه ليلا يم. خو ته مجنون نه يې. ته مې بايد د مجنون په سترګو وګورې. پرته له دې به هېڅکله دا معما چې مينه نومېږي حل نشې کړی."

زه څنګه همدا پېچلتيا خپلې کورنۍ، ملګرو او زدکوونکو ته ووايم؟ هغوی څرنګه پوه کړم چې د شمس په ځانګړتيا د پوهېدو لپاره هغوی بايد د مجنون له سترګو ورته وګوري؟

داسې به ممکنه وي چې د مينې پر مانا پرته له مينېدو سرې پوه شي؟

مينه تشريحېدی نشي، يوازې تجربه کېدی شي. مينه تشريحېدی نشي خو هر څه تشريحوي.

# کیمیا

## قونیه د اګست اوولسمه ۱۲۴۵

په بې صبرۍ د رومي حضور ته په تمه یم، خو هغه نور ما ته د سبق ویلو وخت نه لري. درسونه مې یادېږي او ځان را ته له پامه لوېدلی مالومېږي خو زه له مولانا خپه نه یم. ښايي په دې چې بې حده را باندې ګران دی. یا ښايي په دې چې زه د هغه پر احساس له نورو ښه پوهېږم. په دې چې زه هم د نه د شمس تبرېزي بربښنا حسوم.

د رومي سترګې شمس داسې ځاري لکه لمرګل (المرمخی) چې لمر ځاري. د هغوی مینه دومره ژوره او جوته ده، چې د دوی د اړیکې په لیدو د سړي زړه ناهیلی شي، ځکه دا ډول اړیکه ولې د نورو ترمنځ نشته. خو له علاوالدینه نېولې، په کور کې ټول د دې زغم نه لري. څو ځلې مې لیدلی چې شمس ته يې په کرکه کتل. کیرا هم خوشاله نه برېښي خو چا ته نه وايي او ما هم نه ده پوښتلې. موږ ټول په سره اور ناست یو. عجبه خو دا ده چې د دې ترینګلتیا لامل شمس تبرېزي یا له دې حالته خبر نه دی او یا يې هم پروا نه لري.

له یوه پلوه شمس ته په غوسه یم چې مولانا یې را نه اخیستی، له بل پلوه مې زړه غواړي چې هغه ښه وپېژنم. له ډېرې مودې د احساس په دې کړکیچ کې را ګیر یم. خو ګمان کوم نن خبره ورانه شوه.

مازدیګر مې قرآن را کښته کړ او د دیوازې لوستو تکل مې وکړ. پخوا به ما او رومي د قرآن ایاتونه داسې لوستل چې کوم یو لومړی نازل شوی او بیا هغې پسې څه نازل شوي. نر اوس مو چې ژوند ګډوډ شوی د قرآن لوستل له ترتیبه پرته لولم. یو په یو مې ګوته په یوه ایت ودرېده. هغه د نسا سورت و. په ټول قرآن کې مې د همدې سورت له پوهېدو سره





ستونزه درلوده. د ښځو په اړه سختې پکې وه، ما ته يې منل ګران وو. د دې سورت په يو ځل بيا لوستو سره د مرستې غوښتنه زړه ته را ولوېده. مولانا خو زما سره درسونه درولي، پوښتنو ته خو به څه نه وايي. قرآن مجيد مې راسره واخيست او د ده خونې ته ورغلم. خو مولانا هلته نه و، پر ځای يې شمس د کړکۍ خوا ته ناست و او تسبيح يې اړولې. د لمر تلونکې وړانګې يې پر مخ برېښېدې. دومره ښايسته مالومېده چې ما له حيا سترګې کښته واچولې.

په منډه مې وويل "بښنه غواړم، ما مولانا لټاوه، زه به وروسته را شم."

شمس وويل "بېره په څه کوې، پاتې شه. داسې ښکاري چې کومه پوښتنه لرې. ښايي زه مرسته در سره وکړی شم."

ما ته د ده وړانديز عجيب نه و "په قرآن کې يوه سورت دی، له پوهېدو سره يې ستونزه لرم."

شمس وپسېده لکه له ځان سره چې خبرې کوي. "قرآن لکه شرمناکه ناوې داسې دی. خپل مخ هغه وخت لوڅوي چې د کتونکي نرم او مهربان زړه ووينې. ښه نو کوم سورت دی؟"

ما وويل "النساء. په دې سورت کې يو ځای راغلي چې سړي تر ښځو برتر دي، ان تر دې چې مېړونه خپلې مېرمنې وهلی شي."

"رښتيا وايې؟"

د شمس پوښتنه جدي وه. نه پوهېدم چې ما څوروي او که په ريښتيا حيران و. له يوې شېبې چوپتيا وروسته يې له ذهنه سورت قرائت کړه. "سړي د ښځو پالونکي دي په دې چې الله ځينې له نورو غوره کړي او په دې چې خپله شتمنې مصرفوي. ښې ښځې به همدې فرمان وړونکې دي له هغه پټ څه ساتنه کوي چې الله ساتلي او له هغو چې د بې وفايي وېره ځې نصيحت ورته وکړئ، او په بستر کې يې يوازې پرېږدئ او وېې وهئ. که بې اطاعت وکړ بيايې غندنه پرېږدئ. په يقين سره الله لوی او عظيم دی."

شمس له ویلو وروسته سترګې پټې کړې او دا ځل یې د همدې سورت ژباړه بل ډول وکړه.

"تارینه د ښځو ملاتړي دي هغسې چې خدای دوی ته له نورو ډېر وس ور کړی او په دې چې خپله شتمني په دوی لګوي. نو هغه ښځې چې نېک عمله او د خدای فرمان وړونکي دي او له هغه پټ څه ساتنه کوي چې خدای یې ساتنه کړې. او هغه ښځې چې ستا په اند بېزاره دي، په ساده ګی خبرې ور سره وکړه. بیا یې په بستر کې یوازې پرېږده (له لاس وهلو پرته) او بستر ته ورسره ولاړ شه (کله چې دوی راضي وي). که یې زړه درته پرانیست د ملامتېدو لپاره یې پلمې مه لټوه. په یقین سره خدای اعلی او عظیم دی."

شمس وپوښتل "د دواړو ترمنځ دې توپیر ولید؟"

ما وویل "هو ومې لید. ټوله محتوا یې توپیر لري. لومړی داسې برېښي چې متاهلو نارینوو ته د ښځو وهلو اجازه ورکوي، خو وروستی وایي چې یوازې ترې څه. فکر کوم توپیر یې لوی دی. دا ولې؟"

شمس زما پوښتنه تکرار کړه "دا ولې؟ کیمیا را ته ووایه، کوم وخت دې په سیند کې لمبلي؟"

ما سر وښوراوه. په ماشوموالي مې د تاوروس د غرو ساړه تنده ماتوونکي لښتي را یاد شول. له خپلې خور او همزولو سره به لښتي ته تلو. څه وختونه وو. مخ مې بل پلو کړ چې شمس مې اوښکې ونه ویني.

"له لرې چې اوبو ته ګورې کیمیا، داسې به وایې چې اوبه یو لوري ته ځي. خو اوبو ته چې ور ګډه شې د اوبو په نورو خوځښتونو به پوه شې. په اوبو کې څو ډوله بهېدل پټ دي. له یو بل سره په ټکاو کې دي خو له یو بل جلا دي."

له دې سره شمس تبرېزي را نژدې شو زما زنه یې په دوو ګوتو کې ونیوله. زه یې د خپلو سترګو کتو ته اړه کړم. زړه مې په درېدو شو.

"قرآن روان سين دی. هغوی چې له لرې ورته ګوري يوازې يو خوځښت يې ويني. هغوی چې پکې لامبي څلور ډوله بېدل ليدی شي. د بېلابېلو کبانو په څېر، په موږ کې يو شمېر د اوبو سر ته نژدې لامبي نور په ژورو اوبو کې خوځېږي."

ما ورته ويل په مطلب يې پوه نه شوم. هغه زياته کړه "هغوی چې د اوبو سر ته نژدې لامبي د قرآن په بهرنۍ مانا اکتفا کوي. ډېر خلک داسې دي. هغوی يې لفظ په لفظ مانا کوي. د نسا سورت په شان ځای چې لولي داسې ګڼي ګواکې نارينه له ښځو برترې لري. دا هغه څه دي چې دوی يې ليدل غواړي."

ما د نورو بېدنو په اړه وپوښتل.

شمس ارام اسوېلی وايست "درې نورې بېدنې دي. دوهمه له لومړۍ ژوره ده خو د اوبو سر ته نژدې ده. څومره دې چې پوهاوی زياتېږي هغومره قرآن ته نژدې کېږي. خو د دې کار لپاره بايد اوبو ته ور ټوپ کړې."

په خبرو يې ډکېدم او تشېدم. ترې ومې پوښتل "که ورټوپ کړې بيا څه کېږي؟"

"دريمه بېدنه باطني يا محرم لوستل دي. که د زړه سترګه پرانيځې او النسا ولولې پوه به شې چې دا سورت د نر او ښځې په اړه نه د نارينتوب او ښځېتوب په اړه دی. زما او ستا په ګډون په موږ کې دواړه يعنې نارينتوب او ښځېتوب شته خو په بېلابېله کچه او رنګ. کله چې دواړه اړخه خپل کړو بيا د توحيد هوساينې ته رسېږو."

"تو ته وايې په ما کې نارينه رګ شته؟"
"هو بالکل، او په ما کې ښځينه اړخ شته دی."
خپله خندا مې پټه نشوای کړی "په رومي کې هم؟"
"هو په هر سړي کې ښځينه رګ موجود دی."

د وړې نجلۍ په شان مې خندا له شرم سره ملګرې وه. دا له شمس سره د نژدې کېدو اغېز و. د ده تر څنګ مې خپله پیلسته څوانۍ حس کړه. خو ور سره مې د موروللی احساس هم وکړ. غوښتل مې چې ساتنه یې وکړم، خو نه پوهېدم څنګه او له څه شي.

شمس خپل لاس زما په اوږه کېښود. مخ یې دومره نژدې و چې د سا تودوالی مې حس کړ. په سترګو کې یې نوی رنګ و. زه د هغه په ولکه کې وم. زما مخ یې د خپلو ګوتو په سر لمس کړ، زما پر پوستکي لکه د اور مرې لمبې ولګېدې. بیا یې ګوتې زما په شونډو ولګېدې. سترګې مې پټې کړې او د ټول ژوند هیجان مې پر یوه ځای حس کړ. خو ډېر ژر یې لاسونه لرې کړل.

په ارامه یې را ته وویل "اوس نو ورځه ګرانې کیمیا."
زه ووتم. سر مې ګرځېده او مخ مې لکه اور سور شوی و.
په خپله خونه کې په بستر وغځېدم. پښتول ته مې کتل، که شمس مچو کړې څه احساس به ولرې. ناڅاپه را یاد شول چې د اوبو د څلورمې بهېدنې په اړه مې ونه پوښتل، د قرآن ژور لوستل. هغه څه و؟ څرنګه به یو کس دومره ژورو ته ورسېږي؟ او هغوی چې ورټوپ کړي څه وریېښ شوي؟

## سلطان ولد

قونیه د سپتمبر څلورمه ۱۲۴۵

د مشر ورور په توګه زه تل علاوالدين ته اندېښمن وم خو دومره نه چې اوس يم. له ماشوموالي بدخويه و. اوس نور هم لانجمن شوی او ډېر ژر غوسه کېږي. هرڅه ته غبرګون ښيي. اولس کلن دی خو د سترګو په څنګونو کې يې د غوسې له امله ګونځې راغلي.

د پسه پر څرمن مې ليکنه کوله چې تر شا مې د پښو غږ واورېد. علاوالدين و، شونډه يې تر غاښ لاندې کړې وه. خدای خبر چې څومره وخت به هلته ولاړ و او ما ته يې کتل. پوښتنه يې وکړه چې څه کوم.

"د پلار يوه پخوانۍ وينا ليکم. ښه ده چې د هر يوه يې يو بل نقل هم وي."

"ګنه يې څه ده؟ پلار ويناوې او وعظونه بس کړي. که خبر نه يې اوس په مدرسه کې هم درس نه ور کوي. نه وينې چې خپلې ټولې دندې يې يوې خوا ته کړې؟"

ما ورته ووېل "دا چارې لنډ مهالې دي. ډېر ژر به ښوونه له سره پيل کړي."

"ته خان غولوې. نه ګورې چې پلار مو له شمس پرته بل شي يا کس ته وخت نه لري؟ د خندا وړ ده. دا سړی بايد سرګردانه ملنګ وی، خو زمونږ په کور کې يې ځان ټينګ کړی."

CamScanner

علاوالدین له ما غوښتل چې د خبرو پخلی یې وکړم. خو ما څه ونه ویل او هغه په خونه کې قدم وهل پیل کړل. غوسه یې له ورایه مالومېده.

"خلک خبرې کوي. ټول همدا یوه پوښتنه کوي: یو دروند عالم څنګه د یو ملحد تر دم لاندې راتلی شي؟ د پلار نوم مو د واورې په شان دی چې لمر ته وېلې کېږي. که ځان سم نه کړې، هېڅکله به بیا په دې ښار کې زدکوونکي ونه مومې. هېڅوک به هغه د استاد په صفت و نه مني. ګرم هم نه دې."

ما خپله لیکنه یوې خوا ته کړه او خپل ورور ته ځېر شوم. هغه لا هم هلک و خو خبرو او حرکات یې ښوده چې د سړیتوب مدار ته ننوځي. له تېر کال راهیسې ډېر بدلون پکې راغلی، داسې مې وېټبله چې مثین شوی به وي. خو دا نجلی به څوک وي، ما نه دی او نه یې نژدې ملګري را ته وایي.

"وروره، مالومیږي چې له شمس سره دې نه لګي. خو هغه زموږ مېلمه دی او موږ یې باید درناوی وکړو. د خلکو خبرو ته پام مه کوه. ضرور نه ده چې له دې خبرې کیسه جوړه کړو."

د خپلو خبرو په امرانه انداز پښېمانه شوم. علاوالدین لکه وچ لرګی ډېر ژر اور اخلي. په غوسه یې وویل "کیسه؟ ته ناورین ته کیسه وایې؟ څنګه دې سترګې پټولی شې؟"

ما د پوستکي یوه بله ټوټه را واخیسته. د پلار د الفاظو له کاپي کولو مې تل خوند اخیست. د هغوی له پاېښت سره مې مرسته کوله. که سل کاله هم تېر شي بیا به هم خلک زما د پلار لاربښوونې ولولي او یوه څه به ترې زده کړي. په دې لوی کار کې پخپله وړه ونډه ویاړېدم.

علاوالدین خپلو ګیلو ته دوام ور کړ. زما څنګ ته ولاړ و او زما کار یې کوت. سترګې یې له غوسې اېشېدلې. یوه شیبه مې د هغه په سترګو کې د پلار مینې ته د یوه هلک ارتیا ولیده. پوه شوم چې شمس ته نه پلار ته غوسه دی.

علاوالدین زما پر پلار غوسه و چې هغه ته یې بشپړه مینه نه ور کوله. پلار مې خانګړی او نامتو و، خو د مور له مرګ سره د هغه مینه له زامنو سره دوه برابره نه شوه.

علاوالدین وویل "خلک وایي شمس زموږ پر پلار کودې کړې. وایي وژونکو را استولی."

ما ورته وویل "وژونکي؟ دا چټیات دي."

وژونکي یوه ډله وه چې د وژلو چارې یې خانګړې وې، خلک به یې په زهرو وژل. مخور خلک به یې په عام محضر کې په نښه کول چې د خلکو په زړونو کې وېره واچوي. دوی ان د اسلام لوی فاتح صلاح الدین ایوبي ته په خیمه کې زهرجن کېک ایښی و او تر څنګ یې لیکي وو، ته زموږ په ولکه کې یې. صلاح الدین د اسلام غښتلی پوځي مشر چې صلیبیان یې مات کړل او یوروشلم یې ازاد کړ له وژونکو سره له جګړې وېرېده او سوله یې ور سره وکړه. خلک څنګه شمس له داسې ترهګرې ډلې سره تړلی شي. لاس مې د علاوالدین پر اوږه کېښود او د هغه نظر مې خان ته کړ. "خبر نه یې چې دا ډله له پخواني زور لوېدلې، اوس یې یوازې نوم پاتې دی."

علاوالدین په دې شونتیا فکر وکړ "هو، خو خلک وایي د حسن صباح درې ژمن کوماندانان وو. هغوی د الموت ماڼۍ پرېښوه او د ترهګرۍ د خورولو هوډ یې وکړ. وایي شمس یې مشر دی."

زما حوصله زیاتي په ختمېدو وه. "خدایه مرسته را سره وکړې. ویلی شې دا حسن صباح نومی ته به زموږ د پلار وژنه څه ور کړي؟"

"هغوی له مهمو خلکو کرکه لري او غواړي ګډوډي جوړه کړي، په دې خاطر." علاوالدین په کلکه پر دې ګونګوسو باور درلود.

پوهېدم چې دا خبره باید په احتیاط سره قابو کړم. "ګوره، خلک تل هر ډول خبرې کوي. باید دا ناوړه ګونګوسې ریښتیا ونه ګڼې. ذهن دې له دې ډول زهرجنو فکرونو وژغوره. ښایي شمس دې خوښ نه وي، خوښولو ته یې اړتیا هم نه لرې، خو د پلار په خاطر ضرور ده چې درناوی یې وکړې."

علاوالدین په وچ نظر را وکتل. یوه شوم چې زما وړوکی ورور یوازې له پلار خپه نه و او په شمس غوسه نه و، له ما یې هم تمه شلېدلې وه. ښایي هغه په دې فکر کې و چې زه غواړم د پلار پام ځان ته کړم. دا زما یوازې شک و خو په کلکه یې دردولم.

خو بیا هم پرې نشوی غوسه کېدی. که غوسه شوی هم وی ډېر وخت به نه وم. هغه زما وړوکی ورور و. ما ته به تل هغه وړوکی هلک وي چې د کوڅو پیشوګانو پسې به یې ځغستل، پښې به یې د باران په اوبو کې په ختو لړلې او په مستو لړلې ډوډی به یې ټوله ورخ خوړله. هېڅکله مې د هغه ماشوموالی نه هېرېده. د مور د مړینې پر خبر یې اوښکه تویه نه کړه. یوازې یې خپلو پښو ته کتل، تا به ویل په خپلو بوټانو شرمېږي. نه یې ژړل نه یې یوه خبره له خولې ووته. کاشکې یې ژړلي وی.

ما ورته وویل "په یاد دې دي چې د ګاونډیو له ماشومانو سره دې جګړه وکړه. کور ته په ژړا راغلې او پزه دې وینې وه. مور مې څه درته وویل؟"

علاوالدین په فکر کې لاړ چې وریاد کړي خو څه یې و نه ویل.

"هغې در ته وویل، که له چا سره دې شخړه شوه په خپل ذهن کې د داسې چا مخ د هغه په مخ کېږده چې پر تا ګران دی. تا کله د شمس د مخ پر ځای د مور مخ ایښی؟ کېدای شي د خوښولو لپاره څه پکې ومومې."

غوسه یې له غېږ بېله شوې وه، ویې ویل "ښایي وکولی شم."

زړه مې اوبه شو. غېږ مې ور کړه، نه پوهېدم نور څه ورته ووایم. هغه هم په غېږ کې ټینګ کړم. داده شوم چې له شمس سره به اړیکې ورغوي او کور کې به ډېر ژر سم سمکی را شي. خو زه په خپل باور کې تېروتلې وم. ځکه له دې وروسته د پېښو نوې لړۍ راغله.

# کيرا

## قونيه د اکتوبر دوه ويشتمه ۱۲۴۵

هغه بله ورځ د بند وره تر شا شمس او رومي د خدای په هلکه خوندورې خبرې کولې. ما ور وتېکاوه او له څواب اوریدو مخکې له يو قاب حلوا سره ننوتم. زما چې پام شو، نو شمس خبرې نه کوي لکه زه چې هغه غلی کوم. زما پر پخلي خبرې نه کوي. هسې هم ډېر څه نه خوري. زه وايم که خوندور خواړه پاخه کړم او که وچه ډوډۍ ورکړم ده ته به پروا ونه لري. خو دا ځل يې چې زما حلوا وڅکله سترګې يې رڼا شوې.

"کيرا ډېره خوندوره ده. څرنګه دې پخه کړه؟"

خو د دې پرځای چې د هغه له نېک نظره مننه وکړم ما وچ ورته وويل "ولې پوښتنه کوې؟ که درته ووايم هم پخولی يې نشې."

شمس زما سترګو ته وکتل او سر يې وښوراوه لکه زما د خبرې پخلې چې کوي. زه غوړ وم چې څه به ووايي، خو هغه پټه خوله پاتې شو.

لږ وروسته پخلنځي ته ولاړم او پر دې مې لا فکر هم نه کاوه، خو که د نن سهار پېښه نه وی په ياد کې به مې نه وه پاتې.

په پخلنځي کې مې کوچ ويلې کول چې په حوېلی کې مې عجيب شان ته غږونه واورېدل. بهر ته مې منډه کړه. د نه منلو حال مې وليد. هر لوري ته کتابونه وو، سر پر سر لکه برجونه. يو شمېر نور يې د اوبو په ډنډ کې پراته وو. اوبه د کتابونو له رنګه شنې شوې وې.

مولانا هلته ولاړ و، شمس یو کتاب را واخیست "د متنبي د اشعارو دېوان" په یوه نظر یې ورته وکتل بیا یې اوبو ته خطا کړ. هغه کتاب لا ډوب شوی نه و چې بل یې را وخیست. دا ځل د عطار اسرارنامه وه.

زه وچه کلکه هېښه شوم، د مولانا د خوښې کتابونه یو یو له منځه وړي. بل کتاب چې د اوبو په لور روان و د رومي د پلار علوم الهي و. مولانا ته د پلار لیکنې ډېرې گرانې وې. ما ویل رومي به له غوسې وچوي، خو هغه سپین تنبې مخ ولاړ و، لاسونه یې لړزېدل. زه حیرانه وم چې ولې څه نه وایي. همدې سړي یو ځل د دې کتابونه په پاکولو ماته سپکې سپورې وویلې، اوس یې یو لېونی له منځه وړي، خو دی ورته گوري. که رومي څه نه وایي زه به یې مخه ونیسم. "څه کوې؟ د دې کتابونو بل نقل نشته. ډېر با ارزښته دي. ولې یې په اوبو کې غورځوې؟ ماغزه دې خراب شوي؟"

ما ته یې ځواب را نه کړ، رومي ته یې مخ ورواړه "ته هم داسې فکر کوې؟"
مولانا په شونډو کې موسکی شو خو څه یې و نه ویل.
ما په خپل مېړه نارې کړې "ولې غږ نه کوې؟"

رومي را نژدې شو. زما لاس یې په خپل لاس کې ټینګ کړ. " کیرا غلې شه ، زه په شمس باور لرم."

شمس ما ته یو نظر وکتل، لستوڼي یې بډ وهل او کتابونه یې له اوبو وویستل. هېښه شوم، هر یو کتاب لکه هډوکی وچ و.

ما وپوښتل "دا جادو ده؟ دا دې څرنګه وکړل؟"
شمس وویل "ولې پوښتنه کوې؟ که درته ووایم هم ته به یې ونشې کړی."
له غوسې لړزېدم. پخلنځي ته مې منډه کړه. په دې ورځو کې زما د هوساینې ځای هماغه دی. هلته د مسالو، دیګونو او کاسو په منځ کې کېناستم او له زړه مې وژړل.

# رومي

## قونیه ډسامبر ۱۲۴۵

زه او شمس د سهار له لمانځه وروسته تر شنه اسمان لاندې پر مصله (لمنځی) ناست وو. په سپېده چاود مو پر اسونو پښې واړولې. پر ویالو او کروندو را تېر شوو. د سهار سوړ باد مو پر مخ لګېده. د کرونګرو پر کوډلو مینځل شوي کالي ځړېدل.

په راتګ کې شمس د اس قبضه راټینګه کړه او له ښار د باندې له لوی چنار (ونې) سره تم شوو. له ښار د اذان غږ راغی. شمس خپل پوستین پر ځمکه خور کړ او دواړو لمونځ پرې وکړ.

شمس وویل "لوړی ځل چې قونیه ته راغلم د دې ونې لاندې کېناستم. یو کلیوال په خپله رېړۍ کې ځای را کړ. هغه ستا کلک پلوي و، ویل یې ستا وعظ د خپګان درمل دی."

ما وویل "خلکو به د خبرو جادوګر بللم. خو اوس هغه وختونه څومره پخوا مالومېږي. نور نه غواړم وعظ وکړم. لکه خبرې مې چې خلاصې وي."

"اوس هم د خبرو جادوګر یې، خو د واعظ ذهن پرځای اوس ویاند زړه لرې."

په خبر یې پوه نه شوم او نه مې د وضاحت غوښتنه وکړه. زموږ نه لرې په ښار کې خلک په ویښېدو وو. کارغان د سبزیو په باغچو کې کښته کېدل او خپل رزق یې لټاوه. دروازې په خلاصیدو وې، خره ونګېدل، له کورونو لوګي وتل، خلکو نوې ورځ پیلوله.

CamScanner

شمس وويل "خلک په هر ځای کې ځان ته د بسياينې هڅه کوي، خو له لارښوونې پرته. ستا خبرې مرسته ور سره کوي. زه به تر خپل وسه مرسته در سره وکړم. زه دې خدمتگار يم."

ما وويل داسې مه وايه، ته زما ملگری يې.

شمس زياته کړه "زما يوازينۍ اندېښنه د هگۍ هغه پتوکی دی چې ته پکې اوسېدې. د يو مخور واعظ په توگه دې پلويان درنه چاپېر وو. خو عام خلک څومره ښه پېژنې؟ نشه يان، دروېزگر، غله، رنډۍ، قماربازان، هغوی چې ترحم پرې نه کيږي او د ټولنې له نظره لوېدلي. ايا د خدای ټول مخلوق سره مينه کولی شو؟ يو گران ازماېښت دی، ډېر لږ کسان پکې بريالي کېږي."

په خبره کې يې د خواخوږۍ او ترحم نښې مالومېدې.

ما ورته وويل "رښتيا وايې. زما ژوند تل خوندي و. زه د عامو خلکو په ژوند نه يم خبر."

شمس يو موټی خاوره پورته کړه او بيا يې د گوتو له منځه خاوره توېېده. هغه زياته کړه "که ټوله نړۍ له توپيرونو او تضادونو سره يو ځای په غېږ کې ونيسو، په توحيد کې به هرڅه سره راغونډ شي." له دې سره شمس د ونې يوه وچه څانگه پورته کړه او د چنار له ونې يې پر ځمکه دايره وکښله. بيا يې لاسونه اسمان خوا ته کړل لکه د يو نه مالومېدونکي پېړي په مرسته چې پورته خېژي. د پروردگار ۹۹ نومونه يې يادول. په عين حال کې يې د دايرې په منځ کې تاوېدل پيل کړل، په سر کې ورو خو وروسته چټکېده. دومره تېز شو تا به ويل گرډولی توپان دی. د ده خوځښت دومره خير کړم ما ويل ټوله دنيا، ځمکه، ستوري او مياشت ټول ور سره څرخي. ما دا عجيبه نڅا کتله چې انرژي يې زما بدن او روح دواړه سره وپوښل.

وروسته بيا شمس کرار شو او ودرېد. تېتر يې له ستومانۍ کښته پورته کېده. د مخ رنگ يې سپين تښتېدلی و، غږ يې دروند و لکه له لرې ځای چې راغلی وي. "کاينات ټول يو دي. هر څه او هر يو سره په نه ليدونکي جال کې نښتي. که موږ پرې خبر يو که نه خو؟

په خوله له يو بل سره خبرې کوو. له چا سره بد مه کوه. د مهرباني تمرين وکړه. د چا غيبت مه کوه، که هغه يوه وړه او بې ارزښته خبره هم وي. ستا له خولې چې خبرې را وځي له منځه نه ځي، د تل لپاره په فضا کې خوندي کېږي او بيا يوه ورځ بېرته را ګرځي. د يو سړي درد مونږ ټول دردوي. د يو سړي خوښي ټولو ته موسکا ور کوي. دا له څلوېښتو قاعدو يوه ده."

بيا يې سترګې ما ته واړولې. د سترګو په بې تله ژورو کې يې د ناهيلي سيوري خور و. داسې خپګان چې مخکې ما نه و ليدلی.

"يوه ورځ به ته د مينې د غږ په نوم وپېژندل شې. په لوېديځ او ختيځ کې به خلک ستا له غږ الهام اخلي."

ما وپوښتل "دا څنګه؟"

ځواب يې را کړ "ستا په الفاظو. خو زما مطلب ستا ويناوې او وعظونه نه دي، ستا شاعري ده."

"شاعري؟ خو زه شعر نه ليکم، زه عالم يم."

دې خبرې د شمس پر مخ موسکا را وسته "ته به ملګريه د نړۍ تر ټولو مهم شاعر يې."

غوښتل مې ورسره ويې نه منم، خو د هغه د سترګو قاطعيت زه غلی کړم. و مې نه غوښتل بحث ور سره وکړم. "چه هرڅه وي دواړه به يې په ګډه کوو. زمونږ دا مزل ګډ دی."

شمس سر وښوراوه او يوه شيبه غلی شو. د طبيعت د رنګونو بدلون ته يې کتل. بيا يې داسې بد شګونه خبرې وکړې چې هېڅکله مې له ياده نه ولاړې او زما روح يې د تل لپاره وېراوه. "که څه هم زړه مې غواړي، خو په دې لار کې ته يوازې يې."

ما وپوښتل "په مطلب دې پوه نه شوم. ته چېرې ځې؟"

پر شونډو يې يوه ځېرکه ګونځه راغله "زما په لاس کې نه ده."

یو ناڅاپه باد زموږ په لور وچلېد، هوا ور سره سره شوه، لکه یو خبرداری چې مني به ډېر ژر ختم شي. له شنه اسمانه د باران یو څو څاڅکې توېې شول، د پتنګ د لمس په شان نرم وو. دا لومړی ځل و چې د شمس د تګ فکر مې په سینه کې لکه یو بربنس په درد شو.

# سلطان ولد

## قونیه ډسمبر ۱۲۴۵

خلکو ته به غورې وي خو د ګونګوسو اورېدل مې خوروي. څنګه خلک له یوې خبرې چې ډېر لږ پرې پوهېږي دومره کرکه او نفرت کولی شي؟ که وېرونکې نه وي هېښونکې ده چې خلک څومره له حقیقته لرې دي. هغوی د شمس او زما د پلار ترمنځ د اړیکې په ژورتیا نه پوهېږي. مالومېږي چې قرآن یې نه دی لوستلی. که یې لوستلی وی خبر شوي به وو چې په قرآن کې د ملتیا ورته کیسې شته، لکه د موسی ع او خضر ع.

په الکهف سورت کې واضح راغلي. موسی ع یو ځانګړی شخصیت و او یوه ورځ یې د پیغمبری وړتیا درلوده. تر څنګ یې د ښه پوځې مشر او قانون جوړونې وړتیا هم. خو داسې وخت هم و چې هغه د خپلې دریمې سترګې د پرانیستلو لپاره یوه روحاني ملګري ته اړ و. هغه ملګری د ناهیلو او زړه ماتو غمخوار خضر ع نه پرته بل څوک نه و.

خضر موسی ته یې وویل "زه ټول عمر په سفر کې یم. خدای زه ګمارلی یم چې په ټوله نړۍ وګرځم او هغه څه ترسره کړم چې اړتیا یې وي. که غواړې زما سره په سفر کې ملګری شې، زما د کړو پوښتنه به نه کوې. د دې وس لرې چې زما ملګری شې او پوښتنې ونه کړې؟ ته پر ما بشپړ باور لرې؟"

موسې داډ ور کړ، "هو کولی شم. پرېږده چې در سره ملګری شم. ژمنه کوم زه به کومه پوښتنه ونه کړم."

دوی خپل سفر پیل کړ. په لار کې یې بیلابیل ښارونه ولیدل. څو کله چې موسی د خضر بې احساسه چلن ولید لکه د یو وړوکي هلک وژل او د بېړۍ ډوبول ژبه یې ونشوی نیولی. "دا بد کارونه دې ولې وکړل؟"

خضر ور غبرګه کړه "ستا ژمنه څه شوه؟ ویلي مې نه وو چې پوښتنې نشې کولی؟"

هر ځل چې موسی ښښنه غوښته او د نه پوښتلو ژمنه یې کوله بیا یې خپله ژمنه ماتوله. په اخر کې خضر د خپل چلن لامل ورته وویل. موسی په کراره پوه او داده شو چې ښایي کوم شیان په ظاهر ناوړه او ناسم ویرېښي په اصل کې سم وي. او هغه چې ښایي سم مالوم شي په اوږد مهال کې مضر وي. له خضر سره د هغه لنډه ملتیا د موسی په ژوند کې تر ټولو لویه زدکړه وه.

په دې نړۍ کې داسې ملګرتیاوې شته چې عامو خلکو ته د پوهېدو وړ نه دي خو په اصل کې د ژورې پوهې او لید مجراوې دي. زه د خپل پلار په ژوند کې شمس همداسې ګڼم.

خو پوهېږم چې نور خلک په دې سترګه ورته نه ګوري او زه ورته اندېښمن یم. له بده مرغه شمس هم خلکو ته د هغه د منلو چانس نه ور کوي. د انګړ په دروازه کې په شرموونکې او ګوابنونکي حالت کښېني، هر هغه سړی چې غواړي زما له پلار سره وګوري دروي او پوښتنې ترې کوي.

هغه خلکو ته وایي "ستر مولانا د څه لپاره وینې؟ کومه ډالۍ دې ورته راوړې؟"
خلک نه پوهېږي څه ووایي، په خبرو کې بندېږي ان ښښنه غواړي. شمس یې بېرته ستنوي. ځینې دا خلک یو څو ورځې وروسته له سوغات سره راستنېږي، وچه مېوه، د سپینو زرو درهمونه، د وریښمنو غالۍ راوړي او یا وري راولي. خو د دې سوغاتونو په لیدو شمس نور هم په غوسه کیږي. تورې سترګې یې په اور بدلېږي، مخ یې له غوسې سره اوړي خلک بیا شړي.

CS CamScanner

یوه ورځ یو سړی شمس ته غوسه شو او ناري یې کړې "ته په کوم حق د مولانا ور بندوې. ته له نورو پوښتنه کوې چې څه دې راوړي. تا هغه ته څه راوړي؟"

شمس په لوړ اواز ور ته وویل "ما ځان ورته راوړی. ما مې سر ترې قربان کړی."

سړي شا ور واړوله او ځان سره په خوسمېدو شو. له غوسې نه یې هېښتیا ډېره شوه.

په هماغه ورځ مې شمس وپوښت چې د ده په اړه د خلکو غلط فکر دی خوروي که نه. زړه او نازړه مې ورته وویل چې ډېر خلک یې د ځان دښمنان کړي.

شمس تش را ته وکتل لکه زما په خبره چې نه وي پوه شوی. راته ویې ویل "خو زه دښمنان نه لرم. د خدای پر مینانو نیوکې کېږي او سیالان هم لري خو دښمنان نشي درلودی."

ما اعتراض وکړ "سمه ده، خو ته له خلکو سره شخړه کوې."
شمس په کلکه وویل "زه له هغوی سره شخړه نه کوم. د خپل ځان په اړه کوم پړسبدلی تصور چې لري زه له هغو سره شخړه کوم. دا له دې سره توپیر لري."

بیا یې په کراره زیاته کړه "دا له څلوېښتو قاعدو یوه ده. دا نړۍ لکه واورین غر دی چې ستا غږ در غبرګوي. که ښه وایې که بد، یوه ورځ به بېرته در ګرځي. له همدې امله که یو کس ستا په اړه بد فکر لري، که د هغه په اړه ته هم ورته بدې خبرې وکړې حالت به نور هم خراب شي. د بدغونې انرژۍ په حلقه کې به راګبر شې. ښه به دا وي چې څلوېښت شپې او ورځې د هغه سړي په هکله ښه فکر او ښې خبرې وکړې. په اخر کې به هرڅه بدل وي، په دې چې ستا د ننه به بدلون راغلی وي."

ما ورته وویل "خو خلک ستا په اړه هر ډول خبرې کوي. دوی ان وایي چې د دوو سړیو ترمنځ دومره نژدې والی به خامخا د نا ویلې اړیکې له امله وي." غږ مې په اخر کې په لوېدو شو.

د دې په اورېدو شمس زما پر مټ لاس کېښود، په خندا شو. بیا یې یوه کیسه را ته وکړه.

دوه سړي له یوه ښار بل ښار ته تلل. یوه لښتي ته ورسېدل چې ورښت یې اوبه جګې کړې وې. د اوبو نه له پورې وتو مخکې یې یوه ولاړه ځوانه او ښایسته مېرمن یوازې ولېده چې مرستې ته اړه وه. له هغوی یو ورغی او مېرمن یې په خپله غېږ کې پورته کړه او له اوبو یې پورې ایسته. مخه ښه یې ور سره وکړه او دواړه سړي په خپله لار روان شول. د مزل په پاتې لار کې دوهم سړی غلی او غوسه مالومېده، د خپل ملګري پوښتنو ته یې ځواب نه وایه. له څو ساعته چوپتیا وروسته د دوهم سړي حوصله ختمه شوه او ویې پوښتل "ولې دې هغې ښځې ته لاس وروړ. ستا شهوت یې پارولی شوی. نر او ښځه یو بل ته دومره نژدې کیدی نشي."

لومړي سړي په ارامه ځواب ورکړ "ملګریه، ما هغه ښځه له اوبو پورې ایسته او هلته مې پرېښوه. هغه ته یې چې تر اوسه یې له ځان سره ګرځوې."

شمس وویل "ځینې خلک همداسې دي. دوی خپله وېره او تعصب پر اوږو وړي او د هغه له درونوالي ستومانه دي. که دې واورېدل چې یو کس زما او ستا د پلار د اړېکې په ژوروالي نه پوهېږي، هغه ته ووایه چې خپل ماغزه ومینځي."

# بدلمنه صحرا گله

## قونیه جنوري ۱۲۴۶

د جومات له ییښې وروسته مشرې زما پر بهر وتو د تل لپاره بندیز لگولی. خو زه خواشینې نه یم. په واقعیت کې زه بې حسه شوې یم.

په هنداره کې مې هر سهار د مخ رنگ تر پخوا سپین تښی مالومېږي. وېښتان مې نه رمنځوم او پر مخ سرخې نه وهم. نورې نجونې زما د خبرې په اړه شکایت کوي چې مېلمانه ترې بېزاره کېږي. ښایي د دوی خبره رېښتیا وي. هغه بله ورځ بو مېلمه ټینگار کاوه چې ما وويني.

زما له بد قسمته بابر و.
گله چې په خونه کې یوازې شو ما ترې وپوښتل "ستا په شان امنیت ساتی دلته څه کوي؟"
هغه وویل "رندۍ خانې ته زما راتگ جومات ته د بوې رندۍ له تگ هېښوونکی نه دی."
ما وویل "پوهېږم چې هغه ورځ دې زما وژلو ته اېښې وه. زما ژوند شمس تبریزي وژغوره."
"دا ناوړه نوم ما ته مه اخله. هغه ملحد دی."
ما وویل "نه نه دی. له هغې ورځې وروسته شمس خو خلې زما لیدو ته راغلی."
"نه نو ملنگ په رندۍ خانه کې. ولې د حیرانتیا خبره نه ده؟"
"خو داسې نه چې ته یې فکر کوې. داسې څه مو ترمنځ نشته."
دا خبره ما چا ته نه وه کړې. نه پوهېږم ولې مې بابر ته وکړه. خو شمس له تېرو څو میاشتو هره اونۍ زما لیدو ته راته. پوه نه شوم چې څرنگه به د ننه راغی. چا نه لیده ان مشرې نه شو لیدلی. نور به خامخا وایي چې د کوډو په زور یې دا کار کاوه. خو زه داسې نه وایم. هغه ښه سړی دی. تقواداره دی او ځانگړې ورتیاوې لري.

په ماشوموالي له مور پرته یوازې شمس بې شرطه مهرباني را سره کړې. هغه راښوولي چې هېڅکله ناهیلې نشم. ما به چې ویل زما په شان کس ته د تېر جبران نا ممکن دی. هغه به له خپلو قاعدو یوه را ته ویله: تېر یو تعریف دی او راتلونکی یو خوب. نړۍ له وخت سره په مستقیمه کرښه نه ده روانه. په اصل کې وخت په موږ کې د ننه تېرېږي، له تېر نه راتلونکي ته اوړي. وخت په موږ کې د ننه تاو تاو تېرېږي. ابدیت د لایتناهي وخت په مانا نه دی، هغه یوازې د وخت نشتون دی. که غواړې ابدي روښنایي تر لاسه کړې، تېر او راتلونکی له ذهنه وباسه او په حاضر کې پاتې شه.

شمس به تل را ته ویل "ګوره، یوازې حاضر در سره دی او تل به در سره وي. که دا واقعیت خپل کړې له هېڅ شي به نه وېرېږې. بیا به له دې رنډی خانې د تل لپاره ووځې."

بابر زما مخ ته خیر و. ما ویل ښه به دا وي چې له شمس سره نورې خبرې ونه کړم. هغه ته مې یو ګیلاس بیر ور کړل. په بیړه یې وڅښل. له دوهم ګیلاس څښلو وروسته یې را ته وویل "تو ستا څانګړتیا څه ده؟ تاسې نجونې کوم استعداد نه لرئ لکه د ګډې نڅا؟"

ما ورته وویل چې زه داسې ځانګړې وړتیا نه لرم. په تېر کې مې چې هر څه درلودل اوس را نه هېر دي، په دې چې زه یوې ناپېژندې ناروغی نیولې یم. که مشرې مې خبره اورېدلې وی چې مبلمه ته داسې وایم وژلې به یې وی. خو ما یې پروا نه درلوده. په زړه کې مې هیله کوله چې بابر له کومې بلې نجلی سره شپه تېره کړي.

خو زما له بد قسمته هغه ویل چې پروا نه لري. بیا له یوې کڅوړګی سوربخون شی راوویست په ورغوي کې یې واچاوه او بیا یې په خوله کې وژوه. "ته یې هم غواړې؟" ما د سر په خوځولو د نه ځواب ورکړ.

"ته د دې په خوند نه پوهېږې." په بستر کې وغځېد، سخت نشه و.

په هغه ماښام بابر په نشه کې د خان په اړه غورې کولې چې د جګړې په ډګر کې بې ناوړه شیان ولیدل. هغه ویل که څه هم چنګیزخان مړ او هډوکي یې وراسته شوي و خو پیرې یې اوس هم له چنګیزیانو سره مل دی. د مغولو لښکر کاروانونه لوټوي، کلي وبجاړوي، ښځې او نارینه وژني. هغه د جګړې په ډګر کې له جګړې وروسته د چوپتیا د خوربدا په اړه را ته وویل. کله چې سلګونه خلک مري او تېې کیږي او ګڼ شمېر نور خپله وروستۍ سا ور کوي.

"هغه چوپتیا چې له غمېزې وروسته راځي د نړۍ تر بل هر غږ ارام دی."

تا ځایه یې خبرې خلاصې شوې. د ویلو لپاره یې نور څه نه درلودل. زه یې ونیولم او بستر ته یې پورې وهلم. جامې یې را نه ویستې. سترګې یې سرې وې، غږ یې درونډ شوی و. د خولو، بیرو، چرسو او لوړې بوی ترې تلو. په زور را د ننه شو. د هډونو ارامولو موکه یې را نه کړه. له خلاصېدو وروسته هم یوه شېبه لګیا و، بیا ودرېد. لا هم برسېره راباندې پروت و. زما مخ ته یې په نفرت کتل. هغه بدن چې څو شېبې مخکې ده ته شوق راوستی و اوس یې کرکه ترې کوله.

ځنګ ته ورغږېد او ویې ویل "جامې دې واغونځه."

جامې مې واغوستې. د سترګو له کونجونو مې ور کتل. د چرسو بله غوټۍ یې خولې ته کړه. "له دې وروسته به یوازې زما اندیوالي کوې."

د سرېو دا ډول غوښتنه نوې خبره نه وه. زه پوهېدم چې له دې غوښتنو سره څرنګه چلن وکړم. هغوی ته د درواغو داړ ور کول چې د هغوی په اندوالی به وویاړم خو د دې کار لپاره باید ډېرې پیسې ولګوي او مشره خوشاله کړي. خو نن مې نه غوښتل تېر یې باسم.

"زه ستا اندیواله نشم کېدی. ډېر ژر به دا ځای پرېږدم."

بابر پوزخند وواهه لکه ټوکه مې چې کړې وي. "داسې نه شي کولی."

پوهېدم چې شخړه مې باید ور سره نه وای کړې خو خان مې اداره نشو کړی. "زه او ته ډېر توپیر نه لرو. دواړه په خپلو تېرو کړو پښېمان یو. خو د تره له برکته دې ته امنیت ساتی شوې. خو زه تره نه لرم. بس همدا توپیر دی."

بابر را وړاندې شو او له ویښتو یې ونیولم. "ستا سره مې ښه چلن کاوه. تا ته څان څه درمالومېږي؟"

غوښتل مې څه ووایم خو بابر پر مخ سوک راکړ او دیوال ته یې ونیولم. لومړی څل نه و چې له سړیو مې وهل خوړل خو دومره وهل چا را کړي نه وو.

پر ځمکه ولوېدم او بابر لغتې را ته سمې کړې. پښتیو او پښو ته یې وهلم. بد رد یې را ته ویل. په هماغه شېبه کې یوه عجیبه تجربه را ته وشوه. د وهلو لاندې مې بدن راغونډ شوی و، خو روح مې یا هر څه چې وو له بدنه جلا شو لکه کاغذباد سپک او ازاد.

ډېر ژر بې هوښه شوم. یوې ارامې خلا ته ولاړم، هلته چې د مقاومت او تېښتې لار نه وه. د غنمو له ریبل شویو کروندو واوښتم. د کلیوالو نجونو ټکري باد یوووړل او په شپه کې ځلېدونکي ملخ الوتل.

مړه کېدم خو به نه. که مرګ داسې وي، وېروونکی نه دی. اندېښنې مې ورکې شوې. په بې وزنه سپېڅلتیا کې رغړېدم. د تخیل په فضا کې چې هېڅ څه کښته نشوی راوستی. ناڅاپه پوه شوم چې له خپلې لویې وېرې سره مخامخ یم. خو دومره وېروونکې نه وه. ایا د خوړېدو له ډاره مې له رنډۍ خانې نه شوم تللی؟ چې له مرګ و نه وېرېدم نو له دې بد ځای په وتو ولې وېرېږم.

شمس تبریزي په حقه و. یوازېنی مرداری په انسان کې د ننه دی. سترګې مې وتړلې او دا بل ځان مې تصور کړ، طیبه، پاکه او ښه پېغله له دې رنډۍ خانې وتلې او نوې ژوند ته

بې مخ اړولی. که مې په ژوند کې امن او مینه لیدلې وی مخ به مې د خوانی او ډاډ په شغلو
کې بربنده. دا الهام دومره ریښتینی او زړه وړونکی و چې د وینې له بهېدو او د پښتیو پر
درد سربېره مې موسکا په شونډو راغله.

## کيميا

### قونيه جنوري ۱۲۴۶

شرمېدم او خولې شوې وم، له شمس سره مې د خبرو تکل کړی و. له ډېر وخت مې غوښتل د قرآن مجيد د ژورې مانا په هلکه ترې وپوښتم. خو له اونيو راهيسې موکه په لاس نه راتله. په يوه کور کې اوسېدو خو پر يو بل نه برابرېدو. نن سهار مې حويلی جارو کوله چې ترخنګ مې را څرګند شو او د خبرو په موډ کې و. دا ځل مې هم ډېرې خبرې ور سره وکړې او هم مې د هغه سترګو ته نېغ وکتلی شوی.

"کيميا بي بي هر څه سم دي؟"

لکه نوی چې له خوبه پاڅېدلی وي او يا کوم الهام ورته شوی وي. خبره وم چې په دې وروستيو کې يې الهامونه ډېر شوي وو او د هغوی په نښو اوس پوهېدم. هر ځل به چې الهام ورته وشو، رنګ به يې سپين او سترګې يې خوبلنې اوښتې.

شمس اسمان ته وکتل، د خځلو ذرې په هوا کې مالومېدې او د کال د لومړی واورې نښې په کې وې. "توپان را روان دی."

له اوږده انتظار وروسته د پوښتنې لپاره ښه وخت و. "خپله خبره دې په ياد ده چې له قرآنه زموږ پوهه د خپل ليد د ژورتيا په کچه ده؟ له هماغه راهيسې مې غوښتل د څلورم پړاو په اړه پوښتنه در څخه وکړم."

اوس نو شمس مخامخ ما ته کتل. د ده له پامه مې خوند اخيست. فکر مې وکړ څنې وخت لکه اوس ښايسته کېږي.

CamScanner

ویل یې "څلورم پړاو د ویلو نه دی. داسې پړاو شته چې ژبه پاتې راځي. د مینې انګړ ته چې ور دننه شې ژبې ته اړه نه یې."

زما له خولې ووتل "کاشکې زه هم یوه ورځ د مینې انګړ ته د ننه شم." وشرمېدم بیا مې ژر خبره سمه کړه "مطلب مې د قرآن لوستل په ژوره بڼه دي."

د شمس په شونډو یوه عجیبه موسکا خوره شوه. "که یې وړتیا ولرې خامخا به ور دننه شې. نه به څلورمې بهېدنې ته ور توپ کړې او بیا به ویاله شې."

بوازې شمس په ما کې ګډ احساس ژوندی کولی شوی. د هغه تر څنګ مې هم د ماشوم په شان نوی ژوند زده کولو او هم د ښځې په شان په خان کې د نه ژوند ته چمتو وم. "مطلب دې د وړتیا لرلو څه دی؟ ته وایې که په قسمت کې مې وي؟"

شمس وویل "هو، همدا مې مطلب و."
"خو قسمت په څه مانا دی؟"
"زه د قسمت په اړه درته نشم ویلی. خو ویلی شم چې څه نه دی. په واقعیت کې یوه بله قاعده د دې پوښتنې په اړه شته. قسمت په دې مانا نه دی چې ژوند مو له وړاندې ټاکل شوی. نو هرڅه قسمت ته پرېښودل او د کایناتو په سمون کې فعاله ونډه نه اخیستل د جهالت نښه ده.

د کایناتو د نظام موسیقي په هر څه کې شته او په څلوېښتو پړاوونو کې تنظیم شوې.

ستا نصیب هغه پړاو دی چې خپله سندره پکې غږوې. ته د ساز ځانګړې اله لرې چې بدلولی یې نشې، خو دا چې څومره ښه یې غږوې، دا ستا وړتیا ده."

زما په خبره کې به یې خامخا د نه پوهېدو نښې لیدلې وي. زما لاس یې په خپل لاس کې ونیوه، په کراره یې کلک کړ او ویې ویل "اجازه را کړه چې یوه کیسه درته وکړم."

کیسه یې داسې پیل کړه:

يوه ورځ يوې ځوانې ښځې له يو ملنګ نه د قسمت په اړه پوښتنه وکړه. ملنګ ورته وويل "زما سره راځه. راځه چې ژړې ته په ګډه وګورو." ډېر ژر يوې ګڼه ګوڼې ته ورسېدل. يو قاتل د ښار چوک ته بېول کېدو چې پانسی ته وځېژول شي. درويش پوښتنه وکړه "دا سړی په دار ځړول کېږي. ايا دا په دې خاطر ده چې يو چا پيسې ورکړې او هغه د وژلو وسله پرې وپېرله؟ يا دا چې د وژلو په وخت يې چا مخنيوی ونه کړ؟ او يا هم له وژلو وروسته چا ونه نيوه؟ په دې معامله کې عامل او معلول څېرې دی؟"

زه په خبره کې ور ولوېدم. "دا سړی د خپل ناوړه عمل په خاطر پانسی کېږي. هغه د خپلو کړو بيه پرې کوي. عامل او معلول يې همدا دي. ښه شيان او بد شيان دواړه شته او ترمنځ يې توپير هم."

شمس په خواب کې وويل: "خوږې کيميا. ستا توپيرونه خوښ دي ځکه چې کار ور سره اسانېږي. خو که وضعيت تل داسې واضح نه وي بيا؟"

"خو خدای غواړي چې زموږ واضح واوسو. که نه نو د حلال او حرام ترمنځ به توپير نه وي. جنت او دوزخ به نه وي. که خلک په دوزخ و نه وېروې او د جنت په وعده يې و نه هڅوې د نړۍ حال به ډېر خراب وي."

د واورې يوه يوه دانه په باد کې نخښدله. شمس را وړاندې شو چې زما ټيکرۍ را کلک کړي. د يوې لنډې شېبې لپاره زه کنګل شوم. د هغه بوی مې حس کړ. له بارانه وروسته د خاورې د بوی په شان و. زړه مې کلک شو او هډونه مې ځيږه شول. څومره د شرم خبره وه خو بيا هم شرم پکې نه و.

شمس وويل "په مينه کې پولې ناڅرګندې دي."
د کومې مينې په اړه يې خبرې کولې؟ د خدای او بنده تر منځ که د سړي او ښځې ترمنځ؟ کېدی شي زموږ په اړه يې خبرې کولې. ايا "زموږ" په نامه ترمنځ کوم څه وو؟

له خپل فکره نا خبره وم چې شمس زیاته کړه "د حرام او حلال پروا نه لرم. که مې وس ورسیږي د دوزخ اور وژنم او جنت ته اور اچوم چې خلک له خدای سره مینه پیل کړي بوازې د مینې په خاطر."

پرته له دې چې په دې خبره غور وکړم ما وویل "داسې خبرې باید هر ځای ونه کړې. خلک بې زغم نه لري. په دې خبرو د هر چا سر نه خلاصیږي."

شمس موسکی شو. ما په خپل بند کې ایساره کړې لاس یې زما په لاس کې تود او درونډ لګېده.

"ښایي ته په حقه یې. خو فکر نه کوې چې له همدې امله باید د زړه خبره وکړم؟ پر دې سربېره تنګ نظري خلک په غوږو کاڼه دي. د هغوی په بندو غوږونو کې زه چې هر څه وایم کفر اوري."

"خو ما ته چې هرڅه وایې بوازې خواږه دي."

شمس د نه باور په سترګه را ته وکتل. خو زه له هغه ډېره حیرانه وم. داسې خبره مې څنګه وکړه. ماغزه خو به مې نه وي خراب شوي؟ خامخا به پیرانو راباندې غلبه کړې وي. ما وویل "ببښنه غواړم، زه باید ولاړه شم."

باڼخوګان مې له شرمه سره شوي وو او زړه مې له هغه څه چې مو وویل او ونه ویل په نوېږنو شو. له حویلي په منډه کور ته ننوتم. ان د منډې پر مهال پوه شوم چې اوبه له ورخه اوبښتې. له دې شېبې وروسته مې له هغه خندن واقعیته سترګې نه شوی پټولی چې زه پر شمس تبریزي مئینه وم.

## شمس

### قونیه جنوري ۱۲۴۶

غیبت د ډېرو خلکو یو عام دود دی. له هغې ورځې چې قونیې ته راغلی یم د ځان په اړه مې ډېرې ګونګوسې اورېدلې. زه حیران یم، که څه هم په قرآن کې په صراحت ویل شوي چې غیبت غټه ګنا ده. ډېری خلک یې د نه کولو هڅه هم نه کوي. خلک پر شرابیانو بد وایي او دې ته ناست دي چې یوه زناکاره ښځه پیدا کړي او سنګسار یې کړي خو غیبت ته چې د خدای په نزد بدتره ګنا ده پام نه کوي. دا یوه کیسه را یادوي.

یوه ورځ یو سړی یوه عارف ته په منډه راغی "ګوره هغوی لوښي وړي." عارف په خواب کې وویل "په موږ یې څه؟ زما پرې څه کار دی؟"

سړي وویل "خو دا لوښي ستاسو کره وړي."
عارف وویل "تو بیا ستا یې پرې څه کار دی؟"

افسوس دی چې خلک تل د نورو لوښو ته ګوري. د دې پرځای چې خپل کار ته پام وکړي پر نورو قضاوت کوي. د دوی تخیل ته حیران یم چې څرنګه له ځان خبرې جوړوي او درواغ وایي.

په دې ښار کې داسې خلک هم شته چې ما د وژونکو مشر بولي. ځینې خو لا وايي چې زه د اسماعیلانو امام الموت زوی یم. وایي زه په کوډو کې دومره تکړه یم چې سړی ځای پر ځای وژلی شم. یو شمېر مې په دې تورنوي چې په رومي مې کوډې کړې او د کوډو د پاښت لپاره هغه ته هر سهار د مار ښوروا ور کوم.

دا اېرتې چه اورم خاندم او ترې خم. نور به سړی څه وکړي؟ د خلکو بد نظر بې ملنګ ته څه تاوان رسولی شي. که ټوله نړۍ تر اوبو لاندې شي هیلی ته بې څه تاوان دی؟

خو ما ته نېژدې کسان اندېښمن دي لکه سلطان ولد. دومره تکړه او ذهین ځوان دی چې بوه ورځ به بې پلار ته ښې مېټ شي. بیا کیمیا ده خوږه کیمیا هغه هم اندېښمنه مالومېږي. خو تر ټولو ځوروونکې خبره دا ده چې هغوی پر رومي د انحراف تور لګوي. مولانا زما په شان د خلکو د خبرو په اړه بې پروا نه دی. د خلکو له خبرو د هغه خوا بدې ما ځوروي. مولانا د نه بې ساري ښکلا لري. خو په ما کې هم ښکلا شته او هم بدرنګي. ما ته تر هغه اسانه ده چې د خلکو بدرنګي وزغمم. خو څنګه یو لوی عالم د جاهلو خلکو خبرې وزغمي، چې پر جدي خبرو او پر منطق ولاړو فیصلو عادت دی ؟

حضرت محمد ص ویلي "په نړۍ کې د درې ډوله خلکو پر حال زړه سوی وکړئ، شتمن سړی چې خپله شتمني یې ورکه کړې وي. مخور سړی چې درنښت یې له لاسه تللی وي او هوښیار سړی چې د جاهلانو په منځ کې وي."

خو بیا فکر کوم چې دا د رومي لپاره ګټه لري. سپکې خبرې درد لري خو د رومي د نه پخېدو ته اړینې دي. ټول عمر د هغه درناوی شوی او پلویان یې درلودل او په ټولنه کې یې بې ساری ځای درلود. دا چې څوک دې په خبره پوه نشي او یا نیوکې دریاندې وکړي، رومي ته نااشنا خبره ده. او نه یې هم داسې یوازېتوب تر اوسه لیدلی. د هغه نفس تر اوسه د خلکو لخوا وران شوی نه دی، لږ شان ته ویجاړ شوی هم نه دی. خو دی دې ته اړتیا لري. که څه هم د خلکو بد فکر دردوونکی دی خو د دې لارې لپاره ښه دی. دېرشمه قاعده دا ده: ریښتینی عارف هغه دی چې د خلکو د تهمت، برید او له هرې خوا د سپکاوي په وخت زغم او صبر وکړي او یوه خبره هم د خپل ګوتنیوونکو په اړه ونه کړي. عارف هېڅکله ملامتیا نه وېشي. سیال او غلیم به له کومه شي؟ "هغوی" له کومه شي چې له سره "زه" نه وي؟

د ملامتیا لپاره به کس له کومه شي کله چې یوازې یو وي؟

## بدلمنه صحرا گله

قونیه فبروري ۱۳۴۶

هغه ورځ چې له رنډۍ خانې ووتم په تېرو څلوېښتو کلونو کې تر ټولو سړه ورځ وه. نرۍ کړېږې وړې کوڅې له نوې واورې سره ځلېدې. د بامونو او جوماتونو له منارونو د کنگل گړونگې ځړېدل. په غرمه کې هوا دومره سړه شوه چې پیشوگانې پر سړک کنگل شوې وې. یو شمېر زاړه کورونه تر واورې لاندې نړېدلي وو. له پیشوگانو وروسته د قونیې بې کوره وگړو عذاب گاله. شپې اوه یخ وهلي کسان گورنج پراته وو، پر مخونو یې موسکا وه لکه په تاوده ځای کې د بیا زېږېدنې خوب چې ویني.

ماسپښین ناوخته خلک ویده وو چې بیا ماښام ته ځانونه چمتو کړي، له خپلې خونې غلې ووتم. یوازې یو څو ساده جامې مې را سره واخیستې. د وړېښمو جامې او گاڼې مې پر ځای پرېښودې چې په ځانگړو ورځو مې اغوستې. هر هغه څه مې چې په رنډۍ خانه کې تر لاسه کړي وو باید همالته پاتې شوي وی.

تر نیمایي ځینو تللې وم چې مگنولیا مې د دروازې په مخ کې ولاړه ولیده، شنې پاڼې-چې عمل یې و-ژوولې. له نورو نجونو مشره وه. په دې وروستیو کې یې له ناڅاپه تودوخې سر ټکاوه. د شپې به ځای کې لټې په لټې اوښته. د وچېدو خبر یې له چا پټ نه و. ځوانو نجونو په ټوکو د مگنولیا حسرت خوړو. ویل به یې کاشکې موږ هم له میاشتنې عادته، بلاربېدو او ماشوم غورځولو بېغمه شوې وی. ټوله میاشت هره ورځ له سړو سره ځملاستلو. خو موږ ټولې پوهېدو چې د زړې رنډۍ ژوند ډېر لنډ وي.

د مګنولیا په لیدو بوه شوم چې دوې لارې لرم. یا به خپلې خونې ته ستنېږم او د تېښتې خوب به له سره اوباسم. یا به له دروازې وځم چې بیا هر څه کېدل. زړه مې دوهمه لار غوره کړه.

هڅه مې وکړه چې غږ عادي ونیسم "سلام مګنولیا، څنګه یې؟"

مګنولیا لومړی خوشاله شوه خو بیا یې مخ تور واوښت. هغه پوهېده چې مشرې زه له خپلې خونې له وتو منع کړې یم له رنډۍ خانې وتل خو پر خای پرېږده.

په حېرانتیا یې وویل "ته څې؟"

ما ځواب ور نه کړ. اوس نو د هغې وار و چې یوه لار غوره کړي. هغې تمولی شوی او نورو ته یې زما د نیت په اړه ویلی شوی او یا یې هم لار را کولی شوه چې ولاړه شم.

"صحرا ګلې خپلې خونې ته ستنه شه. که نه نو رئیسه به شغال سری در پسې کړي. خبره نه یې چې هغه څه وکړل له..."

خپله جمله یې بشپړه نه کړه. دا د رنډۍ خانې یو نالیکل شوی قانون و: د هغو بد قسمته نجونو په اړه مو خبرې نه کولې چې یې وخته به له منځه تلې. که به کله هم د هغوی کیسه راغله نوم به یې چا نه اخیست. په قبر کې یې زورولو ته اړتیا نه وه. ژوند خو یې هسې هم په بدمرغۍ تېراوه پس له مرګه یې ارام ته پرېښودل په کار وو.

مګنولیا ټینګار وکړ "که په تېښته بریالۍ هم شې، ډوډی به له کومه کوې؟ له لوږې به ومرې."

د مګنولیا په سترګو کې ما وېره ولیده. زما د نیول کېدو او د مشرې په لاس سزا وېره نه وه. زما د بریا وېره ور سره وه. ما هغه څه کول چې هغې یې ټول عمر خوب لیده خو د پلې کولو زړه ور سره نه و. اوس یې زما ارادې ته هم درناوی کاوه او هم یې کرکه ترې کوله. یوه شیبه زړه نا زړه شوم. که د شمس غږ مې په غوږونو کې انګازې نه وی کړې زه به خپلې خونې ته ستنه شوې وم.

" مګنولیا پرېږده چې لاړه شم. زه یوه بله ورځ هم دلته نه پاتې کېږم."
وروسته له هغې چې بابر ووهلم او مرګ مې په سترګو ولید، داسې مې حس کړه چې یوڅه د تل لپاره بدل شول. لکه نور چې د وېرې په نوم څه نه پېژنم. هر څه چې کېدل ما پرېکړه کړې وه چې خپل ژوند د خدای لارې ته وقف کړم. که دا یوه ورځ وي او که ډېر کلونه، پروا يې نه وه. شمس تبریزي ویلي وو چې ایمان او مینه له انسانه اتل جوړوي. په دې چې وېره او اندېښنه د دوی له زړونو لرې کوي. د دې خبرې په پوهېدو مې نوی سر خلاصېده.

عجیبه خبره دا وه چې مګنولیا هم په دې پوه شوه. هغې ما ته یوه اوږده شببه وچ را وکتل بیا په کراره یوې خوا ته شوه او ما ته يې لار پرانیستله.

## شمس

### قونیه فبروري ۱۲۴۶

له نښو نښانو ښکارېده چې له پېښو ډکه ورځ به وي. سهار چټک روان و. اسمان کښته او خړ و. مازدیګر مې مولانا په خپله خونه کې وموند چې له کړکۍ سره ناست و، تندی یې له تفکره ګونځې و او ګوتې یې بې دمې پر تسبیح بوختې وې. د خونې رڼا خپه وه. د بخمل پردې نیم کښې (نیمې خلاصې نیمې بندې) وې. او د رومي پر ځای رڼا لوېدلې وه، د خوب په شان یو انځور مې سترګو ته درېدلې و. نه پوهېدم چې مولانا به زما د غوښتنې په اصلي موخه پوه شي او که هېښ او خپه شي.

یوه شېبه ودرېدم، فکر مې یو څه نارام و. ما د یو الهام څرښنده برخه ولیده. زوړ او ناتوانه مولانا زرغونه چپنه اغوستې په همدې ځای کې ناست و، له بل هر وخت مهربان او سخاوت من و، خو په زړه کې یې زما د صورت په نښه تل پاتې داغ و. په یوه وخت په دوو خبرو پوه شوم: مولانا به خپل زوړوالی په همدې کور کې تېروي. او زما د نشتون پرهار به یې هېڅکله جوړ نشي. په سترګو کې مې اوښکې راغلې.

مولانا وپوښتلم "ته ښه يې؟ رنګ دې الوتی."

په زور مې موسکا شونډو ته راوسته. د خپلې راتلونکې غوښتنې بار مې پر اوږو په درنېدو شو. "ته چندان. ډېر تږی یم. په دې کور کې داسې څه نشته چې تنده مې پرې ماته شي."

رومي پوښتنه وکړه "غواړې چې کيرا ته ووايم او يو څه درته تيار کړي؟"

"نه، زه چې اړتیا ورته لرم په پخلنځي کې نه، په شرابتون کې موندل کېږي. زه غواړم چې ځان نشه کړم، وینې؟" داسې مې وښوده چې د رومي پر مخ د نه پوهېدو سیورې مې ونه لید او زیاته مې کړه "د دې پر ځای چې پخلنځي ته د اوبو په خاطر ولاړ شې، له شرابتونه به شراب را نه وړې؟"

رومي په احتیاط پوښتنه وکړه "مطلب دې دا دی چې له ما غواړې شراب درته پیدا کړم؟"

"هو همداسې ده. منندوی به دې وم که یو څه شراب را وړې. دوه بوتله به بس وي. یو تا ته یو ما ته. خو یو ښه را سره وکړه. کله چې شرابتون ته ولاړې، داسې مه کوه چې بوتلې درسره واخلې او را ستون شې. هلته یوه موده پاتې شه. له خلکو سره خبرې وکړه. زه به دلته ستا په تمه یم. بیړه مه کوه."

د مولانا په کتو کې هم غوسه وه او هم حیرانتیا. ما ته د بغداد د خانقا شاګرد را یاد شو چې غوښتل یې زما د لارې مل شي خو له خپل حیثیته ویرېده. د خلکو د خبرو له وېرې په شا شو. اوس په دې فکر کې وم چې مولانا به د خپل نوم په خاطر ځان شا ته کړي که نه.

خو مولانا ولاړ شو او سر یې وښوراوه.

"زه هېڅ کله شرابتون ته نه یم تللی او نه مې شراب څښلي. زه شراب څښل ښه نه بولم. خو زه پر تا او زموږ تر منځ په مینه باور لرم. خامخا به ستا دا غوښتنه لامل لري، زه باید په دې پوه شم. زه به ولاړ شم او دواړو ته به شراب را وړم."

له دې سره یې مخه ښه وکړه او ولاړ.

د هغه له وتو په مدهوشي کې پر ځمکه پرېوتم. د مولانا د عنبرو تسبیح مې واخیستې چې له ده پاتې وې. په وار وار مې د خدای شکر ویوست چې ریښتینی ملګری یې را کړی. بیا مې دعا وکړه چې د هغه ښکلې روح دې هېڅکله د خدای د مینې له نشې جلا نشي.

t.me/AryanPashtoLibrary

# څلورمه برخه

## اور

## هغه څه چې ورانول، وېجاړول او له منځه وړل کوي

## شرابي سليمان

### قونيه فبروري ۱۲۴۶

شرابو هوش را نه وړی و. د نشې په حالت کې د نه منلو منظرې ډېرې وینم خو د مولانا ليدل په شرابتون کې ان ما ته حيرانووکي وو. ځان مې وځانده خو منظره ورکه نه شوه.

نارې مې کړې 'ای هرېستاسه، دا دې څه را باندې څښلي. دې وروستي بوتل کې څه وو؟ نه پوهېږې چه زه اوس څه وينم؟"

يو چا له شا نه غږ کړ "غلی شه احمقه."

شا ته مې وکتل. د هرېستاس په ګډون ټول زما په شان حيران وو، سترګې يې وره ته وې او خولې يې وازې پاتې وې. بشپړه چوپتيا خوره وه. ان ساقي-د شرابتون سپی چې سر يې پر څمکه اينبې و- غلی و. د غاليو فارسيوان سوداګر هم خپلې بې خونده سندرې بس کړې. ځان يې سم کړ.

هرېستاس چوپتيا ماته کړه او په ډېر ادب يې وويل "زما مېخانې ته په خير راغلې مولانا. وياړم چې په دې کوډله کې دې وينم. څه خدمت کولی شم؟"

ما سترګې ورپولې. په رينښتيا هم مولانا دلته ولاړ و.

رومي په خندانه خوله ځواب ور کړ "مننه. غواړم چې يو څه شراب را نيسم."

د خوار هرېستاس ژامه له حيرانتيا وځړېده. يوه شېبه وروسته يې بلنه ور کړه چې لومړني ميز ته کيني، هلته چې زه ناست وم.

له کېناستو سره سم يې را ته وويل "سلام عليکم."

ما يې سلام عليک کړ او يو څو تشريفاتي خبرې مې ور سره وکړې. نه پوهېږم چې خبرې مې سمې وې که نه. مولانا له خپلې خړې چپنې، پګړۍ، ګران بيه جامو او بشاشې څېرې سره په دې چاپېريال کې پردی مالومېده.

خان مې د ده خوا ته ور تږغ کړ او ترې ومې پوښتل "که خپه کېږې نه، غواړم وپوښتم چې ستا په شان سړی دلته څه کوي؟"

سترګک يې را ته وواهه لکه دواړه چې خواږه ملګري وو "د تصوف په ازمايښت کې يم. شمس دلته رالېږلی يم چې نوم مې خراب کړم."

"ايا دا ښه کار دی؟"

مولانا وخندل "دا په تا پورې اړه لري چې څرنګه ورته ګورې. کله کله خپلې ټولې اړيکې شلول اړين دي چې پر ځان غالب شې. که مو له کورنۍ، ټولنيز موقف ان خپل ښوونځي او جومات سره اړيکې دومره کلکې وي چې د خدای سره د يووالي مخه ډبوي، پکار ده چې دا اړيکې وشلوو."

د ده د خبرو په پوهېدو داده نه وم. خو دې خبرو زما په ډوب ذهن کې منطق درلود. ما تل منله چې دا صوفيان لېوان دي. د هر ډول عجيبو کارونو وړتيا لري.

دا ځل رومي راتوغ شو او په کښته اواز يې وويل "که خپه کېږې نه، غواړم ستا پرمخ د داغ په هکله وپوښتم؟"

ما وويل "ډېره په زړه پورې کيسه نه ده. يوه شپه ناوخته کور ته روان وم چې يوه امنيت ساتي وډبولم."

"ولې؟"

"په دې چې شراب مې څښلي وو." هغه بوتل ته مې اشاره وکړه چې هرېستاس همدا اوس د مولانا مخې ته کېښود.

مولانا سر وښواروه. لومړی حیران شو لکه داسې پېښې چې امکان ونه لري. بیا موسکی شو او خبرو ته مو دوام ور کړ. پنیر او ډوډۍ مو سره وخوړه. د عقیدې، ملګرتیا او د ژوند په نورو موضوعګانو مو خبرې سره وکړې. داسې شیان چې ما فکر کاوه له ذهنه به مې وتلي وي. خوشال شوم چې د زړه بړاس مې ووت. له لمر لوېدو سره په ځای کې ودرېد چې ولاړ شي. په شرابتون کې ټول کسان ورته ودرېدل او مخه ښه یې ور سره وکړه.

ما وویل "له تګه مخکې را ته ووایه چې شراب ولې حرام دي."

هرېستاس زما خوا ته وځغاستل. داسې نه چې د ده درونډ مبلمه خپه کړم. "غلی شه سلیمانه! داسې پوښتنې ولې کوې؟"

خو ما ټینګار وکړ "جدي وایم. تا ولیدو. موږ بد خلک نه یو خو زموږ په اړه تل بد ویل کېږي. ته را ته ووایه شراب څښل ولې ناروا دي که سم وچلېږو او نورو ته زیان ونه رسوو؟"

کتل مې چې هر سړی ځواب ته تم دی. ارام، مهربان او په هوش کې مولانا زما خوا ته راغی او ویې ویل:

"که د شرابو څښونکی د ننه حلیم وي هغه به د نشې په وخت څرګنده کړي. خو که په هغه کې قهر او غوسه پټه وي هغه به را برسېره شي. ډېری خلک په زړه کې غوسه او قهر لري نو ځکه په ټولو شراب ناروا بلل شوي."

خلک د دې خبرې په اورېدو غلي وو.

مولانا زیاته کړه "ملګریو، شراب بې ازاره څښاک نه دی. زموږ بد اړخ را برسېره کوي. خو بیا هم په خپل چلن شراب نشو ملامتولی. موږ باید په خپل قهر او غوسه کار وکړو. که

بې ځوک ښځې هغه به بې ښې او نور به ځان ترې ساتي. موږ حق نه لرو چې خپلې لارې پر نورو وتپو. په دین کې جبر نشته."

ما غوښتل چې جام پورته کړم. زما په اند د علم یوه ټوټه هم باید پرته له لامنځني پاتې نشي. ومې ویل "ته یو ښه سړی او د لوی زړه څښتن یې. خلک به دلته ستا د راتګ په اړه خبرې وکړي. زما په اند د یو عالم په توګه دا ستا زړورتیا ښیې چې دلته راغلې او له قضاوت پرته دې زموږ سره خبرې وکړې."

رومي رانه وکتل او د شرابو دوه بوتله چې تر اوسه یې لاس نه و وروړي له ځان سره واخیستل او د ماښام په سړوخه کې له مېخانې ووت.

## علاوالدین

### قونیه فبروري ۱۲۴۶

له دریو اونیو راهیسې په انتظار کې راګیر وم. داسې ښښې ته مې کتل چې له پلار سره وویښم او د کیمیا سره د کوزدې غوښتنه ترې وکړم. په چمتووالي کې مې ډېر ساعتونه ولګول چې څنګه به خبرې ور سره کوم، کوم الفاظ به کاروم او د خپل بیان ښه لاره به لټوم. د هغه د هرې ممکنې نیوکې لپاره مې ځواب چمتو کړی و. که هغه ووايي چې زه او کیمیا لکه خور او ورور داسې یو. زه به ورته ووایم چې د وینې اړیکه سره نه لرو. پوهېدم چې کیمیا خومره په پلار ګرانه ده، که زما سره واده وکړي له دې کوره به هېڅکله ولاړه نشي. په هر څه مې فکر کړی و خو یوازې له پلار سره د لیدو شېبه نه برابرېده.

خو نن ماښام په ډېر بد حالت کې ور سره مخامخ شوم. له کوره په وتو وم چې له خپلو ملګرو سره وویښم. ور پرانیستل شو پلار مې په دواړو لاسونو کې د شرابو له یو یو بوتل سره راننوت.

زه له حیرانۍ په ځای کې وچ شوم "پلاره، په لاس کې دې څه دي؟"
خو پلار مې له شرم پرته راته وویل "زویه دا شراب دي."
ما وویل "ریښتیا؟ ستر مولانا اوس دې ته ور سېد؟ بوډا سړی د شرابو په لعنت کې ګیر شو؟"

"ژبه دې سمه خوځوه." له شا نه شمس را غبر کړ. "له پلار سره سړی داسې خبرې نه کوي. ما هغه ته وویل چې شرابتون ته ولاړ شي."

ما وویل "مالومه ده."

CamScanner

که شمس زما پر خبره خوا بدی شوی وي خو ما يې خوابدي حس نه کړه. هغه وويل "علاوالدینه پر دې خبرې کولی شو. خو که ته غوسه پرېږدې چې پر سترګو دې پرده خوره کړي." بيا يې را ته وويل چې زړه نرم کړم. "دا له قاعدو يوه ده. که غواړې چې ایمان دې پیاوړی شي زړه دې باید نرم کړې. که غواړې چې عقیده دې لکه ډبره کلکه شي زړه دې باید د بڼکې په څېر نرم شي. د ناروغۍ، پېښې، غمیزې او یا جګړې سره چې مخامخ کېږو، موږ ته رانښيي چې څرنګه له خودخواهۍ او قضاوته خان لېرې وساتو، خواخوږي او مهربان شو. په موږ کې یو شمېر عبرت اخلي او نرمېږي خو ځينې بيا له پخوا هم ظالمېږي. حقیقت ته د رسېدلو لپاره باید زړه غټ کړو چې ټول بشريت پکې ځای شي او بيا هم مینې ته پکې ځای پاتې شي."

ما ورته وويل "ته منځ ته مه رالوېږه. زه نشه ملنګانو ته غوږ نه نیسم. زه مې پلار غوندې نه یم."

پلار مې را ګډ شو "علاوالدینه وشرمېږه."

ناڅاپه مې د پښېمانۍ درد حس کړ. خو خبره له خولې وتلې وه. ډېرې کرکې مې چې پربنې وې راستنېدونکې وې.

شمس وويل "شک نه لرم څومره چې وایې هغومره کرکه را نه لرې. خو د پلار مینه له زړه نشې ایستی، یوه شیبه هم نه. نه وینې چې هغه دردوې؟"

ما ورغبرګه کړه "نه وینې چې زموږ ژوند ویجاړوې؟"

پلار مې یو ګام را مخ ته شو. ښی لاس يې اوچت کړ. ما ويل په څپېړه به مې ووهي خو چې ويې نه وهلم لا را ته ګرانه شوه.

له کتلو پرته يې را ته وويل "ودې شرمولم."

CamScanner

سترګې مې له اوښکو ډکې شوې. مخ مې را وګرځاوه، ناڅاپه د کیمیا سره مخامخ شوم. څومره موده به هغه هلته په وېره کې ولاړه وه او زموږ نظاره به یې کوله؟ له دې ناندریو به هغې څومره اورېدلي وي؟

د هغې نجلۍ مخې ته چې غواړم واده ورسره وکړم د پلار له خوا د سپکېدو شرم په نس کې درد راوست او د خولې خوند مې ور سره وران شو. ما ویل خونه وګډېده او نژدې لوېدلی وم.

د پاتې کېدو وس نور نه و پاتې. خپله کورتۍ مې واخیسته، شمس مې پورې واهه او له کوره ووتم، له کیمیا لرې، له ټولو لرې.

# شمس

## قونيه فبرورې ۱۲۴۶

د شرابو بوتل مو په منځ کې نېغ ولاړ وو. د علاوالدين له تګ وروسته مولانا خپه و او خو شېبې يې خبرې ونه شوی کړی. په واوره پوښلې حويلی ته ووتو. د ژمي دې شپه کې هم هوا درنده او ځای پر ځای ولاړه وه. هلته ودرېدو. د وريځو خوځښت مو وليد، نړی ته غوږ شوو چې له چوپتيا پرته يې بل څه نه لرل. باد د کوم لرې ځنګله بوی راوړ. فکر مې وکړ چې دواړه غواړو له دې ښار د تل لپاره لرې ولاړ شو.

بيا مې يو بوتل واخيست. د ګلابو له خړی سره مې چې ازغنه او بربنډه وه- ګونډې ووهلې او د هغې په تل کې مې شراب تش کړل. د تويولو پرمهال د ګلابو غوټی په غوړېدو شوه او يو ښکلی نارنج رنګه ګلاب ترې څرګند شو.

دوهم بوتل شراب مې هم په همدې ډول تويې کړل. ګلاب لا په غوړېدو شو. د بوتل په اخر کې مې د يوه ګيلاس په اندازه شراب پرېښول. په پياله کې مې واچول، نيم ما وڅښل او نيم نور مې مولانا ته وړاندې کړل.

د هغه لاسونه لړزېدل. زما له اشارې سره يې سم حرکت کاوه. دغه سړي چې په ژوند کې يې شرابو ته لاس هم ور وړی و، وويل "ديني قوانين او بنديزونه مهم دي، خو له همدې پوهې سره چې دا شراب نن ته را کوې او زه يې څښم، نو باور لرم چې د مينې د مدهوشۍ تر شا متانت پروت دی."

همدا چې رومي پياله خولې ته وروړله ما يې له لاسه واخيسته او پر ځمکه مې وار کړه. شراب په واوره کې د وينو د څاڅکو په څېر مالومېدل.

ما ورته وویل "مه څښه." د ازماېښت د دوام اړتیا نوره نه وه.

مولانا وپوښتل. "که د شرابو څښلو ته دې نه پرېښودم نو ولې دې له ما وغوښتل چې شرابتون ته ولاړ شم؟"

په خندا مې ورته وویل "په خپله پوهېږې. روحاني وده د هوښیارۍ د مجموعې په اړه ده، د اړخونو پر ځانګړتیا بوختېدنه نه ده. دوه دېرشمه قاعده: ستا او خدای په منځ کې باید هیڅ څه را نشي. نه ملا، نه پادري نه ربای او نه هم د دین او اخلاقو بل لارښود، نه روحاني پیران مذهب هم نه. په خپلو ارزښتونو او قوانینو باور ولره خو په نورو یې مه باروه. که د خلکو زړه مات کړې هره دیني فریضه که ادا کوې بې ځایه به وي.

له هر ډول بت پرستۍ او شرک ځان وساته. که نه نو سترګې به دې تیاره کړي. پرېږده چې یوازې خدای ستا لارښود اوسي. ملګریه حقیقت زده کړه خو پام چې له خپل حقیقته کوډې جوړې نه کړې."

ما تل د مولانا شخصیت ته درناوی درلود. پوهېدم چې د هغه بې حسابه او بې پایه خواخوږي ما په خپل ژوند کې نه درلوده. خو نن مې هغه ته درناوی څو برابره زیات شو.

نړۍ په دولت، شهرت او څواک مینو خلکو ډکه ده. څومره چې د بریا نښې ور څرګندې شي هغومره نوره یې اړتیا ورته پیدا شي. په حرص او طماع کې ډوب، دنیاوي شتمنۍ ورته قبله مالومېږي او هغه لوري ته ګوري. خبر نه دي چې د خپل مقصد مریبان ګرځېدلي. دا د دنیا دود دی. خو د یاقوتو په شان نادره دا ده چې یو سړی ځانګړي مقام ته رسېدلی، سره زر، نوم او صلاحیت هرڅه لري او یوه ورځ ناڅاپه ټول پرېږدي، په ټولنه کې خپل ځان خطر ته اچوي او د ننه سپېڅلتیا لپاره داسې کوي. هغه هم چې څوک نه پوهېږي څه به کیږي او دا لاره به چېرې ختمیږي. مولانا هغه نادره غمی و.

ما وویل "خدای له مورډ غواړي چې خاکساره او بې تظاهره اوسو.

رومي وویل "او خدای غواړي چې وپېژندل شي. له موږ غواړي چې په خپل هر هله هغه وپېژنو. له همدې امله بنه ده چې څک او په هوش کې اوسوو، نشه او ګنګس نه وو."

ما ور سره ومنله. تر تیارې په حویلی کې ناست وو. هوا سړه شوه. سور ګلاب مو په منځ کې و. د ماښام د سړوخې لاندې د تازه او خواږه شي بوی راته. د میني شرابو په نرمه سر ګرځني کړو. په خوښی او مننداویې مې وموندل چې باد نوره ناهیلي نه را وړله.





## متعصب

### قونیه فبروري ۱۲۴۶

عبدالله زما د یو زدکوونکي پلار د سړک پر سر را نارې کړې "شیخ یاسینه! زېری مې درباندې له رسوایي خبر شوې؟".

بیا یې زیاته کړه: "مولانا د یهودانو د سیمې په شرابتون کې پرون لیدل شوی."

ما وویل "هو اورېدلي مې دي. خو حیران نه شوم. د سړي ښځه عیسوي ده او نژدې ملګری یې ملحد. څه تمه دې ترې لرله؟"

عبدالله زما خبره تایید کړه "ریښتیا وایې، همدا تمه مو باید ترې لرلی."

یو شمېر لاروي را ټول شول او زموږ خبرې یې واورېدلې. یو چا وویل تر هغه یې چې په عام محضر کې بخښنه نه وي غوښتې مولانا باید نور په لوی جامع جومات کې وعظ ته پرې نه ښودل شي.

ما یې خبره تایید کړه. پر ما ناوخته کېده او ځان مې باید مدرسې ته رسولی وی. هغوی مې خبرو ته پرېښول او په بیړه ترې ولاړم.

ما تل فکر کاوه چې په رومي کې یو ورانی شته او یوه ورځ به هغه جوت شي. خو ما هم دا تمه نه درلوده چې دی دې شرابو ته مخه کړي. ډېر بده خبره وه. خلک وایي چې شمس د رومي په پرځېدا کې مهم رول لري او که دی نه وی مولانا به عادي ژوند ته ستون شوی و. خو زه بل څه وایم. دا نه چې شمس بد سړی نه دی او پر مولانا یې اغېز نشته. خو پوښتنه مې دا ده چې شمس ولې نور عالمان بې لارې کړې نه دي لکه زه؟ په واقعیت کې هغه دواړه یو بل ته دومره ورته والی لري چې خلک پرې خبر نه دي.

خلکو د شمس له خولې اورېدلي "عالم د قلم په کربنه ژوند کوي، عارف د پښو پر پلونو ژوند کوي." دا څه مانا؟ ظاهرا شمس فکر کوي عالمان په سپینو منارونو کې اوسېږي او عارفان په اصلي ژوند کې ښکېل دي. خو رومي هم عالم دی. همداسې نه ده؟ او که دی نور خان زموږ له ډلې څخه نه بولي؟

که شمس زما ټولګي ته ننوځي، داسې به یې وباسم لکه مچ. وخت به ور نه کړم چې زما په مخ کې چټیات ووایي. مولانا ولې دا کار نشي کولی؟ کوم ورانی به پکې وي. د سړي ښځه عیسوی ده. ما ته مهمه نه ده چې مسلمانه شوې. مسیحیت د هغې او د هغې د ماشوم په وینه کې دی. له بده مرغه د دې ښار خلک د مسیحیت ګواښ څومره چې خطرناک دی جدي نه ګڼي. فکر کوي چې د یو بل ترڅنګ اوسېدلی شو. هغوی ته چې دومره ساده ګان دي زما خبره دا ده: "اوبه او غوړي کله ګډېدی شي؟"

مولانا د عیسوی مېرمنې په درلودو او د لړکیو په اړه له نرم دریځ سره زما په نظر پخوا هم سست سړی و. خو له هغې راهیسې چې شمس ته یې په کور کې ځای ور کړی له خپلې لارې بالکل منحرف شوی. څرنګه چې زه مې خپلو زدکوونکو ته وایم سړی باید د شیطان پر ورانډې بیداره وي. او شمس د شیطان جسم دی. یقین لرم چې مولانا شرابتون ته هم ده لېږلی. خدای پوهېږي چې څرنګه یې اړ کړی. مګر د غافلو مومنانو تېر ایستنه د شیطان کار نه دی؟

زه له ورایه د شمس د شیطاني اړخ په اړه پوه وم. هغه څنګه زموږ پیغمبر ص د بي دینه بایزید بسطامي سره پرتله کړ؟ همدا بسطامي نه و چې ویل یې "ما ته وګورئ، زما عظمت څومره لوی دی. کعبه له ما څرخیږي."همده نه وو ویلي چې "زه د ځان جوړونکی بم."که دا کفر نه دی نو څه دي؟ دا د هغه سړي خبرې دي چې شمس یې په ویاړ یادوي. په دې چې شمس هم د بسطامي په څېر مرتد دی.

يوه ښه خبره دا ده چې د ښار د خلکو سترګې اوس واقعيت ته پرانيستل شوې. د شمس بدخواهان هره ورځ په ډېرېدو دي. ځينې وخت د دوی په کيسو زه شرمېږم. په حمامونو، چايخونو او کروندو کې خلک شمس ته غابښ چيچي.

مدرسې ته ناوخته ور سېدم. سر مې له ډېره فکره دروند شوی و. د خپل ټولګي ور مې چې پرانيست يو عجيب شی مې حس کړل. زدکوونکي مې ټول په يوه ليکه ناسته وو. غلي او رنګونه يې اوښتي وو لکه پيری يې چې ليدلی وي.

بيا پوه شوم چې ولې. خلاصې کړکۍ ته نژدې پر دېوال تکيه وهلی ناست و، ډېره خړېلې او پرمخ يې د کبر موسکا خوره وه، له شمس تبريزي پرته بل څوک نه و.

له لرې يې ما ته پام شو "سلام عليکم شيخ ياسينه."

ما ځان پرې پوه نه کړ او ځواب مې ور نه کړ. مخ مې زدکوونکو ته واړاوه "دا سړی دلته څه کوي؟ ولې مو د ننه پرېښود؟"

هلکان يو شان حيران او وېرېدلي وو. يوه هم ځواب را نه کړ. شمس پخپله دا چوپتيا ماته کړه.

" شيخ ياسينه هغوی ته څه مه وايه. زه پخپله راغلی يم. له دې سيمې تېرېدم ومې ويل راځه په مدرسه کې به تم شم او له داسې چا سره به ووينم چې له نورو ټولو ښاريانو دی له ما ډېره کرکه لري."

# زدکوونکی حسام

## قونیه فبروري ۱۲۴۶

مونږ ټول په ټولګي کې ناست وو چې شمس د ننه راغی. ټول هېښ شول. د هغه په اړه مو ډېر ناوړه شیان اورېدلي وو په تېره بیا له خپل ښوونکي. ما هم ړومبی په ښه نظر ورته ونه کتل. خو دی ارام او صمیمي و. له ټولو سره له روغ بړ وروسته یې وویل غواړي له شیخ یاسین سره یو څو خبرې وکړي.

د ناوړه ټکر د مخنیوي په خاطر ما وویل "زمونږ ښوونکی په ټولګي کې له پردیو سره خبرې نه خوښوي. ښه به وي چې یو بل وخت ور سره ووینې."

لکه زما ذهن یې چې لوستلی وي شمس وویل "ستا له اندېښنې مننه ځوانه، خو کله ناکله نه یوازې د ناوړه ټکر مخنیوی نشي کېدی ان اړین هم وي. سودا مه کوه، ډېر وخت مو نه نیسم."

ارشاد چې زما څنګ ته ناست و په کراره وویل "د ده سپین سترګی ته وګوره. ربښتیا هم د شیطان په جسم کې."

ما سر وښوراوه، خو فکر نه کوم ماته شیطان بربښېدلی وي. مخامخ ورته ناست وم. د هغه زړورتیا مې خوښه شوه.

یو څو شېبې وروسته شیخ یاسین په وره راننوت. تندی یې ګونځې و. لا څو ګامه مخ ته نه و راغلی چې سترګې یې پر نابللي مېلمه ولګېدې.

"دا سړی دلته څه کوي؟ ولې مو د ننه پرېښود؟"

موږ هلکانو یو بل ته حیران وکتل او ویرېدلي هم وو. مخکې له هغه چې زموږ نه کوم یو ځواب ور کړي، شمس پخپله ځواب ور کړ چې دلته نژدې و او غوښتل یې له داسې چا سره ووینې چې په ټوله قونیه کې له شمس سره تر نورو ډېره کرکه لري. فضا دومره وچه کلکه وه تا ویل په چاړه پرې کېدی شي.

شیخ یاسین ورته وویل "ته پوهېږم دلته څه کوې. زه مهم کارونه لرم. اوس که ته له دې ځایه ولاړ شې چې خپل سبق پیل کړو."

شمس وویل "ته وایې زما سره خبرې نه کوې خو ته زما په اړه خبرې کوې. ته تل زما او مولانا په اړه بد وایې او هم د نورو عارفانو په اړه چې د تصوف په لاره کې تېر شوي."

شیخ یاسین په خپله غټه پزه هوا کش کړه او خوله یې بده ونیوه لکه د خولې خوند یې چې خراب شوی وي. "لکه څنګه مې چې وویل، ستا سره د خبرو لپاره هیڅ نه لرم. په هغه څه چې باید پوه شم، پوهېږم او خپل نظر لرم."

شمس موږ ته مخ را واړاوه "د ډېرو نظریو سړی خو پوښتنې ور سره نشته. په دې کې هرومرو څه ستونزه شته."

شیخ یاسین حیران کتل ویې پوښتل "ریښتیا؟ نو بیا ولې له زدکوونکو نه پوښتو چې غواړي کوم یو وي، هوښیار سړی چې په ټولو ځوابونو خبر دی، که سر ناخلاصی چې له پوښتونو پرته بل څه نه لري؟"

زما ټول ملګري د شیخ یاسین په خوا شول خو مالومېده چې د ښوونکي د خوشالۍ لپاره یې پلوي وه. زه غلی پاتې شوم.

شمس زموږ ښوونکي ته ویل "یوازې ناپوه به فکر کوي چې ټول ځوابونه ور سره شته. خو ستا سره چې هر ځواب شته، ښه به وي چې یوه پوښتنه در نه وکړم."

له دې سره ما ته اندېښنه ولوېده چې خبرې بل لوري ته رواني شوې. خو د دې تکر د مخنيوي لپاره ما څه نشوی کولی.

شمس وپوښتل "ته ما د شيطان په نوکری تورنوې. که مهرباني وکړې ووايې د شيطان په اړه ستا باور څه دی؟"

شيخ ياسين وار له واره خواب ورکړ "ولې نه؟ زموږ دين چې د ابراهيمي اديانو وروستی او تر ټولو ښه دين دی را ته وايي چې ادم ع او بي بي حوا شيطان تېر ايستلو سره له جنته وشړل شول. د تېرايستل شويو د اولاد په توګه زموږ سترګې بايد پرانيستې وي. شيطان په هره بڼه راتلی شي. کله مو د قمارو‌هوونکي په څېره کې قمار ته مو بولي. کله د ښايسته خوانې نجلی په شان غواړي موږ وغولوي. شيطان د داسې چا په څېره کې هم راتلی شي چې زموږ باور پرې نه راځي لکه سرګردانه ملنګ."

لکه شمس چې داسې خبرې ته په تمه و، موسکی شو. "وينم چې څه وايې. خامخا به سړی ښه احساس کوي چې شيطان تل له بدنه بهر ويني."

شيخ ياسين وپوښتل "مطلب دې څه دی؟"

"که شيطان دومره مضر او نه ماتېدونکی دی چې ته وايې، نو موږ انسانان بايد په خپلو بدو اعمالو خان پړ ونه بولو. هر ښه چې کوو هغه په خدای پورې وتړو او هر بد چې کوو هغه په شيطان ور واړوو. په دواړو کې به موږ له ملامتيا او خان ازموينې خلاص يو.

خو راځه چې د يوې شيبې لپاره ووايو چې شيطان نشته دی، داسې ځوک چې موږ د اور کندې ته ټېل وهي. په وينو لړلي دا انځورونه موږ ته د يو څه ښودلو لپاره جوړ شوي وي خو بيا هسې خبرې وي او اصلي پيغام بې ورک شوی وي."

شيخ ياسين بيا وپوښتل "او هغه پيغام به بيا څه وي؟"
شمس ووېل "ښه نو، پوښتنې لرې.

پیغام دا دی: انسان ځان ته بې حده عذاب ورکولی شي. دوزخ او جنت دواړه په موږ کې د ننه دي. قرآن مجید وایي انسان اشرف المخلوقات دی. موږ تر ټولو غوره او تر ټولو ناوړه یا ټیټ یو. که د دې په سمه مانا پوه شو، نور به شیطان پسې له ځانه بهر ونه ګرزو، خپل ځان ته به پام وکړو. پکار ده چې د خپل چلن ریښتیني ازموینه وکړو، د بل چا تېروتنې ته مو سترګې ونه نیسو."

په خواب کې شیخ یاسین ورته وویل "ته ورځه او ځان ازمایښت کړه. ان شاء الله بیره ورځ به دې ګوناوې پاکې شي. خو سم عالم باید په خپله ټولنه نظر وساتي."

شمس وویل: "تو بیا پرېږده چې یوه کیسه درته وکړم. څلورو سوداګرو په جومات کې لمونځ کاوه چې موذن یې د جومات انګړ ته په ننوتو ولید. لومړي سوداګر لمونځ پرېښود او په موذن یې غږ وکړ. "موذنه، اذان شوی که لا وخت شته؟"

دوهم سوداګر هم لمونځ پرېښود او ملګري ته یې وویل "څه کوې؟ په لمانځه کې دې خبرې وکړې. لمونځ دې باطل شو، له سره یې وکړه."

د دې په اورېدو دریم سوادګر ور ګډ شو "احمقه هغه ولې ګرم بولې؟ ستا باید خپل لمانځه ته پام وی. اوس ستا لمونځ هم باطل شو."

څلورم سوداګر په خندا شو او په لوړ اواز یې وویل "هغوی وګوره، درې واړو سهوه وکړه. الحمد لله چې زه د بې لارو له ډلې څخه نه یم."

له کیسې وروسته شمس مخ د هلکانو په لور واړوه. "څه فکر کوئ؟ ستاسې په اند د کوم سوداګر لمونځ نه دی شوی؟" موږ یو څو شېبې له یو بل سره پر څوابونو خوښه کوله. بیا د ټولګي له پایه چا غږ کړ "د دوهم، دریم او څلورم سوداګرو لمنځونه نه دي شوي. خو لومړی سوداګر بې ګنا دی. هغه یوازې له موذن پوښتنه کوله."

ارشاد وويل "هو خو هغه هم بايد خپل لمونځ داسې نه واى پرېښى. مالومه ده چې ټول سوداګر خطا وتلي وو بغير له څلورمه. هغه يوازې له ځان سره خبرې کړې."

زه له دواړو ځوابونو سره مخالف وم خو د ويلو هوډ مې نه درلود. ما ويل زما خبره به په چا ښه ونه لګي. خو شمس تبريزي ما ته ګوته ونيوله. "او ته څه فکر کوې؟"

لاړې مې تېرې کړې "که دې سوداګرو تېروتنې کړې وې، تېروتنې يې په لمانځه کې خبرې نه دي، خپل ځان او له خداى سره د اړيکې په ځاى يې خپل چاپېريال ته ډېر پام و. خو که موږ پر هغوى قضاوت وکړو هماغه تېروتنه به موږ هم کړې وي."

شيخ ياسين وپوښتل "تو ستا ځواب څه دى؟"
"زه وايم څلور واړو يو شان تېروتنه کړې خو بيا هم نشو ويلى چې خطا يې کړې ځکه چې پر دوى قضاوت زموږ کار نه دى."

شمس تبريزي يو ګام زما لورى ته راغى. په داسې مهرباني او احساس يې را وکتل، چې ما ويل ووړوکى هلک يم او د پلار مينه راکوي. زما د نوم پوښتنه يې وکړه. کله چې مې خپل نوم واخيست هغه وويل "ستاسې ملګرى حسام د عارف زړه لري."

زه وارخطا شوم. پوهېدم چې شيخ ياسين به وروسته سپکې سپورې را ته ووايي او نور هلکان به مې خوروي. خو شمس سترګګ را ته وواهه. انديښنه مې ولاړه. په خپل ځاى کې نيغ کېناستم.

شمس وويل "عارف وايي زه بايد د خپل خداى سره د ځان د نه پر اړيکه فکر وکړم او قضاوت و نه کړم. خو عام ملا تل د نورو په تېروتنو پسې ګرځي. خو زدکوونکو هېره مو نه شي هغه چې له نورو سر ټکوي پخپله تېروتلى وي."

شيخ ياسين په خبرو کې ور ولوېد "زما د زدکوونکو ذهن مه خرابوه. د عالمانو په حيث موږ د نورو په چلن کې بې برې نشو پاتېدى. خلک زموږ نه د دين پوښتنې کوي او

خواب غواړي چې خپلې دیني دندې بشپړې او سمې تر سره کړي. هغوی غواړي پوه شي چې د پزې له وینې کېدو وروسته یې اودس ماتېږي که نه، د سفر پر مهال د روژې اصول څه دي. د شافعي، حنبلي، مالکي او حنفي فقهې په دې اړه توپیر لري. هر مذهب د فقهې خپل اصول لري چې باید ولوستل شي او زدکړل شي."

شمس اسوېلی وویست "ښه خبره ده. خو تش په نامه توپیرونو کې نغښتل هم ضرور نه دي. د خدای وجود بشپړ دی. د کامل په بیه په تفصیل کې بندېدل په کار نه دي."

شیخ یاسین نیم غوسه او نیم هېښ و "تفصیل؟ مومنانو ته اصول مهم دي. موږ عالمان د دوی د خیر لپاره لارښوونې ورته کوو."

شمس وویل "لارښوونو ته دوام ورکړئ. خو مه هېروئ چې ستاسې لارښوونې محدودې دي او ستاسې کلام د خدای له کلامه پورته نه دی. خو هغوی ته لارښوونه مه کوئ چې د خدای نور ور په برخه شوی. هغوی د قرآن مجید له ایاتونو ځانګړی خوند اخلي او د شیخ لارښوونې ته اړ نه دي."

د شیخ یاسین مخ له غوسې سور واوښت "زموږ په لارښوونه کې هیڅ څه لنډ مهاله نه دي. په شرعه کې هغه اصول او قوانین دي چې هر مسلمان یې باید له زانګو نه تر قبره ولټوي."

شمس وویل "شرعه یوازې هغه کښتی ده چې د حق په لوی بحر کې خوځېږي. د خدای ریښتیني لټونکی به یوه ورځ نه یوه ورځ له کښتی ځان اوبو ته خطا کوي."

شیخ یاسین په نیش خنده وویل "هغه چې لارښوونه نه مني پایله به یې دا وي او نهنګونه به یې خوري."

یو څو زدکوونکو یې هم ملتیا وکړه خو نور بیا غلي وو درسي ساعت مو په ختمېدو و. شمس تبریزي ستومانه مالومېده.

هغه وویل "په خپلو سفرونو کې مې ډېر شیخان ولیدل. ځینې پکې ریښتیني عالمان وو. خو نور بیا ځان نه په غوره کې وو خو د اسلام په اړه هیڅ نه پوهېدل. زه به د خدای ریښتیني مین د پښو خاورې د نن ورځې د شیخ پر سر ور نه کړم. هغوی چې په پرده کې له سپوري سبل جوړوي تر دوی ښه دي. لاافل دا خو درته وایي چې انځور ریښتینی نه دی."

شیخ یاسین غږ وکړ "بس. ستا له ژبې مو ډېرې خبرې واورېدې. زما له ټولګي همدا اوس ځه."

شمس وویل "زه په خپله روان وم." بیا یې مخ زموږ خوا ته کړ "څه مو چې نن ولیدل دا یو پخوانی بحث دی چې د حضرت محمد ص له وخت پیل شوی. خو دا بحث یوازې د اسلام په تاریخ پورې تړاو نه لري. دا د هر ابراهیمي دین په زړه کې نغښتی."

شمس یوه شیبه دمه وکړه. نظر یې زما په لور داسې و لکه کوم راز چې را سره شریکوي. لکه د یوې ناولې او ناپاکې وروروړلی بلنه.

بیا یې زیاته کړه "په پای کې نه زه او نه مو ښوونکی له هغه ډېر پوهېږو چې خدای را نه لازمه بللې. موږ ټول خپله ونډه تر سره کوو. یوه خبره مهمه ده، لمر په دوو ګوتو نه پټېږي."

شمس خپل ښی لاس په زړه کېښود او له موږ او ان شیخ یاسین سره یې مخه ښه وکړه. خو شیخ یاسین ځنډې ته په قهر ولاړ و. ملنګ ولاړ او ور یې په ځان پسې وتاړه. موږ یوه اوږده شیبه غلي وو.

ارشاد زه له چورت را ویښ کړم. د هغه ما ته پام شوی و چې ما خپل ښی لاس بې ارادې په زړه ایښی و او هغه حقیقت ته یې سلام کاوه چې نوی پرې پوه شوی و.

# غښتلی بابر

## قونیه مې ۱۲۴۶

باور مې نه کېږده چې شمس په دومره سپین سترګي زما له تره سره هغه هم د زدکوونکو په مخ کې مخامخ شوی وي. په دې سړي کې شرم شته؟ کاشکې خو زه هغه شېبه په مدرسه کې وی. مخکې له هغه چې څپله مرداره خوله یې پرانیستلې وی ما به بهر ارتیګلی و. خو زه نه وم. ده زما تره ته ډېرې خبرې کړې وې. زدکوونکي له هماغه راهیسې خبرې پرې کوي. خو د دوی خبرې بې ځایه دي. هغوی د خوسا ملنګ ننګه کوي.

نن مې ماغزه سم کار نه کوي. لامل یې هغه رنډۍ صحرا ګله ده. هیڅ مې له فکره نه وځي. هغه د ګاڼو د قوطي په شان ده چې پټ ځایونه لري. فکر کوې چې ته بې ځښتن بې، خو که دې په غېږ کې هم نیولې وي یا تړلې پاتې وي.

ښایي د هغې چاپېریال مې ځوروي. حیران یم چې ولې یې زما د وهلو پر ورانډې غبر اوچت نه کړ. ولې لکه مرداره غالی زما تر پښو لاندې پرته وه؟ که یې پر ما وار کړی وی او یا یې د مرستې لپاره نارې کړې وی ما به وهل درولي وو. خو بې خوځښته پرته وه، سترګې یې را وتلې وې او خوله یې پټه وه. که ما وژلې وی؟

ډېره هڅه مې کوله چې له رنډۍ خانې ځان وساتم خو نن مې د هغې لیدو ته اړتیا وه. ما وېل هغه به زما په لیدو څه وکړي. که شکایت وکړي او خبره ورانه شي زه به هغې چاغې نر ښځې ته بډې ور کړم او یا به یې ووېروم. په هر څه مې فکر کړی و او ورته چمتو وم. خو د هغې د تېښتې تمه مې نه درلوده.

"ته څه وایې، صحرا ګله نشته؟ چېرې ده؟"

نرښخي وویل "هغه رنډۍ هېره کړه. بابره یو نظر دې نورو نجونو ته هم واچوه."

ما په غوسه خواب ورکړ "زه ستا مرداري رنډۍ نه غواړم... چاغې ورستې. صحراګله غواړم، همدا اوس يې غواړم."

نرښخي زما خبرو هېښنه کړه خو زما سره يې د شخړې زړه نه درلود. په کراره غوږ کې را ته وویل "هغه تللې. داسې وخت تښتېدلې چې ټول په خوب ويده وو."

ډېره جالبه وه. ما وويل "له کومې رنډۍ تښتېدلې. همدا اوس به يې را ته پيدا کوئ."

نرښخي داسې را ته وکتل لکه همدا شېبه يې چې ليدلی وم. "ته څوک يې چې ما ته امرونه کوې؟"

په خواب کې مې ورته وويل "زه امنيت ساتی يم. تره مې مهم سړی دی او له لويو کسانو سره ناسته ولاړه لري. زه دا کور بندولی شم او تاسې ټول سړک ته اچولی شم." د هغې مخې ته د خوړو کاسه ايښې وه. لاس مې ور وړاندې کړ او يو څو خواړه مې ترې واخيستل. لاس مې د نرښخي پر وربښمين ټکري پاک کړ. ډېره په غوسه وه خو زما سره د جګړې غيرت يې نه درلود.

"ما ولې ملامتوې. هغه ملنګ ته ووايه چې صحراګله يې له دې ځايه وتو ته وهڅوله چې خدای ومومي."

لومړی پوه نه شوم چې څوک بنيي. خو بيا مې سر خلاص شو چې مطلب يې شمس تبريزي دی.

يو خو يې د زدکوونکو په مخ کې زما تره سپک کړ او اوس دا. دا سړی د بې شرمۍ حد نه پېژني.

# کیرا

## قونیه مې ۱۲۴۶

نه پوهېږم چې له دې وضعیت سره نور څه وکړم. نن سهار یوه ښځه راغلې وه او د شمس تبریزي پوښتنه يې کوله. ما ورته وويل چې وروسته راشي هغه دا شېبه په کور نه دی. خو هغې وويل چې ځای نه لري او په حویلۍ کې به د تمبدو غوښتنه وکړه. شک مې پرې راغی. ترې ومې پوښتل چې څوک ده او له کومه راغلې. په ګونډو شوه او خپل حجاب يې لرې کړ. مخ يې له ډېرو وهلو شين اوښتی او پړسېدلی و. پر زخمونو او داغونو سربېره ډېره ښایسته او نری وه. په ژړا يې را ته هغه څه وويل چې زما شک و. له رنډۍ خانې راغلې بدلمنې وه.

هغې وويل "خو ما هغه ناوړه ځای پرېښی. عمومي حمام ته ولاړم. څلوېښت ځلې مې ولامبل او د لامبلو پر مهال مې څلوېښت سورتونه وويل. ما قسم وکړ چې نوره له سړيو ځان ساتم او خپل ژوند خدای ته ځانګړی کوم."

نه پوهېدم څه ورته ووايم. د هغې ژوبلو سترګو ته مې وکتل. ډېره ځوانه او نازکه وه. ځنګه يې وکولای شوای داسې ژوند پرېږدي چې ورسره بلده وه. نه مې غوښتل بدلمنې ښځې خپل کور ته نژدې ووينم. خو په دې نجلۍ کې يو څه وو چې زما زړه يې ور مات کړ. يو شان سادګي چې معصومیت ته نژدې وه. د هغې خړې سترګې د بي بي مريم سترګو ته ورته وې. ونه توانېدم چې له کوره يې وشړم. پرې مې ښودله چې په حویلۍ کې نمه شي. دا يوازېنی کار و چې ما ور سره کولی شوی. دیوال ته يې تکیه ووهله، لکه بت له ځایه نه خوځېده.

یو ساعت وروسته چې شمس او مولانا را ستانه شول، په منډه ورغلم او له نابللې ښځې مې خبر کړل.

مولانا هېښ شو "ته وایې زموږ کور ته رنډۍ راغلې؟"

"هو او وایي چې رنډۍ خانه یې پرېښې چې خدای ومومي."

شمس حیران نه و، خوشال مالومېده "ښه دا به صحراګله وي. ولې دې په حوېلۍ کې دروله. کور ته یې د ننه راوله."

ما اعتراض وکړ "خو زموږ ګاونډیان به څه وایي که پوه شي زموږ تر چت لاندې یوه بدنومې نجلۍ راغلې."

شمس اسمان ته ګوته ونیوه "موږ ټول تر یوه چت لاندې نه اوسېږو؟ شاهان او درویزګر، باکرې او رنډۍ ټول تر یوه اسمان لاندې دي."

له شمس سره مې څرنګه دعوا کولی شوی. هغه هر څه ته په خوله کې تیار ځواب درلود. ما بدلمنه ښځه کور ته د ننه راوسته. دعاوې مې کولې چې د ګاونډیانو تېرې سترګې یې ونه وینې. خونې ته له ننوتو سره د شمس پر لاسونو ور کښته او په ژړا شوه.

شمس ورته وویل "ډېر خوشاله یم چې ته دلته راغلې. ته به هېڅکله بیا هلته نه ځې. ستا د ژوند هغه پړاو بشپړ بند شو. خدای دې د حق په لار کې سفر بختور کړه."

صحرا ګلې ژړا ته نور هم زور ورکړ. "خو نر ښځې به مې هېڅکله په کرار پرې نږدي. شغال سری به ما پسې کړي. ته نه پوهېږې چې..."

شمس یې خبره پرې کړه. "ماغزه دې ارامه کړه بچې. یوه بله قاعده یاد کړه: هر سړی به دې نړۍ کې هڅه کوي چې ځان یو ځای ته ورسوي او یو مقام تر لاسه کړي. خو له مرګ وروسته هر څه ترې پاتې شي. ته د عدم تر ټولو لوړ ځای ته هڅه کوي. د رڼا او تش ترمنځ حلقه (کړۍ) کې ژوند وکړه. موږ له لوږې تږې نه لرو. د بهر ښکلا مو نه، د

نه تشوالی مو پر ځای نیغ دروي. د لاسته راوړنې هڅه مو نه خوځوي د عدم پوهاوی مو په حرکت را ولي."

ناوخته ماښام مې صحراګلې ته د هغې د خوب بستر ور وښود. وار له واره ویده شوه. زه لويې خونې ته را غلم. مولانا او شمس خبرې کولې.

زما په ليدو شمس وويل "ته بايد زموږ ننداري ته راشې."
ما وپوښتل "کومه ننداره؟"
"روحاني نڅا، کيرا داسې څه چې تا تر اوسه نه دي ليدلي."
ما په حيرانتيا خپل مېړه ته وکتل. خبره څه ده؟ دوی پر کومه نڅا خبرې کوي؟ مخ مې سور کېده.

"مولانا، ته يو با عزته عالم يې. کوم نڅاګر نه. خلک به ستا په اړه څه فکر کوي؟"
مولانا وويل "انديښنه مه کوه. ما او شمس له ډېرې مودې پرې خبرې کړې. موږ غواړو د درویشانو نڅا خلکو ته ور وپېژنو. نوم يې سما دی. هغوی چې د الهي مينې لېوال دي زموږ هرکلي ته دې راشي."

سر مې په درد شو، خو د زړه درد مې له هغه ډېر و.
شمس ته مې وويل "که د خلکو خوښه نشي بيا؟ هر څوک د نڅا په اړه ښه فکر نه لري."
شمس وار له واره وويل "هر څوک د خدای په اړه ښه فکر نه لري. نو ايا موږ به د خدای باور پرېږدو؟"

همدا د بحث پايله وه. د ويلو لپاره څه نه وو پاتې. د باد شپېلا په کوز کې لګېده او زما پر غوږونو ننوته.

# سلطان ولد

## قونیه جون ۱۲۴۶

شمس به ویل "ښکلا د کتونکي په سترګو کې ده. هر څوک به نځا ګوري، خو د هرچا لیدل به له بل سره توپیر لري. اندېښنه په څه کې ده؟ ځینې به یې خوښه کړي ځینې نه."

د سما په ماښام مې شمس ته وویل چې ښايي هیڅ څوک را نشي.

هغه وویل "رې مه وهه. د ښار خلکو ښايي زه خوښ نه یم، ښايي پلار دې هم هغوی ته نور خوږ نه وي. خو له موږ سترګې نشي پټولی. تلوسه به هغوی دلته راولي."

همداسې و. د ننداري په ماښام سر لوڅې دالان ډک و. سوداګر، پښان، ترکاڼان، کلیوال، ډېر ماتوونکي، رنګرېزان، درمل پلوري، دولتي ماموران، خبازان، غمازان، سادوان، د موږکو ښکاریان، عطرو پلوري او ان شیخ یاسین د خپلو زدکوونکو له یوې ډلې سره راغلی و. ښځې په اخر سر کې ناستې وې.

د کی خسرو په لیدو مې فکر ارام شو چې له خپلو سلاکارانو سره په لومړي کتار کې ناست و. د داسې مقام څښتن چې زما د پلار ملاتړ وکړي د خلکو خولې به بندې شي.

د خلکو ځای ناستې یوه اوږده موده ونیوه. له کیناستو وروسته هم د خبرو غږ ارام نشو. غوښتل مې د داسې چا تر څنګ کینم چې پر شمس بد ونه وايي. د شرابي سلیمان خوا ته کیناستم. د شرابو بوی ترې ته، خو ما یې پروا ونه کړه.

لنګې مې لړزېدل، ورغوې مې خولې وه. هوا توده وه خو زما ژامې کړپېدې. دا ماښام زما د پلار پرځېدونکې نوم ته مهم و. خدای ته مې دعا کوله خو نه پوهېدم چې څه ترې وغواړم.

ناڅاپه له لرې يو غږ راغی چې بيا را نژدې کېده. په غوږو ښه لګېده. خلک غلي شول او غوږ شول.

سليمان په ارامه وويل "دا کومه اله ده؟"

د پلار او شمس له خبرو مې اورېدلي وو. ما ويل "دې ته نی وايي. د مېين اسوېلی، د خپل معشوق لپاره غږ دی. د نی غږ چې په کرار شو، پلار مې د خلکو مخ ته څرګند شو. په ارامه يې د خلکو هرکلی وکړ. شپږ درويشان چې زما د پلار ياران وو هغه پسې راغلل. ټولو د لويو لمنو سپين اوږده کميسونه اغوستي وو. لاسونه يې په خپلو ټټرو تېر او ېېر ونيول او زما پلار ته يې درناوی وکړ چې دعا ترې واخلي. بيا موسيقي پيل شوه. درويشان په څرخېدو شول. په سر کې ارام خو وروسته ګړندي شول. لمنې يې د نيلوفر د ګلانو په څېر وغوړېدې.

په زړه پورې ننداره وه. زه له وياړ او خوند خوشال وم. شاوخوا خلکو ته مې پټ ور وکتل، هغه چې ډېرې نيوکې يې کولې هم ننداره يې په خوند کتله.

درويشان دومره وڅرخېدل تا به ويل چې درېدل يې نشته. بيا موزيک په لوړېدو شو. د رباب غږ له نی او ډول سره مل شو. شمس تبريزي د صحرا د توپان په شان صحنې ته راغی. څړ رنګه کميس يې اغوستی و او له نورو دنګ مالومېده. تاوېدل يې هم تر نورو چټک وو. لاسونه او مخ يې اسمان ته نيولي وو لکه د لمرګل د لمر په لور.

خلک ګوته په غاښ وو. هغوی چې له شمس يې کرکه درلوده دې شېبې اغېزمن کړي وو. شمس او زما د پلار ياران په څرخېدو وو. پلار مې د چنار د ونې په څېر څاپرخای ولاړ و. شونډې يې خوځېدلې. څرګنده وه چې دعا کوي.

موسیقي ارامه شوه. درویشانو څرخېدل بس کړل. د نیلوفر د ګلانو په څېر لمنې ورټولې شوې. پلار مې د صحنې سریو او نندارچیانو ته دعا ورکړه. د یوې شیبې لپاره داسې مالومېده چې موږ ټول په یو بشپړ سمون کې اوسېږو. چوپتیا خوره شوه. هېڅوک نه پوهېدل چې څه ډول عکس العمل وکړي. داسې څه تر اوسه چا نه وو لیدلي.

د پلار غږ مې چوپتیا ماته کړه. "ملګرو دا سما وه. د څرخېدونکو درویشانو نڅا. له نن وروسته د هر عمر درویشان سما کوي. یو ورغوی پورته اسمان خوا ته، بل د ځمکې خوا ته. د خدای د مینې هر څاڅکی چې تر لاسه کوو، ژمنه کوو چې نورو ته یې ور کړو."

لیدونکي په موسکا شول د منلو نه پوهېدونکی غږ یې واورېدل شو. بیا یې تود هرکلی وکړ. دې تود غبرګون زما سترګو ته اوښکې راوستې. بلاخره زما پلار او شمس هغه مینه او درناوی تر لاسه کړ چې ور یې وو.

دا ماښام همداسې تود ختمېدلی او زه خوشاله کور ته ستنېدلی شوم. خو یوه پېښه وشوه چې هر څه یې وران کړل.

# شرابي سلیمان

## قونیه جون ۱۲٤٦

یو نه هېرېدونکی ماښام. تر اوسه یې له اغېز نه یم راوتی. نن شپه مې چې هر څه ولیدل، پایله یې هېښوونکې وه. له سما وروسته لوی دوهم کې خسرو ولاړ شو. شاوخوا یې وکتل. د ستېج لوري ته ولاړ. په خندا شو بیا یې وویل:

"مبارک مو شه درویښانو. ستاسې له ادا نه مې خوند واخیست."

مولانا له ده او نورو کسانو مننه وکړه. بیا ساز غږوونکي ولاړ شول او د عالي جناب درناوی یې وکړ. کې خسرو په خپلو ساتونکو کې یوه ته اشاره وکړه. هغه په لاس کې یوه بخملینه کڅوړه ورکړه. کې خسرو کڅوړه په لاس کې څو ځلې پورته واچوله چې خلکو ته وښيي څومره سر زر پکې دي. بیا یې کڅوړه د ستېج پر مخ گوزار کړه. زما شاوخوا خلک حیران شول او لاسونه یې وپړکول. د خپل واکمن په دې سخاوت ټول خوشال شول.

کې خسرو په ویاړ سره وگرځېد چې لاړ شي. خو لا دروازې ته رسېدلی نه و چې هماغه کڅوړه له شا نه ور واز شوه. سکې د هغه له پښو سره وشیندل شوې. دا پېښه په ډېره چټکۍ سره وشوه. ټول حیران وو خو کې خسرو پخپله له نورو ډېر حیران و. دا یو نه بښونکی سپکاوی و. شا ته یې وکتل چې دا د نه منلو چلن چا وکړ.

هغه شمس تبریزي و. ټولو د هغه لوري ته وکتل. د ستېج په منځ کې ولاړ و. لاسونه یې یو تر بل تېر په ټټر اېښي وو. سترگې یې وېروونکې او سرې وې.

"موږ د پیسو لپاره نه نخېږو. سما یوه روحاني نخا ده، یوازې د میني لپاره کېږي. نو خپل سره زر دې بېرته در واخله. واکمنه ستا پیسې دلته په کار نه راځي."

یوه وېرووونکې چوپتیا خوره شوه. د مولانا مشر زوی دومره سپین تنبی و تا به ویل خاشکی وینه پکې نشته. هېچا د خبرو زړه نه درلود. زموږ ټولو سا درېدلي وه. لکه اسمان چې دې شېبې ته تم و، ناڅاپه باران په ورېدو شو. خای او خلک په لمدېدو شول. کې خسرو خپلو ملګرو ته د تګ غږ وکړ.

باړخوګان یې له شرمه ړپېدل، شونډې یې بې ارادې بنوربدې، اوږې یې خرېدلې وې. واکمن له وره ووت. ملګري او سپاهیان یې ورپسې شول. د سرو زرو سکې یې تر موزو لاندې په ختو کې ښخې شوې. د سرو زرو په ټولولو کې د خلکو ټېل ماټېل شو.

د واکمن له وتو سره سم لاسي د خپګان او نه منلو فضا په خلکو کې خوره شوه. ځینو ویل "خان څه ورته مالومېږي؟"

نورو به ویل "څنګه یې دا زړه وکړ چې زموږ واکمن ته سپکاوی وکړي؟ که کې خسرو د دې چلن پور له ټول ښاره واخلي بیا؟"

یوه ډله د اعتراض په څېر ولاړه شوه، سرونه یې ښورول او په وتو شول. په سر کې یې شیخ یاسین او د هغه زدکوونکي وو. عجیبه خبره خو دا وه چې د مولانا دوه پخواني یاران او کشر زوی علاوالدین هم پکې وو.

# علاوالدين

## قونيه ۱۲۴۶

قسم په خدای چې زه په ژوند کې دومره نه وم زهير شوی. دا بس نه وه چې خپل پلار مې د هغه ملحد سره په سازش کې ليده، د نخاګرو ولې راوستل يې لا بل شرم و. ولې يې د ټول ښار په مخ کې داسې ځان وشرماوه؟ پر دې سربېره د خلکو په منځ کې يوه رنډۍ هم وه. زه ناست وم او ويل مې له شمس سره زما د پلار مينه به نور څومره لېونتوب او ويجاړۍ پر موږ راولي. په ژوند کې مې لومړی ځل وويل کاشکې زه د بل سړي زوی وی.

زما لپاره خو ټوله ننداره ناوړه وه. خو څه چې وروسته وشول د ويلو نه وو. هغه بې حيثيته سړي څنګه زموږ واکمن ته سپکاوی وکړ؟ بخت يې بيدار و چې کې خسرو يې په هماغه ځای کې د نيولو او اعدام حکم ونه کړ.

شيخ ياسين مې وليد چې له کې خسرو وروسته په وتو شو. پوهېدم چې زه هم بايد ور سره شم. نه مې غوښتل چې د ښار خلک ما د هغه ملحد پلوی وبولي. ټولو ته بايد څرګنده شوې وی چې زه د خپل ورور په شان د پلار لاس پوڅی نه يم.

په هغه شپه زه کور ته نه ولاړم. زه له خو ملګرو سره د ارشاد کور ته ولاړم. موږ د هغې ورځې په پېښه خبرې وکړې او اوږد بحث مو سره وکړ د راتلونکي په اړه بايد څه وکړو.

ارشاد وويل "دې سړي دې په پلار ناوړه اغېز کړی. اوس يې رنډۍ ستاسې کور ته راوستې. علاوالدينه ته بايد د خپلې کورنۍ نوم پاک کړې."

د دوی خبرو ته مې غوږ و خو مخ مې له شرمه سور اوښتی و. ما ته یوه خبره روښانه وه، شمس مورږ ته له بدمرغۍ پرته بل شی نه وو راوړي.

په ګډه مو پرېکړه وکړه چې شمس باید له دې ښاره ولاړ شي. که په رضا نه ځي په زور باید وشړل شي.

په سبا یې زه کور ته ولاړم چې له شمس تبرېزي سره مخامخ خبرې وکړم. په حویلۍ کې مې وموند. نی یې غږوله. ما ته یې شا وه او سر یې کښته و. په خپل ساز کې ډوب و، زما له راتګه خبر نه شو. زه ډېر په کراره ورنژدې شوم چې خپل دښمن له نژدې ووینم.

یوه اوږده شېبه ووته. هغه نی غږول بند کړل. سر یې اوچت کړ. پرته له دې چې ما ته وګوري په ارام اواز یې وویل "سلام علیکم علاوالدینه، زما سره دې کار و؟"

ما څه و نه ویل. زه له ورایه پوهېدم چې شمس د دیوال شا ته لیدی شي. او په څټ کې یې هم سترګه شته.

هغه وپوښتل "د تېرې شپې له محفلې دې خوند واخیست؟" مخ یې را واړاوه.

وار له واره مې ځواب ورکړ "زما په اند شرمونکی و. راځه چې سپینې خبرې وکړو. ته مې نه خوښېږې. هېڅکله مې نه خوښېدې او نور دې نه پرېږدم چې زما د پلار نوم له دې هم زیات سپک کړې."

شمس خپله نی ځنګ ته کېښوده. سترګې یې ورېېدې او ما ته یې وویل "تو ټوله خبره همدا ده؟ که د مولانا حیثیت خراب شي خلک به تا ته د یو مخور سړي د زوی په سترګه نه ګوري. له دې وېره لرې؟"

نه مې غوښتل د ده خبرې پر ما اغېز وکړي. خو بیا هم یوه شېبه ولګېده تر هغې چې له سره په خبرو راغلم. "ته ولې نه ځې او مورږ هوساینې ته نه پرېږدې؟ ستا له راتګه مخکې

مور ډېر خوشال وو. زما پلار عالم دی او کورنی لري. ستاسې دواړو ترمنځ هېڅ ورتوالی نشته."

په زړه کې مې را وګرځېده چې راځه ښه وهل ور کړه. تر هغه چې څوک يې مرستې ته راځي ما به زړه سوړ کړی وي. خو لکه هغه چې زما ذهن لوستی وي. ما ته يې وکتل. نا څاپه مې غږي وتښول. لاسونه او بيا پښې مې څېرې شوې. لکه څوک چې مې بدن په ستنو وسکوندي. ګونډې مې بې حسه شوې. خامخا به کوډې وې. شک مې نه لاره چې شمس په کوډو کې ډېر برلاسی دی.

"زما نه وېرېږې علاوالدينه؟ پوهېږې ته ما ته هغه کړ سترګی مرستيال را يادوې؟"
ما وويل "ته پوهېږم چې ته څه وايې؟"
"يوه کيسه ده. کيسې دې خوښيږي؟"
ما ورته وويل "وخت ورته نه لرم."

شمس وويل "سړې چې کيسو ته وخت ونه لري خدای ته هم وخت نه لري. پوهېږې چې خدای تر ټولو ښه کيسه ويونکی دی؟"

مخکې له هغې چې زما ځواب ته په تمه شي هغه خپله کيسه داسې پيل کړه.

يو وخت يو کسب ګر و يو تريخ مرستيال يې هم درلود. دې مرستيال هرڅه دوه ليدل. يوه ورځ يې مشر ورته وويل چې د شاتو بوتل له ګودامه راوړي. مرستيال تش لاس راستون شو. "استاده هلته د شاتو دوه بوتل وو. کوم يو مې راوړی وی." مشر چې د خپل مرستيال په ستونزه سر خلاص و وويل "يو در سره مات کړه او دا بل ما ته راوړه."

بس کم عقل مرستيال د دې خبرې په اصلي موخه پوه نشو او څرنګه چې ورته ويل شوي و يو بوتل يې مات کړ. حيران شو چې دا بل بوتل هم ورسره مات شو.

ما وپوښتل "ته څه ويل غواړې؟ ته او ستا کيسې دې ورک شئ. کله سيده خبرې هم کولی شې؟"

شمس وویل "خو دا سیده خبره ده علاوالدینه. ته لکه کږ سترګی مرستیال هر څه دوه ویني. زه او ستا پلار یو یو. که ما مات کړې نو هغه به هم را سره مات شي."

ما اعتراض وکړ "ته او پلار مې یو شان نه یاست. که زه لومړی بوتل مات کړم دوهم بوتل به ازاد شي."

زه دومره غوسه او له کرکې ډک وم چې د خپلې خبرې پایله مې نه لیده. نه هغه وخت او نه هم وروسته. تر هغې چې بیا خبره تر خبرې تېره وه.

## شمس

### قونیه جون ۱۲۴۶

جاهلان نڅا سپڅلتیا ته سپکاوی بولي. دوی فکر کوي چې خدای موږ ته موسیقي را کړې، نه یوازې هغه موسیقي چې موږ یې په غږ او الاتو منځ ته راوړو، بلکې هغه موسیقي چې د ژوند هره برخه کې ده. او بیا یې موږ له اورېدو منع کړي یو. هغوی نه وینې چې ټول طبیعت سندرې وایي؟ په کایناتو کې هر څه په یو ساز خوځېږي، د زړه درزاري، د مارغه د وزرو ترپاري، د توپاني باد شنها، د پښې کار له وسپنې سره او یا هغه غږ چې د مور په نس کې تر ماشوم چاپېرې دي. ټول شیان د یوې ښکلې نغمې برخې دي او ونډه پکې اخلي. د څرخېدونکو درویشانو نڅا په دې نه بدلېدونکي زنځیر کې نښلوونکې کړۍ ده. هغسې چې د سمندر یو څاڅکی په خپل ځان کې د ټول سمندر اجزاوې لري، زموږ په نڅا کې هم د شمسي نظام رازونه پټ دي او هم منعکس.

له سما څو ساعته مخکې زه او مولانا د تفکر لپاره په یوه خونه ننوتو. بیا شپږ درویشان چې زموږ ملتیا یې کوله راغلل. په ګډه مو اودس وکړ او په جماعت مو لمونځ وکړ. بیا مو خپلې ځانګړې جامې واغوستې. تر هغه مخکې مو پر جامو خبرې کړې وې. ټوکر مو ساده او د څمکې رنګونه مو خوښ کړل. د ګبینو په رنګ خولۍ د قبر د ډبرې نښه، سپین اوږد کمیس د کفن او توره چپنه د قبر نښه ده. زموږ نڅا د عارفانو ژوند دی چې څرنګه خپل ځان له لاسه ورکوي لکه د زاړه پوستکي تویول.

دالان ته له تلو مخکې مولانا یو شعر ووایه:

عارف له پنځو حسو او شپږ لارو ځان اوزګار کړ

تا ته وایي د هغوی تر شا څه دي.

له هغه احساس سره موږ چمتو شوو. لومړی د نی اواز راغی. بیا مولانا د سما د لاربنود په خبر د نه شو. شېږ درویشان یو یو هغه پسې ورغلل. سرونه یې د درناوي په خاطر کښته وو. وروستی باید شېخ وي. ما په کلکه له دې کار ډډه کوله خو مولانا ټینګار وکړ چې نن شپه زه باید دا دنده تر سره کړم.

حافظ القرآن د رحمن سورت یوه برخه قراءت کړه: په یقین د مومنانو لپاره پر ځمکه نښې شته او ستاسې په ځانونو کې هم. تاسې یې نه وینئ؟

بیا له ډول، نی او رباب سره د موسیقۍ غږ پیل شو.
نی ته غوږ شه، کیسه یې واوره
له بیلتونه شکایت کوي
له نیستانه د پرې کېدو راهیسې
له اسویلي مې ښځې او نر په نارو شوي
لومړي درویش ځان د خدای په واک کې ور کړ او په څرخېدو یې پیل وکړ. کمیس یې خپل ځان ته خوځښت پیل کړ. بیا موږ هم ور ګډ شوو او تر هغه وڅرخېدو چې هرڅه په یوه بدل شول. له اسمانه مو چې څه ترلاسه کول ځمکې ته مو ورکول، له خدایه خلکو ته. زموږ هر یو هغه اړیکه شوو چې عاشق له معشوق سره نښلوي. د موزیک په درېدو سره موږ په ګډه د طبیعت څواکونو ته اور، باد، خاورې او اوبو ته تعظیم وکړ او هم پنځم عنصر ته چې عدم دی.

زما او کې خسرو ترمنځ چې څه وشول زه پرې پښېمانه نه یم. خو خواشیني یم چې مولانا مې له ناوړه وضعیت سره مخ کړ. هغه تل له نعمتونو او خوندیتابه خوند اخیست. هېڅکله یې پخوا له واکمن سره اړیکې وراني شوې نه وې. اوس یې د عامو خلکو د ورځني ژوند یوه برخه وګڼله. هغه واټن چې د واکمنو او خلکو ترمنځ وي.

له دې سره فکر کوم چې په قونیه کې زما وخت پای ته رسېدلی دی.

هره رېښتینې مینه او ملګرتیا د نابېره بدلون کیسه ده. که له مینې مخکې او وروسته یو شان پاتې شو مانا دا چې بشپړه مینه مو نه ده کړې.

د شعر، موسیقۍ او نڅا له پیل سره د مولانا د بدلون لویه برخه بشپړه شوې. یو وخت چې وچ ملا و او شعر یې نه خوښاوه، او واعظ و، په خپل غږ مېین و، اوس مولانا پخپله شاعر شوی. د خالصې تشې غږ شوی، خو ښايي تر اوسه په دې نه وي خبر. زه هم بدل شوی یم او بدلېږم. زه له تشې نه په اوښکو کې خوځېږم. له یو فصله تر بل فصله، له یوه پړاوه تر بله، له ژوندې د مرګ په لور.

زموږ ملګرتیا یو برکت و، د خدای رحمت و. موږ وده وکړه، وجد مو وکړ، وغوړېدو او د یو بل په شتون کې تاوده شوو، له بشپړ سعادته مو خوند واخیست.

را یاد شوه چې یو ځل بابا زمان را ته ویلي وو. د ورېښمو پخوالي ته د ورېښمو چنجی باید ومري. د نڅا په دالان کې د خلکو له وتو وروسته، زه پوه شوم چې له مولانا سره زما وخت پای ته رسېدلی دی. په خپله ملګرتیا کې ما او مولانا ځانګړې ښکلا تجربه کړه، زده مو کړل چې د ابد سره مخامخېدل یعنې څه. د دوو هېندارو یو بل ته بې پایه انعکاس. خو پخوانۍ قاعده اوس هم پر ځای ده: چېرته چې مینه وي زړه ماتی به خامخا ورسره وي.

# پنځمه برخه

## تشه

## هغه څه چې په خپل نشت کې موجود وي

# سلطان ولد

## قونیه جولای ۱۲۴۶

سا یې په سختۍ اخیسته. په ولاړېدو یې ستونزه درلوده. پلار مې زما خونې ته راغی. داسې مالومېده تا ویل د هغه سیوری دی. سترګې یې پړسېدلې او تورې اوښتې وې لکه تو له شپه یې وېښه تېره کړې وي. خو زه یې ډېرې هېښ کړم. په یوه شپه کې سپینه اوښتې وه.

"زویه مرسته را سره وکړه."

ما ور منډې کړې او تر مټ مې ونیوه. "امر کوه پلاره."

له یوې شیبې چوپتیا وروسته یې وویل "شمس تللی. زه یې پرېښودم."

په دې خبر سره هم حیران شوم او هم مې یو ډول وجود سپک شو. هېښ او خپه وم خو ما ویل دا به زموږ ټولو په خیر وي. اوس به ژوند اسانه او هوسا نه وي؟ پلار مې د شمس له امله دښمنان پیدا کړي وو. ما غوښتل هرڅه د شمس له راتګه مخکې په شان شي. ښایي علاوالدین په حقه و، له شمس پرته مو ژوند ښه نه و؟

پلار مې زما فکر حس کړ. "مه هېروه چې هغه ما ته څه حیثیت لري. زه او هغه یو یو. سپوږمۍ رڼا او تیاره خواوې لري. شمس زما بې باکه خوا ده.

ما تایید کړه. په خپل فکر وشرمېدم. په کار نه وه چې پلار مې نورې خبرې کړې وی. ما هېڅکله د انسان په سترګو کې دومره درد نه و لیدلی. ژبه مې درنده شوه. خبرې مې نشوی کولی.

پلار مې وویل "ستا نه غواړم چې شمس را ته پیدا کړې په دې شرط چې دی غواړې. بېرته یې را وله. ورته ووایه چې زړه مې څومره درد پسې کوي. ورته ووایه د هغه نشتون ما وژني."

ما د شمس د راوستو ژمنه ور سره وکړه. زما لاس یې له مننودیې کلک کړ. ما نظر بل لورې ته کړ. نه مې غوښتل چې زما په سترګو کې د نه هوډ نښه ووینې.

یوه اونۍ مې د قونیې سړکونه ولټول چې د شمس د پل نښې ومومم. خلک د هغه په ورکېدو خبر شول او د ځای په اړه یې خلکو بېلابېل فکرونه درلودل. له یوه جزام وهلي سره مخ شوم چې شمس ډېر پرې ګران و. هغه ګڼ شمېر یې وزله خلکو ته واستولم چې شمس مرسته ور سره کړې وه. خبر نه وم چې دومره خلک به له شمس سره مینه لري. دا ډول خلک تر اوسه ما ته نه مالومېدل.

یو ماښام ستړی ستومانه کور ته راغلم. کیرا یو قاب وریژې را ته را وړې. ترخنګ مې کېناسته او زما د خوړلو سیل یې کاوه. له خپګان سره یې په خوله موسکا وه. پام مې شو چې په دې یوه کال کې څومره زړه شوې.

هغې وویل "اورېدلي مې دي چې غواړې شمس بېرته را ولې. ته پوهېږې چېرې تللی؟"

"داسې ګنګوسې دي چې دمشق ته تللی. خو ځینې نور بیا وایي ښایي اصفهان، قاهرې او یا هم خپل مورنی ټاټوبي تبریز ته تللی وي. دا ټول ځایونه باید ولټول شي. زه به دمشق ته ولاړ شم. د پلار ملګري به دا درې نور ښارونه ولټوي."

د کیرا پر مخ د ویاړ څېره را څرګنده شوه، لکه په لوړ اواز چې فکر کوي "مولانا غزلې لیکي. ډېرې ښایسته دي. د شمس نشتون هغه شاعر کړ."

سترګې یې په غالۍ کې ښخې کړې. اسوېلی یې وایست او بیا یې دا بیت ووایه:

ما د پادشاه پر مخ ليدلی وياړ دی
د اسمان سترگه او لمر دی هغه

فضا کې وو .... مخکې نه وو. ليدل مې چې کيرا د ننه غمجنه وه. يوازې مخ ته يې په کتو سرې پوهېده چې د خپل مېړه په خپگان کې دردېدلې. د هغه د يوې موسکا لپاره چمتو وه چې هر کار وکړي. خو بيا په هماغه اندازه خوشاله هم وه چې له شمس بېغمه شوه.

ما وويل "که بېې ونه موم بيا؟"

په سترگو کې يې هيله را ژوندی شوه "بيا به نو څه نشو کولی. د پخوا په شان به خپل ژوند کوو."

له شک او شبهې پرته پوه شوم چې د هغې زړه څه غواړي. ضرور نه وه شمس تبريزي پيدا کړم. د دمشق تگ ته هم اړتيا نه وه. سبا له قونيې بهر وتلی شم. د يوې لويې لارې پر سر به کوم هوټل کې پاتې کېدی شم چې بيا يو څو اونۍ وروسته را ستون شم. داسې وښيم چې شمس پسې مې هر ځای کتلی دی. پلار به مې زما خبره ومني او دا کيسې به زياتې ختمه شه. ښايي دا به ښه لار وي. نه يوازې کيرا او علاوالدين ته چې تل يې د شمس په اړه شک درلود، بلکې د پلار يارانو او زدکوونکو ان ما ته به هم گټوره وي.

ما وويل "کيرا، زه بايد څه وکړم؟"

او دا ښځې چې زما د پلار سره د واده په خاطر مسلمانه شوه، زما او زما ورور ته مور شوه، او خپل مېړه دومره پرې گران دی چې شعرونه يې په ياد کړي، په دردوونکې نظر را وکتل او هېڅ يې و نه ويل. د ويلو لپاره نور الفاظ ور سره نه وو.

د خپلې پوښتنې ځواب بايد په خپله پيدا کړم.

# رومي

## قونيه اگست ۱۲۴۶

له لمر پرته نړۍ ويجاړه ده، له هغې ورځې چې شمس تللی. ښار سوړ او خپه دی او زما روح تش دی. د شپې خوب نه لرم او د ورځې ارام. دلته يم او نه يم، لکه د خلکو په منځ کې پيری. بې ارادې پر ټولو غوسه يم. هغوی څنگه داسې اوسېدی شي لکه هېڅ بدلون چې نه وي راغلی؟ څنگه ممکنه ده چې ژوند له شمس تبريزي پرته ژوند وي؟

هره ورځ له ماښامه تر سهاره په کتابتون کې کېنم او له شمس پرته په بل هېڅ څه فکر نه کوم. په ياد مې دي چې يوه ورځ يې را ته وويل "ته به يوه ورځ د مينې غږ شې."

په دې اړه نه پوهېږم. خو دا رېښتيا ده چې چوپتيا مې دردوي. الفاظ د زړه په تيارو کې لار را ته پرانيځي. دا هغه وو چې شمس غوښتل، همداسې نه ده؟ چې له ما شاعر جوړ کړي.

ژوند يعنې بشپړېدل. هره پېښه که لويه وي که وړه، هره خواري چې موږ گالو زموږ د بشپړېدو لپاره الهي پلان دی. له انسان سره خواري تړلې ده. له همدې امله په قرآن کې راغلي "په يقين سره به موږ هغوی ته خپلې لارې ور ښکاره کړو چې زموږ په لاره کې خواري کوي." د خدای په نظام کې د تصادف په نوم څه نشته او دا هم تصادف نه و چې نژدې دوه کاله مخکې شمس زما پر لار پيښ شو.

يو ځل شمس را ته وويل "زه تا ته باد نه يم را وړی."
او بيا يې يوه کيسه را ته وکړه.

يو وخت يو عارف و. دومره پوه و چې د عيسی ع روح پکې وه. يوازې يو زدکوونکی يې درلود. په همدې راضي و. خو زدکوونکی يې خوشال نه و. هغه خپل استاد ته زاری کولې چې نور زدکوونکي هم ومني. هغوی به هم د ده له پياوړتيا خبر شي.

يوه ورځ استاد ومنله "سمه ده. که دا کار تا خوشالوي زه به همداسې وکړم."

په هغه ورځ بازار ته ولاړل. پر يو مېز مرغۍ ډوله خواږه وو. استاد ور پو کړل. مرغۍ ژوندۍ شوې او والوتې. شاوخوا ښاريان حيران شول او پر ده راغونډ شول. له هغې ورځې وروسته هر چا په ښار کې د عارف ستاينوکې سندرې ويلې. په لږ وخت کې يې دومره پلويان او خواخوږي وموندل چې پخواني زدکوونکي ليدی لا نشوی. يوه ورځ يې چې وليد هغه ته يې وويل "استاده زه تېروتلی وم. پخوانۍ ورځې ښې وې. خير دی داسې څه وکړه چې دا خلک نور ورک شي."

استاد ور سره ومنله. پر سبا يې خلکو ته وينا کوله او باد يې مات شو. پلويان يې په دې چلن ناهيلي شول او يو يو ترې ولاړل. يوازې پخوانی زدکوونکی ور پاتې شو.

استاد يې ترې وپوښتل "ته ولې نه ولاړې؟"

زدکوونکي ورته وويل "زه د لومړي باد له امله نه وم راغلی او د وروستي باد له امله هم نه ځم."

شمس چې څه کول هغه يې زما د بشپړېدو لپاره کول. پر هغه څه چې د ښار خلکو هيڅ کله سر خلاص نه شو. شمس له قصده اور ته لمن وهلو سره د خلکو غوسه پاروله او داسې خبرې يې کولې چې عامو خلکو ته کفر مالومېدې، خلکو او ان هغوی چې دی ورته گران و غبرگون ښوده. زما کتابونه يې اوبو ته خطا کړل. له ما يې غوښتل چې خپله پوهه هېره کړم. هر چا اورېدلي وو چې پر شبخانو او عالمانو نيوکې کوي، خو لږ شمېر خبر وو چې څومره په تفسير کې پوه و. شمس په کيميا، نجوم، الهياتو، فلسفه او منطق کې ژوره پوهه درلوده. خو هغه فقير و او د فقيری ژوند يې کاوه.

زموږ ور ېې یوې رنډې ته پرانیست او موږ یې له هغې سره د خپلې دوړې شریکولو ته اړ کړو. زه یې شرابتون ته ولېږلم او د نشه خلکو سره یې زما پر خبرو ټینګار وکړ. یو ځل بې زه په هغه جومات کې خیر غوښتنې ته اړ کړم چې ما پکې ویناکوله. غوښتل یې د جذام وهلي دروېزګر په حال خبر شم. لومړی یې له خپلو پلویانو بېل کړم، بیا یې د واکمنو له ټولنې سره زما اړیکې وشلولې. د عامو خلکو د ژوند څکه یې راباندې وکړه. د هغه له برکته مې داسې خلکو سره ولیدل چې هېڅکله به مې نه لیدل. د هغه په باور هر هغه څنګ یا بت چې د انسان او خدای ترمنځ دریږي باید ونړول شي لکه نوم، شتمني، موقف او ان مذهب. شمس زما ټول هغه څه پرې کړل چې ژوند سره یې نښلولی وم. د ذهن هره پوله، وياړ یا دود به یې چې ولید له ښکرو به یې ونیو او ډغرې به یې ور سره وهلې.

د ده لپاره زه تر ازموینو، حالاتو او پړاوونو واوښتم. هرې ازموینې له ما ډېر نژدې او وفادار پلویان پردي کړل. پخوا مې بې شمېره پلویان درلودل خو اوس مې د پلویانو اړتیا له منځه وړې. وار په وار شمس وتوانېد چې زما ټولنیز ځای ویجاړ کړي. د هغه له برکته د جنون په ارزښت پوه شوم او د یوازېتوب، نامرستی، افترا، ګوښه کېدنې او په پای کې د زړه ماتېدنې خوند مې ولید.

څه چې ګټور دي ترې وتښته
د ژوندانه اوبه لرې کړه او زهر وڅښه
امن پرېږده او هېرووونکي ځای کې پاتې شه
حیثیت وغورځوه، بد نومي او بې شرمه شه
ایا موږ د یو ازمابښت لپاره نه یو خلق شوي؟ پاک خدای هره ورځ هره شیبه له موږ پوښتنه کوي. زموږ هغه ژمنه مو په یاد ده چې دې نړۍ ته مو ستاسې له استولو مخکې کړې وه؟ تاسې په خپله دنده خبر یاست چې زما د خزانې په ښودلو کې در کړل شوې؟

ډېری وخت موږ چمتو نه یو چې دې پوښتنو ته ځواب ووایو. ډېرې وېرووونکې دي. خو خدای صبور دی هغه بیا بیا پوښتنه کوي.

که دا زړه ماتی د ازموینې یوه برخه وي، یوازینی هیله مې په اخر کې د شمس موندل دي. زه حاضر یم چې خپل هر څه له لاسه ور کړم، کتابونه، ویناوې، کورنی، شتمني او نوم خو چې یو ځل بیا د شمس مخ ووینم.

هغه بله ورځ کیرا وویل زما نه شاعر جوړ شوی که څه هم نه مې غوښتل. له شاعرانو سره جوړ نه وم، خو د هغې خبرې هېښ نه کړم. که بل وخت وی، ما به د هغې خبره غندلې وی. خو وروسته له دې نه.

له خولې مې هر وخت او په خپل سر شعرونه وځي. څوک بې چې واوري خامخا به وایي چې شاعر شوی یم. د ژبې پادشاه. خو واقعیت دا دی چې شعرونه زما نه دي. زه یوازې د هغو کلمو وسیله یم چې په خوله کې را کړل شوې. لکه قلم چې ورته ویل شوي کلمات لیکي، یا نی چې پو شوی غږ وباسي. زه هم یوازې خپله برخه تر سره کوم. ای د تبریز لمره چېرې یې؟

## شمس

### دمشق اپریل ۱۲۴۷

دمشق ته پسرلی راغلی و. لس میاشتې کېدې چې قونیه مې پرېښې وه. سلطان ولد وموندم. تر شنه اسمان لاندې له فرانسس په نوم یو عیسوي زاهد سره مې شطرنج لوبه کوله. د هغه د ننه انډول یوې بلې خوا ته نه کېده. د تسلیم په مانا سم پوهېده. په اسلام کې د ننه (باطني) اوسانه له تسلیمېدو لاس ته را ځي. نو ما ته تر هغو چې د اسلام ادعا کوي فرانسس ډېر مسلمان و. په دې چې دا له څلوېښتو قاعدو یوه ده: تسلیمېدل د کمزورۍ په مانا نه دي. نه هم برخلیک ته ځان سپارل او ځان سپارنې ته لاره ده. برعکس، رېښتینې پیاوړتیا په تسلیمېدو کې ده، هغه پیاوړتیا چې له ننه راوځي. هغوی چې الهي ذات ته تسلیمېږي، که په ټوله نړۍ ګډوډي هم خوره شي دوی به په اوسانه او سوله کې ژوند کوي.

ما خپل وزیر وخوځاوه چې د فرانسس پادشاه بې خایه کړم. په یوه چټکه پرېکړه یې خپل رخ وخوځاوه. ما وپېژله چې دا لوبه به بایلم. سر مې اوچت کړ، سترګې مې مخامخ د سلطان ولد په سترګو ولګېدې.

ما وویل "په لیدو دې خوشال یم. نو پرېکړه دې وکړه چې بالاخره ما ولټوې."

حیران شو زه د ده په نه ټېل ماتېل خنګه خبر شوم. خو دی صادق سړی و او درواغ یې ونه ویل "ما یو څه وخت ته نه لټولې هسې مې وخت تېراوه. نور نو پلار ته د درواغو وس را سره نه و. نو زه دمشق ته را غلم او ستا پلټنه مې پیل کړه. خو ته په اسانی ونه موندل شوې."

ما وویل "ته یو صادق او ښه زوی یې. یوه ورځ به د پلار لوی ملګری شې."

سلطان ولد سر وښوراوه "ته یوازینی ملګری یې چې هغه ورته اړ دی. غواړم زما سره قونیې ته لاړ شې. پلار مې تا ته اړتیا لري."

د بلنې په اورېدو مې په سر کې ډېر څه وچونېدل. هېڅ څه روښانه نه وو. نفس مې د بیا تګ په اړه پر زړه وېره خوره کړه. په هغه ځای کې زما هرکلی نه کېده. هغه ته غوږ مه نیسه. ستا ماموریت ختم دی. اړ نه یې چې قونیې ته ستون شې. د بابا زمان خبرې دې په یاد دي؟ ډېر لوی خطر دی. که بیا هغه ښار ته ولاړې ژوندی به ترې را نه شې.

غوښتل مې چې په نړۍ کې نور سفرونه وکړم، نوي خلک وپېژنم او نوي ښارونه ووینم. دمشق مې هم خوښ شو او تر ژمي دلته تمبدی شم. نوي ځای ته تګ د یوازېتوب او خپګان وېروونکی حس په سړي کې ژوندی کوي. خو د خدای په ملتیا زه په خپل یوازېتوب کې خوشال او بسیا وم.

خو پوهېدم چې زړه مې په قونیه کې دی. مولانا پسې دومره خپه شوی وم چې نوم اخیستلو یې دردولم. په کوم ښار کې اوسېږم څه پروا لري، که مولانا مې ترڅنګ نه وي. چېرې چې هغه اوسیږي هلته زما قبله ده.

ما خپل پادشاه د شطرنج پر میز وخوځاوه. دې ماتېدونکې حرکت د فرانسس سترګې رډې را ویستې. د شطرنج په شان په ژوند کې هم داسې ګامونه دي چې د ګټلو لپاره یې اخلې او ځینې بیا د دې لپاره چې هماغه سم ګام دی.

سلطان ولد زما د فکر لړۍ ماته کړه "هیله کوم زما سره لاړ شه. هغوی چې تا پسې یې خبرې کولې او بد چلن یې در سره کاوه اوس پښېمان دي. دا ځل به هرڅه ښه وي، ژمنه در سره کوم."

غوښتل مې ورته ووايم: هلکه داسې ژمنې نشې کولی. هېڅوک يې نشي کولی. خو پر ځای مې ورته وويل "غواړم د دمشق يو بل لمر لوېده ووينم. سبا به د قونيې په لور وخوځېږو."

د سلطان ولد په وجود کې دمه وچلېده "ريښتيا؟ مننه. باور به دې را نشي چې پلار به مې څومره خوشاله شي."

بيا مې فرانسس ته وکتل. په صبورۍ سره يې لوبې ته زما ستنېدل غوښتل. زما بشپړ پام چې ورته واوښت، په خندا شو. په خوشالۍ يې وويل "پام کوه انډيواله. چک او مات."

# کیمیا

## قونیه مې ۱۲۴۶

په سترګو کې یې پیچلتیا وه خو په چلن کې یې واټن ساته. شمس تبرېزي یو ځل بیا زما ژوند ته راغی. ډېر بدل شوی و. ویښتان یې سترګو ته رسېدل، پوستکی یې د دمشق لمر تور کړی و. تر پخوا ځوان او ښایسته مالومېږي. بل بدلون هم پکې شته خو نه پوهېږم چې څه دی. توري سترګې یې د تل په شان رڼې دي خو یو ډول خلا پکې پیدا شوې. په دې سترګو هغه هر څه لیدلي او نه غواړي چې نوره خواري وګالي.

خو په مولانا کې ډېر بدلون وینم. ما ویل د هغه ټولې اندېښنې به د شمس له راتګ سره ورکې شي. خو داسې نه ده. په هغه ورځ چې شمس راغی، مولانا له ښار بهر له ګلانو سره مخې ته ورغی. خو د لومړۍ ورځې شور چې په کرار شو مولانا له پخوا ډېر غلی او ابتر دی. فکر کوم په لامل یې پوهېږم. یو ځل یې شمس ورک کړ، وېرېږي چې بیا یې ورک نه کړي. زه تر نورو ښه پوهېږم، په دې چې زه هم د هغه له ورکېدو وېرېږم.

خپل رازونه یوازې د مولانا لومړۍ مېرمنې ګوهر سره شریکوم. هغې ته انسان نشو ویلی خو زه یې پېرۍ هم نه بولم. له نورو اروااو جوته او نژدې مالومېږي. له هغې ورځې چې دې کور ته راغلې یم د اوبو په شان مې ترخنګ خوځېږي. موږ په هر څه خبرې کوو خو په دې وروستیو کې مو د خبرې مضمون شمس دی.

نن مې ګوهر ته وویل "مولانا خپه مالومېږي. کاشکې مې مرسته ور سره کولی شوی."
هغې وویل "مرسته به کولی شې. کوم څه یې فکر ځوروي خو هېڅ ته یې نه دې ویلي."

ما وپوښتل: هغه څه دي.

ګوهر وویل "مولانا فکر کوي که شمس واده وکړي او د کورنۍ څښتن شي، د ښار خلک به د ده له دښمنۍ لاس په سر شي. ګنګوسې به لږ شي او شمس به بیا تګ ته اړ نشي."

زړه مې وغورځېده. شمس واده کوي خو له چا سره؟
ګوهر د سترګو تر کونجونو راوکتل او ویې ویل "مولانا غواړي ستا واده له شمس سره وکړي."

زه هېښه شوم. په دې نه چې لومړی ځل مې د واده خبره په فکر کې راغلې وه. پنځلس کلنه یم او دا مې د واده وخت دی. په دې هم پوهېدم چې نجونې له واده وروسته د تل لپاره بدلیږي. سترګې یې بدلیږي، نوی چلن غوره کوي، د خلکو چلن هم ور سره بدلیږي. ان واړه ماشومان د نجلۍ او ښځې تر منځ توپیر کولی شي.

ګوهر را ته نرم وخندل او زما لاس یې په خپل کې ونیوه. هغه پوه شوې وه چې له واده کولو وېرېدلې وم، نه د شمس سره له واده کولو.

په سبا ماسپښین ولاړم چې مولانا ووینم. د تهافت التهافت په کتاب کې ډوب و.
په مینه یې را ته وویل "وایه کیمیا، څه درته کولی شم؟"
"پلار چې تاسې ته راوستم، تاسې ورته وویل چې نجلۍ د هلک په شان ښه زدکوونکې نشي کېدی په دې چې یوه ورځ به واده وکړي او ماشومان به روزي. ستاسې په یاد دي؟"

په خړو سترګو کې یې نورو مالوماتو ته لېوالتیا وه. "هو په زړه مې دي."
ما وویل خو غږ مې ژړغونی شو "هغه ورځ ما ژمنه وکړه چې هېڅ کله به واده نه کوم او تر پایه به ستا زدکوونکې پاتې شم. ښایي ممکنه وي چې واده وکړم او په همدې کور کې پاتې شم. مطلب مې دا دې چې په دې کور کې واده شم."

مولانا وپوښتل "مطلب دې دا دی چې غواړې له علاوالدین سره واده وکړې؟"

په حیرانتیا مې ووېل "علاوالدین؟" څنګه داسې فکر کولی شې چې له علاوالدین سره واده کول غواړم. هغه خو زما د ورور په شان دی.

زما له حیرانتیا مولانا وپټېله "څه موده وړاندې علاوالدین ما ته راغلی و او ستا سره د واده غوښتنه یې له ما وکړه."

پوهېدم چې نجونې باید په دې اړه ډېرې پوښتنې ونه کړي خو غوښتل مې پوه شم. "تاسې ورته څه ووېل استاده؟"

مولانا ووېل "ورته ومې ویل چې زه باید لومړی له تا پوښتنه وکړم."
"استاده..." غږ مې په ستوني کې بندېده "زه دلته راغلې یم چې تاسې ته ووایم زه غواړم له شمس تبریزي سره واده وکړم."

مولانا په ناباوری را وکتل " مطمئنه یې؟"
نه مې غوښتل ډېرې خبرې وکړم. بې ارادې شوم "د دې څو ګټې دي. شمس به زموږ د کورنۍ غړی شي او بیا به یې تلو ته اړتیا نه وي."

مولانا وپوښتل "په همدې خاطر غواړې له شمس سره واده وکړې؟ چې دلته پاتې شي؟"
ما ووېل "نه، هو. خو یوازې دا نه ده... زه فکر کوم شمس زما په تندي کې لیکل شوی."
تر دې د مخه مې چا ته ویلي نه وو چې له شمس سره مینه لرم.
د واده په اړه لومړی کیرا خبره شوه. په چوپتیا کې یې په ماته خندا د دې خبر هرکلی وکړ. خو کله چې دواړه په کور کې یوازې شوو، پوښتنې یې پیل کړې. "د دې کار په کولو ډاډه یې؟ دا کار خو به له مولانا سره د مرستې په موخه نه کوې؟ ته ډېره وړه یې. فکر نه کوې له داسې چا سره واده وکړې چې عمر یې ستا عمر ته نژدې وي؟"

ما ورته ووېل "شمس وایي په مینه کې ټولې پولې ناڅرګندې دي."

کیرا اسوبلی ویوست "بچی، کاشکې داسې ساده وی. شمس یو لالهاند ملنګ دی، د خپل سر سړی دی. دا ډول نارینه له کورني ژوند سره بلد نه دي او له هغوی ښه مېړونه نه جوړېږي."

ما ور لنډه کړه "پروا نه لري، بدل به شي. زه به دومره مینه او خوښي ور کړم چې هغه ورسره بدل شي. زده به کړي چې څرنګه ښه مېړه او ښه پلار ترې جوړ شي."

خبرې مو په همدې پای ته ورسېدې. نه پوهېږم زما پر مخ هغې څه ولیدل چې نوره بې وتنګولم.

په هغه شپه ډېره ارامه ویده شوم. نه پوهېدم تر ټولو عامه او دردونکې تېروتنه کوم چې له ښځو په هر پېر کې کېږي: داسې کم عقل باور چې ښځې په خپله مینه کولی شي خپل ګران نارینه بدل کړي.

## کيرا

### قونيه مې ۱۲۴۷

د مينې په شان پېچلي او ژور مضمون سپړل داسې دي لکه تونډ باد چې را نيسې. د باد د وېجاړولو حس درسره شته، خو تم کولی یې نشې. له يو ځو پوښتنو وروسته غلې شوم. په دې نه چې د هغې په ځوابونو مې قناعت وکړ. ما د هغې په سترګو کې يوه مينه ښځه وليده. د واده په اړه مې پوښتنې بندې کړې او د کيميا ټينګار مې ومانه، لکه د ژوند د نورو کارونو چې زما له کنټروله وتلي.

د روژې مياشت دومره په منډه تېره شوه چې دې خبرې ته مې بيا پام هم نه شو. اختر پر يکشنبې و. ځلور ورځې وروسته مو کيميا شمس ته ور واده کړه.

د واده له ورځې يو ماښام مخکې يوې پيښې زما موډ بدل کړ. په پخلنځي کې يوازې وم. د اوړو شکاره ته ناسته وم چې مېلمنو ته ډوډۍ پخه کړم. نابېره او بې ارادې مې د اوړو له زغالې د بي بي مريم انځور جوړ کړ. په چاړه مې د هغې کميس او مخ وېوست. په انځور کې داسې ډوبه وم چې تر شا ولاړ کس ته مې پام نه و.

"ته څه شی کاږې کيرا؟"

زړه مې د پښو له تلو تېر شو. شا ته مې وکتل شمس و. له وره سره ولاړ و او زه يې څارلم. يو ځل مې ويل چې انځور پټ کړم خو ناوخته وه. شمس پټنوس ته نژدې شو او انځور ته يې وکتل.

هغه وېوښتل "دا مريم ده؟" ما ځواب ور نه کړ. په ځلانده څېره يې ما ته وکتل. "ولې، هغه خو ډېره ښايسته ده. مريم دې ياديږي؟"

په خواب کې ما وویل "زه ډېره پخوا اوښتې یم. زه یوه مسلمانه ښځه یم."

خو شمس لکه زما خبره چې نه وي اورېدلې وویل "ښایي ستا سره دا فکر وي چې ولې اسلام د مریم په شان ښځینه اتله نه لري. عایشه او فاطمه شته خو ته به وایې د مریم په شان نه دي."

ما ښه احساس نه کاوه. نه پوهېدم چې څه ووایم.

شمس وویل "یوه کیسه درته وکړم؟" بیا یې کیسې داسې وه:

یو وخت څلور مساپر سره یو ځای شوي وو. یو یوناني، یو عرب، یو فارس او یو ترک و. ښار ته په رسېدو یې پرېکړه وکړه چې یو څه خواړه وپېري. پیسې ور سره لږ وې یو ډول خواړه یې باید پېرلي وی. هر یو ویل چې په نړۍ کې تر ټولو غوره خواړه یې په ذهن کې دي. کله چې ترې وپوښتل شول هغه څه دي، فارس ویل انګور، یوناني وویل ستفلیون، عرب وویل عنب او ترک وویل اوزوم. د یو بل په ژبه نه پوهېدل نو شخړه یې پیل وکړ.

د دوی شخړه شیبه په شیبه تودېده او یو بل ته یې سپکې سپورې ویلې. تر هغه چې یو عارف په لار تېرېده او دوی ته یې پام شو او د شخړې لامل یې وپوښت. د دوی پیسې یې واخیستې او انګور یې پرې وپېرل. انګور یې په یوه لوښي کې کېښودل او پر سر یې زور وکړ. د انګورو اوبه یې مساپرو ته ورکړې او پټوکي یې وارتیګل. په دې چې د مېوې اصلیت مهم و، بهرنی برخې یې ارزښت نه درلود.

"یهودان، عیسویان او مسلمانان د هغو مساپرو په شان دي. هغوی پر بهرنی برخه ټینګار کوي خو عارف اصل لټوي. مطلب مې دا و چې ته د بي بي مریم پرېښودو ته اړه نه یې. د یوې مسلمانې په توګه ته خپله اړیکه له هغې سره ساتلی شې."

ما وویل "فکر نه کوم چې دا به سمه وي."

شمس وویل "زه پکې خنډ نه وینم. ادیان لکه رودونه دي. ټول یوه سمندر ته بهیږي. بي بي مریم د شفقت، مهرباني، رحم، خواخوږي او بې شرطه مینې سمبول ده. هغه یو چا

ته او تولې نړۍ ته ځانګړې کېدی شي. د مسلمانې په حیث له هغې سره ځپله مینه سانلی شي. ان د ځپلې لور نوم دې مریم ابښودی شې."

ما وویل "خو زه لور نه لرم."

"لور به دې پیدا شي."

"ته فکر کوې؟"

"زه پوهېږم."

د دې خبرو په اورېدو مې زړه روښانه شو. مورې داوړو د بي بي مریم انځور ته وکتل. زړه مې شمس ته نرم شو. له هغې ورځې چې زموږ کور ته راغلی، لومړی ځل مې یې څېره کې هغه څه ولیدل چې مولانا پکې لیدلي وو: یو سړی له لوی زړه سره.

خو بیا مې هم شک درلود چې شمس دې کیمیا ته ښه مېړه شي.

# شمس

## قونیه مې ۱۲۴۷

ښایسته ناوې مه ژاړه
پلار او مور سره دې مخه ښه وکړه
ته به سبا د مرغانو سندرې واورې
خو د پخوا په شان به نه وې

زموږ د واده په شپه زه حویلي ته ووتم او هلته یوه شیبه کیناستم. دا اناتولیا دا زړه سندره د نورو غړونو تر څنګ بهر راتله. خندا، موزیک او خبرې. ښځینه ساز وهونکو د ښځو په برخه کې موسیقي غږوله. زه ولاړ وم، فکر مې کاوه او بې احساسه وم. د سندرې په شعر مې فکر وکړ. ولې ښځې د واده په شپه غمجنې سندرې وايي؟ صوفیان مرګ د واده له ورځې سره تشبیه کوي. د مرګ ورځ لمانځي، له خدای سره د وصلبدو ورځ یې بولي. ښځې هم واده له مرګ سره تشبیه کوي، خو بیخي په بل دلیل. که په خوشالۍ هم واده شي، د خپګان څپه پرې را ځي. د هر واده په لمانځنه کې د باکرې لپاره چې د چا ښځه کېږي او وروسته مور کېږي خلک خپګان ښیي.

د مېلمنو له تګ وروسته کور ته ستون شوم او په یوه کونج کې مې تفکر وکړ. بیا هغه خونې ته ولاړم چې کیمیا را ته په تمه وه. په کټ ناسته وه. په سپین کمیس کې یې زرینې کرښې ګنډل شوې وې. ویښتان یې څو خایه کوڅۍ کړي وو او په هره کوڅۍ کې یې مرۍ تومبلې وې. اصلي څېره یې نه مالومېده. سپین او سره یې پر مخ موښلي وو. له یوه شمعې پرته چې له کړکۍ سره بله وه، په خونه کې نوره رڼا نه وه. د دېوال هېنداره پر بخمل

پوښلې وه، د نوې ناوې لپاره په هېنداره کې مخ ليدل بد شګون بلل کېده. زموږ د کټ ترڅنګ يو انار له چړې سره ايښی و چې د انار د دانو په اندازه ماشومان ولرو.

کيرا د ځايي دودونو په اړه را ته ويلي وو. يو پکې د ناوې د پلو لرې کولو په وخت کې ناوې ته بايد د سرو زرو د سکو غاړکۍ ورکړل شي. خو زما سره په ټول ژوند کې د سرو زرو سکې نه وې او نه مې غوښتل د چا نه يې پور کړم او بيا خپله ناوې پرې ونازوم. نو د هغې د پلو په جګولو مې د شمشتي (سمندري کيشپ) له اډوکي جوړه ګمنځ ورکړه او پر شونډو مې مچو کړه. هغه موسکۍ شوه. د يو ماشوم هلک په څېر حيا راغله.

ما وويل "ښايسته يې."

هغه سره شوه. خو بيا يې اوږې وغځولې چې ځان خوشاله او پېلستي وښيي.

هغې وويل "زه اوس ستا مېرمن يم."

بيا يې پر ځمکه خورې ښايسته غالۍ ته ګوته ونيوه چې پخپله يې د جهېز په نوم اوبدلې وه. ښايسته رنګونه پکې کارېدلي وو. په ليدو يې وار له واره پوه شوم چې هره غوټه يې زما په اړه وه. کيميا خپل خوبونه اوبدلي وو.

بيا مې مچو کړه. د شونډو تودوخې يې زما پر ټول بدن د شوق څپې را وستې. له هغې نه د ياسمينو او وحشي ګلانو بوی ته. ترڅنګ يې وغځېدم. د هغې بوی مې حس کړ او د هغې واړه او کلک تي مې ولمسول. غوښتل مې چې ملاسته ور سره وکړم او ځان په هغې کې هېر کړم. ځان يې وسپړه لکه ګلاب چې باران ته ځان وسپړي.

ترې لرې شوم. "ښښنه غواړم کيميا، زه دا کار نشم کولی."

ما ته يې پټه خوله حيران وکتل. سا اخيستل ترې هېر شول. د سترګو خپګان يې د کتو نه و. زه ولاړ شوم.

"زه بايد ولاړ شم."

هغې وویل "اوس نشې تلی. خلک به څه فکر وکړي چې ته اوس له خونې ووځې؟ هغوی به پوه شي چې زموږ ترمنځ جنسي اړیکه نه ده شوې. هغوی به ما پړه وبولي."

ما وویل "ته څه وایې؟"

هغې سترګې کښته واچولې لومړی یې له ځان سره څه وویل بیا یې په کراره وویل "خلک به وایي چې زه نجلی نه وم. زه به ټول عمر په شرم کې اوسېږم."

د ټولنې په دې رواجونو چې په خلکو یې تپلي دي وینه مې په غوټېدو شوه. د پت په نوم دودونه د خدای د پیدا کړې هوسایني خلاف انسانانو ځان ته ایستلي.

ما وویل "دا چټیات دي. خلک دې خپل کار کوي." خو پوهېدم چې کیمیا ریښتیا وایي.

د انار ترخنګ چاړه مې را وخیسته خپل چپ ورغوی مې پرې کړ. وینه مې د کټ پر مخ تویې کړه، تور بخون داغ پکې څرګند شو.

"دا ټوکر ور کړه. خولې به یې پټې شي او ستا نوم به پاک او سپېڅلی پاتې شي، څرنګه چې دی."

کیمیا زاری کولې او را ولاړه شوه. "ودرېږه. مه څه." بیا نه پوهېده چې څه ووایي. بیا یې وویل "زه اوس ستا مېرمن یم."

په هغه شپه پوه شوم چې له هغې سره زما واده کول څومره لویه تېروتنه وه. سر مې له درده په چودېدو و. له خونې ووتم او شپې ته مې مخه کړه. زما په شان سړی هېڅکله باید واده ونه کړي. زه د ارام ژوند لپاره نه وم. دا مې واضح ولیدل. د دې خبرې پوهاوي خورولم چې بیه یې څومره درنده پرېوته.

يوه پياوړې ارتيا مې حس کړه چې له هر څه وتښتم. يوازې له دې کوره، له دې واده، له دې ښاره نه، بلکې له دې بدنه چې ما ته راکړل شوی. خو سبا ته د مولانا د ليدو فکر را ټينګ کړم. هغه مې بيا نشوای پرېښودلی. زه نښتی وم.

# علاوالدين

## قونيه مې ۱۲۴۷

پربکړې ته په زور اړ شوم. پوهېدم چې وروسته به سخت پښېمانه شم. پټه خوله پاتې شوم او په ښکاره مې غبرگون ونه ښود. خو په هغه ورځ چې کيميا ودېده، له يو بې ساري درد سره پاڅېدم. په څای کې کيناستم، سا مې لنډه لنډه کېده لکه په اوبو کې چې ډوبېږم. پر ځان غوسه وم. خپل مخ ته مې څو څپېړې ور کړې. له خولې مې اسوېلي ووت. دا غږ د هغې خبرې پخلی و چې زه نور د خپل پلار زوی نه يم.

مور نه لرم، پلار نه لرم، ورور نه لرم او کيميا هم نه لرم. نور نو په نړۍ کې يوازې وم. په زړه کې مې چې لږ درناوی پلار ته درلود هغه هم لاړ. کيميا هغه ته د لور په څېر وه. ما ويل د هغې پالنه به کوي. خو په ډاگه شوه يوازېنی کس چې ده ته مهم دی هغه شمس تبريزي دی. څنگه يې وکولای شوای چې د هغه په شان سړي ته کيميا ور واده کړي؟ هر څوک پوهېدل چې شمس د واده نه دی. اوس خبره سپينه شوه، د شمس د خونديتابه لپاره يې د کيميا خوشالي قرباني کړه او ور سره زما هم.

ټوله ورځ مې په همدې فکر تېره کړه او د واده د چمتووالي سيل مې کاوه. ټول کور سينگار شوی و. د ناوې زوم خونه يې د گلابو په عطرو معطره کړې وه چې د شيطان نظر پرې ونه لگي. خو تر ټولو لوی شيطان يې هېر و. شمس به څرنگه لرې کوي؟

مازديگر مې حوصله ختمه شوه. د دې جشن لمانځنه زما لپاره عذاب و. د وره په لور روان شوم چې ورور مې له شا را غږ کړ "علاوالدينه ودرېږه. چېرې ځې؟"

پرته له دې چې ورته وگورم په ځواب کې مې وويل "د ارشاد کره ځم او شپه هلته تېروم."

"لېونی شوی یې؟ واده ته ولې نه پاتې کېږې؟ که پلار مو خبر شي زړه به یې مات شي."
د زړه له تله مې غوسه پورته شوه "د هغو زړونو پوښتنه ولې نه کوې چې پلار مې مات کړي؟"
"په مطلب دې پوه نه شوم."
"ته خبر نه یې؟ پلار مو دا واده د شمس د ایسارولو لپاره برابر کړی چې بیا ونه تښتي. هغه کیمیا په پټنوس کې ور مخکې کړه."

دا خبره مې په ورور بده ولګېده "ستا په خبره ورسېدم خو غلط پوه شوی یې. فکر کوې چې دا واده په زور شوی. خو کیمیا په خپله غوښتل له شمس سره واده وکړي."

ما وویل "هغې ته بله لار نه وه پاتې."

ورور مې دواړه لاسونه له قهره پورته کړل "لاحول ولا! ولې نه پوهېږې؟ کیمیا پر شمس مینه ده."
غبرګ مې ژړغونی شو "داسې مه وایه. دا دروغ دي."
سلطان ولد وویل "زما وروره. احساسات مه پرېږده چې پر سترګو دې پرده وغوړوي. ته حسادت کوې. خو حسادت هم د یو ښه عمل لپاره په سمه لار کارېدی شي. ان ناباوري مثبته کېدی شي. دا له قاعدو یوه ده". پنځه دېرشمه قاعده: په دې نړۍ کې یوشانوالی او عادت مو مخ ته نه بیايي، خو تضاد مو بیايي. له همدې امله ایماندار باید په ځان کې د ننه بې ایمانۍ ته وګوري. او بې ایمانه باید په ځان کې د ننه خپل ایمان ته وګوري. تر هغه چې سړی د انسان کامل پړاو ته ورسېږي. ایمان د پړاوونو پروسه ده. خپل متضاد یعنې بې ایمانۍ ته اړتیا لري.

زما نوره حوصله بالکل ختمه شوه.
"ما ته ګوره. زه له دې شربتي صوفیانه خبرو زیاتي تر سوږمو راغلی یم. بیا تا نه ولې غوږ شم. په دې کې ته ګرم یې. تا شمس په دمشق کې پرېښودی شوی. ولې دې هغه بېرته راوست؟ که خبره ورانه شي او داده یم چې ورانېږي به، پړه به یې ستا په غاړه وي."

د وروړ پرمخ مې وېره ولیده. په هغه شېبه کې پوه شوم چې لومړی ځل هغه له ما او زما له وړتیا وېرېدلی و. عجیبه وه خو یو شان هوسا شوم.

د ارشاد د کور په لور په تنګو بوینو کوڅو کې ولاړم چې څوک مې ژړا ونه ویني. بوازې په یوه شي مې فکر کاوه: کیمیا او شمس په یوه کټ کې. د هغې د واده کمیس ایستل او سپین پوستکی یې د شمس په بدرنګو خیرو لاسونه لمسولو مې ذهن ته غضب راووست. بس مې غوټه شو.

پوه وم چې کار له کاره تېر دی او یو څوک باید یو کار وکړي.

# کيميا

## قونيه ډسمبر ۱۲۴۷

موږ بايد ناوې او زوم وی. له واده مو اوه مياشتې تېرېږي. په دې موده کې د مېړه په حيث هغه زما سره يو ځل هم نه دی ويده شوی. ډېره هڅه کوم چې خلک په دې واقعيت پوه نشي خو شک لرم چې هغوی دې خبر نه اوسي. کله فکر کوم چې شرم مې پر مخ ښکاري. لکه د تندي ګرښې مې چې له ليدو سره وارله واره مالومېږي. کله چې له ګاونډيانو سره په کوڅه يا بڼ کې، يا له هټيوالو سره په بازار کې خبرې کوم خلک پوهېږي چې زه واده شوې خو باکره ښځه يم.

دا نه ده چې شمس زما خونې ته نه راځي. هر ځل چې غواړي په ماښام کې زما خونې ته راشي اجازه غواړي او هر ځل زه يو شان ځواب ورکوم "مالومه ده چې راتلی شې، نه زما مېړه يې."

بيا تړوله ورځ دعاوې کوم چې دا ځل مو واده رېښتينې بڼه واخلي. خو چې ور ووهي او د ننه شي، غواړي يوازې کېني او خبرې وکړي. هغه ته ګڼ لوستل هم خوند ورکوي. موږ ليلا او مجنون، شيرين او فرهاد، يوسف او ذليخا، بلبل او ګلاب په ګډه ولوستل. هغه مينان چې له هر ډول ستونزو سره يې بيا هم له يو بل سره مينه وکړه. د دې کيسو له پيارړو کرکټرونو سره بيا هم زما زړه ور سره تنګ شي. ښايې له دې امله چې د ننه زه پوهېږم زما په قسمت کې به هېڅکله د دوی په څېر مينه نه وي.

کله چې کيسې نه لولو، شمس د اسلامي عارفانو پر څلوېښتو قاعد خبرې کوي. د مينې د مذهب بنسټيز اصول.

یو ځل بیا د یوې قاعدې د ویلو پر وخت سر زما په زنګانه کېښود. سترګې یې پټې شوې او غږ یې په کراره غلی شو او خوب یووړ. په ګوتو مې د هغه اوږده وېښتان ګمنځ کړل او پر تنده مې ماچې کړ. ډېره اوږده موده وروسته یې سترګې پرانیستې. ځان خوا ته یې وکاږلم او په ارامه یې ښکل کړم. دا مو تر ټولو خوږه شېبه وه. تر اوسه زما بدن هغه ته او د هغه بدن ما ته یوه پردې خاوره ده.

په دې اوو میاشتو کې زه هم د هغه خونې ته څو ځلې تللې یم. خو هر ځل چې له خبرولو پرته ور ننوځم، زړه مې رېږدي او د هغه له چلنه وېرېږم. د شمس د موډ وړاندوېینه ناممکنه ده. کله دومره تود او له مینې ډک وي چې خپل ټول خپګان مې هېر شي، کله بیا تریخ او تریو وي.

یو ځل یې زما پر مخ ور په کلکه پورې کړ. ویل یې غواړي یوازې اوسي. اوس پرې بلده شوې یم چې خوا بده نه کړم. همدارنګه د تفکر په شېبه کې هغه ته مزاحمت نه کوم.

له واده وروستو مې څو میاشتې داسې ښودله چې په خپل حال خوشاله یم. په زور مې زړه اړ کړ چې شمس ته د مېړه په سترګه ونه ګورم. خو د بل هر څه په توګه ورته وګورم لکه ملګری، د روح مل، ښوونکی، د لارې مل ان زوی. ورځې او د هغه موډ ته به مې کتل او له هغه سره به مې په ذهن کې همرنګ جامې ور اغوستې.

تر یو وخته یې کار ورکړ. له تمې پرته به مې د خبرو هرکلی کاوه. ډېره به خوشالېدم چې زما د فکر خیال ساتي او ما پراخ فکر ته هڅوي. له هغه مې ډېر څه زده کړل. د وخت په تېرېدو پوه شوم چې زه هغه ته ځینې شیان ور زدکولی شم لکه د کورنی ژوند خوند چې هېڅکله یې په خپل ژوند کې نه و څکلی. تر دې ورځې زه باور لرم هغه داسې خندولی شم چې تر اوسه چا نه دی خندولی.

خو دې بسنه نه کوله. هېڅکله مې دا فکر له سره نشوی لرې کولی چې هغه زما سره مینه نه لري. شک نه لرم چې زه یې خوښېدم او زما په اړه ښه نظر لري. خو دا شیان مینې

ته نژدې هم نه دي. دا فکر دومره ورانوونکی و چې د ننه يې خوړم، زما په بدن او روح يې شخوند واهه. زه د ګاونډيانو په ګډون له خپلو ملګرو او همزولو لرې کېدم. غوښتل مې په خپله خونه کې پاتې شم او له مړو سره خبرې وکړم. مړي د ژونديو په شان قضاوت نه کوي.

له مړو پرته يوازينۍ ملګرې مې صحرا ګله وه.

مور داوړه له خلکو په تېښته وو، همدا مو ترمنځ د عطف ټکی و او نژدې ملګرې شوو. هغه اوس عارفه ده. اوس يوازې ژوند کوي او د رنډۍ خانې ژوند يې تر شا پرېښی.
يو ځل مې ورته وويل چې د هغې په مېړانه او اراده مې حسادت راځي چې څرنګه يې نوی ژوند پيل کړ.

هغې سر وښوراوه او ويې ويل "خو ما نوی ژوند نه دی پيل کړی. څه چې ما کړي هغه له مرګه مخکې مړه کېدل وو."

نن صحرا ګلې ته د بل څه لپاره ورغلم. له ځان سره مې خبره ښه وارزوله او ځان مې چمتو کړ، خو خونې ته په ننوتو مې ستونی بند شو او په ژړا شوم.

هغې وپوښتل "ولې کيميا؟ ښه يې؟"
ما اعتراف وکړ "ښه نه يم او ستا مرستې ته اړه يم."
هغې وويل "ولې نه، څه درته کولی شم؟"
"د شمس په اړه مرسته غواړم. هغه ما ته نه نژدې کيږي. په هغه شان... غواړم پام يې ځان ته کړم. ستا نه غواړم چې چل يې راوښيې."

صحرا ګلې اسوېلی ويوست. "ما هوډ کړې کيميا. ما له خدای سره مې ژمنه کړې چې پاکه او سپېڅلې اوسم. په دې فکر هم ونه کړم چې ښځه څرنګه نارينه ته خوند ورکولی شي."

ما په زاریو ورته وویل "خو ته دې قسم نه ماتوې. ته یوازې له ما سره مرسته کولی. هغه زه یم چې غواړم د شمس د خوشالۍ چم زدکړم."

صحرا ګلې غږ لږ څه کښته کړ لکه څوک یې چې غږ اوري. "شمس منور سړی دی. فکر نه کوم هغه ته د رسېدو دا سمه لار وي."

ما ورته دلیل وړاندې کړ "خو دی سړی دی که نه؟ ټول سړي د ادم زامن او له غوښو جوړ نه دي؟ منور که بې نوره موږ ټول بدن لرو. شمس هم زموږ په شان بدن لري. همداسې نه ده؟"

"هو، مګر..." صحرا ګلې یوه یوه تسبیح په خپلو ګوتو اړوله او په فکر کې لاړه.

ما په زاریو ورته وویل "هیله کوم. ته یوازېنی کس یې چې خپل راز درته وایم. اوه میاشتې کېږي. هر سهار په ډکه سینه جګېږم او هره شپه له اوښکو سره ویده کېږم. په دې ډول نه کېږي. زه باید خپل مېړه ځان ته را نژدې کړم."

صحرا ګلې څه ونه ویل. خپل ټیکری مې لرې کړ او په زور مې د هغې سترګې ځان لوري ته کړې. ورته ومې ویل "ریښتیا را ته ووایه. ایا دومره بدرنګه یم؟"

"مالومداره ده چې بدرنګه نه یې کیمیا. ته هم ځوانه یې او هم ښایسته."

ټینګار مې وکړ "نو بیا مرسته راسره وکړه. د نارینه زړه ته د ننوتو لار راته وښیه."

په خپګان یې را ته وویل "د نارینه زړه ته ننول کله ښځه له ځانه ډېره لرې بېولی شي ګرانې.

ما ویل "پروا یې نشته. چې څومره لرې تګ وي زه چمتو یم."

# صحرا ګله

## قونيه دسمبر ۱۲۴۷

په سترګو کې يې اوښکې روانې وې، د مرستې سوال يې کاوه. مخ يې پړسېدلی و او تتر يې کښته پورته غورځېده تر هغه چې ما يې غوښتنه ومنله. پر دلاسايني سربېره زه پوهېدم چې مرسته يې ګټې ده او ما بايد د هغې غوښتنه منلې نه وی. خو په وار وار له خانه پوښتم چې ولې مې دا غمېزه نه ليدله. له پښېمانی په چودېدو وم. څنګه دومره بې عقله شوم او د حالاتو دا ډول ناوړه پايله مې نه ليدله؟

خو په هغه ورځ چې ما ته په ژړا راغله او مرسته يې غوښته څواب مې ور نشو کړی.

"مرسته ر اسره وکړه." هغې زاری کولې. لاسونه يې په ورنو کې وو لکه د ښې نجلی په څېر چې روزل شوې وه. په غږ کې يې د هيلې څرک نه و خو بيا هم هيله منه وه.

له څان سره مې وويل په دې کې به څه تاوان وي؟ زړه مې پرې وسوځېده. هغې خوارې يوازې خپل مېړه هڅاوه، کوم پردی نه. يوازې يوه موخه يې درلوده: مينه. دا څنګه ناوړه عمل کېدی شي؟ د هغې شوق زورور خو روا و، همداسې نه ده؟ حلال شوق.

په ذهن کې مې دام وليد، خو دا دام خدای ايښی و. څان پکې ښبلول را ته بې ضرره ښکاره شول. همدا و چې مرسته مې ور سره وکړه. د دې کليوالې نجلی له ښايست څخه مطلب په لاس د نکريزو ايښودل او د سترګو تورول وو.

ما ور زدکړل چې څرنګه څان ښايسته او زړه ښکونکی کړي. لېواله زدکوونکې وه. ما ور وښودل چې څرنګه د عطرو اوړد حمام وکړي، خپل پوستکی په تېلو او کريمو نرم

کړي. د شاتو او شیدو ماسک کېږدي. ما د عنبرو دانې ورکړې چې د ویښتانو په کوڅیو کې یې وتومبي او په سر کې یې اوږدمهاله خوشبويي خای ونیسي. سنبل، چمبرګل، اکلیل، زعتر، او مرجان ګلونه او د زیتونو غوړي مې ور کړل. ورنه ومې ویل چې کوم د ورځې وکاروي او څه د شپې وسبخي. بیا مې د غاښو سپینولو او په نکریزو د نوکانو سرکولو چم ور وښود. څرنګه رانجه په سترګو او باڼو ووهي، شونډې او باړخوګان سره کړي، خپل ویښتان د ورېښمو په شان کړي، خپل تي لوی او ګرد کړي. په ګډه دواړه په بازار کې هغې هټۍ ته ولاړو چې ما په تېر پېر کې سودا ترې اخیسته. هلته مو هغې ته د ورېښمو کمیسونه او د جامو لاندې شیان واخیستل. هغه څه چې دې پخوا نه لیدلي او نه لمسولي وو.

بیا مې ورښودل چې د نارینه په مخ کې څرنګه نخا وکړي. دا بدن چې خدای ورکړی څرنګه وکاروي. له دوو اونیو وروسته هغه چمتو وه.

هغه مازدیګر ما کیمیا شمس تبرېزي ته چمتو کړه لکه شپون چې خپل وری قرباني ته چمتو کوي. لومړی یې حمام وکړ، بدن یې کیسه کړ. ویښتان یې غوړ کړل. بیا مې د جامو په اغوستو کې مرسته ور سره وکړه چې یوه مېرمن یې یوازې د خپل مېړه لپاره اغوندي، ان هغه ته هم یو یا دوه ځلې په ژوند کې.

ما د ګیلاسو رنګ زیر پوښې ورته غوره کړ. د یاقوتو تارونه پرې ګنډل شوي وو او د تیو بڼه ترې ښکارېده. بیا مو ډېر رنګ د هغې پر مخ وموښه. د مرغلرو نرۍ امېل مې پر تندي ور وغوړاوه. دومره ښکلې مالومېده چې سترګې نه ترې لرې کېدې.

په پای کې کیمیا نوره بې تجربې او شرمناکه نجلۍ نه مالومېده. لکه پېلستې ښځه شوق او مینې ته چمتو وه. لکه یوه ښځه چې په خپل مېړه غېږ کولی شي او که اړتیا وي بیه یې هم پرې کړي. هغې ته په کټو په قرآن کې د یوسف سورت را یاد شو.

د کیمیا په شان ذلیخا هم د خپلې خوښې سړي په مینه کې سوځېدله خو هغه یې غوښتنو ته خواب نه وایه. کله چې د ښار ښځو د ذلیخا په اړه ناوړه خبرې کولې، ذلیخا

CS CamScanner

هغوی دوډی ته وبللې. هرې يوې ته يې چاړه او مېوه په لاس ور کړل. د يوسف په ليدو ښځو د مېوې پر ځای خپل لاسونه پرې کړل. "خدايه ومو ساتې، دا بني ادم نه دی. دا له يوې پرېښتې پرته بل څوک نه دي."

چا ذليخا ملامتولی شوی چې له يوسف سره يې دومره مينه کوله؟

مخکې له دې چې کيميا خپل مخ په پلو پټ کړي او سرک ته ووځي وېې پوښتل "څنګه مالومېږم؟"

ما وويل "نفيسه! نن شپه به دې مېړه نه پوازې ملاسته در سره وکړي سبا به بيا درته روان وي."

کيميا دومره وشرمېده چې بازخوګان يې تک سره شول. ما وخندل، بيا هغه هم په خندا شوه. د هغې خندا د لمر د وړانګو په څېر توده کړم.

په څه مې چې ويلي وو باور مې درلود. داده وم چې هغه به شمس خان ته را کش کړي لکه ډک ګل چې مچی خان ته کشوي. خو د يو بل سترګو ته مو چې وکتل د شک سيوری پکې ښکاره شو. ناڅاپه مې په نس کې بد احساس را پيدا شو، لکه يو بد څه چې پېښېدونکي وي.

خو هغه مې منع نه کړه. په هغه مهال بايد پوه شوې وی او د پېښې راتګ مې ليدلی وی. تر څو چې ژوندی يم ځان به ونه ښښم.

# کیمیا

## قونیه ډسمبر ۱۲۴۷

شمس تبریزي د مینې په اړه ډېر څه پوهېږي. خو په یو څه نه پوهېږي: د یوې اړخیزې مینې درد.

په هغه ماښام چې صحرا ګلې سینګار کړم، دومره شور او شوق را کې پیدا شو چې خپله حیرانه وم. پر بدن مې ورېښمین کمیس نرم لګېده، د عطرو خوشبویي، د ګلابو پاڼه مې په ژبه نااشنا وه. په کور مې خپله څېره د کړکۍ په ښیښه کې ځرښنده ولیده. بدن مې نه غوښین و او نه ډېر سپین، تې مې هم چندان لوی نه وو، خو بیا مې هم ځان ښکلې احساساوه.

تر هغې ودرېدم چې په کور کې ټول په خوب ویده شول. بیا مې یو لوی شال پر سر کړ او د ګوتو پر سر د شمس خونې ته ولاړم.

د وره په خلاصولو شمس وویل "کیمیا، زه دې په تمه نه وم."
په وره ننوتم، پرته له دې چې د هغه اجازې ته انتظار وباسم. "زه باید تا ووینم. دا ور خو در سره وتړه."

شمس حیران و خو ور یې بند کړ.
په خونه کې دواړه یوازې و. څو شېبې ووتې تر هغه مې چې د خبرو وس پیدا کړ. شا مې ور واړوله، شال مې لرې کړ او له چېنې راووتم. د خپل مېړه د هېښتیا دروند نظر مې له ورمېږ تر پښو حس کړ. هر چېرې یې چې نظر لګېده هغه ځای مې تودوخه حسوله. که

ریښتیا وه او یا که یوازې زما تصور و. بیا په خونه کې سره چوپتیا خوره شوه. سا مې بندېده. د شمس پر وړاندې برېنډه ودرېدم لکه د جنت حوره.

په پرسېدلې چوپتیا کې مو د بهر باد ته غوږ و چې د ښار په زړه کې خوځېده او شکېلې یې واهه.

په ساړه اواز یې وپوښتل "دا ته څه کوې؟"
په سختۍ مې خپل غږ وموند "تا غواړم."

شمس تبرېزي را تاو شو او مخ ته مې ودرېد. زه یې د خپلو سترګو کتو ته اړه کړم. پښې مې سستې شوې خو ونه لوېدم. یو ګام مې د ده لورې ته واخیست. د ده پر بدن مې ځان سرېښ کړ. خپله تودخه مې ځرنګه چې صحراګلې ویلې وو ورته ډالۍ کړه. د هغه په ټټر مې لاس ووهه او د میني الفاظ مې په نرمه ورته وویل. د هغه پر شا مې لاسونه ووهل او د بدن عطر یې زما دماغ ته ورسېدل.

لکه سره بخارۍ چې ورته نژدې شوې وي، شمس توپ کړ "فکر کوې ما غواړې، خو دا په بې شرمۍ کې ځان ښکېلول دي."

د هغه په ورمېږ مې لاسونه کېښول او کلک مې مچې کړ. خپله ژبه مې د هغه په خوله ننه ایسته او ومې خوځوله. د صحرا ګلې خبره را یاد شوه "سړو ته د خپلو ښځو د ژبو زېښل خوند ورکوي کیمیا، ټولو سړو ته."

شونډو یې د تورو ګیلاسو خوند کاوه، هم خوږ او هم تریو. همدا چې په خوند یې پوه شوم شمس ودرولم او ټېل یې وهلم.

هغه وویل "تاهېلې دې کړم کیمیا. اوس نو ورځه او یوازې مې پرېږده."

خبره یې تونده وه خو د احساس نښه یې پرمخ نه وه، نه غوسه، نه خپګان. پوه نه شوم چې کوم یوه ډېره وډردولم، د غږ توندوالي او که د هغه تش مخ.

هېڅکله دومره نه وم بې عزته شوې. ټوغه شوم چې کميس مې اوچت کړم، لاسونه مې لړزېدل او کميس ښوی و له لاسه مې خطا وت. د هغه پر ځای مې شال اوچت کړ او تر ځان مې وپېچه. په ژړا او سلګيو نيمه بربنډه د هغه له خونې، له هغه او له هغې مينې-چې پوه شوم يوازې زما په ذهن کې وه-وتښتېدم.

بيا مې شمس ونه ليد. له هغې ورځې وروسته له خپلې خونې ونه وتم. ټول وخت مې په بستر کې تېراوه. د بهر وتو انرژي وه خو اراده مې نه درلوده. يوه اونۍ تېره شوه، ورپسې بله، بيا مې ورځې نه شمېرلې. قوت مې له بدنه په تلو و. يوازې ورغوي مې ژوندي وو. د شمس د لاسونو لمس او د هغه د پوستکي تودوخه يې په ياد وو.

هېڅکله نه پوهېدم چې مرګ به ځانګړې بوی لري. پياوړی بوی لکه د سونډې اچار او د مات چنار ستنې، توند او تېز خو بد بوی نه و. ما يوازې هغه وخت حس کړ چې زما په خونه را ننوت او د لوخړې په شان تر ما چارپېر شو. تبې را باندې راغلې او په ويښه به مې ګډوډ خوبونه ليدل. خلک مې ليدو ته راغلل، ملګرې او ګاونډيان. کيرا د بستر په يوه خوا کې انتظار وه، سترګې يې پړسېدلې وې او مخ يې سپېره و. ګوهر د کټ په بل اړخ ولاړه وه. په خوله يې موسکا وه.

"خدای دې هغه ملحد ووهي." صفيې وويل "د دې خوارې نجلۍ زړه مات شوی، د هغه له لاسه."

غوښتل مې چې غږ له خولې وباسم، خو له ستوني نه پورته کېده.

کيرا د خواخوږۍ لپاره وويل "څنګه داسې وايې. هغه خو خدای نه دی. څنګه بنده ته د داسې قدرت نسبت کولی شې؟"

خو هغوی د کيرا خبرې نه اورېدې او زه هم په داسې وضعيت کې نه وم چې قناعت ور کړم. خو که څه مې ويلي وی که نه، پايله به همدا وه. هغو خلکو چې له شمس کرکه کوله زما ناروغي ورته يوه بله پلمه شوه. خو که ما غوښتي هم وی له هغه مې کرکه نشوی کولی.

CS CamScanner

ډېره موده تېره نه شوه چې د بې حسی حالت ته وبهېدم. ټول رنګونه سپین شول او ټول غږونه په یوه غږ واوښتل. د خلکو د څېرو تورپېر مې نور نشوی کولی او خبرې مې له لرې بنګارې پرته بل شی غوږ ته نه راتلل.

نه پوهېږم چې شمس تبریز به کله زما لیدو ته راغلی وي که نه. ښایي هېڅکله نه. ښایي غوښتل یې ما وګوري او په خونه کې ښخو یې مخنیوی کړی وي. او یا ښایي په دې ټولو سربېره راغلی وي او زما د کټ ترڅنګ کیناستلی وي، په ساعتونو یې نی غږولې وي، زما لاس یې نیولی وي او زما روح ته یې دعا کړې وي. غواړم په دې باور وکړم.

خو په هر حال نور یې پروا نه وه. نه له هغه خپه وم او نه پرې غوسه وم. څنګه غوسه کېدلی شوی؟ زه خو د سپېڅلې پوهې په لټنې کې بهېدم.

په خدای کې بې حده رحم او مهرباني وه او د هر څه لپاره وضاحت و. د مینې بشپړ سیستم د هر څه تر شا. لس ورځې وروسته له هغې چې د شمس خونې ته په وربښمو او عطرو کې ورغلې وم، لس ورځې وروسته چې ناروغه شوم، د عدم په سپېڅلې سیند کې ولوېدم. هلته له زړه ولمبېدم. په پای کې مې وپېژندله چې د قرآن ژور لوست به همداسې احساس انسان ته ور کوي: یو څاڅکی په لایتناهي کې او روانو اوبو له ژونده مرګ ته وسپارلم.

# شرابي سلیمان

## قونیه مارچ ۱۲۴۸

وینه، خولې او اوښکې. بهر خلک داسې فکر کوي چې شرابیان سست او اوزګار دي. هغوی خبر نه دي چې هره ورځ شراب څښل اسانه نه دي. موږ د نړۍ وزن پر خپلو اوږو وړو.

سترې او زړه تنګی وم. سر مې پر مېز ایښی و او چندان ښه خوب مې نه لیده. یو لوی تور غوبی په نابلده کوڅو کې را پسې و. ما ترې منډې وهلې او نه پوهېدم څه بد مې کړي و چې دی یې ترهولی دی. په بازار کې د سوداګرو او هټۍ والو میزونه غورځوي. لا منډې وهم او یوې بندې کوڅې ته سمېږم. هلته د یوې لویې هګۍ سره ټکر کېږم، هګۍ له کوږ غټه ده. ناڅاپه هګۍ ماتېږي او ډېر بدرنګ چرګوړی ترې را وځي، لوند دی او شور کوي. هڅه مې وکړه چې له کوڅې وتښتم خو د چرګوړي مور په هوا کې ښکاره شوه. ماته یې په غوسه کټل لکه د چرګوړي په بدرنګۍ کې چې زما لاس وي. مارغه له خپلې تېرې موښکې او تېرو منګولو سره پر ما راځي، همدا وه چې ویښ شوم.

سترګې مې پرانستې. ومې لیدل چې د کړکۍ خوا ته مېز پر سر خوب وړی وم. په خوله کې مې د زنګ وهلي مېخ خوند و. شرابو ته مې اړتیا وه. خو له خایه نشوی خوځېدی. له ناچارۍ مې سر بیا پر مېز کېښود په خپل ګنګسوالي کې ډوب شوم او د شرابتون اواز مې غوږ ته راته.

یو تود بحث مې اورېده چې یو څل به لوړ شو بیا به کښته شو. تر څنګ مېز کې سړیو خبرې کولې. غوښتل مې مخ ور واړم او دوی وپېژنم خو د قتل کلمه مې واورېده.

په سر کې مې د هغوی خبرې د نشه يانو چټيات وبلل. په ميخانه کې سړې هرڅه اورې او د وخت په تېرېدو پوهېږې چې جدي يې ونه بولې او ترې تېر شې. خو د دوی په غږ کې قاطعيت او اراده وه، نو غوږونه مې ورته ټينګ کړل. د دوی خبرو هېښ کړم خو هغه وخت مې ټکان وخوړ چې پوه شوم دوی د شمس تبرېزي د وژنې هوډ کړی.

د دوی له تګ سره سم په ځای کې ولاړ شوم.
وارخطا مې غږ کړ "هرېستاسه، په منډه دلته راشه."
هرېستاس په منډه راغی "بيا څه خبره ده؟ ولې دومره اندېښمن ښکارې؟"

خو ما هغه ته نشوی ويلی. ناڅاپه پر خلکو شکمن شوم. که په دې خلکو کې د شمس ضد دسيسه کې څوک وي بيا؟ بايد خوله وتړم او سترګې پرانيځم.

"څه نه، يوازې وږی يم. لږ سوپ را ته راوړلی شې، اوړه ښه ډېره پکې واچوه. غواړم نشه مې والوځي."

هرېستاس په تعجب را ته وکتل خو زما په خوی بلد و، بله پوښتنه يې ونه کړه. څو شېبې وروسته يې د وزې د لړمون سوپ را ته راوړ. سور او تريخ و، ما هم په منډه وخوړ، ژبه مې پرې وسوه. نشه مې يو څه الوتې وه. سړک ته ووتم چې شمس تبرېزي له دې پلانه خبر کړم.

لومړی د مولانا کور ته ولاړم. هلته نه و. بيا جومات، مدرسې، چای تون، خبازۍ او حمام ته ولاړم. د کسبګرو په کوڅه کې مې هره هټۍ ولټوله. ان د زړې جتې کېږدۍ ته ورغلم چې په کنډوالو کې درېدلې وه، ښايي هغې ته د غانښ يا کوډو ايستلو لپاره ورغلی وي. هر چېرې ورپسې وګرځېدم. وېره مې شېبه په شېبه زياتېده. که ناوخته شي بيا؟ که يې اوس وژلی وي؟

څو ساعته وروسته تش لاس بېرته د شرابتون په لور ناهيلې او ستومانه روان شوم. يو څو قدمه شرابتون ته لا پاتې وو چې ناڅاپه مې نيغ مخې ته ودرېد.

په خندا یې را ته وویل "سلام سلیمانه، سودایي ښکارې."
په غېږ کې مې ټینګ کړ "او خدایه ته ژوندی یې؟"
ځان یې چې زما له غېږې خلاص کړ ما ته یې حیران وکتل "خود ژوندی یم. تا ته کومه ارواح ښکارم؟"

ورته ومې خندل. خو سر مې درد کاوه که بل وخت وی ما به څو بوتله اوس پر سر اړولي وو.

شمس وپوښتل "څه خبره ده ملګریه؟ هر څه سم دي؟"
لاړې مې تېرې کړې. که زما په خبرو باور ونه کړي بیا؟ که هغه فکر وکړي چې د شرابو تر اغېز لاندې چټیات وایم؟ ښایي همدا و، چې زه په خپله هم داډه نه وم.

ما وویل "هغوی غواړي تا ووژني. نه پوهېږم څوک وو، مخونه مې یې ونه لیدل. زه ویده وم... خو دا مې په خوب نه دي لیدلي. مطلب خوب مې لیدو خو دا خوب نه. نشه هم نه وم. یو څه مې څښلي وو خو ډېر نه..."

شمس مې پر اوږه لاس کېښود "ارام شه ملګریه، زه پوهېږم."
"پوهېږې؟"
"هو، اوس شرابتون ته ولاړ شه او زما په اړه اندېښنه مه کوه."
"نه، نه زه هېچېرې نه ځم. او ته هم تلی نه شې. دا خلک جدي وو. ته باید پام وکړې. د مولانا کور ته نه شې تلی. هغه لومړنی ځای دی چې تا به پکې لټوي".

شمس غلی شو.
"ګوره ملنګه، زما کور وړوکی دی او یو څه ګډوډ. که ته غواړې څومره موده دې چې زړه وي زما سره پاتې کېدی شې."

شمس وویل "ستا له اندېښنې نه مننه. خو د خدای له خوښې پرته هېڅ هم نشي کېدی. دا له قاعدو یوه ده: دا نړۍ پر بل مقابلو اصولو درېدلې. نه د مهرباني یو څاڅکې او نه د

رذالت ټوټه بې خوابه پاتې کېږي. د خلکو له سازش، تېرایستنې او چل څخه مه وېرېږه. که څوک دې په لار کې کوهی کني، په یاد ولره چې خدای تر ټولو لوی سازش جوړوونکی دی. یوه پاڼه پرته د خدای له پوهې نه رېږي. په دې بشپړ او ساده باور ولره. هر څه چې خدای کوي له ښایست سره یې کوي."

له دې ویلو سره شمس سترگک را ته وواهه او مخه ښه یې را سره وکړه. ما ورته کتل، د سړک په ختو کې زما پر خبرداري سربېره د مولانا د کور په لور روان شو.

# وژونکی

## قونیه مارچ ۱۲۴۸

ارمونیو، احمقانو ته مې ویلي وو چې زما سره دې نه راځي. ښه مې سر ور خلاص کړ چې زه یوازې کار کوم او د کار په وخت کې د کارګمارونکو لاسوهنه نه منم. خو هغوی ټینګار کاوه چې ملنګ خارق العاده پیاوړتیا لري او دوی غواړي مرګ یې په خپلو سترګو وویني.

په پای کې مې ورسره ومنله "سمه ده. خو پام چې د کار تر ختمه ما ته نژدې نشئ."

را سره ویې منله. درې کسان وو. دوه مې مخکې لیدلي وو او یو بل د هغوی په عمر ځوانکی. ټولو تور مولونه پر مخونو وهلي وو.

لکه ما ته یې چې پېژندنه مهمه وي.

له نیمې شپې وروسته د مولانا د کور شا ته وم. له ډېرین دېواله مې ټوپ کړل او په حویلی کې د یوې څرې شاته پټ شوم. کار ګمارونکو را ته ویلي وو چې شمس تبریزي هره شپه د تفکر لپاره حویلی ته را وځي. کله مخکې کله وروسته له اوداسه. ما یوازې انتظار ایستی شوی.

په هغه شپه باد لګېده او هوا سړه وه که څه هم د سړو موسم نه و. په لاس کې مې توره درنه او سړه لګېده. په لاستي کې یې دوه غمي وو چې ګوتې مې پرې لګېدې. د احتیاط لپاره مې یو وړوکی پوښ شوی خنجر هم له ځان سره راوړی و.

له سپوږمۍ چارپېره شنه لوخړه وه. د يو څو ژوېو له لرې غږ لګېده. په ونو کې د نويو ګلانو غوټيو ته مې پام شو چې باد ښورولې. بوی يې نارامه کړم. ان دې کور ته له رسېدو مخکې په ښه موډ کې نه وم. خو اوس مې احساس نور هم وران و. تر دې ځايه رسېدلی وم يو ډول کلکه تلوسه را ته پيدا شوه چې راځه دا سحرجن ځای پرېږده او په خپله مخه ورځه.

خو زه په خپله ژمنه ودرېدم. نه پوهېدم چې څومره وخت به تېر شوی وي. بانه مې راباندې درانده شول او ارګمي مې ايستل. له باد سره مل بوی زاړه، تياره او رنځوونکې يادونه را تازه کړل. ټول هغه سړي چې ما وژلي وو. دې فکر هېښ کړم. پخوا به تېرو يادونو زما پر اعصابو اغېز نه کاوه. کله به غلی او ځنډې ته شوم خو اعصاب به مې تل پر ځای وو.

يو څو سندرې مې له ځان سره په شکېلي کې زمزمه کړې چې فکر بل لورې ته واړوم. سترګې مې د کور په وره کې ښخې وې. له ځان سره مې وويل "راځه نو شمسه. دلته مې ډېر مه په تمه کوه. حويلی ته را ووځه."

نه غږ و، نه يوه خوځېدنه وه، هېڅ نه وو.

ناڅاپه باران په ورېدو شو. داسې زورور باران چې په کوڅو کې اوبه په بهېدو شوې او زه لوند خېښت شوم. په غوسه شوم او لعنت مې وويل.

غوښتل مې د نن شپې پلان شنډ کړم خو ناڅاپه مې د باران د چړپا ترڅنګ يو بل اواز تر غوږ شو. يو څوک په حويلی کې وو.

شمس تبرېزي و، د تېلو څراغ يې په لاس کې و. زما په لور را روان و. له هغې ځرې چې زه يې تر شا پټ وم يو څو قدمه لرې ودرېد.

پوښتنه يې وکړه "ښکلې شپه ده. همداسې نه ده؟"

حیران شوم. کوم څوک ور سره وو که له ځان سره یې خبرې کولې؟ پوهېده چې زه هلته وم؟ امکان لري چې زما له شتونه خبر وي؟ ذهن مې له پوښتنو په اېشېدو شو.

بیا مې بل څه ته پام شو. د تېلو څراغ یې خنګه په تېز باد او کلک باران کې نه مړ کېږي؟ له دې پوښتنې سره مې ادونه څېره شول.

د شمس په اړه د خلکو خبرې را یاد شوې. هغه په کوډو کې ډېر برلاسی دی. خلکو ویل شمس د سړي له جامو یو تار اخلي او غوټه ور اچوي، بیا کوډې پرې کوي. وایي، له دې سره سړي په خره یا اسمان څکلي بدلوی شي. خو زه په دې خرافاتو باور نه کوم او نه مې غوښتل هغه شېبه داسې باور پیل کړم. هلته ولاړ وم او شمس د څراغ لمبې ته مې کتل. ځان مې لړزېده.

شمس څراغ پر ځمکه کېښود. د څراغ رڼا زما له سترګو پنا شوه. هغه وویل "ډېر کاله پخوا مې په تبرېز کې یو استاد و. هغه را ته ښودلي وو چې هرڅه ځانګړی وخت لري. دا د وروستیو قاعدو څخه یوه ده."

ده د کومو قاعدو په اړه خبرې کولې؟ دا څرنګه مرموزې خبرې وې؟ زه باید په منډه پرېکړه وکړم: اوس را ووځم او یا ودرېږم چې شا یې زما خوا ته شي؟ که دی زما په شتون خبر وي نو پټېدو ته څه اړتیا ده؟ که خبر نه وي نو بیا باید موکه برابره کړم او بیا راووځم.

خو بیا مې د دریو سړیو سیوري ولیدل چې په باغچه کې یې ځانونه غلي کړي وو او د خوځېدو غږ یې راغی. خامخا به چورت وهي چې ولې په ملنګ نه ورځم او نه یې وژنم.

شمس دوام ور کړ "دا اوه دېرشمه قاعده ده. خدای ډېر دقیق ساعت جوړوونکی دی. د هغه حکم دومره دقیق دی چې هرڅه په خپل وخت کې کېږي. نه یوه شېبه مخکې نه یوه شېبه وروسته. له استثنا پرته د ټولو لپاره ساعت سم چلېږي. د هرچا لپاره د مینې او مړینې وخت ټاکل شوی دی."

په هغه شپه پوه شوم چې زما په اړه خبرې کوي. پوهېده چې زه دلته وم. د کور له وتو مخکې زما په را تگ خبر و. زړه مې په توپونو شو. فکر مې وکړ چې شاوخوا مې هوا وزېښل شوه. د پټېدو زياتې گټه نه وه. د څرې له شا راووتم او پرې ورغلم. باران هماسې چې ناڅاپه پيل شوی و ناڅاپه ودرېد. بشپړه چوپتيا خوره شوه. يو بل ته مخامخ ودرېدو، قاتل او مقتول. د دومره عجايبو سربېره هرڅه عادي او نژدې سوله ييز مالومېدل.

خپله توره مې پورته کړه او کلک گواز مې پرې وکړ. ملنگ ځان ترې وژغوره. بيا مې وار پرې کاوه چې ناڅاپه شپږ کسان را ورسېدل. هغه دريو خپل ملگرې هم له ځان سره راوستي وو. اخ و ډب دومره زورور او کلک و چې څو کسه پر ځمکه وغورځېدل او بيا را ولاړ شول، څو نيزې ماتې شوې.

زه هک پک حيران شوم. هېڅکله د داسې قتل شاهد نه وم چې ما ته سپارل شوی و. د دريو ځوانانو چلن ته دومره په غوسه وم، چې ويل مې راځه ملنگ ورته پرېږده چې ور سره مالومه يې کړي.

څو لږ شېبه وروسته يوه راغږ کړه "مرسته وکړه شغال سريه. وژني مو."

توره مې وغورځوله، خنجر مې را ويوست او پرې ورغلم. اووه واړو ملنگ را چپه کړ. يو کلک گوزار مې په زړه کې ورکړ. يو هېبتناک غږ يې له خولې ووت. سا يې ودرېده او سترگې يې بيا و نه رپېدې.

په گډه مو د هغه مړی جگ کړ او د حويلي په ځا کې مو خطا کړ. د ستوماني سا مو واخيسته، د اوبو غږ ته په تمه وو. خو غږ مو وانه ورېد.

يوه وويل "دا ولې؟ اوبو ته ونه لوېده؟"
بل ځواب ورکړ "خود به لوېدلی وي، څنگه امکان لري چې نه وي لوېدلی؟"
هغوی وارخطا شول، زه هم وارخطا وم.
دريم سړي وويل "کېدی شي د ځا پر دېوال په کوم چنگک کې نيښتی وي."

د دې امکان و. ټولو باور پرې وکړ او فکر مو پرې اوسا کړ. خو ټول پوهېدو چې د
ښا پر دېوالونو چنګکونه نه وو.

ډېر وخت هلته ولاړ وو. د وخت تېرېدو کچه را ته مالومه نه شوه. خو په اسمان کې
یو ډول رڼا را څرګندېده شپې ورځې ته ځای پرېښوده. که د کور ور نه وی پرانیستل شوی
او یو سړی ترې نه وی راوتلی ښايي د ورځې تر رڼا هلته پاتې وی. وار له واره مې وپېژنده،
مولانا و. نارې يې کړې "چېرې يې؟ ته هلته يې شمسه؟"

د شمس د نوم په اورېدو هر یوه ښځې سپکې کړې. شپږو کسانو د بن له دېواله ټوپ
کړل او په تیاره کې ترې تم شول. زه پاتې شوم، خپل خنجر مې لټاوه چې د څرې لاندې
په ختو لړلی و. پوهېدم چې نور یوه شېبه هم باید پاتې نشم. خو تر شا مې وکتل. مولانا
مې ولید چې په حويلۍ کې ګرځېده او بیا لکه چا چې ورته ویلي وي د ښا خوا ته ولاړ.
د ښا په څنډه ودرېد، لاندې يې وکتل او یوه شېبه همداسې پاتې شو چې د ښا له تیارې
سره سترګې بلدې کړي. بیا شا ته شو، په ګونډو شو، خپل تېر ته يې سوکان ورکړل او بوه
هیبتناکه ناره يې له خولې ووته.

"ویې واژه، شمس يې راته وواژه."
د دېوال له سره مې ټوپ کړل. د ملنګ په وینو سور خنجر مې پرېښود او په ځغستا شوم.

# علاوالدين

## قونیه اپریل ۱۲۴۸

کله به مې ساړه کېدل کله ګرمې. له ځان سره به مې فکر کاوه چې له خلکو سره څرنګه چلن وکړم. د شمس له مړینې درې اونۍ وروسته مې زړه وکړ چې له پلار سره ووینم.

ومې پوښتل "پلاره، خبرې درسره کولی شم؟"
په ډېره ارامۍ یې سترګې را واړولې خو هېڅ یې ونه ویل.
"پلاره، پوهېږم چې ته ما د شمس په مرګ کې ښکېل بولې خو غواړم داډ در کړم..."
پلار مې ګوته پورته کړه او زما خبره یې را پرې کړه. "زما زویه، زما او ستا ترمنځ زیاتې خبرې وچې شوې. نه د اورېدو خبرې غواړم او نه په خواب کې ویل درته لرم."

ما زارۍ پیل کړې "خیر دی داسې مه وایه. پرېږده چې وضاحت در کړم. په خدای قسم چې زه نه وم. خلک پېژنم چې دا کار یې وکړ خو زه نه وم."

د پلار غم په وتو و. څېره یې داسې مالومېده لکه څوک چې یو تریخ واقعیت ومني. "زويه، ته وايې چې ته پکې ښکېل نه وې خو د لمنې پیڅکه دې په وينو ده."

وار له واره مې د ځپلې چپنې څنډه وکته. ایا دا رینښتیا ده؟ د هغه ماښام د وینې تبه؟ ما د ځپلې چپنې پیڅکه، لستوني، لاسونه او نوکان وکتل. ټول پاک مالومېدل. سر مې چې اوچت کړ، له پلار سره سترګې په سترګو شوم. پوه شوم چې پلار مې دا وړوکی دام رانه ابنی و. په دې کار ما پټه خوله اقرار وکړ.

په ريښتيا هم هغه مانښام شرابتون ته ور سره تللى وم. هغه زه وم چې قاتل نه مې د شمس د نيمې شپې پاڅېدلو او په حويلۍ کې د تفکر کولو په اړه ويلي وو او په هغه شپه چې شمس له خپل وژونکي سره خبرې کولې زه له هغو شپږو کسانو يو وم چې غوړ مې ورته نيولى و. وژونکي وخت تېراوه، موږ د بريد پرېکړه وکړه. هغه زه وم چې پنځو نورو ته مې له بڼ حويلۍ ته لار وروښودله. بس دومره. زه ودرېدم او په اخ و ډب کې ښکېل نه شوم. بابر لومړی بريد وکړ، ارشاد او نورو مرسته ور سره وکړه. کله چې د دوی له وسه تېره شوه، شغال سري کار تمام کړ.

وروسته مې هغه صحنه څو ځلې تجربه کړه. نه پوهېدم کومه برخه يې ريښتيا وه او کومه يې زما تخيل و. يو دوه ځلې خو مې داسې هم تصور کاوه چې شمس زموږ نه وتښتېد او په تياره کې ترې تم شو. دا انځور د باور تر پولې روڼ و.

هغه نور نشته خو نښې يې هر چېرې دي. نڅا، شعر، موسيقي، ټول هغه څه چې ما ويل د ده له تګ سره به ورک شي زموږ په ژوند کې تل پاتې شول. پلار مې شاعر شو. لکه شمس چې ويلي وو، که يو بوتل مات شي هغه بل هم ورسره ماتېږي.

پلار مې تل مينه ناک سړی و. د هر دين خلک يې نازول. هغه نه يوازې پر مسلمانانو زړه سوی درلود، يهودو، نصارا او ان له بې‌دينانو سره يې ښه کول. زموږ په ژوند کې د شمس له راتګ وروسته، د هغه د مينې دايره پراخه شوه. په ټولنه کې رټل شوي لکه رنډي، شرابيان، درويزګر او ډېر ناوړه خلک پکې شامل وو.

زه وايم د شمس وژونکي ته يې هم مينه ورکولې شوی.
يو کس له پخوا نه چې ده مينه ور نه شوی کړی هغه يې زوی و.

# سلطان ولد

## قونيه سپتمبر ۱۲۴۸

پلار مې له هغې ناوړه شپې وروسته بيا هغه پخوانی سړی نه و. خپل سره او سپين زر يې درويزګرو، شرابيانو، يتيمانو او غلو ته وويشل. که چا به ترې وپوښتل چې څه کوې؟ده به د عربو د شاعر امرئ القيس کيسه ورته کوله چې په خلکو ګران، بې حده شتمن او ښايسته و، خو يوه ورځ يې ناڅاپه هرڅه پرېښول. قيس د ملنګی چپن واغوسته، خپله شتمني يې پرېښوده او د نړی ملنګ ترې جوړ شو.

پلار مې وايي "دا کارونه معشوق درياندې کوي. ستا د پادشاهي څان له خاورو سره يو کوي او ستا درويشي را برسېره کوي. اوس چې شمس ولاړ، زه هم تللی يم. زه نور نه عالم يم او نه واعظ. زه د فنا نښه يم. په همدې بقا کې زما فنا ده."

هغه بله ورځ يوه سور سري سوداګر- چې له ورايه مالومېده لوی دروغجن دی- زموږ دروازه وټکوله. ويل يې شمس تبرېزي يې کلونه وړاندې په بغداد کې پېژانده. بيا يې غږ ټيټ کړ او قسم يې وخوړ چې شمس ژوندی دی او د هندوستان په کوم اشرم کې پټ او په تفکر بوخت دی او وخت ته ګوري چې کله بيا را ښکاره شي.

د دې خبرې په ويلو سره يې د رښتيا نښه په مخ نه مالومېده. خو پلار مې ډېر ورته خوشال شو. سړي ته يې وويل چې د دې ښه خبر په بدل کې څه غواړي. له يوه ذره شرم پرته سوداګر وويل په هلک توب کې يې غوښتل چې درويش شي. خو نصيب بل لوري ته وکشاوه. نو د مولانا په شان نامتو عالم چپنه به ده ته ډېر ارزښت ولري. پلار مې وار له واره خپله بخملينه چپنه له څان وايسته او په لاس يې ور کړه.

سړی لاړ. پلار ته مې وویل " پلاره ولې دې خپله ارزښتاکه چپنه دې سړي ته ور کړه؟ ښه یوه شوې چې سړی درواغ درته وایي."

پلار مې دا را ته وویل "ته فکر کوې د چپنې ور کول د یوه درواغ پر وړاندې ارزښتاک دي. ګرانه زویه تصور وکړه، که یې ربښتیا را ته ویلي وی او شمس په ربښتیا ژوندی وی ما به خپل سر ور کړی و."

## مولانا

### قونیه اکتوبر دېرشمه ۱۲۶۰

د وخت په تېرولو سره درد په غم اوړي او غم په چوپتیا. چوپتیا بیا د لوی او بې تله سمندر په شان په تور یوازېتوب بدلېږي. نن د هغې ورځې شپاړسمه کالیزه ده چې زه او شمس لومړی ځل د قنادانو په بازار کې له یو بل سره مخامخ شوو. هر کال په همدې ورځ زه ځان خودي ته مخه کوم. څلوېښت ورځې په چله کې تېروم او د څلوېښتو قاعدو په اړه فکر کوم. هر یو را یادوم او بیا کتنه یې کوم. خو زما د ذهن په لرې برخو کې یوازې شمس تبریزي ځلېږي.

داسې فکر کوې چې نور ژوند نشې کولی. داسې فکر کوې چې د روح څراغ دې زیاتي مړ شوی او د تل لپاره به په تیاره کې پاتې شې. خو کله چې تپه توره تیاره درنه چاپېره شي او دواړه سترګې دې نړی ته وتړل شي، دریمه سترګه دې په زړه کې پرانیستل کېږي. یوازې په دې وخت کې درمالومېږي چې لید د نه پوهې سره په ټکر کې دی. د مینې د سترګې په شان بله سترګه دومره روښانه او تېز کتلی نشي. له غم وروسته یو بل فصل راځي، یوه بله فضا، یو بل ته او هغه مین چې هیڅ ځای نه موندل کېږي ته یې هر چېرې وینې.

په هغه څاڅکي کې یې وینې چې په سمندر کې لوېږي، په لویو څپو کې د سپوږمۍ په رڼا کې مالومېږي او یا د سهار په نسیم کې چې تازه بوی خوروي. ته یې په شګو کې د هندسې په ښکل شویو شکلونو کې وینې، د ډبرو په وړو روښانه ذرو کې چې تر لمر لاندې ځلېږي، د نوي زېږېدلي ماشوم په موسکا کې او یا د رګونو په ټپېدو کې. څنګه ویلی شې چې شمس تللی، په داسې حال کې چې هغه هر چېرې او په هر څه کې دی؟

د غم او تلوسې په ژور څرخ کې زه هره ورځ او هره شپه له شمس سره یم. زما سینه د غره هغه غار دی چې شمس پکې استوګن دی. هغه ډول چې په ځان کې د نه انعکاس ساتي زه د شمس غږ د نه ساتم. له هغه عالم او ویناوال چې یو وخت وم اوس یوه توټه هم نه یم پاتې. مینې زما ټول خواص او عادتونه را نه اخیستي او پر ځای یې له شاعرۍ ډک کړی یم. که څه هم پوهېږم چې الفاظ زما د نه سفر نشي بیانولی، خو زه پر الفاظو باور لرم، د الفاظو باوري یم.

دوو کسانو په سختو ورځو کې مرستې ته را دانګلي: زما مشر زوی او یو ولي چې زرګر صلاح الدین نومېږي. د هغه په دوکان کې یوه ورځ ناست وم. د سرو زرو وړې پاڼې یې ټکولې او کاملېدو ته یې رسولې چې د سما نځا وروستی بڼې ته مې الهام ترې واخیست. هغه ساز چې د صلاح الدین له دوکانه راووت د کایناتو د ریتم په څېر و. الهي ریتم چې په اړه یې شمس خبرې کولې او پام یې ورته کاوه.

د وخت په تېرېدو سره زما مشر زوی د صلاح الدین له لور فاطمې سره واده وکړ. ذهینه او کونجکاوه ده. د کیمیا مینه مې پرې ماتېږي. ما قرآن ور وښود. دومره را ته نژدې ده چې خپله بنې سترګه یې بولم او د هغې خور هدیې ته چپه سترګه وایم. دا هغه څه دي چې ګرانې کیمیا را ته ډېر ښخوا ثابت کړل: نجونې که تر هلکانو ښې زدکوونکې نه وي ترې کمې هم نه دي.

څلور کاله وړاندې مې مثنوي معنوي پیل کړه. لومړی کرښه یې یو سهار ذهن ته راغله، لمر وړانګې ته مې کتل چې تیاره یې څېرله. له هغه ورروسته بیتونه مې پر شونډو بهېدل لکه په خپل واک کې چې نه وي. زه لیکل نه کوم. صلاح الدین د لومړیو بیتونو زحمت ایستی او زوی مې له هغوی کاپي ایستې. د دوی له برکته شعرونه ژوندي پاتې شول. که اوس را نه وغواړې چې بیا ځلې یې ووایم نه یې شم ویلی. که شعر وي او که نثر د مرغانو د سېلاب په شان راځي بیا د کډوالو مرغانو په څېر را څخه ځي. زه هغوی ته د اوبو تمځی یم چې دوی درېږي او بیا تودو سیمو ته ترې ځي.

کله چې شعر وايم تر مخ نه پوهېږم چې څه به وايم. کله لنډ وي کله اوږد خو پلان را سره نه وي. کله چې شعر ختم شي بيا غلی شم. چوپتيا (خاموش) يوه له هغو دوو کلمو ده چې خپل غزلونه پرې ختموم. بله کلمه شمس تبريزي ده.

نړۍ په داسې سرعت خوځېږي او بدلېږي چې موږ انسانان يې نه کنټرولی شو او نه يې په راز پوهېدی شو. په کال ۱۲۵۸ کې بغداد د مغولو لاس ته ولوېد. هغه ښار چې پر خپل شان او جلال نازېده او د نړۍ د مرکز ادعا يې کوله مغلوب شو. صلاح الدين هم په هماغه کال له دې نړۍ لاړ. ما او زما درويشانو د هغه مرګ په سازونو، نڅاوو او سندرو ولمانځه. يو ولې بايد په همدې توګه خاورو ته وسپارل شي.

په ۱۲۶۰ کې د چنګېزيانو د ماتې وار راغی. د مصر مملوکو مات کړل. د پرون ګټيالي د نن بايلېدونکي شول. هر بريالي ته فکر ورلوېږي چې تر پايه به همدوی وي. هر بايلونکی ګڼي چې تر اخره به ماته د ده په نصيب وي. خو دواړه غلط فکر کوي. هرڅه بدلېږي پرته له خدايه.

د صلاح الدين له مړينې وروسته، زدکوونکی حسام د روحانيت په لار کې ډېر ژر مخ ته ولاړ چې اوس يې خلک حسام الدين چلبي بولي د شعرونو په ليکلو کې مرسته را سره کوي. دا هغه ليکونکی دی چې ما مثنوي ورته ډالۍ کړې. بې نفسه او سخي سړی دی. که څوک هم حسام وپوښتي چې څوک يې او څه کوې، هغه ورته وايي "زه د شمس تبريزي يو خوار پلوی يم بس دومره."

سړی په کراره څلوېښت، بيا پنځوس بيا شپېته کلن شي او له هرې لسيزې سره ځان نور هم بشپړ حسوي. بايد مخ ته لاړ شې که څه هم د رسېدو لپاره ځای نشته. کاينات ټل او بې دمې څرخي همداسې چې سپوږمۍ او ځمکه څرخي. خو په انسانانو که يو راز دی چې خوځېدنې ته اړ کېږي. له همدې پوهې سره موږ درويشان په مينه او زړه ماتې کې نڅېږو که څوک زموږ په کړنه پوه هم نشي. د جنجال يا جګړې په منځ کې به هم ونڅېږو. په درد او غم، په ښادۍ او مستۍ، يوازې او يو ځای، د اوبو په څېر کرار او چټک نڅېږو.

د کاېناتو په نظام کې سمون او انډول پروت دی. تکي تل بدلېږي او پرځای يې نور راځي خو دايره ځای پرځای پاتې کېږي. نهه دېرشمه قاعده: برخې بدلېږي خو اصل يو شان پاتې کېږي. هر غل چې مري پر ځای يې بل غل نړۍ ته راځي او هر سم سړی چې له نړۍ ځي پرځای يې بل راځي. په همدې توګه نه هر شی پر ځای پاتې کېږي او نه هم څه بدلېږي. هر صوفي چې مري پرځای يې بل چېرې يو بل زېږول کېږي.

زموږ مذهب د مينې مذهب دی. موږ ټول د زړونو پر ځنځيرونو سره تړلي يو. که د ځنځير يوه کړۍ ماته شي، په بل ځای کې بله کړۍ ور زياتېږي. د هر شمس تبريزي پرځای چې ځي په بل پېر کې په بل نوم بل را پيدا کېږي.

نوم بدلېږي، ځي او راځي، خو اصل پر ځای پاتې کېږي.

څلوېښتمه قاعده: ژوند له مينې پرته په هيڅ حساب دی. له ځانه مه پوښته چې کوم ډول مينه بايد ولټوې، روحاني يا مادي، الهي يا دنياوي، شرقي که غربي. وېش نور وېشونه رامنځته کوي. مينه نوم او تعريف نه لري. په خپله چې څه ده هغه ده ساده او سپېڅلې. مينه د ژوند اوبه دي او مين د اور روح. کله چې اور له اوبو سره مينه کوي د کاېناتو څرخېدنه توپير کوي.

CamScanner

پښتو PDF کتابونو اپاره موږ درسره وځارئ!
ټیلګرام چینل لینک:
https://t.me/AryanPashtoLibrary
واټساپ نمبر:
00971501455350
فیسبوک پاڼه:
آریان پښتو کتابتون

له راتلونکي بدلون سره مقاومت مه کوه. اندېښنه مه کوه چې ژوند دې په بل مخ کېږي. ته له کومه وایې چې د ژوند پخوانی مخ ستا لپاره ښه دی؟

شرعه لکه شمعه ده. موږ ته ارزښتناکه روښنايي را کوي. خو هېره مو نشي چې شمعه په تیاره کې موږ ته د خوځېدو لار ښيي. که مو خوځېده هېر شي او پر ځای یې پر شمعه تمرکز وکړو نو د شمعې ګټه بیا څه ده؟